عُلوم القُرآن

پښتو

علامہ شمس الحق افغانی رحمۃ اللہ علیہ

مترجم

مولانا سیف الحنان حقانی

Ketabton.com

قصہ خوانی پیښور
فون: ۲۱۴۴۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

علوم القرآن (پښتو)

علامه شمس الحق افغانی رحمه الله

مترجم

مولانا سیف الحنان

ناشر

تاج کتب خانه ٥ محله جنگی قصه خوانی پیښور

فون نمبر :- ۲۱۴۴۵۴

NO: 21
C: 22

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست مضامین

شمیر	عنوان	صفحه
۱	پیش لفظ	۱
۲	د وحی او قرآن ضرورت	۴
۳	د قرآن د ضرورت دلیل بقائی	۵
۴	دلیل قانونی	۸
۵	دلیل غذائی	۱۱
۶	دلیل دوائی	۱۴
۷	دلیل نوری	۱۶
۸	دلیل حُبّی	۱۷
۹	دلیل اتباعی	۱۸
۱۰	دلیل نفسیاتی	۲۰
۱۱	دلیل تخلیقی	۲۱
۱۲	دلیل ترکیبی	۲۲
۱۳	د قرآن صداقت او اعجاز	۲۴
۱۴	د معجزے او اعجاز تشریح	۲۵
۱۵	عادیات	۲۵
۱۶	عجائبات	۲۶
۱۷	مشترک خاصیت	۲۷
۱۸	معجزات	۲۷
۱۹	قرآنی معجزه، بلاغی دلیل	۲۷
۲۰	اولہ شُبہ	۲۹
۲۱	دویمہ شُبہ	۳۱
۲۲	دریمہ شُبہ	۳۲
۲۳	څلورمہ شُبہ	۳۳
۲۴	پنځمہ شُبہ	۳۳
۲۵	شپرمہ شُبہ	۳۳
۲۶	اُومہ شُبہ	۳۴
۲۷	اتمہ شُبہ	۳۸
۲۸	نهمه شُبہ	۳۹
۲۹	لسمہ شُبہ	۴۰
۳۰	یولسمہ شُبہ	۴۳
۳۱	د نیضی تفسیر بے نُقَط	۴۴
۳۲	د مُسیلمہ توکرے	۴۴
۳۳	ابن الراوندی زندیق یَهُودی	۴۵
۳۴	د متنبّی توکرے	۴۶
۳۵	د اعجاز القرآن پوهه	۴۶
۳۶	مشاهدات او معنویات	۴۷
۳۷	قانونی اعجاز	۴۹
۳۸	تاثیری اعجاز	۵۱
۳۹	دیوپ په نظر کښی د قرآن تاثیر	۵۴
۴۰	ا بخذابی تاثیر	۵۵
۴۱	د قرآن اعجازی تاثیر په شخصیت د رسول الله صلعم	۵۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمیر	عنوان	صفحہ
۴۲	په یخنئ کښ خوله	۵۶
۴۳	دروند والے او پیتے	۵۷
۴۴	د قرآن شخصیتی قلبی تاثیر۔	۵۸
۴۵	تاثیر قالبی	۵۸
۴۶	د قرآن سیاسی اعجاز	۵۹
۴۷	غذائی اعجاز	۶۳
۴۸	د روح آسمانی غذا	۶۴
۴۹	د روحانی ژوند معیار	۶۵
۵۰	د غذائیت معیار	۶۵
۵۱	د روح مړک او ژوند	۶۷
۵۲	قرآن روحانی غذا دے	۶۷
۵۳	دلیل نظامی	۷۰
۵۴	دویم اصول د انسان نورو انسانانو سره تعلق۔	۷۱
۵۵	دریم اصول د انسان د کائنات عالم سره تعلق	۷۳
۵۶	څلورم اصول د انسان د ژوند مقصد	۷۶
۵۷	پنځم اصول د انسانی ژوند آخری منزل	۷۸
۵۸	شمولی اعجاز	۸۲
۵۹	غیبی اعجاز	۸۶
۶۰	انجذابی اعجاز	۸۷
۶۱	تالیفی اعجاز	۸۸
۶۲	اعتدالی اعجاز	۸۹
۶۳	سلکی اعجاز ۔	

شمیر	عنوان	صفحہ
۶۴	دریم فصل د تفسیر او د تاویل او د دے د وارد متعلقاتو بیان	۹۰
۶۵	د تفسیر او د مطالبو د قرآن د پوهے آداب او شرائط۔	۹۲
۶۶	علم اللغت یا علم اللسان	۹۲
۶۷	علم السنۃ	۹۳
۶۸	علم الآثار	۹۵
۶۹	علم قواعد الالٰهیات	۹۷
۷۰	علم الموهبۃ	۹۸
۷۱	د تفسیر بالرائے تحقیق	۱۰۰
۷۲	د شبهے ازاله د صوفیه او باطنیه او د تفسیر په منځ کښ فرق۔	۱۰۱
۷۳	د تفسیر بالرائے قسمونه	۱۰۴
۷۴	اقسام تفسیر	۱۰۵
۷۵	د شبهے ازاله	۱۱۲
۷۶	د وحی لغوی درے قسمه: فطری، ایجادی	۱۱۴
۷۷	عرفانی	۱۱۵
۷۸	شرعی وحی	۱۱۵
۷۹	وحی د نبوت	۱۱۶
۸۰	د قرآن نزول	۱۱۷
۸۱	نزول اول	۱۱۹
۸۲	دویم نزول	۱۱۹
۸۳	دریم نزول	۱۳۰
۸۴	جبرائیل علیه السلام قرآنی الفاظ څنګه حاصل کړل	۱۳۱
۸۵	د قرآن نازل شوی الفاظ	۱۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمیر	عنوان	صفحه
۸۶	د قرآن سُنت او حدیث قدسی بیلتون	۱۲۳
۸۷	د وحی د نازلیدو قسمونه	۱۲۴
۸۸	د قرآن جمع کول او دهغے تدوین	۱۲۵
۸۹	دریم، دریم او څلورم محرک	۱۲۷
۹۰	پنځم او شپږم محرک	۱۲۸
۹۱	د قرآن یادول او صحابه کرام	۱۲۹
۹۲	د قرآن کریم تحریری حفاظت	۱۳۲
۹۳	صدیقی جمع	۱۳۳
۹۴	د صدیقی جمع دستور	۱۳۵
۹۵	عُثمانی جمع	۱۳۶
۹۶	د عثمانی جمع دستور	۱۳۷
۹۷	د قرآن آیتونه او سورتونه	۱۳۸
۹۸	مصحف مدنی / مکی	۱۴۰
۹۹	شامی، بصری، یمنی او بحرینی مصحف	۱۴۱
۱۰۰	کوفی مُصحف	۱۴۲
۱۰۱	د سورة اَعلیٰ آیت	۱۴۳
۱۰۲	د حضرت عائشے حدیث	۱۴۵
۱۰۳	یو عامه ضابطه د ابن مسعود نه روایت	۱۴۶
۱۰۴	د قرآن اختلاف او اُوه احداف	۱۴۸
۱۰۵	اُوه قرأتونه- صحابه قاریان	۱۴۹
۱۰۶	اُوه قرأتونه	۱۵۰
۱۰۷	احرُفِ سبعه	۱۵۲

شمیر	عنوان	صفحه
۱۰۸	د اُو واحرُفو حکمت	۱۵۳
۱۰۹	د تحریف په پاره کښے د ابن عباس رض روایتونه	۱۵۸
۱۱۰	شعه او د قرآن تحریف	۱۶۰
۱۱۱	د بائبل تحریف	۱۶۱
۱۱۲	انجیل متی، مرقس، لوقا	۱۶۲
۱۱۳	انجیل یوحنا، تثلیث، ختنه او د جنابت غُسل	۱۶۳
۱۱۴	د الوهیت تصور او بائبل	۱۶۴
۱۱۵	بائبل او د نبوت تصور	۱۶۶
۱۱۶	بائبل او د عملونو بدلون	۱۶۷
۱۱۷	د مکی او مدنی سورتونو متعلق اصطلاحات	۱۶۸
۱۱۸	د قرآن د سورتونو شمیر	۱۷۹
۱۱۹	د قرآن د آیتونو، کلمو، نقطو او حرفونو شمیر	۱۷۰
۱۲۰	د مختلفو سورتونو مختلف نومونه	۱۷۰
۱۲۱	د قرآن مهمات	۱۷۲
۱۲۲	د نوی فکر په رڼا کښے د باری تعالیٰ ثبوت	۱۷۴
۱۲۳	د باری تعالیٰ د اثبات دلائل	۱۷۷
۱۲۴	د باری تعالیٰ ثبوت په سلفی دلائلو	۱۷۹
۱۲۵	د باری تعالیٰ د ثبوت کلامی او فلسفی دلیلونه	۱۸۱
۱۲۶	وجود د باری تعالیٰ او قرآن مجید	۱۸۸
۱۲۷	د باری تعالیٰ توحید	۱۹۱
۱۲۸	د شرک مذمت	۱۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمیر	عنوان	صفحه
۱۲۹	نبوت	۱۹۴
۱۳۰	د نبوت خصوصیتونه	۱۹۵
۱۳۱	په معجزے، کرامت او سحر کښ بیلتون	۱۹۸
۱۳۲	د نبوت حقیقت	۱۹۹
۱۳۳	ختم نبوت	۲۰۸
۱۳۴	قرآن او ختم نبوت	۲۱۰
۱۳۵	د خاتم النبیین لفظا او د عرب و لغت	۲۱۳
۱۳۶	د خاتم النبیین لفظ او مفسرین کرام	۲۱۴
۱۳۷	میثاقی دلیل	۲۲۴
۱۳۸	د بعثت عمومی دلیل، قبلی دلیل۔	۲۲۵
۱۳۹	وعدی دلیل	۲۲۶
۱۴۰	حدیث او ختم نبوت	۲۲۷
۱۴۱	ختم نبوت او اجماع امت	۲۲۹
۱۴۲	ختم نبوت او درایت	۲۳۰
۱۴۳	د مرزائی وسوسو جواب	۲۳۱
۱۴۴	ختم نبوت د علامه اقبال په نظر کښ	۲۳۸
۱۴۵	قیامت، معاد او معجزات د اعمالو او د قیامت نومونه	۲۴۱
۱۴۶	د معاد او قیامت نقلی ثبوت	۲۴۴
۱۴۷	د معاد په باره کښ مذهبونه	۲۴۷
۱۴۸	د معجزات درے شکله	۲۴۸
۱۴۹	د تناسخ رد	۲۵۰
۱۵۰	په تناسخی معجزات کښ د جرم علم نه وی	۲۵۱
۱۵۲	د جسمانی معاد روحی دلیل	۲۵۳
۱۵۳	د ویم دلیل	۲۵۴
۱۵۴	د ریم دلیل	۲۵۵
۱۵۵	څلورم او پنځم دلیل	۲۵۶
۱۵۶	شپږم دلیل	۲۵۷
۱۵۷	اوم دلیل	۲۵۸
۱۵۸	اتم او نهم دلیل	۲۵۹
۱۵۹	یولسم او دولسم دلیل	۲۶۳
۱۶۰	د قیامت کیفیت	۲۶۵
۱۶۱	عالمی مرض موت یا د قیامت نخښے	۲۶۶
۱۶۲	د شپیلئ د قیامت پوکل	۲۶۷
۱۶۳	د پوکلو حکمت	۲۶۹
۱۶۴	د محشر زمکه	۲۷۱
۱۶۵	د مومن خوراک څښاک	۲۷۲
۱۶۶	بیان د حوض کوثر	۲۷۳
۱۶۷	عمل نامے	۲۷۳
۱۶۸	د قیامت دورځے گواهئ	۲۷۵
۱۶۹	د عملو نو تول	۲۷۸
۱۷۰	د اعمالو د تول۔ میزان او د موزون لهم بیان	۲۸۰
۱۷۱	د عملو نو تلو تکے به څوک وی؟	۲۸۳
۱۷۲	د عملونو تللو حکمت	۲۸۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمیر	عنوان	صفحه
۱۷۳	دغور یزاوناغور یزپیژندل	۲۸۵
۱۷۴	د تول مقام، د پل صراط تیریدل اونور	۲۸۶
۱۷۵	د صراط حقیقت	۲۸۸
۱۷۶	د صراط او نور حکمت	۲۸۹
۱۷۷	د نور اسباب	۲۹۱
۱۷۸	په کومه وجه د صراط پورے وتل اسانیږی	۲۹۱
۱۷۹	جنت او دوزخ	۲۹۲
۱۸۰	د جنت او دوزخ د وجود دلائل	۲۹۳
۱۸۱	د آدم علیه السلام د کیږ. د وځائے	۲۹۵
۱۸۲	د آدم علیه السلام په راکوزولو کښ حکمتونه	۲۹۷
۱۸۳	د جنت د ژوند حقیقت	۳۰۲
۱۸۴	د آخرت د ژوند اجمالی نقشه	۳۰۳
۱۸۵	د عیسیٰ علیه السلام راکوزیدل	۳۰۴
۱۸۶	د مسیح علیه السلام ژوند	۳۰۶
۱۸۷	ختم نبوت او د عیسیٰؑ نزول	۳۲۶
۱۸۸	د ذوالقرنین دیند متعلق د کفارود عذاب همیشوالے	۳۳۲
۱۸۹	تتمه	۳۳۶

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

پیش لفظ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نَبِيَّ بَعْدَهٗ

احقر د خلویښتو کالونه هم زیاته مُوده د قرآن کریم په خدمت کښ مصروف پاتے شوے دے، ما د خپل توفیق مُطابق د زړو اونوو تفاسیرو اونورو هغه کتابونو مُطالعه کوله د کومو نه چه د قرآن فهمئ په بارہ کښے مدد آغستے شوے او کوم معارف چه د الله د جانبه په زړه مے وارد کیدل هغه ټول مے په خپل خپل وخت د درس قرآن شریف په شکل کښے پیش کول۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ:۔ د دے احقر د دے درسونونه قدیم او جدید دواړو طبقوته د اُمید نه زیاته فائده اُرسیده، د دوستانو اصرار وو، چه څه تفسیر اُ لیکم، لیکن مادا مناسب اُ نکړله، چه د تفسیر په څانے د قرآنی علومو په مختلفو شعبوکتابونو اُ لیکم چه په مختصر وخت کښ ناظرین هغه اُ لوستے شی، او د لږ جسامت په وجه مالی کمتوفیقه حضرات هم د هغے نه مستفید شی، لیکن تالیف کښے د دے خیال اُ ساتلے شوے۔

(۱) چه د مطالب قرآن په تعیُّن کښے د سَلَفُو طریقه نه وی پریښودلے شوے، او د بیان شو و معارفو او حقائقو به شان داوی چه د سلفو تائید کوی نه چه د هغے تحریف:۔

(۲) دویمه دا چه دا دور د عقلیت او فلسفیت دے، د دے وجے نه مقاصد شرعیه تقلیه د د عقل او فلسفے په رنګ کښے بیان شی، چه د مغرب زده طبقے د هدایت سامان هم اُ شی:۔

(۳) دریمه:۔ دا چه د مقاصدو په تعبیرا تو کښے د اصطلاحی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعبیرات کړی وی، او زیات تړدِ هغه تعبیرات استعمال شی چه د جدید مذاق مُطابق وی. احقر دیرزیات مصروف دے، د دے وجے دَ بے ضرورته بسط او تفصیل نه مِ دِپه اُکړه، او په مطلب خیز اختصار مِ اکتفا اُکړه، که چرے دَ موجوده دورَ د مصنفینو پیما طرزِ م کتاب لیکلے نو دَ دے نه خوچنده زیات غټ کتاب جوړیدے شو دکتاب ترتیب په دے ډول دے:-

(۱) ضرورة القرآن:- یعنی د نوع انسانی دپاره د وحی الٰهی او دَ قرآن په ضرورت عقلی او نقلی دلائل.

(۲) صداقة القرآن، یعنی په دے خبره عقلی دلائل او دَ مستشرقینِ یورپ تردید چه قرآن د الله د جانبه دے، او معجزه دے.

(۳) تنزیلِ قُرآن او دَ هغه تدوین:- دَ نزولِ قُرآن او جمعِ قرآن تحقیق.

(۴) محفوظیة القرآن:- د قرآن د محفوظیت دلائل او دَ مستشرقینو دَ شُبهاتو تردید.

(۵) مُهِمّات القرآن:- یعنی دَ قرآن دا هغو مقاماتو حل دَ هغے حکمتونه اوراز ونه او دَ شبهاتو ازالہ.

(۶) احکام القرآن: یعنی دَ قرآن فقهی احکامو او دَ هغے حکمت او دَ موجوده دور د شُبهاتو جوابونه.

(۷) تعبیراتُ القرآن:- یعنی د قُرآنی تعبیراتو حقیقی حل په دے غرض چه صحیح مطالبِ قرآنی معلومه شی او دَ جدید خیالوا هل قلمو خامیانے واضحه شی.

رومبی پنځه بابونه په کتابی شکل کښے شائع کومه چه دَ هغے نوم به علوم القرآن وی، دُعا کوم چه الله تعالےٰ دَ دے خدمت دَ

تکمیل توفیق ماته راکړی، په خپل درگاه کښے د قبول او منظور کړی، او دا خرت دَ نجات ذریعه دِ کړی، او محترم الحاج سیّد عبد الرشید شاه مهتمم مدرسه فاروقیه بهاولپور دَ پاره دِ الله جل جلاله: دا کتاب دَ سعادت باعث جوړ کړی، او دَ هغه دینی محبت او مجاهدانه کوششونه د الله تعالےٰ دَ دے کتاب دِ اشاعت سبب جوړ کړی.

احقر:- شمس الحق افغانی عفا الله عنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوحی او دقرآن ضرورت

دانسان دسعادت او شقاوت دحصولو خپلوله پاره انسانی عقل په خپله دده دے کافی نه دے، چه د عقل معلومات ئو بنیاد هغه تجربے او مشاهدات دی په کومو چه د سائنسی اصولو مطابق بوده محنت او ژور غور او فکر شوے وی، او د سعادت او شقاوت د اصولو بنیاد د عقائدو، اخلاقو او داعمالو د خصوصیاتو پیژندل دی، او د مشاهداتو او د محسوساتو دائرے نه دا دنګ بهر دی چه په هغے باندے د تجربے او مشاهدے په ذریعه هیڅ قسم غور نشی کیدے او نه د هغے د پاره څه تجربه کار شته دے۔

(۲) دویم د دے وجے چه عقل فیصلو کښے د وهم دخل وی، او د دے کبله دغه فیصلے اکثر غلطے اوشی۔

(۳) دریم د دے وجے چه عقلونه مختلف دی، د صحیح عقل صورتونه کم او د فاسد عقل صورتونه په دے امورو کښے زیات دی۔

(۴) خلورم دے وجے چه د عقل فیصلے عموماً په جذباتو بنا وی، نو حکه دا اکثر غلطے وی هر دغه وجه ده چه دا قوام د عالم د عقلونو فیصلے د معرفتِ الٰهی، د نبوت د حقیقت معلومولو، د عملونو د جزا کانو، دامورِ آخرت او د صحیح او غلط عملونو په بارہ کښے یو بل سره متضاد دی یو قوم شرک صحیح کنړی، او بل تثلیث، بل خُدا پرستی، او بل مخلوق پرستی، یو قوم د غوا غوښه خوړل ګناه ګنړی، او څوک ئے نه خوړل، څوک خنزیر خوړل بنه ګنړی څوک ئے نه خوړل، د چا د عبادت کولو او د رضائے الٰهی موندلو یوه طریقه ده، او د چا بله، د چا د نبوت تصور یو دے، او د چا بل، څوک دا عمالو جزا او سزا د جنت او دوزخ په

شکل کښے منی، څوک ئے د روحانی درده او راحت په شکل کښے او څوک ئے د تناسخ په شکل کښے منی، دا حال په اټولو روحانی امورو کښے دے، دے نه! واضحه شوه چه په مذکور امورو کښے عقل کافی نه دے، اُس مونږ! هغه دلائل عقلی پیش کوو کومونه په چه دا معلومیږی چه د دے امورو د پیژندلو د پاره د خالق کائنات وحی، د هغه کلام یا په نورو ټکو کښی د قرآن ضرورت دے، او دا دے د پاره چه د انسانی سعادت او شقاوت د اصولو دا سے یقینی فیصله مقرره شی، چه په هغے کښے د شک شُبے هیڅ ګنجائش پاتے نشی، هغه دلائل په دے دول دی۔

د قرآن د ضرورت دلیل بقائ

(۱) رُوهے دلیل بقائ دے، د هر انسان فطری خواهش دے چه هغه ته د دائمی بقا او ژوند حاصل وی، حکه چه د انسان د ټولو نعمتونو تر ټولو ژوند سره دے که چرے ژوند نه وی، نو بیا نعمتونه مثلاً، مال، جاه، اقتدار، خوړل، اغوستل، او بښځه دا ټول بیکاره دی، دے! فطری جذبے دلیل دادے چه د هر انسان د ژوند په بقا باندے څوک د شمن که چرے حمله اُکړی، نو هغه به د ذات او د بقا سره د محبت په وجه د مُدافعت کوشش کوی او ژوند او بقا محفوظ ساتلو پاره به زور لګوی، دا دنګ کچرے په انسان د نخ بیماری حمله وی چه د هغه حیات او بقا نه تر خطره پیښه شی نو هغه په دارو درملو غټ مال لګوی، او د ژوند د بقا کوشش کوی دے نه معلومیږی چه بقا سره د محبت جذبه فطری ده، اُس دے ختمیدونکی دُنیا او فانی جهان کښے هیڅ یو انسان نه دا فطری مقصد حاصل نه دے نو کچرے د ژوند په یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دور کښے هم انسان ته د دوام حیات او استمرار بقا د امقصد
حاصل نه وی نو دلته به دا ډیلے شی چه انسان دیو ناممکن څیز فطری
خواهش اُکړو، چه د علم نفسیات نو د څه صحیح نه دے، څکه چه ناممکنات
فطری خواهش نه شی کیدے، او نه په یو ناممکن مقصد باندې بټول انسانان
متفق کیدے شی داخبره ناممکنه ده چه دوکه په دوکر کښے پنځه شی په
بټولے نړۍ کښے داسے یو روغ کس به هم پیدا نه شی چه د هغه خواهش
وی چه دوکه په دووکښے پنځه وی، دا خو شونا ممکن عقلی دا ر نلک ناممکن
عادی هم فطرةً د بټولو انسانانو نو مطلوب نشی کیدے، د بټو انسان
په فطرت کښے هم دا نه دی پراته چه هغه د بټول عُمر د خوراک
څکاک او د ساه اغستو نه بے نیازه شی د دے نه دا معلومه شوه،
چه ناممکن عقلی او فطری دواړه د بټولو انسانانو نو فطری مطلوب
نشی جوړیدے، نو د دوام حیات چه د بټولو انسانانو نو فطری د بټولو
انسانانو نو فطری مطلوب دے، هیڅرے ناممکن نه دے بلکه ممکن
الحصول دے، اُس دواړو بقا د پاره په دے نړۍ د عالم تغیرات کښے داسے
اشیاء موجود دی چه کچرے د زر خرابیدو نکی او سخا کیدو نکی بل څیز
سره اُلګولے شی نو څه زمانے پورے هغے ته بقا حاصله شی مثلاً
یو تازه مهی (کب) باندے، چه مالکه اُمبرلے شی او اُوچ کړے شی
نو څه مُودے پورے خو باقی ساتلے شی، په چین کښ دیومرسرې
کالبوت د شهدو په ډک بکس کښے په ایښود و څه مُودے د پاره
باقی ساتلے شی، د مصر په آثارو قدیمه کښ داسے منړه پیدا مُوندے شوے
دی چه په هغے باندے د لیکلے شوی تاریخ نه دا معلومه شوه چه دا
د پنځو زرو کالو نه د یو مسالے (رمی) په ذریعه محفوظ ده، هرکله
چه په دے عالم تغیر کښے د بقا زیاتو لو داسے سامان موجود دے

نو ابدی اولاً فانی اشیاؤ کښے داسے مساله به نه وی چه د هغے تر وړ
د انسان رُوح سره اُوشی او په دے وجه هغه ته د دوام بقا او استمرار
حیات حاصل شی، ابدی او لازوال څیز وینه د الله تعالےٰ ذات او د هغه
صفات دی، چه انسان سره د هغے په لګیدو انسان ته د دوام حیات او
استمرار بقا حاصلیدے شی او دا دول صفت الٰہی صرف د الله کلام او
د هغه وحی کیدے شی، په دے وجه الله تعالیٰ خپل کلام په پیغمبرانو
علیهم السّلام نازل کړو وجه انسان ته هغه دائمی حیات او بقا حاصل شی
کوم چه د انسان فطری مطلوب دے،

کلام الٰہی په دنیا کښے نازل شوے دے، نو دلته د ده ولے انسان ته هیڅ
وُوند اُنه بخښلو؟ دا اعتراض یو خو په دے وجه نامعقول دے چه
دُنیا پخپله د فنا ء ده او په دے کښے بټول مُوثرات د فنا هم موجود
دی، او هیڅ وُوند او بقا د پاره د داسے محفُوظ جهان ضرورت دے
چه په هغے کښے مُوثرات د فنا هم موجود نه وی،

(۲) دویم په دے وجه چه د دے دُنیا د تنګئ د کبله د بټولو انسانانو استوګنه
دلته ناممکنه وه، د دینه معلومه داشوه چه د هیڅ بقا غوندے د فطری
جذبے د تکمیل د پاره د کلام الٰہی او د وحی ربانی ضرورت دے،

یو اعتراض دا کولے شی چه په آخرت کښے به د کلام الٰہی عاملینو ته که
ډیرے د جنت په صورت کښے هیڅ وُوند حاصل وی، نو د کلام الٰہی منکرینو
ته به هم د دوزخ په صُورت کښے هیڅ وُوند حاصل وی نُو یو جواب دا دے
چه د دوزخیانو ژوند د مرګ نه هم بدتر دے،

دویم جواب دا دے، چه کلام الٰہی ابدی دے نو ځکه د دے اثر هم
ابدی دے چه دا د انسان ژوند ابدی جوړه وی خو د هغه
صحیح جنت دی او که کفار د دوزخ دی مګر د ابدی ژوند دوه قسمه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوسره د آرام او بلّ سره د تکلیف نو دوام خو په دواړو کښے دے فرق صرف د استعداد او د عمل دے، جنتیانو کلامِ الٰهی سره د ایمان او منلو جذبے لاندے تړون لرلو او دوزخیانو نور سره د کفر او انکار د جذبے لاندے نو فرق صرف د نوعیّت شولو اګرچه دوامِ حیات دواړه دی، ددے مثال داسے دے چه نمر شے سپینوی دُوبی او جامو سره د نمر تعلق یو شان دے مګر دوبی څرمن پرِ توریږی او د جامو رنګ پرِ سپینیږی نو دا فرق صرف د استعداد دے، هم دغه حال د کفر او ایمان دے لکه څنګه چه قرآن واضح کړے دے :-

وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّ ؛ ترجمه :- موږ په قرآن د ټولو لمکزور و رَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَلَا يَزِيْدُ الظّٰلِمِيْنَ ؛ لرے کولو او د قوت او د راحت سامان اِلَّا خَسَارًا ؛ سورهٔ بنی اسرائیل ایت ۸۲ ؛ پیدا کولو کا پاره نازل کړے دے، لیکن د کفارو د معاند انو ظلم په وجه د قرآن د هغوی د پاره د نقصان سامان جوړ شی :-

دلیل قانونی

(۲) دویم دلیل قانونی دے، د انسان په فطرت کښے دوه قوّتونه موجود دی

(۱) یو قوت شهویه (نزوعیه) چه هغه د قدرت داسے عطا ده چه په هغے انسان د خپلو مفادو د پاره جدوجهد کوی :

(۲) دویم قوّتِ غضبیه دے چه په هغے انسان د داسے قوّتونو مقابله مدافعت کوی چه کوم د مذکور فوائدو په حصول کښے د ده سره مزاحمت کوی د انسانی فوائدو کلیات، خوړل - څښل، اغوستل، استوګنه او د بلوغ نه پس منکوحه ده کا ټول د انسان محبوب جسمانی مقاصد دی، دوه نور معنوی او روحانی مقاصد دی، دین او رتبه ټول اوه د انسان داسے

مقاصد دی چه په دے کښے ورته څه هم مانع، حائل یا مزاحم راځی نو دے د مقابله کوی د ټولو انسانی جنګ جګړو بنیاد هم دا څیزونه دی ، فطرت داغواپی چه د دے اووُ مقاصدو د حفاظت د پاره د ټو عادلانه داسے قانونُن ضرورت دے، چه پرِ انصاف قائم شی، او جګړے ختمے شی، اُس دا قانون دِ د چاوی د خداوند تعالیٰ، که د انسان پر د اظاهره ده چه دے قسمه قانون جوړه وُ نکی د پاره د څلورو صفاتو ضرورت دے (۱) عِلمِ مُحیط (۲) رحمتِ کامِله (۳) قُدرتِ تامّه (۴) غیر جانبداری ؛ علم محیط خو ځکه ضروری دے، چه د انسانی حقوقو د هر اړخ علم پرِ لری او د انسانی فوائدو او حقوقو سره ترلی د انسانانو نه څوند په ټولو اداره (دُنیا، قبر، آخرت) باندے د ده نظر وی چه دغه عادلانه فیصله د انسانی ژوند په ټولو منزلونو کښے درُسته وی، او دا هم ضروری ده چه دغه فیصله د د انسان د پاره د نتائجُو په لحاظ هم درُسته وی خواه هغه نتائج انفرادی وی، او که اجتماعی ظاهری وی، او که باطنی (ژوند ے) مثلاً کچرے انسان د سُود د جواز او د زنا یا لواطت یا الترضا د جواز قانون جوړ کړی نو دے کښے خو د خُوشحالۍ شخصی آزادی لحاظ سائتلے شوے دے، لیکن دے ټولو کښے د پُورہ معاشرے د اجتماعی ضرور لحاظ نه دے سائتلے شوے د سُود نتیجه په حرص کښے اضافه او د انسانی همدردی فقدان دے، او زنا او لواطت سره د صحتِ جسمانی او د عملی قوتونو د کمزورۍ غوندے، ضرور نه نظرانداز کړ پیشوی دی، او په دے کښے همدارنګ په قبر او آخرت کښے د عذاب خیال هم نه دے سائتلے شوے :-

د رحمت کا مله پته وجه ضرورت دے، چه د عادلانه قانُون جوړ ولپه موقعه څه قسم غفلت اُنشی، او په قانُون کښے عمداً داسے اجزا شامل نکړی چه هغه د انصاف خلاف دی :-

(c) ketabton.com: The Digital Library

قدرت کامله پدے وجه ضروری دے چه دچا زور دلاندے انصاف اکړی یا مجرم نه
په سزا ورکولو کښې کمزوری ظاهره نکړی غیر جانبداری پدے وجه ضروری دی
چه دهم قوم، هم وطن هم رنګ او دهم زبان څه طرف داری اکړی
او دا رنګ په قانون سازۍ کښے دے قسمه خلقو خیال سا تلو پرغرض
بل قسم خلقو ته نقصان ورنکړی. لکه څنګه چه یورپین خلق داسے کوی.
داخلور صفتونه چه عادلانه قانون جوړولو دپاره ضروری دی.
صرف دخداوند تعالی په ذات کښے موجود دی نه دهغه په رنګ دچا
علم محیط شته او نه دچا رحمت.
اَللّٰهُ اَرْحَمُ بِعِبَادِهٖ مِنَ الْاُمِّ بِوَلَدِهَا ؛ ترجمه:- دالله پاک رحمت په
خپلو بندګانو دومره زیات دے، چه دمور به په خپل اولاد دومره نه وی.
نه دهغه په رنګ دچا قدرت شته چه دچا زور پر اچلیږی، او په
قانون جوړولو کښے دهغه رعایت اکړی یا مجرم نه په سزا ورکولو کښے د
چا نه اویریږی، صرف دخداوند تعالی ذات غیر جانبدار محکه کیدے شی
چه هغه په قوم او وطن کښے چا سره شریک نه دے چه دهغوی لحاظ اکړی
نه چا سره په رنګ او ژبه کښے شریک دے، بلکه هغه خو دا سے ذات
دے چه لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُوْلَدْ، اولَیْسَ کَمِثْلِهٖ شَیْءٌ دے، ترجمه:- نه هغه نه
خوک پیدا دی اونه هغه دچا پیدا دے، اونه دهغه په شان خوک
کیدے شی.
لهذا وجې دا انسان فطری حق، یعنی عادلانه قانون صرف دالله تعالی
ذات سره خاص دے. ع
سروری زیبا فقط اُس ذات بے همتا کو ہے، حکمران ہے اک وہی باقی بتانِ آذری
(داری (حکمرانی) صرف دهغے پے مثله ذات حق دے. هم دے یوازے حکمران دے.
نور یزدان دآذر بتان دی.

اِنِ الْحُکْمُ اِلَّا لِلّٰهِ :- سورهٔ یوسف آیة ۴۰ ؛ قانون جوړول صرف دالله تعالی جل جلاله حق دے.
دا دے قسمه قانونِ خداوندی، وحیِ الٰهی او احکامِ ربانی نوم قرآن دے
پدے وجه دقرآن ضرورت دانسان دپاره ثابت شو. هر کیف انسانی
حقوقو سره ترلی قانونِ خداوندی نه بغیر دیوانسانی قانون حکمرانی به
دجاهلیت حکمرانی پاتے شی.
اَفَحُکْمَ الْجَاهِلِیَّةِ یَبْغُوْنَ ط وَمَنْ ؛ ترجمه، ولے خلق دانسان جاهلانه
اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ حُکْمًا لِّقَوْمٍ یُّوْقِنُوْنَ ؛ قانون غواړی، چه حقیقت باندے
سورهٔ مائده آیة ۴۹ ؛ یقین لرونکی قوم دپاره دالله تعالی نه
سوا ذبل چا قانون ډیر ښه دے؟

غیر حق چون ناسی و آمر شود — زور بر ناتوان قاهر شود
زیر گردون قاهری از آمری است — آمری از ما سوی الله کافری است (اقبال)

دالله نه بغیر چه څوک قانون سازشی، په زور ظلم سره په عاجزانو غالب شی، دآسمان
لاندے خو غلبه صرف دیو حکمران (الله) دے، دالله تعالی نه بغیر بل حکمران
کافر دے.

دضرورتِ قرآن دلیل غذائی

(۳) دلیل غذائی - انسان دجسم او روح نه مرکب زجوړ دے او بیا په دے
دواړو کښے روح اعلیٰ او اشرف دے او بدن دهغے په نسبت ادنے
او خسیس دے هم داوجه ده چه دجسم نه روح اوچت نوبدن بیکاره
شی، دروح دا قسمه برتری دوهره واضحه او بدیهی ده چه حیوانات او
جمادات هم دا دے نه خبر دا ردی مثلاً یوڅوک دے سړے چه روح پکښے
وی او څوک مړے په یوځای کښے اوده پروت وی نو هیڅ خیز پرے حمله نه کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه پکښ چنجی کیږی نه کارغان او تپوسان ډډه غوښه شوکوی نه زمکه
ډډه بدن خوړی او نه هوا او نمړۍ بدبویه کوله شی. لیکن هم دغه
انسان ډبدن نه چه څه وخت روح اوځی، نو جمادات او حیوانات پټول
په ده حمله کوی باوجود دے چه دمړک نه وېرانده دے په کاناتو کښے
حاکم وو نه چه محکوم:-

وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ: ترجمه:- او الله تعالے ډ زمکے او ډ
سورۂ الجاثیه، ۱۲ یة ۱۳ آسمانونو پټول خپل زوند ستاسو مسخر کړیدی

بیائے زمکه هم دغه جسم خوړی، نمړۍ بدبویه کړی چنجی هم ورته
په پوزه او خوله کښے ننوځی او کارغان او تپوسان هم نړۍ غوښه شوکوی
دا ټول خپل زوند نه چه روهیږی انسان نه مغلوب وو ډډه دمړک نه
پس په ده حکمه غالب شول چه دوی ډ الهام الٰهی په ذریعه ددے خبرے
نه واقف وی چه په انسان کښے ډ قوت او غلبے باعث ډهغه روح دے
دا ډروح د برتری دلیل دے. هرکله چه بدن کمزوراوروح برابر دے
اګمتر ډ غذا ډ پاره قدرت انتظام کړے دے، دانسان ډ خوراک ډپاره
د غلے ډ دانه هله جوړیږی، چه ددے ټول جهان وسیع کارخانه په
دے محنت اوکړی، مزګه اوبه بوټے د مزګے نه راوتوکوی. هوا څروتازه
اوساتی، ستوری ډهغه ډ نشوونما خدمت اوکړی، نمړۍ دانے پخے کړی
نړۍ ځده پورے چه ډ انسانی بدن د پرورش ډ پاره نمړۍ سمندرنه
بخارات اوچت کړی ډ هغه نه ورځ جوړه شی، اوډ باران په صورت کښے ډ
اولو انتظام اوشی، دا ټول انتظام دکمتر انسانی جزء (جسم) ډ غذا د تکمیل ډ
پاره دے د حکمت خداوندی تقاضا ده چه ډ برتر جزء (روح) ډ پروش
ډ پاره قدرت ضرور انتظام کړے دے دا څوکیدے نه شی چه دکمتر جزء
(بدن) ډ پرورش د پاره خو دومره لوے انتظام وی او ډ برتر جزء

(روح) ډ پاره ډهیڅ انتظام نه وی ډهغے مثال په بیا د اسے وی چه په اس
سور یو ټیس د چامیله شی، نوکور به ډاس ډګیا وغیره مکمل انتظام
اوکړی، او د ټیس ډ خوراک څښاک وغیره هیڅ انتظام اونکړی، نو حکیم
مطلق د بدن (سور لئی) نه ښیات ډ روح (سوار) ډ غذا انتظام کړیدے
ځکه چه دوارۂ په خپلو فرائضو اداکولو کښ ډ غذا محتاج دی بدن اوروح
دوارۂ په دے عالم تغیر کښے آستوګنه کوی او په خپل فرض پوره کولو
کښے ډ غذا محتاج دی، که دا ډے نه دی نو نه خو به اس ډ نوبرے نه دے په وجه
ګرزیدے شی او نه به هغه سور د لورے تندے په وجه داس دابرے قابو کولے شی بلکه کیدیشی چه
د روح خو لومړے دوارۂ ختم ښکاره زمینی دے ددے غذا هم زمینی ده نو روح اپریږی دے او د نورون
ډ عالم بالا سره دے لهذا ډ ده غذا هم لطیفه او ډ عالم بالا سره مناسبه کار ده
او دا غذا وحی ربانی - کلام الٰهی یا قرآن دے. په دے کښے د غذائیت دوا
(میلان طبعی، او نشوونما) خصوصیات موجود دی. لکه ډ بدنی غذا ډا
خصوصیات په دوډۍ او غوښه کښے نه دے ډول موجودی چه ددے
خوراک نه دانسان شوق کیږی کانړی او اوسپنے خوراک نه ئی شوق نه
کیږی، چه دا دوارۂ اوړه کړی اووے خوړی د غه رنګ په دوډۍ،
غوښه کښ د نشوونما صلاحیت شته په کانړی او اوسپنه کښے نشته
بلکه ډ هلاکت خطره ده. قرآن ډ روح غذائے روحانی ځکه دے چه
په دے کښے دا دوارۂ خصوصیات موجوددی. میلان په دے ډول دے
چه قرآن ډیرلوئے کتاب دے او بیا په اجنبی ژبه (عربی) کښے هم دے
لیکن سړے دے خلق ډ دے تلاوت ډیرکوی دا یاد ډ وی، حفظ کوی، اودے
یاد ساتلو ډ پاره ډ ورځ نه او تکرار وی نو ترمګه پورے کوی، ډ وخت او محنت
دا قربانی ډ دے خبرے دلیل دے چه په قرآنی غذائیت کښے روحانی
کشش موجود دے ځکه چه دا ډ روح غذا ده، کومے غذاءِ

(c) ketabton.com: The Digital Library

جسمانی نه وی نو د جسم مرګ لازمی دے. همدارنګ رُوحانی غذا چه نه وی نو د رُوح اصلی (حقیقی) مرګ یقینی دے، غذائے قُرآنی نه حیاتِ حقیقی پیدا کیدل په دے آیت کښے ذکر دی یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اسْتَجِیْبُوْا لِلّٰهِ ۔ ترجمه: اے مُومنانو تاسو د الله وَلِلرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاكُمْ لِمَا یُحْیِیْكُمْ ۔ او رسول خبره مُنئ ځکه چه تاسو سورهٔ انفال، رکوع ۳ آیت ۲۴ هغه (قُرآن) طرف نه بلی کوم کښے چه ستاسو حقیقی ژوند دے۔

وَمَا یَسْتَوِی الْاَحْیَآءُ وَلَا الْاَمْوَاتُ ۔ ترجمه: اعلان اُکړی چه د قُرآنی سورهٔ فاطر آیت ۲۲ غذا نه محرُوم مړه خلق هغه خلقو سره برابر نه دی چاچه د قرآن غذاء روحانی نه حقیقی ژوند بیا مونده دے۔

۴: دلیل دوائی

په دے عالم تغیُّر کښے د انسان په بدن او رُوح دواړو تغیُّرات راځی د بدن د پاره د تغیُّر سبب مُخالفه آب وهوا، فاسده غذا، یا نا مناسب فعل او حرکت کول یا څه بله حادثه وی همدارنګ د رُوح د پاره د مرضونو او تغیُّرات اسباب کنده، فاسقانه، ملحدانه مُشرکانه ماحول، خراب تعلیم، خراب تربیت، خراب قانُون او خراب افعال او حرکات دی، دے دواړه قسمه بیمارو د پاره مُناسب ډاکټر یا حکیم ته رجوع کیدے شی بدن او د هغے دارُو درمل دواړه مادی څیزونه دی په دے وجه انسان په خپلو تجربو غور او فکر سره د بدن مرضونه معلومه وی او د هغے د صحت د پاره

د داسے دارُو درملو او علاج تجویز هم اُکړی کوم چه قدرت دلته پیدا کړی دی، او په دے سلسله کښے په خپلو تجربو او کوشش سره دے د پاره قانُون هم جوړ ولے شی، لیکن رُوح انسانی، د هغے صفات، او امراض بتول د انسانی تجربے د دائرے نه بهر دی نه ئے د مرضونو څه تشخیص کولے شی او نه د دے د پاره څه دارُو درمل تجویز کولے شی، رُوح پخپله امرِ ربّی دے، او صرف عالم بالا سره تړلے یو حقیقت دے لهٰذا د دے، علاج به هم د عالم بالا نه کیدے شی، چه په هغے د مرضونو ازاله کیږی زمینی علاج (دارُو درمل) پرے اثر نه غورځوی ځکه چه رُوح زمینی نه دے، د رُوحانی مرضونو علاج د بدنی مرضونو د علاج نه ځکه ډیر اَهَم دے چه بدنی مرض په وجه انسان وقتی طور مړ شی، مګر د رُوحانی مرض په وجه د انسان دائمی مرګ او هلاکت واقع کیږی، هم دا وجه ده چه خالق کائنات د بدن د علاج انتظام انسانی تجربو ته سپارلے دے لیکن رُوحانی علاج د پاره د انبیآء علیهم السلام په ذریعه ئے پخپله انتظام اُکړو چه هغه وحی الٰهی او کلام ربّانی بللے شی او د رُوحانی علاج د پاره تجربه او بے خطا نُسخه ده:

وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ ۔ ترجمه: مونږ قرآن نازل کړو چه په وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ (بنی اسرائیل آیت ۸۲) هغے کښے د رُوح علاج او د هغے د قُوت بخښنے سامان موجُود دے او یقین لرونکو د پاره د الله رحمت دے۔

په دے وخت کښے د رُوحانی امراضو د ازالے او د دے د فیضانِ صحت د پاره یوازے څه علاج یا نُسخه په کائنات کښے موجود نه ده ځکه چه وَمُهَیْمِنًا عَلَیْهِ ۔ په دے معنی د قرآن نسخه د ټولو انبیاء علیهم السلام په ټولو رُوحانی نُسخو باندے مشتمله ده، او په دے کښ د ابدی رُوحانی صحت ابدی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اُصول موجود دی هم داوجرده چه یُوډپ خوَ علمونو انبارونه اُلوستل اودَ هغې په وجه دَ ترقّۍ آسمان ته اُختل لیکن ددے رُوحانی شِفا نه دَ محرُومیت په وجه دَ انسانانو شرافت نه محروم دی نه په دوی کښے څه نیکی شته نه خُدائی ویره نه انصاف، نه اطمینان قلب او نه امن، بلکه دَدوی دګنده او بیمار رُوحونو په وجه دُنیا هره ورځ جهنم جوړیږی او په دے کښے دَ فواحشو، منکراتو اودَ دینونو تَوَلو دلسے یو سیلاب په چپو دے چه دَ هغه دخمید وهیڅ قسم اُمید نشته دَ بچولے دُنیا دتباهۍ خطره ده حُکه چه خرابۍ ورځ په ورځ تیدو دی۔

۵ دلیل نُوری

په دُنیا کښے دوه قسمه څیزونه دی، یَو هغه چه په سترګو لیدلے کیږی شی، لکه دَ زمکے نه تر آسمانه پورې څیزونه، دُویم هغه چه په سترګو لیدلے نه شی، صرف په عقل معلُومیږی لکه ایمان، کُفر، طاعت، معصیت دَ انسانی اعمالو حُسن او قُبح۔ دَ دومبی قسمه څیزونو دپاره قُدرت دوه نُوره پیدا کړی دی یَو داخلی نُور او بل خارجی نُور داخلی نُور خو دَ سترګو نُور دے۔ چه انسان کښے دننه موجُود دے، کله دَ چا سترګه ړنده وی او دَ داخلی نُور نه محرومه وی، نو هغه په مارا و پرې کښے فرق نشی کولے

دُویم خارجی نُور چه دَ انسان نه بَهر دے، مثلاً، لمر، بجلی، لالتین، دیوه وغیره کچرے داخارجی نُور نه وی، اګرچه دَ سترګو بینائی دُرسته وی بیا هم هغه په نوره تیاره کښے دَ مارا و پرې فرق نشی کولے دواړه نُورونه داخلی او خارجی چه جمع وی نو هله به علم او یقین حاصل وی۔

دا ډنګ ددویم قسم څیزونو دپاره هم دَ اندرُونی او بیرونی دواړه قسمه رنړا ګانو ضرورت وی، انه دروني رنړا عقل او بیرونی رنړا دآسمان ده

ددے دواړو ضرورت حُکه دے چه دایمان او کُفر، دنیک او بد، دَ خیر او دَ شر پیلتون اُشی، هغه بیرونی رنړا دَ رُوحانی اُمورو دپاره کلامِ الٰهی ددے چه لکه دَ آسمانی رنړا (نمر) په شان یو بله آسمانی رنړا ده،

وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِیْٓ اُنْزِلَ مَعَهٗ ؕ اودوی دهغے رنړا تابعداری کړیده

سورۂ اعراف آیت ۱۵۷ ؕ کومه چه حضورؐ سره نازله شوېده۔

۶ : دلیل حبی

انسان دَ بدن او روح مجموعه ده دَ بدن په وجه هغه دَ جسمانی محبوباتو مثلاً دخوراک څښاک او دمکان خواهشمند دے یا ددے محبوباتو حاصلولو دذریعے (مال دولت) خواهشمند دے، دے څیزونو سره هم دَ انسان محبت فطری دے، او خالق کائنات سره محبت هم فطری دے هم داوجه ده چه انسان په خپل قول تاریخ کښے دَ محبتِ الٰهی دتقاضا نه خالی نه دے پاتے شوے دابیله خبره ده چه کله ددے فطری تقاضے صحیح او درنګت اظهار شویدے لکه ذمومینو او مُوحِدینو په شان یا غلط اظهار شوے دے، لکه دَ بُت پرستو او مُشرکینو په شان چه هغوی غیر الله دالله تعالیٰ مظهر اُګنړلو او دَ هغے عبادت ئے اُکړو، ددے دواړو صحیح او غلط طریقو اصلی مُحرک هم دا فطری جذبه (محبت الٰهی) وی تر دے حده چه دَ دُوس او چین خلق چه دخُدائے نه منکر دی ددے جذبے نه مجبُور شول حُکه چه دا خمولے نشی چنانچه هغوی ددے فطری جذبے د تسکین دپاره دلینن او ماؤزے تنګ مجسّمے التصویرونه حُجرو کښے نصب کړل چه دَ هغوی تعظیم دَ عبادت په صُورت کښے جاری اُساتلے شی، ما په خپل بل یو کتاب، کمیونزم او اسلام کښے دکمیونستو داخبره نقل کړے ده چه دخدائے په خائے بل یو مصنُوعی خدائے دَ خلقو دپاره تجویز کول ضروری دی دَ دپاره چه دَ ددے فطری جذبے تسکین پرے

(c) ketabton.com: The Digital Library

اُشی، نو دوی دا مقام خپلو مُمتازو مشرانو ته ورکړو. بهر صورت مُحبت الهی وفطری جذبه ده ددے دپاره ډیو مظهر ضرورت دے چه د خدائی دخو بنے اوناخو بنے تابعداری اُنکړے شی کوم ئے چه خوښ وی هغه اُوکړو او کوم ئے چه ناخوښ وی هغه اُنکړو. لکه څنګه چه د هر محبوب د محبت عامه تقاضا ده، اُس د خدائے د خو بنے اوناخو بنے معلومول ترهغے ناممکنه ده چه خدائے پخپله د خپل کلام په ذریعه نه وی خو دلی حُکمونه چه دیوانسان خوښی اوناخوښی ترهغے نشی معلومیدے نو ترخو چه هغه پخپله د هغے اظهار نه وی کړے لکه څنګه چه یو کور به د میلمه د خوښے د خوراک انتظام ترهغے نشی کولے نو ترخو چه میلمه هغه نه وی نیکاره کړی، د الله ذات خو دے نه هُم دیر بلند وبالا دے، نو حکمه د هغه د محبت تکیل دپاره دا ضروری ده چه هغه موبز نه اُښائی چه فلانئی عقیدے، اخلاق اعمال اواقوال دهغه خوښ دی اوفلانی ئے ناخوښ اودا تسم خو دل بغیر د کلام الهی نه ناممکن دی دے دپاره د وحی اوکلام الهی ضرورت دے چه د هغه د خوښے اوناخو بنے علم حاصل شی هغه کلام قرآن دے چه د هغے نه ضرورت د قرآن ثابت شو.

۷: دلیل اتباعی

په دنیا کښے اتباع اوتابعداری موجوده ده، اولاد د والدینو، شاګردان د اُستاذانو، رعیت د حکومت ماتحت عمله د خپلو افسرانو او احسانمند د احسان کوونکو تابعدار اوفرمانبردار وی، دا صورتونه او ددے نه علاوه نور ټول د تابعدارئ صُورتونه فطری اومعقول دی اوددے په وجه نظام تمدُّن قائم دے کچرے اولاد د والدینو تابعدار نه وی نو خاندانی ژوند به تباه شي، شاګرد د اُستاذ نافرمانه وی نو نظام تعلیم به ګډوډ شی، رعیت

د حکومت او ماتحت عمله د افسرانو تابعدار نه وی نو د حکومت انتظام به تس نس شی، که زیرا احسان د خپل محسن تابعدار نه وی نو دنیا نه به د احسان وجود هم ختم شی، په دے دُنیا کښے د هرڅیز د پاره علت او سبب موجود دی د غه رنګ د ے مذکور تابعدارو او فرمانبردارو د پاره هم د عت او سبب ضرورت دے، چه هغه (۱) احسان او اقتدار دے، پ اولاد د والدینو، په شاګرد د اُستاذ او په زیرا احسان د محسنانو احسان د فرمانبرداری او اطاعت فطری سبب دے، او په رعیت د حکومت د ماتحت عمله د افسرانو اقتدار د فرمانبرداری فطری سبب دے دے پنځو صورتونو نه علاوه نور ددے صورتونه د فرمانبرداری هم شته مثلاً، عاشق د معشوق اطاعت کوی او عوام د اهل علمو مثلاً د امام ابوحنیفه امام بخاری رحمهما الله او یا د اهل معرفت مثلاً د شیخ عبد القادر جیلانی یا د نورو بزګانو نور رحمهم الله تعالیٰ تابعداری هم کوی د دے دواړو صورتونو سبب حُسن دے هغه حُسن ظاهری وی لکه د معشوق حُسن د عاشق د پاره یا هغه باطنی اومعنوی وی. لکه د عُلماءِ دین او بزرګانو دین حُسن د عوامو د پاره لهذا ددے ټولو اطاعتونو اسباب او علتونه صرف دری شے دی:

(۱) قُدرت (۲) احسان (۳) حُسن

په انسان کښ چه د دغے درے څخه یو هم علت موجود وی نو د هغه اطاعت کولے شی حالانکه د اد انسانی ذاتی خوبئ نه دی بلکه د الله عطا او بخشش دے هر کله چه خُداوند تعالیٰ دے درے واړو سره چشمه او جامع دے، او د ټول صفتونه د هغه ذاتی او قوی تر دی نو د هغه د دے اطاعت انکړ پښتی فطرت غواړی چه د دا ډیے ذات اطاعت د خاطر خاوی طریقه د دے څه وی؟ هغه د دا وی چه د هغه وحی او کلام د د پیغمبرانو علیهم السلام په ذریعه انسانانو ته راُوړی چه د دے لاره صحیح طور متعین شی، د دے وحی نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

قُرآن دے چه هیښه دپاره محفوظ دے، لهذا دنوع انسانی د پاره د قُرآن ضرورت ثابت شو

۸: دلیل نفسیاتی

انسان که چرے د خپل نفس اوروح په آئینه نظر واچوی نو د کلام الٰهی یا د قرآن ضرورت پخپله ددے زړه د ما غواړد ضمیر خاموش آواز دے یو سلیم الفطرت انسان که هغه په صحرائے افریقه کښے وی یا د آزاد قبائلو په عنرو نو کښے، هرکله چه هغه یو بدکار مثلاً زنا یا قتلِ ناحق کوی نو د هغه دماغ او ضمیر د ده جُرم کولو نه ضرور متأثر کیږی او هغه په خپل ضمیر کښے د دے، جُرم د اثر یو تسمر د رُوندوالے تکدُّر او انقباض محسُوسوی سره د دے چه هلته په دے فعل د دکومت کُوتکے هیڅوك نه وی نه خو څوك حکومت مُوجُودی نه خو عدالت یا پولیس او نه په دغه څُلئے کښے څه ضابطه او قانُون نافذ العمل وی بلکه دا علاقه د هر قانون نه آزاده وی، اُس سوال دا پیدا کیږی چه په دے حالت کښے د دغے د رُوندوالی، تکدُّر، انقباض سبب څه دے؟

کچرے دا اُو ئیلے شی، چه ده جُرم کړیدے قانُون ماتُ کړیدے نو داسزا حُکم غلط دی چه هلته نه قانون شته او نه د سزا اُدیره شته بیا د دغے تأثُّر وجه څه ده؟ ظاهره ده چه دا د ده د ضمیر هغه خاموش آواز دے کُوم نه چه دے د ا محسوسوی چه ضرور ده څه قانُونات کړیدے کچرے هلته انسانی قانُون نشته نو بیا حقیقی او الٰهی ضابطه د انسانی اعمالو دپاره ضرور موجوده ده چه په دغے جُرم د دغه ضابطه ماته شوے ده او هغه حقیقی او الٰهی قانُون چه دکُوم نه په خلاف کولو د دے مُجرم په ضمیر کښے دا تأثُّر پیدا شوے دے همدغه کلام الٰهی یا په بلو تکو کښے

قُرآن دے، چه د هغے نه د قُرآن ضرورت په نفسیاتی تأثُّر ثابت شو

۹: دلیل تخلیقی

عالَم (یعنے الله نه بغیر نورپتول مخلُوق) صرف دوُو څیزونو نوم دے انسان او خادِم انسان، عالَم تخلیقِ الٰهی او فعلِ خُداوندی دے نو په دے کښے به ضرور څه حِکمت وی، حُکه چه حقیر انسان بلا فائده یا بلاحکمته هیڅ یوکار نه کوی، نو د هغه خالق به څنگه بے فائده او بے حکمته یوکار کوی مشهوره ده چه فِعلُ الحَکِیمِ لَا یَخلُوُ عَنِ الحِکمَۃِ اُس عقل دا ضروری گنړی چه د انسان یا د خادِمِ انسان په پیدا کولو کښ حِکمت شته، د خادِمِ انسان حکمت خو داسے ظاهر دے چه د هغه ش نه تر فرشه پورے پتول څیزونه د انسان د فائدے، پرورش او خِدمت د پاره دی، زمکه معدنیات نباتات، حیوانات، اور، اُبه، هوا، نمر او د هغے گرمی او رنړا، ستوری و غیره پتول د انسان په خدمت کښ مصرُوف دی، لکه څنگه چه د قُرآن کریم ارشاد دے:-

وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ط سورۃ الجاثیۃ آیت ۱۳

ترجمه: او تابع کړی دی ستاسو د پاره هغه څیزونه چه په آسمانونو او په زمکه کښے دی،

خالق کائنات زمکه او آسمان ستاسو په خدمت او په فائده کښے په داسے زبردسته جبری ذمه داری نگولی دی، چه په هغے د نگران مُقرّر ولو څه ضرورت نشته او نه د انسان په خدمت کښے د سُستئ یا د غفلت څه ویره شته لهذا دا واضحه شوه چه د انسان نه سوا پتول مخلوقات د انسان د خدمت او تربیت د پاره پیدا شوی دی، کچرے په دے کښے یو څیز هم موجود نه وی نو انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندے نه شوپاتے کیدے دا هم ثابته شوه چه ددے اشیاؤ د تخلیق
مقصد او حکمت دانسان ژوند قائم ساتل دی اُس ددے ورکوتی
انسان د تخلیق حکمت څه دے ؟ هرکله چه کارخانهٔ عالَم دانسان
دپاره پیدا ده نو دا ضروری خبره ده چه انسان د عالَم دپاره نه دے پیدا
د هغې دلیل دادے چه دا پتول عالَم که نه وے نو انسان ژوندے نه شوپاتے
کیدے کجرے انسان نه وے نو عالم باقی پاتے کیدے شو، خبره داده
چه انسان اشرف المخلوقات دے د هغه د تخلیق مقصد به هم اشرف
وی لکه څنګه چه اَس د خرنه اشرف په دے وجه دے چه دهغه مقصد
هم د خرنه اعلیٰ دے۔ خلاصه کلام داچه جهان انسان دپاره دے
او انسان خالق جهان د پاره، هغه به د نائب خُدا او د خلیفهٔ خُدا
په حیثیت هغه کارکوی چه د هغه د آقائے حقیقی کومه منشاوی، په
دغے منشأ الٰهی به پخپله عامل وی اوبل به پرے عامل کوی او دے ته
وُیلے شی عبدیت او بندګی:

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا ۔ دپیریانو او بنی آدمو تخلیق د خالق
لِیَعْبُدُوْنِ ۔ سورهٔ الذّٰریٰت آیت ۵۶ ۔ کائنات د عبدیت او بندګی دپاره دے
په دے بندګی کښے د خداوند تعالیٰ هیڅ فائده نشته او د انسان فائده
کښے داسے ده چه هغه د خپل مقصدِ تخلیق تکمیل اُکړی نو د حیاتِ ابدی
د خوشحالونه به فیضیاب شی، اُس مقصدِ تخلیق یا منشأ الٰهی معلومولو د لپاره ضروری ده چه پخپله خالق د هغو د ضاحت اُکړی او هغه بغیر د کلام الله
او وحی الٰهی نه ناممکنه ده نو ځکه د کلام الٰهی ضرورت ثابت شو چه هغه قرآن۔

۱۰ : دلیل نرحمی

رحمت او شفقت خُوبی ده، او د کمال صفات دی رحمت نه خالی کیدل نقص

دے، چه د هغے نه د الله ذات پاک دے ددے وجے قرآن کښے ځائے ځائے پرے
د رحمتِ الٰهی ذکر موجود دے په نورو آسمانی کتابونو کښے هُم او د عقل تقاضا هم
دغه ده چه په خالقِ کائنات کښے د رحم ضرورۍ، د عالَمِ کائنات یو آئینه
ده په دے کښے رحمتِ الٰهی صاف ښکاری، کائنات کښے صرف دوۀ څیزونه دی

(۱) مرحوم، او مُنعَم، په چاچه رحمت او انعام وی هغه انسان دے

(۲) رحمت او نِعمَت، د آسمانونو او د زمکے هغه ټول مخلوق چه د خُداوند
تعالیٰ دا ټوله د انسان د پاره نعمت او د رحمت سامان دے،

وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا ۔ کجرے تاسو د الله تعالیٰ نعمتونه شمیرل
اِنَّ الْاِنْسَانَ لَظَلُوْمٌ كَفَّارٌ (۱۵) سورهٔ ۔ غواړئ نو نه شئ شمیرے بیشکه انسان
ابراهیم آیة ۳۴ : ۔ بے انصافه او ناشکره دے۔

د الله تعالیٰ د رحمت خو دا حال دے، انسانی اعمال نه پتول خراب دی او نه پتول
ښه دی، بلکه څه مُضر او تباه کُن دی او څه مفید او نفع مند دی، د دُنیا پتول
قومونه په دے متفق دی چه انصاف ښه دے او ظُلم بد، لیکن اعمال د هغے
لطیف اشیاء دی چه په انسانی غور فکر یا لیبارتیرۍ (تجربه کاه) کښے د
هغے فائده نقصان نه شی معلومیدے د غه اعمال عام دی عقائد وی که
اخلاق که عبادات که مُعاملات، کجرے په دے اعمالو کښے د الله تعالیٰ هدایت
هُم نه وی او انسان په تباه کُن اوزهر آلود عقائد و او اعمالو کښے مبتلا شی،
او خالق کائنات صرف تماشه کوله نو دا به د ده د شانِ رحمت نه خلاف وے
لکه څنګه چه یو انسان نه د اعلم وی چه په طعام کښے زهر گډ دی بل بے
خبره انسان ټ خُوړی او دے پرے غلے پاتے شی، نو دا به بے رحمی وی،
دارنګ کجرے یو پُوه په ګنده یا کوهی کښے خپه اګنده او ورپرے وُځی،
خو بینا انسان ګُوری او پرے چپ پاتے شو نو دا به بے رحمی ده، نو د آ حکم
الحاکمین او ارحم الراحمین شان خوبے انتها اُچت دے هغه ګله د اسے کولے

(c) ketabton.com: The Digital Library

شی چه انسان خو دِ په مُهلک اوتباه کُن اعمالو کښے مُبتلا وی اودے د پرِ چپ وی، حالانکه انسانان به خبره دی اودده ذات په هرڅه خبر دا دے نو ددے دَ رحمت تقاضا ده چه دَ هغه دَ جانبه ورته هدایت نامه مرحمت وی چه په هغے کښے دَ نجات ورته هغه دَ عقائدو او اعمالو تشریح اوبیلتون مُوجُود وی، همدغه هدایت نامه کلامِ الٰهی یا قُرآن دے چه ددے انسان ته ضرورت دے۔

دقرآن صداقت او اِعجاز

دَ قُرآن دَ اِعجاز یا دَ دَه دَ مُعجز کیدو مطلب دا دے چه قُرآن کلامِ الٰهی دے آسمانی اوربّانی هدایت دے، ددے عُلوم او معارف دَ الله تعالےٰ دَ ذات عِلم وعِرفان دَ لامحدُود سرچشمے ابدی قوانین دی دَ یو انسان دمحدُد اوناقص فکر او دِماغ نتیجه نه ده اونه دا دَ انسانی افکارو اونظریاتو په شان دَ وهم خیال، جذبات او خواهش نفسانی نه اثر او تبدیلی قبلُونکو تصوّراتو مجمُوعه ده، دا فطرت او حقیقت دے چه کله نه بدلیږی اونه په هغے کښے د غلطئ څه گنجائش شته نه دَ دے په قوانینو کښے د ترمیم او تبدیلئ ضرورت شته اونه دَ یو لوبشری قوموندَ حُقُو قو سره تړلی دعدل او انصاف دَ لوئے لارے نه دَ اوریدو احتمال مُمکن دے، چه دَ هغے متعلق دَ قُرآنِ کریم پخپله ترتیب وار دعوے دا رنګ ده:-

لَا یَاْتِیْهِ الْبَاطِلُ مِنْۢ بَیْنِ یَدَیْهِ وَ: دقُرآن په مطالبو کښے ورانده ورسته لَا مِنْ خَلْفِهٖ ؕ تَنْزِیْلٌ مِّنْ حَكِیْمٍ حَمِیْدٍ ○ : دهیڅ باطل دَ ننوتو هیڅ گنجائش نشته سورهٔ حٰمٓ السّجدهٔ آیة ۴۲: ؛ دَ دا هغه ذات نازل کرده کتاب دے چه دَ حکمت او دانایئ سرچشمه ده او په یو لو صفاتِ کامله رمو صرف دے لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ ۚ سورهٔ انعام آیه ۱۱۵: ؛ په قرآن کښے دهیڅ ترمیم او تبدیلی گنجائش

وَ تَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَّ: قُرآنی هدایات په ډیر ښتنې او عَدْلًا ؕ سورهٔ انعام آیة ۱۱۵ ؛ انسانی عدل کښے پوره او مکمل دی اُس یواځے داخبره پاتے شوه چه ایا دِ رشتیا دَ الله تعالیٰ کتاب دَ یا دانسانی ذهن دَ خواری نتیجه ده، کُچرے اوله خبره صحیح وی نو بیا به هر یو غیر الٰهی طاقت ددے په ورانده عاجزوی اودے کښے به هیڅ شک پاتے نه شی ... (چه دا کلام الٰهی ... دے او کُچرے دویمه خبره صحیح شی نو بیا به په دے کښے هیڅ شک وی چه دا کلامِ الٰهی دے اوکه نه؟ مُونږ به ورانده دا ثابتوو چه قُرآن مُعجزه ده او ټول انسانی طاقتونه ددے ټول څه چه دَ یو ورُوکی جُز (حصے) جوړولو نه هم پاتے دی، هم دا وجه ده چه دا کلامِ الٰهی او مُعجز دے او دا لکه دنورو پیغمبرانو علیهم السّلام دَ معجزو په شان دَ یو وخت دپاره مُعجزه نه ده بلکه تَل دَ پاره ده چه ددے جواب ددے مُنکرین تر قیامته هم نشی ورکولے او دَ یُورپی عیسائی جارج سیل دَ دے خبرے نه پُوره پِ شینی کیدے شی لکه چه هغه لیکی چه "دَ یو انسان قلم دَ قُرآن په شان مُعجز کتاب هیڅ کُچرے نشی لیکے بلکه دا معجزه دَ مرورِ زمانے سره سره هم لویه معجزه ده" (تاریخ اسلام جلد ص ۳۲۷ از عبدالقیوم ندوی) دیتولو نه اول مُونږ دَ قرآن دَ اِعجاز او مُعجزے کیدو تشریح کوُو چه په دے خبره پوهیدل آسان شی؛

دَ مُعجزے او اِعجاز تشریح

په دُنیا کښے څومره خیزونه چه ظاهریږی دَ هغے ټول درے قسمه دی

① عادیات ② عجائبات ③ مُعجزات

عادیات

عادیات هغه خیزونه دی دکومو چه تړون هغه مادی اسباب سره وی چه عام خلق ئے پیژنی لکه دغنمو کرلونه غنم را ټوکیدل اود هغه دَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولونه د قجورے اُونه را ټوکیدل، د دارُو په استعمال مرض لرے کیدل، د وړې خُوراک سره لوبزه او اُوبو څښلو سره تنده ماتیدل د تجارت نه کتله مُوندل او په سامان جنګ سره برے مُوندل دا اُمور عادیه دی او د عامو اشخاصو مطابق دے نه ذکر شوی نتیجے حاصلیږی

عجائبات

عجائبات هغه یزونه دی چه د مادی اسبابو په نتیجه کښے پیدا کیږی، مګر د مخصوصو اوماهرینو نه بغیر عامو خلقو ته د دغے اسبابو او د هغے د پیدا شوو نتیجو هیڅ علم نه وی، مثلاً سائنسی نوی مصنوعات د مشین په زور اُوړکاوے ځغلول الوتکه الوځول، سمندری جهاز چلول، ریډیو سټیشنونو نه آواز ونه اوتقریرونه خوروول، میزائل، آټم بم اوهائیډروجن بم جوړول دا ټول په عجائبا تو کښے داخل دی، دا رنګ سحری عملیات د مادی اسبابو او د مهارت پیدا وار دی، لیکن دے مخصوصو خلقونه بغیر عام خلقو ته د اسباب او په دے اسبابو د انړه نتیجے معلومه نه وی نو ځکه ورته د اخیزونه عجیبه علومیږی، بیا په عادیا تو او عجائبا تو کښے یو خاصیت مشترک دے :-

مشترک خاصیّت

دے دواړو قسمو په ډول نور خلق هم جوړولے شی فرق صرف دومره دے چه په عادیا تو کښے د مهارتِ فن ضرورت نه وی، څوک هُم چه غنم اُګری، نو غنم ریبلے شی، لیکن عجائبا تو کښے د مهارتِ فن ضرورت وی صرف یو ماهر انسان دغه ایجاد اُګری او نور په زړګو نو ماهرانو کښے بیا جوړ وی، لکه څنګه چه امریکے ایټم بم او هائیډروجن بم جوړ کړو بیا چین دے په ډول کړو، دینه ثابته شوه چه عجائبات هُم د اسے څیزونه نه دی چه بل یو ماهر انسان کے نه شی کولے نو ځکه دے

عجائبا تو ته مُعجزه نشی ویلے :-

مُعجزات

مُعجزات هغه دی چه یو خو په هیڅ قسمه عامو رعادیا تو خاصو رعجائبا تو د مادی اسبابو باندے اړ انړه نه وی بلکه د هغے وجود د خالق کائنات په مخفی قوّت او مشیت اړ انړه وی او دا بغیر د نبی علیه السلام نه بل هیڅوک نشی حاصلولے مثلاً الوتګه هم الوځی، او د سلیمان علیه السلام تخت هم الوتلو لیکن اوله معجزه نه ده او دویمه معجزه ده الوتګه هر انسان جوړولے اوالوځولے شی لیکن د سلیمان علیه السلام تخت صرف په مشیت الٰهی الوتلو چه دا ټول نه خوچاورانده اُګرے شو نه اُس څوک کولے شی او نه به آئنده کا څوک اکړے شی :-

قرآنی معجزه، بلاغی دلیل

په دنیا کښے دوه قسمه مصنوعات دی یو الٰهی مصنوعات لکه نمر، سپوږمۍ وغیره او بل انسانی مصنوعات مثلاً موټر سائیکل وغیره اُس موټر چه غور اُګرو نو بنکاره غټ فرق دا دے چه الٰهی مصنوعات د انسانی طاقت نه بهر دی، او انسانی مصنوعات دا سے نه دی بلکه بل یو ماهر انسان ئے هم جوړولے شی، مصنوعاتِ الٰهی نه خو بل انسان جوړولے شی نه دے د پاره په دُنیا کښ کارخانے شته او نه خو په بازار کښے خرڅیږی هُم دغه حال د کتابونو هم دے د انسان جوړ شوی کتابونه دا سے نه دی چه د هغے په شان یا د هغے نه بنه بل څوک نشی جوړولے مګر د قرآن متعلق دا دعوٰی ده چه دا د خالقِ کائنات د علم او قدرت نتیجه ده د دنیا ټولو انسانانو په جمع د دے پشان څه چه دا د دیوړو کی سورت الکوثر جوړ کړو بیا چین د دے په ډول کړو، دینه ثابته شوه چه هیڅ شک پاتے نه شو چه دا د الله تعالےٰ کلام دے، لکه څنګه چه هر په دے معیار قرآن

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریم پخپله د خپل اعجاز او د کلام الهی کیدو په باره کښے د عرب فصحاؤ
او بلغاؤ ته د مقابلے دعوت ورکړے دے، فرمائی،
وَاِنْ كُنْتُمْ فِیْ رَیْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰی ؛ کچرے ستاسو په قرآن کښے د شک
عَبْدِنَا فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِهٖ ؛ وی چه دا کلام الهی ګوندی نه دے نو
وَادْعُوْا شُهَدَآءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ ؛ تاسو پتول یو خائے شئ خپل پتول
اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ۝ سورة ؛ امدادیان هم راأ بللئ او د دے دیو
البقرة آیة ۲۳ ؛ وړوکی سورت غوندے یو بل سورت
جوړ کړئ، کچرے تاسو پخپله دعوی کښے رښتینی یئ،
اودائے هم ورسره اُفرمائیل:
وَلَنْ تَفْعَلُوْا، سورة البقره، آیة ۲۳ ریښے تاسو دا سے هیڅرے نشی کولے
په دویم آیت کښے دے نه هم زیات مضبوط تکوکښ فرمائی:-
قُلْ لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلٰٓی ؛ کچرے پتول انسانان او جنات دے
اَنْ یَّاْتُوْا بِمِثْلِ هٰذَا الْقُرْاٰنِ لَا یَاْتُوْنَ ؛ د پاره جمع شی چه د قرآن مثل
بِمِثْلِهٖ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ؛ ؛ جوړ کړئ او اوړی، نو نشئ راوړے
ظَهِیْرًا ۝ سورة بنی اسرائیل آیة ۸۸ ؛ اګرچه دا ټول په دے کښے د یو بل
ملاتړ اُکړی:-
په دے آیت کښے دا سے یو قوم ته خطاب دے د کوم چه پخپل ادبی قابلیت او
په فصاحت او بلاغت باندے ناز وو هغوی د قرآن د شتمنان وو او اوّل
مقصد د هغوی قرآنی دعوی غلطول او ماتول وو او دا اعلان د حضور
علیه السلام په خوله مبارکه اُکړے شو کوم چه اُمّی وو نه ئے شعر و شاعری
زده کړے وه او نه ئے فصاحت بلاغت کښے خه تجربه او مشق لرلو بلکه د دوی
دا خلویښت کاله عُمر دا سے تیر شوے وو چه د دغے ژبان په ماهرینو کښے
د ده هیڅ شُهرت نه وو په دا سے حالت کښے دے اعلان د هغوی تاؤنو

هم زیات کړو کچرے کیدے شوے نو هغوی به په دیره آسانه قرآن او
صاحب قرآن ته په دے سخته ماتے ورکړے وه چه کم بأکم یو
کرښه عبارت خو به ئے د قرآن پشان جوړ کړے وے، لکه چه د قرآن
پخپله هم دا اقرار دے کچرے دا سے اُشو نو قرآن بیا کلام الهی نه
دے او صاحب قرآن به د خُدائے رسول نه وے لیکن هغوی په خپل ادبی
ذوق او د فطرت سلیمه په بنیاد د قرآن مثل جوړول ناممکن اُګڼل او دده
آسانے لاړے په خائے د قرآن د مقابلے د پاره د جنګونو دیره ګرانه او طویل
تر مینه طریقه اختیار کړه چه په هغه کښے ئے مالونه او ځانونه تباه کړل
او خپله خو پکښے د خپل ملک او وطن نه هم لاس اُوینځلو سره د دے
چه په دے کښے هم ورته کامیابی نصیب نه شوه، د تورے او خونریزئ د
مالی جانی قربانئ ورکول او د ژبے او د قلم خوزولو آسانه طریقه
پریښودل د دے دلیل دے چه دوی سره د قرآن د دے چیلنج هیڅ
جواب نه وو حالانکه دا هغه خلق وو چه کدوی د فصاحت او بلاغت جواب
به تر قیامته اُنکړے شی دا خو د قرآن د اعجاز بلاغی دلیل دے
چه دیر صفا او آسان دے لیکن د یورپ وغیره مستشرقینو د اسلام د
مقابلے د پاره صرف دغتو تخواګانو او معاوضو هضمولو په غرض بیا هم
خوګده وو بے بُنیاده اعتراضات کړی دی هغه به مُونږ په وار وار
نقل کوُو او جواب به ئے ورکوُو:-

اوله شُبه

اوله شبه اهل استشراق دا کړیده چه کیدے
شی د عرب فُصحاؤ په دے وجه بل قرآن نه جوړولے
چه دا ئی ضروری نه ګڼلے نه دا چه د بل قرآن جوړولو نه عاجز وُو لکه چه
بوانسان نیو یارک نه خوتلے شی لیکن دغلته د تللو ضرورت نه ګڼری. د دے
جواب دا دے چه بیشک د نیو یارک سفر د پاره یوائے قُدرت کافی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے بلکه دتللو باعث هم ضروری دے، نو کچرے د قرآن په مثل راوړلو باندے دعربو بُلغاء قادِر وَے، نود دے نه بله ژبه یا ته کومه موقعه کیدے شوه حُکه چه قُرآن ته شکست ورکولو د پاره ددوی او د قرآن منونکو په مینځ کښے مقابله په دے وجه جاری وَه چه قرآن ددوی دپلار ګنی دین باطل کولو، نو د مقابلے ضرورت دے د پاره وُو چه خپل پلار ګنی دین به ئے هم بچ کړے وے او د قُرآن مثال پیش کولو سره به ئے په دے مذهبی مُقابله کښے خپل حریف یو لی مسلمانانو او صاحبِ قُرآن ته ماتے ورکړے وَه، د قرآن په مقابله کښے دوی ته خپله بریالی دومره عزیزه او ضروری وه چه د هغے د پاره دوی بے کچه مالی او جانی قُربانئ ورکولے چه په هغے جنګ بدر، اُحد، خندق او حُنین واقعات او په قُرآن منونکو باندے په مکه معظمه کښے د دوی هغه ظالمانه کارنامے کوا هاتے دی، هغوی په دے سره پوه وُو چه قرآن ته په ماتے ورکولو به د هغوی دین بریالی شی او د هغوی د فصاحت بلاغت بے مثلی به هم اُخلے شی او د دے مذهبی جنګ یو فریق (مُسلمانان) به هم خوار او زار شی اُس دلته د شبه دا سے عبث ده لکه څنګه چه په صحرا کښی د تنډے نه مَرسرې په بارہ کښے اُوسیلے شی چه دے خو بنزے وویه اُوبو خښلو ته قُدرت هم وو لیکن د اُوبو خښلو ضرورت (د تنډے نه وُوړ آنرین به نکرِ غلام جان) دے نه علاوه حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوی رحمه الله تعالیٰ د آریه سماج بانی پنډت دیانند ته د مناظرے چیلنج ورکولو نه پس هرکله چه هغه ته ورغلو، نو هغه ته د حضرت مولانا علمی مقام په رُوبمو نا ظرو کښے بنکاره شوے وو نو چُوپ انکارئے اوکړو او دے ویل چه ما اِرادہ د مناظرے نه ده کړے نو حضرت مولانا اُفرمایل چه ارادہ خو دا ختیار شته دے که اول دِ نه ده کړے اُس ته اُکړه به دے خبره هغه خاموش شو د احال د دے شُبهے هم دے، موبنزوا یو کچرے

مشرکین مکه د نظیرِ قُرآن پیش کولو اراده نه ده کړے، نو د عراق مصر شام لُبنان او د بیروت هغه کنړ شمیره عیسایان دِ اُس د قُرآن د نظیر پیش کولو اراده اُکړی، حُکه چه د هغوی مور نئ ژبه عربی ده او په دے ژبه کښے دوی کنړ شمیره کتابونه لیکلی دی او په دِیرو جلدونو کښے د عربی لُغتونه جوړ کړی دی، د عربی ژبے لوئے لوئے شاعران هم دی عیسائی، غټ غټ حکومتونه او قومونه کرو رونه روپئ هرکال د قُرآن او د اسلام په خلاف خَرچ کوی، که د قرآن نظیر پیش کول آسان وے نو دے دومره کرانے مقابلو او منصوبو په ځائے به ئی داکړی وو لیکن ممکنه ده چه عیسائی قومونه خوسپوبنه مئی ته اُرسی مګر دا هیڅرے نشی کیدے چه دوی د قرآن ما تُوڼے پیش کړی؛

دویمه شُبه

اهل استشراق دا دویمه شُبه کړے ده چه کیدے شی د عربو فُصحاؤ سره هغه اسباب موجود نه وو کوم چه د قُرآن جوړولو د پاره ضروری وُو، دا شُبه هم حُکه بے ځایه ده چه دیوخیز جوړولو د پاره ضروری اسباب صرف خلور خیزونه دی (۱) قدرت یا مهارت (۲) ماده یعنے هغه مساله کوے نه چه دا جوړیږی (۳) باعث او محرک، یعنے داسے مقصد چه د دے په جوړه ولو آماده کوی (۴) نمونه د هغه څیز چه کوم جوړ ول غواړی مثلاً د میز جوړولو د پاره اوّل دا ضروری ده چه جوړُونکے دِ تر کانړ او لوهار وی د دے قدرت او مهارت ولری، یو عام سړے ئے نشی جوړولے،

دُویم:- داچه لرګے دِ "موجود دی، حُکه چه پغیر لرګی میز نشی جوړیدے

(۳) دریم:- څیز هغه باعث دے چه په کوم د میز جوړه ولو مقصد حاصلیږی مثلاً د میز قیمت حاصلول یا پخپله د هغے د استعمالولو ضرورت،

(۴) څلورم:- څیز د میز نمونه ده:-

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خوظاهره ده چه د عرب فصحاؤ سره داخلور واړه اسباب موجود وو
دا اول قدرت او مهارت د دوی خو دومره وو چه د نظم او نثر دواړو صورتونو
کښے د دوی جواب نه ووکړ د دوی هم دغه مشغله وه، ماده د قرآن هغه
آله وګڼشت حرفونه دی، چه هغه هم موجود وو او د دوی پټول کلام د دے نه
جوړ وو. دبلګ قرآن جوړولو باعث او محرک هم دوی سره موجود وو ځکه چه
د قرآن مقابلے کړ پاره هغوی سر ونه په تلی کښے اینی وو، چه د دوی د زور په دین
محفوظ شی:-

(۴) خلور م دا چه نمونه د قرآن هم موجوده وه نبی علیه السلام ورته بار بار
قرآن اوړولو، بلکه د دا سے قرآن جوړولو د پاره ئے ورته چیلنج درکړے وو،
نو ځکه دا شبه هم بے ځایه ده:-

دریمه شبه

دریمه شبه دا ده چه کیدے شی، فصحاؤ د عرب
د قرآن ماتون جوړ کړے وی خو مونږ ته نه وی
دا رسیدلے، ذا هم صرف دما شومانو خبرے دی، ځکه چه دغه وخت
کښے سواد څوک سا نو نوره ټوله دُنیا د قرآن خلاف وه او اُس هم د قرآن
مُنونکو په نسبت د قرآن د مخالفینو شمیر په دُنیا کښ ډیر زیات دے
هر کله چه د دغه وخت هغه لږ د مؤمنانو قرآن تر موجوده، د مؤمنانو دا
اُدرسولو نو ډیرو مُخالفینو د دغه وخت د موجوده وخت دے ډیرو مخالفینو
ته ولے دا اُنه د رسولو؛ د د دے خبرے دلیل دے چه دا سے هیڅ نه وُشوی
ځکه خو بنکاره ده قدرے هُم نه شوه،

څلورمه شبه

څلورمه شُبه دا سے ده چه یو سائنس دان
یو نوے څیز ایجاد کړی بل سائنسدان دا سے
نشو کولے دا د دے خبرے دلیل نشی کیدے چه د قرآن په مثل بل نه جوړیدل
د دے مُعجزه ده، د دے جواب دا دے چه نو مصنوعات کښے څیز و نه دی چه

چه یو ماهر ئے جوړ کړی بل ئے خواه مخواه جوړه ولے شی او قرآن کښے نه
دے ځکه خو تراوسه چا جوړ نکړے شو:-

پنځمه شبه

پنځمه شُبه دا ده چه د قرآن او سحر یو مثال
دے سحر هُم بغیر د ساحر نه بل څوک نشی
کولے نو ځکه داد خالق کائنات فعل او معجزه نشی کنړلے، د دے جواب
دا دے چه سحر او معجزه کښے د زمکے آسمان فرق دے سحر کسبی او د
اسبابو لاندے دے اګرچه دا اسباب بنکاره نه دی که بل څوک هم دغسے
اسباب استعمال کړی نو هغه هم د سحر عمل کولے شی لکه چه په هره
زمانه کښے د ډیر ساحران موجود وی د موسیٰ علیه السلام د همسا کار کسبی نه
دے نو سمدستی د دے اقراریان شول چه دا معجزه ده:-

شپږمه شبه

شپږمه شبه دا ده چه اهل استشراق وائی چه
د پیغمبر علیه السلام فصاحت او بلاغت بے مثله
وو ځکه بل چا دے مقابله اُنشوه کړے کومو ډیرو هسے خو قرآن د محمد صلی الله
علیه وسلم کلام دے د دے جواب دا دے چه عرب و پخپله ولے دا شبه پیش
نکړه چه هغوی د قرآن اولنی بد ترین دُشمنان وُو د هغوی نه اهل استشراق
زیات خبر دار دی، بلکه دا تیر شوی ټول شبهات هر کله چه پخپله فصیحا نو د
عرب پیش نکړے نو معلومه شوه چه ټولے غلط او بے ځایه دی:-

دویمه وجه دا ده کچرے قرآن د رسول الله صلے علیه وسلم کلام د نو د هغه
په احادیثو مُبارکو او قرآن کښے به بیا هیڅ فرق نه وو، ځکه چه هغه د نبی
او شان په احادیثو کښ قطعًا نشته کوم چه په قرآن کښے موجود دے دلته
مستشرقین بل عذر پیش کوی چه د نبی علیه السلام کلام دوه قسمه وو یو نوری
بے تیاری چه معمولی به وو بل د تیاری او غور و فکر والا چه هغه به بے
مثله وو، نو دا عذر هم ځکه غلط دے چه د یر کرته یو سائل ټوس کړے

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظاهري څونه هم کارکيدے شي، او مُعجزه غيرِ اعتياده نه ده، "واکتروادو" "سسټم آن لاجک" کښے ليکی چه دبيابان په زړو کورتو کښے کچرے د پنځه ويشتو کنجيانے ملاؤ شی نو دا ضروری نه ده چه د نهو سو پنځه اويا څو کنجيانے د هم دغسے وی، مطلب دا دے چه علتونه او اسباب چا بيانے دی چه انسانی عقل معلومه کړی دی او کوم اسباب چه نامعلوم دی هغه نسبتاً پيرزيات وی، لهذا دَهرے واقعے حل د دغے معلومه علتونو په کنجيانو پرانستل صحيح نه وی، "پُرو فيسر هکسلے" ليکی، چه موبنږه د فطرت حد بندی نه شو کولے، د دے مطلب دا دے چه موبنږ په فطرت دا پابندی نه شو لګولے چه د کوم قانونونو دلاندے هغه ذات کار کړے دے نو هغے نه بغير ے نه شو کولے،" د انګلستان وليم جيونس ليکی چه" په کارخانهٔ فطرت کښے خُداوندی مُداخلت نه موبنږ باطل نه شُو ويلے د کائنات د خالق کمول او زيا تول هم کولے شی، دا سے رائے د مغرب د ډيرو فلسفيانو ده اوهغوی په نزد هم دا رائے حکه صحيح کيدے شی، چه د قانونِ تعليل بنا په ناقص لټُون ده چه هغے نه يقينی علم نشی حاصليدے، او د نولو سائنسدانانو منلے شوے قانونونه دے چه تجربه او لټون چه پورے محيط نه وی نو هغے نه يقينی علم نه شی حاصلے دے، مثلاً خُموبنږ په تجربه کښ چه خومره اوږد نه راغلی دی نو هغه سوَ ځل کوی خو بيا هم آيا موبنږ ده نولو اوږدو نو تجربه کړيده او دهغے اُوږدهم موبنږ تجربه کړيده خه چه کوم کښ حضرت ابراهيم عليه السلام غور ځولے شوے وو، کچرے نه موده کړے نو دا ناقص لټون شو چه دهغے نه د آتش ابراهيمی فيصله نشی کيدے د دينه علاوه هر علت چه کوم يو معلول پيدا کوی نو دخپل هومره طاقت په ذريعه ځے پيدا کوی چه"

کوم ده کښے موجُودوی خو دا قوت د خالق کائنات بخښلی او ورکړه ده چه هغه ځانګړے هم شی چه ځے داخلی نو دده هغه صلاحيت ختم شو او په دا سے علت بانډے بيا معلُول هيڅرے نه شی مُرتّب کيدے، هم دغه رنګ کچرے يو معلُول بغير د علّت نه موجُود شو مثلاً په عصائے مُوسےٰ عليه السلام سره د سمندر بيليدل دا هم د خالق فطرت کار دے چه په هماسکس ځے د بيلولو طاقت کيښُودو کوم ذات چه به دے کښے ورانده دا طاقت نه وُو، ايښودے نو دے رخت دا معلُول با علّت شو نه چه معلُول بے علّته، دا خو موبنږ د فلسفے مطابق ليکل اُکړه، ورنه اصلی جواب خو دادے چه د علّت معلول خبره بالکل غلطه ده خالقِ فطرت چه څنګه اُغواړی هم هغسے کولے شی، کله د علّت معلول مطابق کار اُشی نو تاثير او طاقت ايښودو نکے هم د غه ذات دے، او کله بغير دے نه چه اُشی هغه صرف په ارادهٔ الٰهی کيږی اصل څيز ارادهٔ الٰهی ده، معجزات هم ارادهٔ الٰهی سره حُکمه تعلق لری چه دا صرف افعال الٰهيّه دی او دغه د خدائے او د انسان مينځ کښے فرق دے، چه انسان يوالے د عمل اراده نه کوی بلکه اراده سره هغه اسباب هم استعمالوی مثلاً يو انسان په اُوبو يا دوډئ مريدل غواړی نو دا به يوالے په اراده نه بلکه دے سره به هغه دوډئ خوُړی او اُوبه به څښی نو هله به مريږی خو خالق فطرت دا سے نه دے د هغه اسبابو نه ضرورت نشته بلکه د هغه ټول کارونه صرف د هغه اراده تابع دی،

إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ۔ سوره يٰسٓ رکوع ۵ آيت ۸۲

کښے هم دے مضمون ته اشاره ده، آيا آسمانونو او زمکه جوړ ولو کښ صرف ارادهٔ الٰهی کافی نه وه که مزدورانو څه ضرورت هم پيښ شوے وو؟ هيڅرے نه د غه مُعامله د معجزانو ده چه هغه د عادی اسبابو نه بغير صرف په ارادهٔ الٰهی سره وُجود ته راغلے دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتمه شبه

اهلِ استشراق وائی چه کله چرے قرآن معجزه وی، نو دا به وحیِ الٰهی وی دا پخپله او ددے په ذریعه دَ عُلُومو اِلقاء دعقل نه بهر ده، ددے ژوبے جواب خو دا دے چه پخپله په بائیبل کښے دانبیاء علیهم السلام موکد وحی ذکر موجود دے نو وحی او نبوت داد واړه داسے اُمور دی چه اهل کتاب (یهود او نصاریٰ دواړه لے) منی صرف دَ پیغمبرِ اسلام دپاره دمنلی شوی حقیقت نه انکار محض ضد او عناد دے۔

دوئیم جواب دادے، چه دَ الله تعالےٰ دجانبه دَ پیغمبر په زړه باندے دَ الفاظو یا دَ معانی القاء بالکل معقوله خبره ده چه ددے، تائید دَ مسمزیزم دَ عمل نه کیږی کوم چه یوروحانی عمل دے، صاحب دمناهل العرفان په علوم القرآن کښے لیکلی دی، چه عیسائی مبلغین (کومونه چه مبشرین هم ویلے شی) مصرته لاغلے او په یوځوان باندے دَ تنویم مقناطیسی عمل اُکړو، دهغه نه ئی اول دَ خپل نُوم تپوس اُکړو هغه ورته خپل اصلی نُوم اُښودو بیا دغه عامل هغه معمُول ځوان ته توجُّه اُکړه اووے ویئیل چه دا نُوم ستا نه دے بلکه ستا بل نوم دے په دے عمل ئے هغه دذهن نه اصلی خپل نُوم لرے کړو او بل فرضی نوم ئی دهغه په ذهن ورا تپلو او دَ دے عمل په ذریعه نورے خبرے هم دَ ده په ذهن کښے واچولے نتیجه دا شوه چه دَ غه ځوان په ذهن کښے دغه الفاظ او علوم داسے کلک اپریو تل چه دعمل اثر دختیدو نه پس هم په کښ پاتے شول دینه معلُومه شوه چه انسان په یو مخفی طریقه دَ بل انسان ذهن ته الفاظ را اړولے شی نو آیا خدائے پاک دیو منتخب رسول ذهن ته دَ وحی الفاظ او قُرآن نه شی راأړولے؟

دَرئیم جواب دادے چه تپیږ ریکارډ ورته حقیقت نور هم دیر آسان داسے

کړو چه انسانی الفاظ یو بے رُوحه ټیپ ریکارډ ورته داسے اړولے او پکښے ئے محفوظ کولے شی نو آیا خُدائے پاک دانسان نه هم عاجز دے چه یوبے روحه آلے ته هم نه بلکه دَ یو منتخب نبی روح ته وائی او په هغے کښے محفُوظ کړی؟

سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسٰى : سورهٔ ۞ مونږ به ستا په ذهن کښے دَ وحی الفاظ اعلیٰ آیة ۶ واچُوډ چه هغه به ته نه هیرَ وَے۔

اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ ۞ ستا په ذهن کښے دَ وحی الفاظ جمع کول بیا سورهٔ قیامة آیة ۱۷ ۞ په تا باندی لَولَول خُو مونږ ذِمه واری ده

نهمه شبه

اهل استشراق وائی چه دَ قُرآن مضامین په ترتیب نه دی، نو حُکمه دا اعجاز نه شی کیدے، ددے رُوئیمے جواب دادے، لکه څنګه چه شاه ولی الله رحمه الله بیان کړے دے، چه قُرآن دنورو مصنفینو په طَرز نه دے بلکه دَ قدیم عربو دد ستور په طریقه دے لکه چه د سبعه معلّقات" په یو قصیده کښے کنړ مضامین بیانیږی کله پکښ دَ محبت اظهار، کله دیارانِ تعریف او کله دَ آس دتیزتک بیان، همدا رنګه قُرآن یو شاهی مکتوب دے په کوم کښے چه یو کور نوته دَ دیر وخیږونو دَ انتظام حکم ورکوی چه په هغے کښے ترتیب لټول څه عقلمندی نه ده۔

دوئیم جواب دادے چه دمصنفینو په توګه ټول مضامین په بیل بیل باب کښ نه موټ کول څه نقص نه دے بلکه دا یو بیل قسم اعجاز دے چه هر کله دا کتاب دبیخه وخدائی تم کتاب ثابتیږی نو انسان جوړ کړے نه دے نو دے شأن په ترتیب کښ هم د نورو مصنفینو نه بیل دے کوم دا انسانی کتاب کړے، نو په دے کښے به خامخا دا انسانی ترتیب پیښ شوے وے

دَرئیم جواب دادے لکه څنګه چه امام رازی رح په تفسیر کبیر کښ لیکلی دی چه قرآن پخپله معجزه ده چه دَ هغے ژور ترتیب هم یو پوره معجزه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

اودَ ترتیب اقسم اِعجاز ئے دَ ټول قُرآن لاړ مَا بیان کړیدے، نوورو مفسرینو رح همدغسے کړے دی لکه "بیان القرآن" سبق الغایات فی نسق الآیات" کښے دَ ترتیب قُرآن چه بیان شوے دے اواهل استشراق و په ستر ډوډۍ لګولی دی اودانه کوری، احقره په دے ټول د قُرآن داخری منزل تفسیر په عربی کښے جمع کړے دے چه د ټولونه کران دے اوتر اُوسه چاپ شوے نه دے:

(۴) څلورم جواب دادے، چه په قرآن کښے بے ترتیبی چه چاته بنکاری دا دهغه دَ نظر قصور دے، حُکه چه د قرآن مقصد یوائے تعلیم نه دے، بلکه تعمیل (عمل کول) هم دی چه انسانی ضمیر د عمل کولو دپاره تیار شی چه دغے دَ پاره قُرآن کله دَ امر او نهی نه پس د جنت او دوزخ اود هغے دَ نعمتونو او تکلیفونو ذکر دے دَ پاره کوی چه دَ تعمیلِ حکم نتیجه به جنت او د هغے راحتونه او دعدمِ تعمیل نتیجه به دوزخ تکلیفات وی کله الٰهی اوصاف دے دپاره ذکر کیږی چه دَ الله تعالےٰ لوئی په زړه کښے کله کله شی، اودے به زور انسان د حکم تعمیل ته تیار شی، کله په انسان دخپلو نعمتونو ذکر کوی دے دَ پاره چه دے شرمنده شی اود دے د مخه عمل ته آماده شی، کله هغه قصے اوواقعات ذکر کوی په کومو کښے چه به تابعدار مُومنانو باندِ انعام شوے وی، او په نافرمانو عذاب نازل شوے وی دادے دپاره چه انسان میلان اورغبت د فرمانبرداری ته وی او دَ نافرمانی نه دِ ے نفرت اوکړه وی داخلورا صول معلومه وی، نو په قُرآنی مضامینو کښے به دَ بے ترتیبئی شك هیڅ ے هم پیدا نشی:

لسمه شبه

اهلِ استشراق وائی چه د قُرآن په بعضه آیتونو کښے د عربی ژبے دَ علمو قاعدو نه خلاف شوے دے چه هغے ته لحن" وئیلے شی، اودِ اِعجاز نه خلاف دے لکه چه عُروه رض

د حضرت عائشے رضی الله عنها نه روایت کوی، چه ما دَ هغے نه دَ لحنِ قرآنی په بارہ کښے تپوس اُکړو مثلاً (۱) اِنْ هٰذٰنِ لَسٰحِرٰنِ ط سورۂ طٰهٰ آیة ۶۳، (۲) وَالْمُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَالْمُقِيْمِيْنَ الصَّلٰوةَ وَالْمُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ ط سورۂ النساء آیة ۱۶۲،

(۳) اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالصّٰبِئُوْنَ ط سورۂ المائدة آیة ۶۹

نو هغوی اُفرمائیل:

يَا ابْنَ اُخْتِيْ هٰذَا عَمَلُ الْكُتَّابِ اَخْطَاُوْا فِي الْكِتٰبِ رَوَاهُ اَبُوْ عُبَيْدٍ فِيْ فَضَائِلِ الْقُرْاٰنِ وَاَخْرَجَ ابْنُ الْاَنْبَارِيِّ فِيْ كِتَابِ الرَّدِّ عَلٰى مَنْ خَالَفَ مَصَاحِفَ عُثْمَانَ عَنْ عِكْرِمَةَ لَمَّا كُتِبَتِ الْمَصَاحِفُ عُرِضَتْ عَلٰى عُثْمَانَ فَوَجَدَ فِيْهَا حُرُوْفًا مِّنَ اللَّحْنِ فَقَالَ لَا تُغَيِّرُوْهَا فَاِنَّ الْعَرَبَ تُقِيْمُهَا بِاَلْسِنَتِهَا:

گویا کښے ردے ذکر شوی ایتونو کښے بظاهر چه لحن (بے قاعدگی) بنکاری د حضرت صدیقے رض نه ے چه تپوس اُکړو زهغوی اُفرمایل چه دا د کاتبانو غلطی ده. د دویم روایت نه معلومیږی چه د قرآن لیکلے شوے نسخے چه د حضرتِ عثمان رض ته پیش شوے نو هغوی اُفرمایل چه دے کښے خطا شته، لیکن عرب به هغه په خپلو ژبو سره صحیح کړی،

د دے شبهے رُوڑلو جواب دادے چه دا دواړه روایتونه ضعیف الاسناد منقطع او مضطرب دی، علامه آلوسی رح فرمائی چه دا روایت د حضرت عثمان رض نه حُکه صحیح نه دے چه د دے دواړو تردید په خپله د ے روایتونو کښے موجود دے، چه حضرت عُثمان رض هرکله چه د غے نسخے د قرآن اُلیدے نو وے فرمایل، بِاَنَّهُمْ اَحْسَنُوْا وَاَجْمَلُوْا، مطلب دا چه لیکونکو صحابه کرامو رض دیر په خائسته طریقے را مُرتّب کړے دی، نو د دے نه پس بیا دا خنګه وئیلے شی چه په دے کښے غلطئ دی؟:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د صحابی رض په یوروایت کښے دینه اوبد وجمع کیدل ددے جوګه دی چه دا روایت د منلو قابل نه دے، البته حضرت عثمان رض په دغه نسخو کښ صرف د دریو حایونو تصحیح کړه:

(۱) لَمْ یَتَسَنَّ ے لَمْ یَتَسَنَّهْ کړلو سورة البقرة الایة ۲۵۹

(۲) اَمْهِلِ الْکٰفِرِیْنَ ے مَهِّلِ الْکٰفِرِیْنَ کړلو، سورة الطارق آیة ۱۷

(۳) لَا تَبْدِیْلَ لِلْخَلْقِ ے لَا تَبْدِیْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ کړلو سورة الروم آیة ۳۰

هر کله چه هغوی د قرآن د تصحیح دومره فکر کولو چه یو معمولی غلطی ئے هم درسته کولے نو په مذکور روایت څنګه اعتبار راکړے، څی چه د لحن او غلطئ اقرار کولو سره بیا هم هغه پخپل حال پریښوده چه د عقل نه خلاف ده لهذا دا روایت د عقل او نقل دواړو نه خلاف دے چه د قبلو لو جوګه نه دے:

(۲) دویم جواب دا دے، چه د لَحْن نه مطلب هغه رسم الخط دے چه د عام د رسم الخط نه خلاف وی ابو عبیده په فضائل القرآن کښے لیکلی دی، چه د لحن معنی د مشهور رسم الخط نه خلاف کول وی، لکه لَا اَذْبَحَنَّهٗ او لَا اَوْضَعُوْا خِلٰلَکُمْ:

(۳) دریم جواب دا دے، چه لَحْن نه مطلب طرز تلفظ دے، نه غلطی، لکه وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِیْ لَحْنِ الْقَوْلِ ط، سورة محمد ایة ۳۰

اے نَهِجِ التَّلَفُّظِ مَثَلًا الصِّرَاطَ بِالصَّادِ الْمُبْدَلَةِ مِنَ السِّیْنِ ۱۲

کوے دے غلطئ یا بے قاعدګئ چه ذکر شوی دی د هغے روښے جواب دادے کیږے په قرآن کښے د عربو د قاعدو نه خلاف څه لفظ وے نو د قرآن مخالفینو په دغه رضا نه کیږے د دغه غلطی خامخا په کوتنه کړے وے، او د قرآن اعجاز به ئے مات کړے وو، د فتح به ئے حاصله کړے وے، چه هغوی دا سے اُنه کړل:

۱ مناهل العرفان جلد ۱ ص ۳۹۰ ۲ مناهل العرفان جلد ۱ ص ۳۹۱ ۳ مناهل العرفان ص ۳۹۰

نو داشبه نامعقوله ده، بیا هم څه په وار وار د دے جواب ورکوم:-

اِنَّ هٰذٰنِ د قاعدے په موجب اِنَّ هٰذَیْنِ پکار وو حکمه چه "اِنَّ" نصب ورکوی:

(۱) نوروبه جواب داد ے چه قاعده د زبان تابع وی او هم دهغه نه جوړه شوی وی، قرآن چه کومه طریقه استعمال کړے ده دا هم په هغو کښے د کنانه بنی الحارث قبیلے لغت دے، تثنیه په دوا ډو حالتونو کښ به الف سره لولی لکه چه مناهل العرفان کښے موجود دی:

(۲) دویم دا چه "اِنَّ" په ضمیر شان مقدر کښے عامل دے چه "اِنَّهٗ" دے او هٰذٰنِ لَسٰحِرٰنِ په خپلو کښے سره مبتدا او خبر دی:

(۳) دریم دا چه د هٰذٰنِ الف زولا په زور سٰحِرٰنِ سره د مناسبت په وجه دے، لکه سَلَاسِلَا، وَاَغْلَالًا د سورة دهر آیة ۴ او دا هم یو قاعده ده لکه څنګه چه د قرآن په آیت مِنْ سَبَإٍ بِنَبَإٍ یَقِیْنٍ، د سَبَإٍ کسره او تنوین د "نَبَإٍ" د مناسبت د وجے دے:

(۲) د وَالْمُقِیْمِیْنَ، منصوب کیدل د مدح په بنا دی،

(۳) وَالصّٰبِئُوْنَ، مرفوع کیدل یا خو د مبتدا کیدلو په وجه دی چه د هغے خبر محذوف وی، یعنی وَالصّٰبِئُوْنَ کَذٰلِکَ یا عطف دے په محل د اِنَّ سره د اسم د هغے او یا عطف دے د "هَادُوْا" په ضمیر مرفوع باندے

یولسمه شبه

یولسمه شبه داده چه بعضے اینشنانا نو هم بے مثاله کلامونه په عربی کښے جوړ کړی دی لکه مسیلمة الکذاب، ابن الراوندی الزندیق، ابو العلاء المعری ابو الطیب المتنبی او د نبضی تفسیر بے نقطه چه د هغے قول "حروف بے نکو (نقطو) دی مثلا ا ح د ر س ص ط ع ک ل م و ه، هری، نو داشبه محکمه بے خایه ده چه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فیضی تفسیر بے نقطه

فیضی دا تفسیر پخپله د فیضی په نظر کښے معجزه نه ده او د ټولو بلیغانو په نظر کښے هُم داسے کار د مُتنبّی نه شپږ سوه کاله وړاندے په عربو کښے یو معمول او عام شوو۔ د فیضی نه دیرو راندے په مقاماتو حریری کښے داسے عبارت نه موجود دی چه بعضے خالص په حروفِ مُهمله کښے او بعضے په حُروفِ معجمه کښے او بعضے عبارتونو کښے یو لفظ د حروفِ مهمله رے نقطه لوم او دویم لفظ د حروفِ معجمه (نقطه دار) دے، دے نه علاوه چه فیضی خپل داکار د قرآن ماتون نه دے کنړلے او نه ئے دا دعوے کړے ده، بلکه هغه تر آخره عُمره د قرآن د اِعجاز قائل پاتے شوے دے او په خپل هم دغه تفسیر کښے ئے د قرآن اِعجاز او تعریف په زوردار و الفاظو کښے پیش کړیدے لکه لیکی:-

كَلَامُ اللهِ لَا حَدَّ لِمَحَامِدِهٖ وَلَا غَايَةَ ؛ د الله کلام داسے دے چه د هغے د تعریفونو لپاره نه حد نشته او د هغے د فضائلو شمیر هم نشته دا داسے سمبالاړ دے چه غاړه ئے نشته، د فیضی دا داسے اِقرار با وجود د هغه تفسیر سوا طع الالهامِ اِعجاز کنړل مدعی سست اوگواه چُست جوړیدل دی۔

د مسیلمه توکړے

د فیضی نه علاوه د مُسیلمه هغه توکړے چه په هغے کښے دانسانی هدایت بُوئی نشته هم نشته نه خو هغه پخپله د قرآن پشان معجزه کنړلے ده او نه بل چا کنړلے دے، بلکه هیڅ یو بلیغ ماهِر زبان هغه د ذکر کولو وړ هم اُنه کنړل مونږ د ناظرینو د ضیافتِ طبع په خاطر هغه څه لیک نقل کوو۔

وَالْمُبْدِرَاتِ زَرْعًا وَالْحَاصِدَاتِ حَصْدًا ؛ حُصادِ قسم وی په هغه ښکوچه تخمونه کړی

وَالذَّارِيَاتِ قَمْحًا وَالطَّاحِنَاتِ طَحْنًا ؛ او په هغه ښکوچه لوُونه کوی او په هغه

وَالْعَاجِنَاتِ عَجْنًا وَالْخَابِزَاتِ خُبْزًا وَّ ؛ ښکوچه غنم صفا کوی او په هغه ښکوچه

الثَّرِيدَاتِ ثَرْدًا وَّاللُّقِمَاتِ لُقْمًا ؛ چه اُوړه رمیچن کوی او په هغه ښکوچه

إِهَالَةً وَّسَمْنًا ؛ ؛ چه اُوړه اَغزی او په هغه ښکوچه دودی

پخوی او په هغه ښکوچه بنورا کښے دودی مَاته وی او د واز دے او کچوړه

نورئ اَغستونکو باندے / دلفظ خامیانونه علاوه هغه په هر خائے کښے

واو" استعمال کړے دے حالانکه بعضے خایونه د "فا" او د ثُمّ" استعمال

دی بیا داچه کوم کارونه د سرو دوی د ښکوا او د سرو په گډاه وُو هغه ئے هم

صرف ښکوته منسوب کړل دا مضمون پخپله دیر لغو او بے فائدے دے

چه دیوال دنے درجے سړی دیاره شرم خبره ده دا رنگ دا توکړے

هُمُ الْفِيلُ مَا الْفِيلُ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْفِيلُ لَهٗ ذَنَبٌ وَّبِيلٌ وَّخُرْطُومٌ

طَوِيلٌ ؛ جاحظ دهغه داسے توکړے هم نقل کړی دی

يَا ضِفْدَعُ بِنْتَ ضِفْدَعَيْنِ نَقِّي مَا تُنَقِّيْنَ نِصْفُكِ فِي الْمَاءِ وَنِصْفُكِ

فِي الطِّيْنِ لَا الْمَاءُ تُكَدِّرِيْنَ وَلَا الشَّارِبَ تَمْنَعِيْنَ

دا دواړه توکړے د آتی رهاتی او د چیندے خے په باره کښے دی

ابن الرّاوندی زندیق یهودی

ابن الرّاوندی یهودی النسل المتوفّی سنه ۲۹۳ هـ ده به د

یهودو او نصارے وُنه غټے پیسے اخستے او د قُرآن او اسلام په تردید کښے ئے کتابونه لیکل د هغه د کتابونو نومونه دادی، التاج والفرید، والزمرّدة، وقضیبُ الذّهب، د کتابونو لیکلونه پس به ئے د یهودو او نصارئ وُنه نورے پیسے غوښتے چه نه به ئے ورکولے نو هم د دے کتابونو تردید به ئے بیا کولو ابوالعلاء المعری د ده د کتاب تاج په باره کښے لیکلی دی،

لَا يَصْلُحُ تَاجُ اَنْ يَّكُوْنَ نَعْلًا ؛ د تاج دومره حیثیت هم نشته چه باره ترجوړه شی، دا د هغه ابوالعلاء المعری قول دے، چه د ابن الراوندی په شان پخپله هم مُلحد وو ابن الرّاوندی د بغداد په پُول یو معتزلی ابوعلی جبائی سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملاقات اُکړو او ورته ےُ اُویل چه ځما قُرآن اَوُرے ، جُبائی اُویل چه څه ستا دَ شرمناك عُلُومو نه خبر یَم ، بیا هغه اُویل چه اے ابن الرّاوندی ته پخپله منصف شه چه ستا په دے کلام کښے د قرآن پشان فصاحت ، بلاغت ، خوږوالے او هیبت زړه به دا ښے ښته؟

هغه اُویل چه نشته!

دَ متنبّی توکړے

متنبی د پیغمبرئ دَ دعوٰی کولو په وخت اُویلی وو

أُقْسِمُ بِخَالِقِ اللَّيْلِ وَالرِّيحِ الْهَابَّةِ بِاللَّيْلِ إِنَّ الْكَافِرَ لَطَوِيلُ الْوَيْلِ وَإِنَّ الْكَفُورَ لَمَكْفُونُ الذَّيْلِ ، بیائے توبه کړه او مُخلص مسلمان شو ، ددے تولو مَاخَذُ د مُصطفٰے صادق الرافعی اعجاز القُرآن نومی کتاب مخ ۲۰۸ تر ۲۱۳ دے ، ددے څیړونو نه نقل کولو یو مطلب دَ قُرآن اعجاز صفا ښکاره کول دی ، دویم داچه متنبی و غیره د مُسیلمه او ابن الراوندی وغیره نه ډیر زیات لوړ ادبی مقام لرلو لیکن هغه هر کله چه په دے میدان کښے قدم کیښود دونو دَ هغه کلام دا سے ښکاریدو چه دَ هغه معتقدینو پخپله هغے پوښے خندا کوله اودَه ضمیر هم په دے دَ لره ملامت کولو :-

دَ ویمه خبره داچه دَ قُرآن په جواب کښ چه چا څه اُویل مسلمانانو بے له تعصُّبه هغه نقل کړل ، دریمه خبره دا چه دَ قُرآن دامقابله په بغداد کښے په هغه وخت شویده چه پخپله مقابله کوونکی دَ رعیت په حیثیت دَ یوے په ترقئ اسلامی حکومت کښے استوګن وو او آزادی پکښے دومره وه چه حکومت ټپوس هم اُنګړو چه غالباً دا هغے وجه داکیدے شی ، چه اِعجازِ قُرآن یو نمر دے په دے توکړو دے ته هیڅ نقصان نشی رسیدلے ،

دَ اعجاز القُرآن یوه

مُشاهدات او معنویات

(۱) قرآنی اعجاز اګرچه بلاغی حیثیت سره ذوقی څیز دے لکه دَ تر خوا و خوږ د اُوبو پیژندل او دَ فصاحت و بلاغت ذوق لرونکی دَ پاره دَ ایو بدیهی څیز دے لیکن مُوبَز یَوخُو څیزونه په ګوته کولُو چه دَ هغے په وجه به معمُولی فهم لرونکو حضراتو ته هم دَ قرآن اعجاز واضح شی ، څه مضامین خو دَ مشاهدا تو سره تعلق لری چه هغه ښکاره څیزونه دی لکه آسمان یا نور دا سے څیزونه اوځه معنویات یعنے دَ لیدلو نه بهر څیزونه دی ، مثلاً ، اَخلاق اَعمالِ قَلبیه دا حکامو عقائدو او دَ غیبیاتو توقوانین ، دعرب او دعجم د شاعرانو د فصاحت بلاغت میدان مشاهدات وُونه چه معنویات ، دَ دوئ کلام پټول غورزنګونه هم یه مشاهداتو کښ وی معنویاتو کښ به هیڅ دَ رک نه وی لیکن قرآن مشاهدات هم بیانوی او غیبیات او معنویات هم او سره دَ دے په زور بیانئ هیڅ فرق نه راځی

(۲) دَ عربو او دَ عجمو شاعران د رشتیا د دروغو پابند نه وی خو خپل بیان او فصاحت و بلاغت کښے به ئے خپل زور بنکاره کولو هم دَ غه وجه ده چه دَ عربی شاعرئ په باره کښے دا مقوله مشهوره وَلَا چه اَحْسَنُهُ اَكْذَبُهُ ، یعنے هغه شعر ډیر ښه دے چه په هغے کښے دروغ ډیر وی مګر دَ قُرآن مضامین پټول دَ رښتیا و پابندی چه په هغے کښے دَ واقعاتو خِلاف هیڅ مضمُون نشته په دے وجه دقران دائره تنګه وَه خو بیا هُم دَ دے په فصاحت او بلاغت کښے فرق را نغلو او که یو شاعر صرف دَ رښتیا و چا پابند کړو نو دَ هغه کلام به بے خونده پلټے شی ، او بلاغت به ئی هم ختم شی دا یوائے قران دے چه د رښتیا و د پابندئ سره د هغے خونده مزه نوره هم زیاتیږی او بلاغت کښے ئے هر وخت جِدّا توند کیږی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) انسان او دَ هغه قُوّتونه محدُود دی په دے وجه بلیغ شاعر په یوخاص میدان کښے دَ خپل فصاحت زور بشودلے شی لکه دِ امرؤ القیس دشاعرۍ زور دَ بنځو او آسونو په تعریفونو کښے محدُود دے، دَ نابغه ذبیان جوش دَ ویرے دمضامینو سره مخصوص دی، دَ اعشیٰ، دَ شراب سره، دَ عنترهٔ رنگ فِردوسی او نظامی دَ جنگ په مضامینو کښے لاجواب دی، شیخ سعدی په اخلاقو کښے بیمثاله دے خو په قرآن کښے د هر قسم مضامینو باوجود دهغے په فصاحت بلاغت کښے هیڅ فرق نه راځی

(۳) د قُرآنی بلاغت خصوصیت دا دے چه په لږو تکو کښ داسے اعلیٰ مضمُون بیان کړی چه د هغے په کتابونه جوړیدے شی، خو بیا هم دَ قرآن په خوږوالی کښے هم فرق نه راځی او نه په مضمون باندے دلالت کولو کښے کږ لیچ او کړکیچنی راځی مثلاً. وَفِیْ اَنْفُسِکُمْ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ○ (سورهٔ الذّٰریٰت، آیة ۲۱)

(۵) سل کاله پس هره ژبه بدلیږی، حکه دَ هر کتاب سَل کاله پس هغه مزه نه وی، بلکه دهغے دَ مضامینونه په مطلب اغستو کښے کرانی راولاړیږی دَ حضرت شاه عبدالقادر رحمه الله ترجمه قرآن بے مثاله ده لیکن د زمانے په تیریدو سره دهغے دَ بعضے اُردو الفاظو استعمال پاتے شو نو دَ دے وجے دَ هغے افادیت کمزورے شو بیا حضرت شیخ الهند رحمه الله دغه ترجمه دَ نوو الفاظو په قالب کښے دَ هغے دَ افادیت قائم ساتلو دپاره واچوله، لیکن دَ قرآنی الفاظو په افادیت څوارلس سوه کاله پس هم هیڅ فرق را نغلو دے نه معلومیږی چه دَ قرآن دالفاظو انتخاب خالق کائنات دے دپاره کړیدے چه دا به تر قیامته دپیرے مُودے دپاره برقرار وی، دد ے خلورو اُمورو ملاحظه کولو نه پس دے کښے هیڅ شک نه پاتے کیږی چه دا دول کلام دَ بلاغت داسے حد نه رسیدلے دے چه هغے ته دَ انسان

رسائی هیڅرے نه شی کیدے هم دغه وجه ده چه قُرآن څه وخت نازل شو نو خانه کعبه کښے هغه آویزان اُوه بیمثاله اومشهُورے قصیدے دَ شاعرانو څخه لوړ او آسمان ته راکوځ کړے یوائے دَ امرؤ القیس یو قصیده هم هغسے آویزان حکه پاتے شوه چه دَ هغه خورد هغے دراکو خولونه انکار کړے وو، لیکن هر کله چه هغے دَ طُوفان نوح علیه السلام متعلق دقُرآن دایات واوریدل،

وَقِیْلَ یٰٓاَرْضُ ابْلَعِیْ مَآءَكِ وَ : اے مزکے خپل اُبه وتیرے کړه،
یٰسَمَآءُ اَقْلِعِیْ وَغِیْضَ الْمَآءُ : اواے آسمانه اُوبدیږه اوابه کمے شوے
سورهٔ هود، آیة ۴۴

نو دَ امرؤ القیس خورسمدستی دغه قصیده له هم راکوځ کړه،
(اعجاز القرآن الرافعی):

جارج سیل لیکی چه دیوانسان قلم هم داسے معجزانه کتاب نشی لیکلے اوداد مرورُوندی کولونه هم لویه معجزه ده: ارمیکسوئل کنگ لیکی کجرنے وَحی څه شے وی، نو بیشک قُرآن یوالهامی کتاب دے (تاریخ اسلام عبدالقیوم ندوی جلد ۱ ص ۳۲۷)

قانونی اعجاز

د قرآن بلاغی اعجاز خو بیان شو اُس دے خبرے چه قُرآن دَ الله تعالیٰ کلام دے دویم دلیل قانونی اِعجاز دے، انسانی قانون کمیوتن جوړکړے وی که کمزورتنا نو (پارلیمنټ) اودوی دیرماهران هُم وی خو بیا هم دغه قانُون په مختلفو قومونو اوملکونو کښے دیره مودہ نشی چلیدے اوخامخا په دے کښ داسے یوکمزوری بنکاره شی چه په هغے کښے دترمیم اوتغیُّر ضرورت راولی، هم دغه وجه وه چه کیو حکومت اوبادشاهئ په قوانینو کښے دهغے قانون سازے اسمبلئ اوپارلیمنټونه دیمارید لئ راولی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوهمدغه د انسانی قانون د خامئی او کمزورئی دلیل دے لیکن د قرآن قانون چه هغه د انسانی ژوند د ټولو اړخونو سره تړون لری او د هغې بنکاره کوونکے هم صرف د پیغمبر علیه السلام هغه یوذات دے چه لیکل لوستل ئے نه وو کړی او اُمّی (ناخوانده) پلے شوے، د هغے وطن ټول خلق نالیکلی اوناالوستلی وو په کوم کښے چه دوی بسکاره شوی وو په دغه وطن کښے نه د تعلیم زور شور وو او نه د څه قانون نه خلق خبر وو خو سره د دے د ایشیا، یورپ او افریقه په درے واړو براعظمونو کښے د زړو کالونه زیاته موده په دے فیصلے کیدے نه په دے کښے چا نقص بنکاره کړو او نه په کښے د تغیر او تبدیلئ ضرورت پیش شو په موجوده زمانه کښے چه تعلیم عام دے او د ټولے نړئ خلق د یو تبر په لوګ یو بل سره تړلی دی خو صرف مسلمانان نه بلکه د یورپ مخالفین هم د قرآن قانون بے مثاله معقول او جامع بولی حالانکه په دے خوارلس سوه کاله تیر شوی دی،

(۱) د اکټر سموئیل لیکی، چه د قرآن کریم مطالب د اسے همه گیر او د هرے زمانے په مناسب دی چه ټول آوازونه ئے خامخا قبلوی او محاوره شکلونو، بنارونو او بادشاهونو کښے کړ نکیږی»

(۲) مسټر ولف لیکی «د رُشد و هدایت، وسیع جمهوریت، انصاف او عدالت نوحی تنظیم، مالیات، د غربا ؤ د حمایت او د ترقئ اعلیٰ آیین په قرآن کښے موجود دے،»

(۳) د فرانس د اکټر موریس لیکی" د قدرت مهربانو چه کوم کتابونه انسان ته ورکړی دی قرآن د هغے ټولو نه بهتر دے د تاریخ اسلام عبدالقیوم ندوی جلد ۱ ص ۳۲۱ تا ۳۳۲ نقل شوی صرف په درے حوالو مونږ ۱۲ اکتفا کوو، د دے نه تاسو اندازه اُ نکوئ چه دا دول:

کتاب د انسانی فکر پیداوار کیدے شی؟ هیڅرے نه بلکه د دے کتاب ماخذ د الله تعالیٰ هغه بے اندازه علمی سرچشمه ده چه هغے نه د ټولو قومونو او د ټولو زمانو ضرورتونه پوره کیږی او په دے کتاب کښے ټول راغلے دی»

ابیات اقبال مرحوم

آن کتاب زنده قرآن حکیم
حرف اُورا ریب نے تبدیل نے
نسخهٔ تکوین اسرار حیات
صد جهان تازه در آیات او
نوع انسان را پیام آخرین

حکمت او لایزال است و قدیم
معنی اش سرمندهٔ تاویل نے
بے ثبات از قوتش گیرد ثبات
عصرها پیچیده در آفات او
حامل اورحمة للعلمین!!

(۴) د دینه علاوه سړے امنډ بر لیکی، د قرآن قوانین د تاجدار نه تر کمتر فرد پورے، یا نالے حاوی دی او دا دومره معقول دی چه مثال ئے نشته» (حواله بالا تاریخ عبدالقیوم ندوی)

(۵) آرنلډ لیکی چه قرآن هغه اُصول پیش کړه چه د سائنس هغه مخ په وراندے ترقی هم دے ته ماتے نشی ورکولے،

(د تاریخ عبدالقیوم ندوی هم دغه حواله)

تاثیری اعجاز (۳)

د قرآن حکیم د خپلو تاثیراتو د مخه هم یو معجزه ده حکمه چه په هیڅ انسانی کتاب کښے دا دول تاثیر نشته کوم چه قرآن خو ر کړو، او ټوله نړئ یې ږدو ونه نکړه د اثر اچولو اولنے ترُون د انسان رُوح سره دے، حکمه چه دا بدل شی نو انسانی تصوُّرات، گفتار او کردار کښے پخپله تبدیلی راځئ، دا دے درے واړه مرکز رُوح یا زړه دے، لکه څنګه چه حدیث د حقیقت بنکاره کړیدے چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بدن کښے یو توټه دے چه هغه درسته وی نو ټول بدن درست
وی د بخاری شریف، دا اصلاح مرکز روح دے خو روح امر ربّی او آسمانی
څیز دے، زمینی نه دے لهذا کوم کتاب چه آسمانی وی نو کلام ربّی به
وی په هغے به د روح اصلاح کیږی کوم چه امر ربّی دے. قرآن حکیم
کوم قوم او ملک (عرب) کښے چه بنکاره شو هغه د ټولے نړۍ د خرابو
مرکز وو، اعتقادی خرابی دومره وے چه د خدا پرستی، اخلاقی حسنه
هم نه وه بلکه هر ځائے بت پرستی وه انصاف ورک و د ټول
ظلم ظلم وو، هر زور آور په کمزوری لوخت وو او بغیر د لوټ مار نه د
هغوی بله ذریعه معاش نه وه د دوی د ظلمونو نه د دوی اولاد هم
خلاص نه وو، نږدے چه خپلے ژوندۍ لونړه به ئی په خاورو ور
مندلے او ویاړ به ئے پرے کولو نځے به ئی دومره کولے چه د هغوی هیڅ
مجلس به د شرابو خښلو نه خالی نه وو، د اتفاق بوټی هم په دوی
کښے نه وو، او دهرے قبیلے او قوم خلق به د هر بل سره په جنګ کښے بوخت
وو او دائے په ټولو کښے زیاته خوښه مشغله وه، د اصلاح ټولے ذریعے
(تعلیم، تربیت، قانون) دوی کښے نه وے، جهالت لاقانونیت او خودسری
عامه وه. د احوالاتو انسانی ذرائع او وسائلو سره په زرګونو کالو کښے هم
نه شو بینه کیدے د چا په خوب خاطر کښے هم نه راتله چه دصدو جزری
نیوونکی خرابئ به چرته ختمے شی، ځکه چه د اصلاح د ذرائعو نومونشان
هم دغلته نه وو، اُس چه دا هرڅه شته تعلیم عام دے، د نشرو
اشاعت ټولے ذریعے شته، قانون موجود، د اصلاح معاشره انجمنونه
قائم، اصلاحی فلمونه هم شته خو بیا هم په خرابو او شر و فساد کښے
اضافه کیږی او د جرمونو نوی نوی صورتونه راځی. اُس دد ے
منظر او د قرآنی اصلاح د منظر نسبت اوکړه:-

چه هغه په دوه دوه نیم کالو کښے دا مشکل ترین کار په ډیر آسانئ حل
کړو او هغه اصلاحی انقلاب ے په عربو کښے دا و ستو کوم چه ټولے نړۍ
ته معلوم دے، او تاریخ په صفحو کښے بنکاره دے او دوست دشمن د
دے اقرار کوی، په عربو کښے بت پرستی، د بیخه ختم شوه او کور په
کور د خدا پرستئ او توحید دا سے شور پښت اُشو چه د غه بت پرست
بت شکن شوَل، سرے صرف وحدهٗ لاشریک ته تیت شو، په ژبو
هروخت د الله توحید جاری شو، په زړونو کښے د الله خوف خائے شو
د غیر الله خوف لے ذره نه اُوتو- دغه قوم چه د خپلو سکه دونړو دشمنان
وو د اسلامی او قرآنی ټرون په وجه ے بلال حبشی، صهیب رومی، او
سلمان فارسی عونده ے پردی خلق " د خپلو سکه رونړو نه هم زیات
اګدړل، خانه جنګی ختمه شوه، او ټول عرب قوم دمینے او رورولئ
په مزی کښے پیټلی فولادی دیوال جوړ شول، جواری کون او سود خورل شراب
خښل - غلا - داکه - قتل، او ظلم نه بوائے، د عربو نه ورک شول، بلکه د دے
قدمچه کوم خائے نه اُدسیده و د هغه خائے نه دا ټولے خرابئ ختے
شوے، د یورپ یو اهل قلم لیکی چه د قرآن نازل کیدو نه پس عرب
دانسانانو په شکل کښے فرښتے جوړے شوے، دا یو تاریخی حقیقت دے
چه دا سے اصلاحی کارنامه چه سرتر پایه معجزه ده صرف د قرآن
په وجه اُشوه چه د ټولو انسانی کتابونو په جمع او د نړۍ د ټولو
حکومتونو د طاقت په جمع نه بهر وه نو دا د دے خبرے دلیل نه دے
چه قرآن کلام الهی دے او د خداوند ی تاثیر په وجه دا هغه اصلاحی
کارنامه ے اکړه؟ ولے نه دا خو د دے خبرے تاثیری دلیل دے، چه
قرآن کلام الهی دے، داکوم چه ما اُلیکل د موجوده دور اسلام دشمنانو
عیسایانو هم دهغے اقرار کړے دے د هغے تفصیل بیا ټولونه وړاندے

(c) ketabton.com: The Digital Library

داوضاحت کول غواړم چه ما دوه دوه نیمه کاله ولے اُلیکل حالانکه قرآن خو دیرویشت کاله نازلیدلو، د هغے وجه دا ده چه د مکے دیارلس کاله خو کُفارو په خپل ظالمانه طاقت د قُرآن آواز بند کړیود ددے د تبلیغ ټولے لارے ئے هم بندے کړے وے د هجرت نه پس اته کاله کُفارو د هغه کار د جنګ په زور د فتح مکے پورے جاری اُساتلو دایوویشت کاله خو قرآن نازلیده ولیکن کُفارو د دے تبلیغ او آواز په مذکور طریقو بنده اُساتلو او باقی پاتے زمانه (یعنی په دیرویشتو کالو کښے) صرف دوه دوه نیمو کالو کښے داکار اُشو، د دے وضاحت نه پس بیا خپل مقصد ته راګرځو:-

دیورپ په نظر کښے د قُرآن تاثیر

داکټر ماریس لیکی، چه قرآن په دنیا هغه اثر اُخور ځولو چه د هغے نه بهتر ممکن نه وو د فرانس یسیان لیکی چه قرآن داسے ژوندے او پُرزور ایمانی جوش پیدا کوی چه بیا پکښ د شک ګنجائش نه پیدا کیږی سر ولیم میور لیکی - چه قُرآن د کائناتو د فطرت په دلائلو سره خدائے پاک د ټولو نه اعلیٰ هستی ثابته کړه او انسان ئے د هغه په اطاعت راښیټ کړلو:-

مستر جی - ټی لیکی چه قُرآن په بیشمیره انسانانو اثر واچولو او د سائنس دنیا د قُرآن ضرورت نور هم واضح کړو:-

مستر عمانوئل ډی انش لیکی، چه د قرآن رښتیا په یُورپ کښے هغه وخت راښکاره شوه چه نیمه خوړه دره او په دے د یُونان سر علم او عقل نه ژوند حاصل شو:

مستر ایچ - ایس لیدر لیکی چه د قُرآن د تعلیم نه د حکمت او فلسفے ظهور اُشو او دا سے ترقی ئے اُکړه چه د خپل وخت د ټولو نورو

لوئے یورپی حکومت نه زیات اُچت شو

(۳) انجذابی تاثیر

د قُرآن کوم اصلاحی تاثیر چه مونږ بیان کړو هغه هم داسے یو معجزه ده چه په انسان کتاب نه ظاهریدے نشی، لیکن دا اصلاحی اعجاز نه علاوه د قرآن انجذابی تاثیر هم یو معجزه او دے خبرے پخلے دے چه قرآن کلام الٰهی دے،

(۱) حکه چه قُرآن د پیرغټ کتاب دے د هغے یا د دل د پیرګران (۲) دویم داچه د غیر عرب مسلمانانو نو د پاره د ځه ژبه پردئ ده چه د هغے په یاد ولو کښے دویم بنده ش دے خپله ژبه کښ کتاب یاد دل آسان او پردئ ژبه کښے یاد دل د پیرګران دی،

(۳) دریمه خبره داده چه په دے کښے یو رنګ آیا تونه د پیردی چه په هغے سپړی پزل کیږی، او غلطیږی، داهم د هغے په یاد ولو کښے یو بنده ش دے (۴) خلورمه داچه د قُرآن حافظ د پاره د قوم یا د حکومت نه څه تنخواه نه ده ترلے شوے نه ئے په دوی کښے څه خاص عزت شته:-

(۵) پنځمه داچه د قرآن یاد ولو د پاره د یو وخت په کار دے او بیا د یاد ساتلو د پاره ئے ټول عُمر تر مرګه د دوراد تکرار ضرورت دے، دوهمه خواری کچرے د دنیاوی ډګرئ حاصلولو د پاره کولے نو د پیر مال او عزت به ئے کتلو، داټول د حفظ قرآن په لاس کښے غټ غټ خنډان دی، لیکن سره د دے په مسلمان قوم کښ لکهونه حافظان د قرآن موجود دی او د دے د حفظ رواج په دے بے تپوسه حال کښے هم مخ په ترقئ دے چه دا د دے دلیل دے چه د قُرآن په ذات کښے معجزانه انجذابی داسے کشش موجود دے چه د دے بنده شوے نو سره هم مسلمانان خپل ځان نه راکاږی او هیڅ یو بنده یز په دے اثر نه غُرځوی د کشش او انجذابی تاثیر د قُرآن یو مستقله معجزه ده او د دے دلیل دے چه قُرآن کلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

الٰهی دے ځکه چه بل یو کتاب دومره حفظ کوونکی په مخ د ځمکے نشته نه دا سے کشش په بل کتاب کښے شته تر دے حده چه د تورات او انجیل یو حافظ هم نشته ۔

د قرآن اعجازی تاثیر په شخصیت

درسول الله صلے الله علیه وسلم دا صلاحی او انجذابی تاثیر نه علاوه دا شخصیتی تاثیر هم د قرآن یو مستقله معجزه ده ، د قرآن په بارهٔ کښے صحیح او غلط دوارهٔ رائے دی ، یو صحیح رائے ده چه دا کلام الٰهی دے او بله غلطه رائے ده چه دا کلام الٰهی نه دے د صحیح رائے ثابتولو او د غلط رائے د بیکارهٔ کولو د پاره مونږ د قرآن د شخصیتی تاثیر اعجاز هم ورا ندے کړو ۔

د شخصیتی تاثیر اعجازی درے صورتونه دی ۔

① نزولی اثر ② قلبی اثر ③ قالبی اثر

① شخصیتی نزولی اثر :

مخالفین وائی ، چه قرآن دالله تعالےٰ کلام ځکه نه دے چه دا د رسول الله محمد صلی الله علیه وسلم کلام دے ، که دا غلطه رائے اُمنلے شی نو بیا خپل هغه کلام چه په هغے کښے په خدائے تعالیٰ دروغ د ټیلے شوی وی ځکه به ډیر زور اثر په دغه انسان اُغږوی لکه څنګه چه د عرب د دغه مشهور شاعر د قصید و خاص اثر په هغه شاعرانو نه پریوتو کومو چه د هغه پخپله جوړ کړے وے که دا سے وے نو تاریخ کښے به ئے څه ندرے ذکر شوے وے لیکن د قرآن وحی :

په یخنئ کښے خوله

به چه په حضور علیه السلام څه وخت په یو عامه جمع کښ کیدهٔ نو د یخ موسم باوجود د هغوی د یخ مبارک نه به د خولو غټ غټ خاځکی په ډیر زور خځیدل ، د حضرت صدیقے رضی الله عنه په اوږل د بخاری کښ منقول دی ۔

لَقَدْ رَأَيْتُهُ يَنْزِلُ عَلَيْهِ الْوَحْيُ فِي الْيَوْمِ الشَّدِيدِ الْبَرْدِ فَيَفْصِمُ عَنْهُ وَإِنَّ جَبِينَهُ لَيَتَفَصَّدُ عَرَقًا

ما حضور علیه السلام اُلیدو چه په سخته یخنئ کښے به په پرله وحی نازلیده او ختمه به شوه نو د هغوی د تندی د مبارک نه به دا سے خوله راځیده ، نکه څنګه چه وهلی رګ نه وینه دارے وهی په یخنئ کښے دا سے سخته خوله د تلل غیر اختیاری ده چل وَل په دے کښے نشی کیدے اُس دا بنکارهٔ خبره چه دا سے تاثیر په انسانی کلام کښے نشی کیدے معلومه شوه چه دا د حضور علیه السلام خپل کلام نه وو ، بلکه الٰهی دے ۔

دروند والے او پیتے

کلام د الفاظو نه جوړ وی په هغے کښے دروند والے او پیتے له ګمه ؟ ځکه چه دا خو په اجسامو کښے خاص وی او قرآن خو الفاظ وی جسم خو نه وی بیا هم په حضور علیه السلام به چه قرآن نازلیدو نو د هغوی په شخصیت کښے به د معجزے په ډول دروند والے او پیتے پیدا کیده او لګ هم ، بلکه ډیر زیات ۔

بخاری شریف کښے زید بن ثابت رض نقل کوی ۔

كَادَتْ فَخِذُهُ أَنْ تَرُضَّ ، ترجمه : قریبه وه چه خما د پټون هډوکے د پیتی د زور نه چوره چوره شوے وے ۔

د سورهٔ مزمل په تفسیر کښے مستدرک حاکم د صدیقے رض نه نقل کوی ، چه حضور علیه السلام په سفر کښ په اُوښه سور روان وو ، چه وحی قرآنی نازله شوه ، هغه اُوښه د وحی قرآنی د پیتی د زور نه کینا سته ، دا بنکاره خبره ده چه په زید بن ثابت رضا و په اُوښه دا ډول اثر نه د وحی را تلونه وراندے او نه وروستو چرے شوے وو ، دا صرف د قرآنی نزول اثر وو چه دا په قرآن کښے هم ذکر دے ۔

إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا ○ اے پیغمبره علیه السلام مونږ به تا باندے

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو درُوند قول درواچوُ:-

هرکله چه داخیز قُرآن اوحدیث کښے راغلو عامو خلقو اُکتلو کچرے دا تاثیر دواقعاتو نه خلاف وے نو دَ قُرآن مُخالفینو کفارو به خامخا دا اعتراض اوانکار دوا به کړے وے، هرکله چه هغوی دا سے اُنه کړه، نو دا دلیل شو ددے خبرے چه دا تاثیر واقعی په نوا تُر سره ثابت دے، دا تاثیر صرف قرآن سره نه دے بلکه دَهغے قُرآن سره چه دَ جبرائیل علیه السلام په واسطه نازل دے نو دا سے شوه، لکه چه دَ وخت دنا زلیدوا وَدَ جبرائیل علیه السلام دفعل اوعمل هم په دے کښے داخل وی دا دَ قُرآن دَ تاثیر مجزه ده چه بل انسانی کلام کښے نشته:

۲- دقُرآن شخصیتی قلبی تاثیر

دَ صاحبِ قُرآن حضورعلیه السلام په زړه مُبارک باندے دقُرآن دا اثر وو چه دَحضورعلیه السلام په فرمائش حضرت عبدالله بن مسعودرض ددوی په وړاندے قرآن شریف تلاوت کړو، نو خلقو اُکتل چه دَ هغوی دستړګو مبارکو نه بے اختیاره اُوښکے جاری وے-وَعَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ

(۲) مطرف بن عبدالله بن شخیررض نه نقل دے، هغه وائی چه دَ شپے په تهجُّد وکښے حضورعلیه السلام یواځے (هیڅوک هم نه وو) قُرآن لوستلو حُه به لاره تیریدم نو دَ حضورعلیه السلام دَ ژړا په وجه دَ هغوی سینے مبارکے داسے جوش وهلو لکه په دیچکی کښے ویشیدلے اُبه چه جوش وهی، فِلْجَوْفِهِ أَزِيزٌ كَأَزِيزِ الْمِرْجَلِ. ښه! چرے دَ چل وَل دَ خبرو به چلوَلی سړی پخپله دَ شپے به تیرے کښے په یواځے، داسے اثر کیدے سی، داتاثیرخو دَ کلامِ الٰهی کیدے شی.

۳- تاثیرقالبی

په وینا کښے دومره تکلیف نه وی خومره چه په عمل کولو کښے وی دَ

چل وَل خبرے یواځے دَ خلقو شودلو دَ پاره وی چلوَلی سړے پخپله نل نرتله دپرَدُو لکے عمل پرِ نشی کولے نرخوچه هغه کلامِ الٰهی اُنه گنړی اودَ هغے مضامین حق اُنه گنړی لیکن دحُضورعلیه السلام په قالب اوبدن مبارک باندے دَقُرآنی احکامو خه اثر به کیدو؟ کوم وخت چه دا آیت نازل شو:-

فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَبْ: سورهٔ الانشراح ایة ۸ اے پیغمبره علیه السلام ته چه څه وخت دَضروری کار نه فارغ شے نو خپل ځان دالله تعالےٰ په عبادت کښے ستړے کړه، اوالله طرف ته پُرله پُرې متوجه شه ددے نه پس حضرت صدیقه رض فرمائی چه هغوی به ټوله شپه عبادت کولو ترڅو چه دَ تَوَرَّمَتْ قَدَمَاهُ دهغوی قدمونه مبارک به اُپرسیدل

(۲) بخاری شریف کښے دی چه دَ صدیقه رض نه دحضورعلیه السلام دا خلاق په باره کښے تپوس اُنشو نو هغوی اُفرمایل چه پُوره قُرآن د هغوی اخلاق وو بلکه څنګه چه هُوک خپل عادتونه اواخلاق نشی پریښودے دغه شان دحضورعلیه السلام اخلاق اوعادات قُرآنی احکام جوړ شوی وو چه څه په قُرآن کښے وُو هم هغه دَهغوی په عمل کښے موجود وو، ښه! چرے په یوانسان دخپل چل وَل دکتاب په دے وول تالیف، جسمانی اوعملی تاثیر کیدے شی؟ کچرے نشی کیدے نو دا دَلیل ددے خبرے دے چه قُرآن کلامِ الٰهی دے اوپخپله حُضورعلیه السلام په دے دکلامِ الٰهی په حیثیت دټولو نه زیات عمل کوونکے وو.

دَقُرآن سیاسی اعجاز

قُرآن عربو کښے نازل شو اودوی دَ ټولو قومونو نه کمزوری بے علمه اوبے هنره وُو، دسیاسی غلبے حاصلولو هیڅ ذرائع دوی سره نه وُو. ځکه چه سیاسی غلبے اواقتدار حاصلولو دَ پاره اوّل دافراد وزیاتولے ضروری وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دوی کنړ نه وو۔ عرب به په هغه وخت کښے صرف سعودی عرب
اویمن ته وئیلے شو، عراق، شام، فلسطین، اردن، لبنان، بیروت
مصر او شمالی افریقه دا عرب ملکونه نه وو، خو اسلامی فتوحاتو
نه پس عرب ملکونه جوړ شو۔ (۲) دویم څیز تعلیم دے او عرب اُمیانو
یعنی دنالو ستو ملک وو، دریم څیز اتفاق او یووالے وو۔ لیکن د عربو هره
قبیله د یو بل دُشمنه وه تر دے چه د مدینے منوّرے د انصارو دوه مشهورے
قبیلے اوس او خزرج پخپلو دیوبل دُشمنان وو۔ (۴) خلورم څیز کاریگری
ده او په عربو کښے نه کارخانه وه او نه کاریگری دتوُرے او د معمولی
پوشاک دپارچه هم هغوی دهندوستان او د شام د عیسائیو محتاج وو۔
(۵) پنځم څیز زراعت او غذائی کفالت دے۔ او د قحوُرو نه بغیر هغوی
دنورو قومونو محتاج وو، ځکه چه دهغوی وطن دکرونڈے جوګه نه وو
چنانچه قُرآن هغے ته پخپله "وَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ" اُویلے۔
(۶) شپږم څیز معدنی دولت دے او په دغه وخت په عربو کښے یو معدنی
دولت نه وو اُس چه موبز ځه کورُو هغه دا سئی زمانے پیدا وار دے۔
(۷) اُومِ جسمانی قوّت دے، او دا هم په دوی کښے ځکه نه وو چه دغه
ملک د یرگرم دے ضروری غذا اورته حاصله نه وه، د اوبو هم ډیر کموت
وو د یخنئ او گرمئ نه ځان ساتلو د پاره دوی سره کورُونه وو نه زیاتو
خلقو به په تنبوانو کښے گذاره کوله او د علاج څه انتظام هم ورسره نه
وو۔ (۸) آتم څیز رُوحانی او اخلاقی قوّت دے چه د توحید اعلیٰ او پاکیزه
تصوُّر نه پیدا کیږی، لیکن د عربو خلقو به د کاهنو او د کاهنو نه جوړ
بُتانو عبادت کولو۔
په دے حالاتو کښے قُرآن په عربو کښے بنکاره او عربو تو لو په جمع
دے رنړا د وُر کولو بنه زور اُلکولو دوه دوه نیم کالونه زیات وخت

قُرآن د آزاد اشاعت (خورَولو) د پاره وخت نه وو مُوندلے شوے،
لیکن دے لږه مودې کښے قرآن عربولړه ډکوم څائے نه نزکوم حائے
اُد سَول د دے اندازه د قُرآن نه وراندے او د قُرآن نه ورُستو د عربو
د نسبت کولو نه معلُومیدے شی عرب قبل القُرآن هغه وُوچه د کُومو
مُونږ ذِکر اُکړو او عرب بعد القُرآن دا سے یو قوم جوړ شو چه په تنظیم
اتحاد، اخلاق، بلند خیالئ، اولوالعزمئ، ایثار، قُربانئ، خُدا پرستئ
شجاعت، سخاوت، عفت، پاکدامنئ، رحم او شفقت، عقل و تدبیر،
جهانبانئ، جهانگیرئ، دیانت، امانت، صدق او راستئ، د وعدے پُوره
کولو او په عدل و انصاف کښے د دوی یو قوم هم سیال نه وو۔ بلکه د بشریت
پټول تاریخ د دوی د مثال پیش کولو نه تش تود دے هم دغه وجه ده چه
دتیر شوو اتُه کمزورو سره هم هغوی د مشرق او مغرب دوه لویو
متمدّنو اوبے اندازے سامانانو نه ډک پاد شاهورقیصر او کسریٰ)
په یو وخت ټکره اُوهله او په دیر لږ وخت کښے هغوی تار په تار کړه
دهغوی دُورے ځے والو خُولے او د هغوی لوڅه او تخت و تاج ځے تس نس
کړل۔
اُوس سوال دا دے چه دا سیاسی غلبه عربو ته په کومه وجه حاصله
شوه، چه د رُو رو د هغے طُوفانی چپے په مشرق کښے کاشغر او دیوار چین
سره را اُ ټمبیدے او په مغرب کښے مراکش او فرانس پورے؟
د دے جواب دا دے چه سیاسی اقتدار او غلبے حاصلولو د پاره دوه
قسمه اسباب کیدے شی، (۱) یو مادی (۲) او دویم روحانی او غیبی۔
اُس ذِکر شُو چه مادّی هیڅ اسباب عربو سره نه وو، بلکه د عربو د
دُشمنانو او حریفانو سره وو، کُچرے په مادّی اسبابو د غلبے فیصله
کولو دے نو عرب به د مخ ډز مکے نه قطعاً ودک وو او نتیجه به اړولے،

(c) ketabton.com: The Digital Library

(په عکس) وه، نو معلومه شوه چه دا هرڅه په هغه غیبی اوروحانی طاقت چه کوم عربوته د قرآن اوصاحب قرآن علیه الصلوٰة والسلام د برکته نصیب شوے وو، اُس بنکاره خبره ده چه دا سے معجزانه طاقت د کتاب الٰهی د طاقت نه بغیر ممکن نه دے هم دے نه معلومه شوه چه قرآن کلام الٰهی دے او په کوم پاك ذات چه دا نازل شو هغه دتولونه زیات کامل اوخاتم النبیین ذات وو د مسلمانانو اُوسنی زوال باعث هم دا دے چه دوی دا اسلام او د قرآن په هدایاتو عمل پریښے دے ورته ددے دواړو اُس هغه طاقت دے چه کوم وو۔ د قرآن دا نسخه د زړو کالونه هم زیات وخت از میبت شوے او تجربه شویده، وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ۔ قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هُدًى وَّ شِفَآءٌ[1]۔ لیکن په کاغذ لیکلے شوے او په خولے ویلے شوے بهترینه نسخه تر هغے اثر نشی کولے ترڅوچه په هغے عمل اُنشی دیورپ مستشرقین دا راز نه پیژنی چه که چرے مسلمانانو اسلام او قرآن ته رُجوع اُکړه نو نوی کهربا، مسلمانان په یوځائے شی په یومرکز کښے به راشی د هغوی خواړه واړه طاقتونه او د ترقئ ذرائع به یومُوټے شی او د دُنیا پرو هیڅ نمبر طاقت به جوړ شی او څو نور دلاس نه به د هغه بنکارا اُځی، نوځکه څه مودے راسے هغوی مسلمانانو نو لوړه د قرآن او اسلام نه د بیرته کولو کوشش شروع کړی دی، او دا وائی چه د مسلمانانو نوزوال د قرآن او د اسلام په وجه دے او دا هم وائی چرے مسلمانانو نو د مغرب هغه کنده او خُدائے ویزاره تهذیب اختیار کړو نو دوی به ترقی اُکړی او همدا وجه ده چه په اسلامی ملکونو کښے زور او نوے جنګ جاری دے او ورځ تر ورځ په مسلمانانو کښے انتشار او مرکزیت تبتیدو نکی جذبات پالنم مومی۔ موبز په خپلو

[1] سورهٔ بنی اسرائیل آیة ۸۲ [2] سورهٔ حم السجدة آیة ۴۴

دوُ کتابونو ترڅنګ او اسلام[2] اشتراکیت او اسلام کښے دا مسئلهٔ پوره حل کړے ده چه د هغے رُوح دوه خیزه دی هغه دا چه دیوُرپ کاریګری، هنر او علم یو خیزدے او د هغه طرزِ ژوند، معاشرت او تهذیب بل شے دے۔ اوّل شے دا سلام دے چه یورپ پرې قبضه کړیده، یعنے یورپ هغوی صنعتکاری چه هغه واخلی اودوهم د هغوی کنهکاری ده چه هیڅ پریږدی په دے د زور تعلیم یافته وګڼی اعتراض نشته ځکه چه هغه اسلام سره پخپله فِټ دے دفِټ کولو ضرورت نشته دلائل ځما په نورو کتابونو کښی شته او دیُورپی تهذیب کنهکاریانے پریږدی چه هغه دا سلام او ترقئ دواړو نه خلاف او پخپله یُورپ د هغے په وجه د تنزُّل بنکار دے او د ځنکدن په حالت کښے دے، دا سے ځمونږ خانه جنګی ختمیدے شی، دنوی اوزور تعلیم دواړه وزړے د ترقئ د پرواز د پاره ضروری دی دواړه د لے یوځائے کړی جنګوی ځمه:۔

۴- غذائی اعجاز

انسان د جسم اورُوح نه جوړ دے دا دواړه په دے بدلیدونکی او خرابیدونکی جهان کښے آباد دی، ځکه په دوی کښے هم بدلی او خرابے راځی، نو نوځکه چه دے دواړو د پاره د غذا انتظام نه وی نو د دوی باقی پاتے کیدل ناممکن دی په دے وجه قُدرت د جسم او د بدن د بقا د پاره د غذا انتظام کړے دے، چه دے د ختمیدو نه بچ شی او دے د پیدا کولو نه چه کُومے فائدے اخستل مطلب وو هغه هم پُوره شی او دے کښے څه نقصان را نشی او د رُوح د غذا د پاره ئے هُم په دے غرض انتظام کړے دے چه دے هُم ژوندے پاتے شی او دده د پیدائش مقصد پوره شی، قدرت دانسانی بدن د غذا داسے لوئے انتظام کړے دے چه د زمکے نه واخله تر آسمانه او تر نمرا و سپوږمئ پورے دده د غذا په

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تیاری کښے لګیا دی مثلاً د بدن غذا (پوډی) د پاره زمکه غنم را
اُټوکوی اُوبه اوهوا هغه شنه اوتازه ساتی دستورو په کشش هغه دانه
نیسی اوغټیږی، نمرد سمندر نه بړاس اُوچت کړی پورته وریځ شی
اوده هغې نه باران په شکل کښے د اُبو انتظام اُکړی او بخیلے کرمئی هغه د غنمو
دانے پخوی، بادونه بوس اوغنم جُدا کولو کښے مدد کوی شپه ورځ یوبل
پسے لګیدلی دی نو دے کښ اعتدال پیدا کوی مطلب دا چه ټوله کارخانه
دجهان په غنمو جوړه ولو کښے لګیا ده چه انسانی بدن له د خوراک تیار کړی
حالانکه د روح نه د بدن قیمت او قدر دیر لک اولاندے دے چڑدغه
لاندے اوکمزوری جُز د پاره دومره لوئے اوو سیع انتظام د قدرت د طرفه
موجود دے نو دا خو هیڅرے نشی کیدے چه د روح د غذا د پاره د څه
انتظام نه وی دا خو نه عقل منی او نه ئے حکمت خو بیلتون صرف دومره
دے چه بدن د زمکے شے دے د دے غذا سامان هم د زمکے نه اُشو
اوروح آسمانی او امر ربی دے له دے وجے د دے غذا هم د دغه ځائے نه
پکار ده :-

د روح آسمانی غذا

د روح د ژوند د پاره قدرت یو روحانی غذا تجویز کړے ده خو هغه داسے ده
چه څوک د هغې کیفیت او مقدار نشی بنودلے ځکه چه د روح په دے
کښے الله تعالیٰ سره مشابهت او مناسبت دے نو دے د پاره به غذا هم
داسے پکار وی چه د الله ذات سره تړون لری، بلکه د هغه صفت وی
د الله د غه صفت صرف هم د هغه کلام کیدی شی چه روح انسانی ته منتقل
شی اودے ژوندے اُساتلے شی نو د کلام الهی اووحی ربانی نه بغیر د انسانی
روح ژوند نا ممکن دے، لکه څنګه چه د جسمانی غذا نه بغیر د جسم
ژوند نا ممکن دے :-

دروحانی ژوند معیار

د روح اصلی ژوند اومرګ هُم هغه
معیار لری کوم چه یو انسانی اندام لری
دا فیصله به د غذا په مُقرر معیار مُوقوف وی چه واقعی کلامِ الٰهی یا قرآن
الٰهی د روحانی غذا ده کنه

د غذائیت معیار

د غذائیت معیار دوه څیزونه دی (۱) طبعی
میلان (۲) ترقی او نشوونما. (۱) مثلاً د وډی
او غوښه جسمانی غذا ده او اُسپنه او لرګے جسمانی غذا نشی کیدے د دواړو
په مینځ کښے بنکاره بیلتون داسے دے چه د وډی او غوښه خو پرله د
انسان طبیعت غواړی او دائے طبیعت نه غواړی چه د اُسپنے او لرګی بوره
جوړه کړی او وے خوړی:
(۲) دویم معیار دادے چه د وډی او غوښے خو رالے سره بدن غټیږی
او ترقی کوی مګر اُسپنے او لرګی خو رالے سره داسے نه بلکه نقصان
کیږی، د غه رنګ قرآن هم طبیعت غواړی، ځکه خو په لکهونو حافظان
د پیر عُمر لګیا وی قُرآن یاد کړی او بیا د هغې د ساتلو د پاره تر مرګه پوله عُمر
د هغې دوړو نه او تکرارُونه کوی۔ د دے قرآن د علم او عمل سره په روح کښ
داسے اصلی (حقیقی) ژوند پیدا کیږی چه بیا یو موتے خلق په زرګونو نورو
خلقو برکیدے شی لکه موږه سیاسی اعجاز" کښے چه بیان کړه کچرے
روح ته قرآنی غذا اور نکړے شی نو روحانی ژوند داسے ختمیږی، لکه چه
څنګه بدنی ژوند د بدنی غذا نه مونډلو په وجه ختمیږی :-

د روح مرګ او ژوند

د هر څیز ژوند د هغه د پیدا کولو د
مقصد نه معلومیږی :-
(۱) د ستر بے پیدا کولو مقصد لیدل، او د غوږ پیدا کولو مقصد آوریدل دی
ستر که چه لیدل نشی کولے او غوږ چه آوریدلے نشی نو دا د دوی مرګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے دغه شان د رُوح پیدا کول د "معرفتِ الٰهی" دپاره دی خو پورے
چه دا مقصد حاصلیږی نو روح ژوندئ ګوندی مړ دے :-

(۲) دا الله په معرفت او د الله په تعلّق سره روح کښے یولوئے دا سے
طاقت راشی، چه د هغے مقابله د نفس قوت نه خالی رو حونه نشی
کولے اُس د دے طاقت نوم رُوحانی ژوندون او د دے نیشتوالے رُوحانی مړ
ک دے، دا سے ژوند قرآنِ حکیم په دے الفاظو بیانوی:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ ؛ اے مؤمنانو تاسو د الله او رسول حکم
وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ط ؛ اُمنئ هغوی تاسو دا سے خیزته
سورۃ الانفال - آیة ۲۳ ؛ دا بلی کوم چه تاسو ته ژوند درکوی،
دے نه معلومه شوه چه رُوحانی ژوند د جسمانی ژوند نه اعلیٰ او زیات
اوچت دے د دے رُوحانی ژوند په برکت او طاقت سره صحابه کرامو
د خپل نه خوچند ه زیات لښکرو ته ماتے ورکړه سره د دے چه
هغوی سره به هیڅ سامان نه وو او تجهیزاتو دا سے کارنامے به ئے کړے
چه صرف د جسمانی ژوند خاوندانو به نشوے کولے دا ژوند هغوی ته
د قرآن او اسلام نه حاصل وو، د ابن جریر طبری په تفسیر کښے
وَكُنْتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ د سورۂ آل عمران آیة ۱۰۳ :-
د حضرت ابوقتاده وضاحت دا سے بیان شوے (د دے ترجمه) چه "د
عربو خلق د یر ذلیل خوار او د بتولو نه زیات گمراه وُو هغوی سره نه
خوراك اونه پوشاك وو هغوی د رُوم او فارس غوندے د ډوزمرو
په منځ کښے نړلی وو دوی سره د پښخید و هیڅ خیز نه وو، هغوی د خوراك
نه محرومه وو، نو د وګوانډی خلقو به هغوی خوړل نړدے چه اسلام راغے
اسلام ورته یو کتاب (قرآن) ورکړو چه هغه دوی لره د قوموتو
سردارانو او حاکمانو جوړ کړل :-

قرآن رُوحانی غذا دہ

د عذا د پاره موبنږو پانده ے دوه معیاره
بیان کړی دی (۱) د طبیعت میلان (۲) او
نړۍ (۱) قرآن طرف ته د ماتے خو د احال دے چه د نړۍ بل یو کتاب دومره
نشی لو ستے خو مره چه دالو ستے کیږی نړۍ کښے د هیڅ کتاب دومره حافظان
نشته خو مره چه د قرآن دی، حالانکه دے غریبانو حافظانو ته نه د
مسلمانانو له طرفه څه عوضانه ورکولے شی نه د قوم یا حکومت له طرفه
او بیا خو د قرآن ژبه هم غیر عربو د پاره اُپراده چه د مجبورئ نه بغیر
هغے ته طبیعت نه ورځی، هم دے نه معلومیږی چه قرآن رُوحانی غذا ده
حُکمه خو دے پتولو مشکلاتو باوجود دے ته د طبیعت میلان شته :-

(۲) دویمه خبره دا ده چه غذا خو رونکی ته د غذا نه نړۍ او طاقت
حاصلیږی نو د قرآن تاریخ هم دا بنائی چه د قرآن په برکت کمزورو انسانان
طاقتورشول، بے اخلاقه با اخلاقه شول، لاندے خلق برتر او ناپاک خلق
پاک شول، د دے نه پس د هیڅا هم په دے کښ شک نه پاتے کیږی، چه قرآن
آسمانی غذا ده چه د رُوح د پاره د آسمان نه نازله شوے ده او قرآن باندے
یقین لرونکو ته هم دے قرآن هغه عظمت او شان ورپاُ بخښلو چه د هغے
مثال په انسانی تاریخ کښے نشی موندے او دا شان یواځے د کلامِ الٰهی کیدشی

(۶) دلیل نظامی

قرآن حکیم د انسانی ژوند د پاره دا سے نظام قائم کړے دے چه د هغینه
پخپله دا یقین پیدا کیږی چه دا د خالق انسان له طرفه دے دا انسان
جوړ شوے نه دے، حُکمه چه دا انسانی ژوند راز دے نه اورمز دے نه صرف
خالق حیات پیژنی نه چه بل څوك انسان چه کله هم دے لاړے نه
د اوریدو او په یو انسانی لاتحه حیات باندے د تګ کوشش اکړو نو
هغه ته امن او آرام نصیب نشو د قرآن نظام حیات دومره کامل او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند په ټولوارخونو باندے خوردے چه کچرے دهغے تفصیل بیان
شی نو دیرغټ کتاب به ترجوړ شی لهذا موبزړ قرآن د صداقت په
غرض یوځینې بنیادی اُصول پیش کوو،
(۱) دانسان تعلق دخالق کائنات سره (۲) دانسان تعلق دخپلوهم جنسو
انسانانو سره،
(۳) دانسان تعلق دټول عالم دکائنات سره:-
(۴) دانسان دژوند مقصد:-
(۵) دانسان دژوند اخیری پوړی:-
(۱) دوه بے اصول ـــــ دانسان تعلق خالق کائنات سره:-
خالق کائنات دانسانی ژوند مرکز دے، دانسان ژوند، دهغے دضروریاتو
دژوند د ظاهری اوباطنی فائدو اخری فیصله د خالق کائنات مرضی
سره ترلے ده دخپل مرکز حیات نه دانسان جُدا کیدل دهغه
مرګ دے اود هغے سره یوځائے کیدل دده حقیقی ژوند دے لهذا د
انسان رُومبنی ذمه واری داده چه هغه د خالق کائنات په ورانده
په دے حیثیت (شان) یقین اُلری۔ دانسان دے حیثیت بنکاره کولو
دپاره قرآن رُوبے ارشاد فرمایلو:-
خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ (سورهٔ ملك آیة ۲) یعنے خالق کائنات
دانسان دمرګ اوژوند خالق دے:- بیائے اعلان اُکړو:-
وَمَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ (سورهٔ النحل آیة ۵۳) انسان ته ټول حاصل
نعمتونه د خالق کائنات بخښش دے، بیائے ارشاد اُفرمایلو چه انسان
خپل کوشش سره چه کوم څیزونه حاصلوی دهغے آخری فیصله
هم دقدرت په لاس کښے ده انسان له پخپل کوشش نیازبدل نه دی پکار۔
وَمَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ (سورهٔ التکویر آیة ۲۹) سنا سو خوښه

د الله د خوښے تابع ده

قرآن د سید الکائنات د خولے مبارکے نه دا اعلان اُکړو:-
قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا - اعلان اُکړه چه څه د خپل ځان د
اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ط (سورهٔ اعراف آیة ۱۸۸) پاره هم د سود او زیان اختیار نه
لرم نو څوچه د الله خوښه دا فیصله اُنکړی:-
دے خیالا تو لازمی نتیجه به داوی چه (۱) رب العلمین سره به دانسان
د محبت یو مضبوط طه رِ شته پیدا شی، چه کله هُم نشلیږی،
وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ ط (سورهٔ البقرة آیة ۱۶۵) او یقین د خاوند انو وی هم دے محبت
دا ثروی چه د هغه فکری او عملی ژوند د الله سره اُترلے شی او د هغه
ظاهر او باطن د الله په مخکښ سر تسلیم شی، د هغه ظاهر او باطن د الله
په یاد وا باد شی او په کائناتو د هغه نظر دا سے وی چه هغه دا د جمال
د محبوب صرف یو آئینه کښے، هغوی په ولاړے په ناستے او په ملاستے
يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِيَامًا وَّقُعُوْدًا وَّ (الله یاد وی او په دے خیال او فکر په
عَلٰى جُنُوْبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ (آسمانونو او زمکے نظر اُچوی چه اے
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ (د عالم خالقه تا دا عالم بے مقصده نه
هٰذَا بَاطِلًا ط (سورهٔ ال عمران آیة ۱۹۱) دے پیدا کړے:
او د اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ (پ ۱) په تصور کښے دے د دین دُنیا دکامیابو-
چشمه رب العلمین کښے او اعتقادی، قولی او عملی عبادت صرف د هغه
کوی، او د خپلو منلو وترړونه پس د دین دُنیا د خپلو مشکلاتو د حل د
پاره هم د هغه مدد غواړی هغه خپله د رضا د الله په رضا کښے ورکه کړی
او د الله تعالیٰ په اَمر، نهی باندے عمل کول یعنے د هغه د حکمونو تعمیل
د خپل ژوند ضروری حصه جوړ کوی، قرآن نه چه څا فائده (فیض)

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاصل کړے دے قرآن پخپله دغسې حال پخپلو دے الفاظو کښے بیا نوی
وَلٰكِنَّ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ وَزَيَّنَهٗ ۔ الله ستاسو په زړونو کښے د ایمان مینه
فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوْقَ ؛ واچوله او ستاسو په زړونو کښے ے ور
وَالْعِصْيَانَ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الرّٰشِدُوْنَ ؛ نَنۍ ستاو ستاسو په زړونو کښے د کفر
گناه اونافرمانۍ کړکه واچوله هم خلق په سمه لاره دی (سورهٔ حجرات آیة ۷)
داهم غټه خبره دے چه په دے د خالق کائنات او د مرکز حیات سره
تړون پیدا کیږی، او دا تړون بیا غټه خبره دے چه غټ سړه د انسان زړه
او دماغ ته تسلی او آرام نصیب کیږی او د ټولو دُنیوی پریشانو خاتمه شی
اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ ؕ (الرعد آیة ۲۸) صرف الله په یاد زړونه
(اطمینان حاصلیږی)

دویم اُصول، د انسان د نورو انسانانو سره تعلق

د انسان ژوند په تمدن او اجتماعیت بنا دے یعنی په کلۍ وخت تیرولے شی
بیا څ نه د خپل ژوند ضروریات د نورو انسانانو په مدد حاصلوی،
حجامت د پاره د نائی ضرورت مند وی، جامو د پاره د جولاګ لو بنو د پاره
د کولالګ د مکان جوړولو د پاره د لکڼکار او علاج د پاره د طبیب او داکټر محتاج
وی دا تنکے بے شمیره نور و ضرورتونو د پاره د بیشمیره نورو انسانانو
محتاج وی، تر څو چه د دغه د نورو انسانانو سره تعلق نه وی نو هغه ژوند
نشی تیر ولے نو ضروری شوه، چه د انسانانو په منځ کښے تعلق د پاره د
داسے بنا سته اصول وی چه انسان په هغے د اجتماعی ژوند فائدے
حاصلولے شی. قرآن حکیم د حقوق انسانی متعلق داسے شکاره احکام او
جامع هدایات ورکړی دی چه په هغے عمل کولو سره د انسان د کلۍ
ژوند د بر څو شحاله او پُرامن جوړیدے شی د تفصیلاتو گنجائش
تنګ کښے د انسان د کلۍ ژوند لپاره اصول قرآن

قائم کړی دی، (۱) د بشریت د یووالی اعتقاد یعنی د ټنګ نسل او وطن
د اختلاف باوجود ټول انسانی قومونه د یو پلار مثال لری لهذا ټول انسان
د ټولو انسانانو سره هم هغه سلوک کوی کوم چه هغه د خپل پلار
(خاندان) سره کوی، ځکه چه ټول انسان د یو مور پلار یعنی د آدم علیه
السلام او د حوا ؑ اولاد دی،
(ب) د ټنګ، نسل او د ملک اختلاف صرف د پیژندګلوی د پاره دے د جنګ
جګړو یا د ځپلو د پاره نه دے.

دریم اُصول، د انسان د کائناتِ عالم سره تعلق

د انسان تعلق د کائناتو سره د خادم او د مخدوم په حیث دے کل کائنات د
انسان په خدمت کښے لګیا دی انسان ته معلومه دی او که نه خو سفلی
عناصر ټول یعنی زمکه، باد، اُوبه او اُور، د زمکے آسمان منځ کښے د ریځ
او باران او برکنی نمر، سپوږمۍ او ستوری د ټول په خپل خپل ځای
د انسان په خدمت کښے لګیا دی او د دی د ژوند ضروریاتو تیارولو کښے
لګیا دی همدغه حال د ځناورو، اُونبُوتو او د معدنیاتو دے چه د هغو
د فائدو تحقیق یو مستقل علم دے د دے حقیقت قرآن حکیم په دے
الفاظو کښے اعلان کړے دے :-

خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا ؗ (اے انسانانو د زمکے او د آسمان ټول څیزونه
سورهٔ البقرة آیة ۲۹) ستاد فائدے د پاره پیدا دی)

وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ او لګیا کړی دی ستاسو د فائدے
سورهٔ الجاثیة آیة ۱۲ د پاره د زمکے او آسمانونو ټول څیزونه د کائناتو
دے تعلق معلومیدو سره په انسان باندے څو حقیقتونه پرانستے شی
(۱) دے جهان ټول برکنی اولاد بنی څیزونو کښے د انسان فائدے دی
انسان له پکار دی چه دا ټول د دے نه د انسان په زړه کښے په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کائناتو د حاکمیت او د هغې د قابو کولو جذبه پیدا کیږی، د انسان او د کائناتو په مینځ کښې د فائدې ورکولو او د فائدې اخستلو تړون.
قائمیږی انسان دے نه د فائدې واخستو کوشش نه کوی، او د علوم کوینه په ذریعه په دے فائده وقابو مومی او د دے فائدو د تخلیق حکمت پوده کوی
(ب) دویمه نتیجه د عالمی تعلق به داوی، چه انسان به خان حاکم او مخدوم او ټول کائنات به محکوم او خادمان کنړی لهذا هغه به دا ټولے دُنیوی فائدے د انسانی شرف خادم، محکوم او تابع جوړ وی او شرف انسانی به د دوی خادم محکوم یا تابع نه جوړ وی او دے په دے نظریه عمل کوونکو وی
(جهان ہے تیرے لئے، تو نہیں جہان کے لئے) جهان تاد پاره دے نه جهان د پاره
نه بلکه د خالق جهان د پاره دے پیدا دے بنایه هغه دُنیا د انسانی شرف د تکمیل ذریعه جوړ وی انسانی شرف به په دُنیا نه قربا نوی هغه به د زړه مال حاکم وی د هغې بنده او غلام به نه وی په دے اصولو به د هغه خودی نوره هم لوړه شی هغه به د خپل رُوحانی شخصیت د لویدې اقراری شی او د دُنیا د ذلیلو غرضونو د پاره به په انسانی شرف باندې داغ نه لګوی.
(ج) د کائناتو عالم د قابو کولو او د هغې د خادمیت یو نتیجه به بل داهم وی. چه انسان به د شرک نه په هیڅ شی خپل خان به اشرف المخلوقات او نور ټول مخلوقات به خپل خادمان کنړی هغه به د عبادت لائق نه کنړی حکه چه خدائے مرکله هم د خادم عبادت نکوی او نه د هغه نه مُراد وی نه غواړی هم د غه وجه ده چه قرآن د هغه انسانانو په بارہ کښې فرمائی کومو چه د آسمان یا د هغې څیزونه معبودان جوړ کړی دی:-
وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَكَاَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَآءِ. سورۂ حج آیة ۳۱.
شوه چه هغه دا انسانی شرف د آسمان نه خان راکښته کړو.

او هم د دے تعلق اثر به وی چه انسان به د مخلوق د عبادت نه ویزاره
صرف د خالق کائنات عبادت کُذار شی، او هم دا د قرآنی تعلیم نتیجه ده

۴- خلورم اصول، د انسان د ژوند مقصد

د انسانی ژوند گی خلورم بنیادی اصول دا دے چه انسان د خپل ژوند د
مقصد معین کولو غټه پرا ښتی د ټولو نه ضروری علم دا دے چه انسان
ته د خپل ژوند مقصد معلوم وی او دا د اعلیٰ وی، لکه څنګه چه
انسان د ټولو مخلوقاتو نه برتر او اشرف دے، نو د هغه مقصدِ حیات
د هم دا سے برتر او اشرف وی چه په هغې کښې د نورو ټولو مخلوق
هم نه وی برابر- د غوا، مینځے او بزے مقصد پَتی دی په کومه کښ چه
پَتی د یروی او ښه وی نو هغه به زیاته قیمتی وی بزے نه غواړو
غوا نه مینځه زیاته قیمتی ده د خر نه آس ځکه زیات قیمتی دے چه
د خر نه د هغه مقصد اُوچت دے په دے خبره کښې انسان فکر
اُکړو نو ثابته به شی، چه د انسان نه بغیر ټول مخلوقات د انسان د پاره
دی انسان به دے نه خدمت او فائده اخلی اُس د غود جوګه د اخبره
ده چه د انسان د ژوند څه مقصد دے. او د دے سوال حل کول د
انسان د ټولو نه لوړ مبنی ذمه واری ده

د اخوکیدے نشی چه معمولی څیزونه خو د مقصدیت نه خالی نه وی
د انسان غوندے د ټولو نه لوړے هستی پیدا کول د چا مطلب وی؟
حکه چه د خالق کائنات په حکمتی به داغ اُګلی نو بنا په دے د انسان د
پیدا کولو مقصد د پرغټ دے لکه څنګه چه انسان د پخله لوړه هستی
ده، د مادہ پرستانو په خیال کښې خو د غه مقصد صرف خوندونه
اخستل دی د خوراک خوندونو وی او که د عزت یا د حکومت، پرګوبے خبر
(خوراک) خو د انسان د ژوند مقصد حکه نشی جوړیدے چه بعض

(c) ketabton.com: The Digital Library

خناور لکه میښه او، هاتی دانسان نه ډیر نږیات خوراک کوی او ده له خونه
هم زیات ورکوی، حکمه ډیر خوراک کښے خوند هم ډیروی، لکه څنګه چه
یوکس دوه آمونه خوری او بل کس شل آمونه اُخوری نو دے دویم
کس له به خوند هم زیات ورکوی، دا دلیل حکمه غلط دی چه دمیښے
اوهاتی نه دانسان خوراک بنه دمر هاتی اومیښه وابنه گیا خوری
اوانسان پولاؤ اوچرګان! حکمه چه دهاتی اومیښے ډیاره دغه وابنه
گیا پولاؤ اوچرګان دی دوی نه داخیزونه نږیات خوند ورکوی اُس
دویم څیز (رُتبه، عزت) ل (امام غزالی رحمه الله تعالے دوینا مطابق
وَهمی څیزونه دی حکمه چه عزت اورتبه دمال دپاره ده اومال هم د
خوراک دپاره خوفرق صِرف دواسطے دے وراندے هم مقصد خوراک
ووبلا واسطه اواُس هم مقصد خوراک دے خوبالواسطه:-

دغه رنګه دریم څیز (حکومت) هم یُومستقل مقصد، حکمه نه دے
چه دادمال اورُتبے دپاره اومال ورُتبه دخوراک دپاره مطلوب دی
لکه څنګه چه وراندے ذکر شُو، خوراک څه مقصد نه دے، بله دا
چه دانسان حکومت دګوښش او دتکلیف دے، مال پرخرچ کیږی
منډے تړے پکښے وهلے شی شرونساد پکښے کیږی، وو نه دهغه
دپاره پکاروی حکومت آوپه دل پکښے راځی، مطلب داچه دزرګونو
خطرونه انسانی حکومت ډک وی په دے کښے خو دده بیا ذمرے بنه
دے چه دهغه حکومت قدرتی دے ټول خناورے قدرتی زیرفرمان
دی او دا سے هیڅ قسم خطرے هم پکښے نشته هم په دے دول انسانی
لذّت اوخوند هُم دغمونو اوتکلیفونو نه ډک دے په دے خونه دنو
اغستو کښے کله سرومال اوټول تپر هم اُبیلی مګر دخناور دلذت
ددے ټولو خَطرو نه خالی دے دَ هیڅ وجه دا ده چه دانسان په فطرت

کښے تیرشوے غم اودمستقبل فکر پروت دے دده په منګرو یا
خپلوانو کښے څوک چه وراندے مړ وی دَه نه چه رایاد شی خامخا
غم جن کیږی اوآئنده خطرے فکر هم دَسره خامخاوی ددے وجه
دانسان ټول لذّتونه دَغمونو او فکرونو نه ډک دی او دَ خناور وروهیڅ
پرلذت کښے هیڅ قسم غم فکر نشته ددے ټول تقدیر خُلاصه داشوه
چه انسان دخپل ژوند مقصد پخپله نشی مُقرّرولے دامقصد
به دده خالق مقرّروی، لکه څنګه چه دهوائی جهاز جوړه ونکے د
هوائی جهاز مقصد متعین کړی نه چه پخپله هوائی جهاز خپل مقصد
متعین کوی هُم دامقصد په صفا او بلیغو الفاظو کښ قرآنِ حکیم بیان
کړے دے:

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ○ دَپیدا کولو اوبنیاد مود تخلیق
مَا أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَا أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ ○ مقصد عبادتِ الٰهی دے موندے
سورۂ الذّٰریات آیة ۵۶ ۵۷) ددوی نه روزی ګټل نه غواړم
او نه په بل خورول.

دا سے لکه څنګه چه انسان دادوه مقصدُونه پخپلو غلامانو پوره
کوی حکمه چه موبز. ته نه دروزئ حاجت شته اونه دخوراک اِنَّ
اللّٰهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ ○ بلکه خُداوند تعالی وراندے
نه دانسانی مشین قائم ساتلو دپاره دروزئ انتظام کړے دے، حکمه
چه هغه ډیرقوی اوزور آور دے،

کُجرے یو مشین نه دزنګ روغن ضرورت دے دَپاره وی چه هغه
خراب نشی نو دآدمشین وجود مقصد نه دے، بلکه دده مقصد هغه
کار دے چه مشین سازکوم کار دپاره جوړ کړے دے هم دغه حال
دانسان او دهغه دَرزق دے دانسان دپاره روزی دبقاء سامان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقصدِ تخلیق نه دے، مقصدِ تخلیق به هُم هغه وی چه کوم دَ پاره انسان پیدا شوے دے، یعنی عبادتِ الٰهی. دَ تیل اوروغن (پشان رد مشین دَ پاره) روزی هُم دَ انسان صحیح ساتلو دَ پاره یو سامان دے دَ هغه دَ ژوند مقصد نه دے، په دُنیا کښے د هر مشین قیمت دَ هغه مقصد مطابق متعین کولے شی مثلاً د چینو به هغه مشین زیات قیمتی ګڼلے شی چه لږ وخت کښے دیر چینی پیدا کوی هم دغه رنګ د انسانی مشین قیمت به دَ هغه د تخلیقی مقصد په مطابق وی چه هغه عبادت الٰهی او تقوٰی ده فرمائی، اِنَّ اَکْرَمَکُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰکُمْ، او هم دا انسان دَ الله په نزد دیر قیمتی دَ شرافت او عزت خاوند او دیر مقبول دے۔

پنځم اُصول، د انسانی ژوند آخری منزل

د انسانی ژوند آخری پوړی الله سره یوځائے کیدل دی، قرآن د دوائی چه د انسان ژوند متحرک دے ساکن نه دے:۔

یٰٓاَیُّهَا الْاِنْسَانُ اِنَّكَ كَادِحٌ اِلٰى رَبِّكَ كَدْحًا، ته په هره مرحله پر تکلیفونو فَمُلٰقِیْهِ ط سورهٔ الانشقاق آیة ۶ تیریږے وَلوالله ته ورروان ئے او بیا به ورسره یوځائے شے:۔

(۱) دده آیت نه معلومه شوه، چه انسانی ژوند متحرک دے:۔

(۲) په دے حرکت کښے ورته تکلیفونه هم خامخا پیښیږی:۔

(۳) دده حرکت آخری پوړی خدائے سره یوځائے والے دے:۔

دا خبره دیره ښکاره ده چه انسانی ژوند متحرک دے انسان اوّل شوم وی، بیا هلک او ځوان شی، تر دے د ترقی حرکت دے بیا مرکه پورے دَ تنزل حرکت جاری وی، دمرګ نه پس برزخی حرکت شروع شی، دا ټول قسمه حرکتونه ضروری دی دا هیڅ حرکت نشی بنده ولے دَ

ترقئی په حرکت کښے به ترقی کیږی او دَ تنزُّل په حرکت کښے به خامخا تنزُّل کیږی خو دا ټول حرکتونه دغسے نوا او مصیبتونه نه پرک پرک دی:۔

دا خو دَ ښکاره ژوند حرکتونه وو، دَ پټ حرکت، یعنے د قبر او دَ برزخ حرکت هم څوک نشی بنده ولے دا ښکاره او پټ قسمه ټول حرکتونه به هله ختمیږی چه دده حرکتونو آخری پوړی ته ورشی او دا آخری پوړی کومه ده، دا پوړی هغه ده په کومه کښے چه دا انسانی ژوند نتیجے او ثمرے بیا موندلے شی،

په دنیا کښے هر حرکت یو عمل نه وئیلے شی، چه څه وخت دهغه عمل نتیجه را اُځی نو دَ هغے عمل حرکت ختم شی، یو زمیندار زمکه چوکړی تخم پکښے اچوی، دَ هغے اُبه خوړ کوی، سره په کښے اچوی۔ خیال ئے ساتی، څوکیداری ئے کوی، چه فصل پوخ شی بیا ئے ډیبی، په مشین یا په غوا یا نوا و خرو ئے غوښلوی، بُوس او غله بیله کړی چه دَ غلے درمن واخلی نو دا حرکت ختم شی، حُکمه چه هغه دَ عمل نتیجے اود حرکت آخری پوړی ته اُرسی او دده نه پس دغه حرکت ختمیدل ضروری دے هم دغه حال د انسان دے هغه پخپل ژوند کښی تکلیفونه تیرے وی اوور سره حرکت کوی، څوک دَ خیر او نیکئی دَ پاره تکلیفونه تیروی او څوک دَ شر او بدئی دَ پاره حُان خوری دا سلسله تر مرګه جاری وی بیا وړاندے په آخرت کښے چه هرکله دا دوارہ قسمه خلق دَ خپلو عملونو نتیجے او دَ خپلو حرکتونو ثمرے دَ جنت او دوزخ په شکل کښے بیا مُومی نو ژوند به خپل خُلے او آخری پوړی بیا مومی او په پټه به اُدریزی او دا دَ ژوند دَ حرکت انتهاده ګڼلے شی چه په دے آیت کښے دَ عملونو دَ نتیجو بیان دے:۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ ۝ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ۝ وَيَنقَلِبُ إِلَىٰ أَهْلِهِ مَسْرُورًا ۝ وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ وَرَاءَ ظَهْرِهِ ۝ فَسَوْفَ يَدْعُو ثُبُورًا ۝ وَيَصْلَىٰ سَعِيرًا ۝ إِنَّهُ كَانَ فِي أَهْلِهِ مَسْرُورًا ۝

سورهٔ الانشقاق آیه ۷ تا ۱۳

چا ته چه عمل نامه په ښی لاس ورکړے شوه، نو هغه نه به آسان حساب آغښتے شی او خپلو خلقو نه به خوشحاله راشی او چا ته چه عمل نامه د شا د ژسترو رکړے شوه نو هغه به مرګ غواړی او په جهنم کښے به أغور ځیږی، ځکه چه هغه په کور کښے بیغمه وو: دانسان داحالتونه قرآن حکیم په دے آیتونو کښے بیان کړی دی

وَمَا مِن دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا، نشته مګر په الله د هغه روزی سورهٔ هود آیت ۶

ده او د هغه د استوګنے او امانت ایښودلو ځائے ورته هم معلوم دے،

په دے آیت کښے د انسان د دے دواړو حالتونو ذکر دے د دنیوی ژوند چه څه وخت په زمکه کښے وی او حرکت کوی د آخرت منزل کوم ځائے چه آستوګنه کوی یعنے جنت یا دوزخ د قبر او برزخ حالت چه کوم کښے امانت وی تا اُکتل چه د انسانی ژوند پنځه بنیادی اُصوله قرآن په څه ښه طریقے حل کړیدی او د انسانی ژوند نظام ئے په ښه ډول پیش کړیدے چه داډول یو غټ فلسفی او حکیم هم نه دے حل کړے نو دا دلیل دد ے خبرے دے چه قرآن کلام الٰهی دے:-

۷- شمولی اِعجاز

د اعجاز شمولی مطلب په قرآن کښے دا سے خوښیږونه دی کوم چه په انسانی کلام کښے نشی جمع کیدے د دے نه معلومیږی، چه دا الٰهی کلام دے نه چه اِنسانی. هغه څیزونه دادی:

(۱) جِدّتِ اسلوب: مطلب داچه د قرآنِ حکیم طرزِ بیان د انسان کلام نه مختلف دے په دے ډول ماحول کښ د دے مثال نشی موندے انسان چه څه وا آخلی نو خپل ماحول نه ئے را اخلی نو کوم چرے د انسانی کلام وے نو د عرب و د ماحول نه به ماخوذ وے خو دا سے څکه نه دے چه په عرب و کښے خو څه. چه په ټولو ژبو کښے د کلام دے طرز موندے شی:

(ا) کلامِ منظوم یعنے شاعری (ب) کلام منثور مُسجّع (ج) کلام منثور غیر مُسجّع: د قرآن حکیم په دے دیوالو کښے یو طرز هم نه دے او دوست دُشمن دا قرار کوی چه قرآن د سبع مُعلقات یا د دیوانِ حماسه پشان شعر هم نه دے څکه چه د ردیف، قافیے او بحرونو پابندی په دے کښے نشته او د مقاماتِ حریری پشان منثور مسجّع، یعنے د بند و نو والا نثر هم نه دے او د عام مصنّفینو پشان بے بنده نثر هم نه دے، دینه معلومیږی چه په مخ د نه دے دا سے کلام بل هلته وشته نه نو د دے بنیاد او سرچشمه انسانی او زمینی نده بلکه الٰهی او آسمانی ده:-

(۲) په انسانی کلام کښے د متکلّم د جذباتو ډیر دخل وی چه هغه د قهر خبرے کوی نو پکښے د رحم ټوټے هم نه وی او چه د رحم خبرے کوی نو د قهر اړخ پکښے نه وی ځکه چه انسانی جذباتو کښے اعتدال نه وی په خلاف د قرآن حکیم چه دے کښے په یو وخت د زیری او د ویرے د جنت او د دوزخ، او قهر او د رحم ذکر په یو خائے وی دے نه معلومیږی چه د انسان په شان د جذباتو نه مغلوب هستی د قرآن نه ده زبانی نَبِّئْ عِبَادِي أَنِّي أَنَا الْغَفُورُ الرَّحِيمُ وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ الْعَذَابُ الْأَلِيمُ

سورهٔ الحجر آیه ۴۹ تا ۵۰ په دے آیت کښے د مغفرت اعلان سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دردناک عذاب هم ذکر دے، مگر انسان د غصّے او قهر په وخت
درحم او شفقت اظهار هیڅرے نشی کولے او د رحم او شفقت په وخت ئے
د غصے خبره په خوله نشی راتلے :-

(۳) د هر انسان د کلام چه مطالعه اُشی نو په هغے کښے به خامخا داسے الفاظ
بنکاره شی چه د بهر نئ دُوړے د باؤ پیدا وار به وی چه د هغه نه به
معلُومیږی چه متکلم د ویرے په وجه داسے خبرے کوی، دینه علاوه
په انسانی کلام کښے خو کله د قوّت اظهار کیږی مگر د داسے قوّت هیڅرے نه
چه هغه نه په زمکه آسمانونو باندے د حکومت اظهار کیدے شی، که
چرے چالبره مطالعه د قرآن هم اُکړه، نو هغه ته به په هره صفحه دا
محسوسه شی چه دا د داسے متکلم کلام دے چه د کائناتِ عالم د یو څیز
نه هم هغه نه ویریږی اونه دبا ویږی بلکه عظیم تر څیل کائناتو باندے
حکمرانی کوی۔ د طُوفانِ نوح د بندیز په باره کښے د قرآن د الفاظو نه
څو اګوره :-

يَا أَرْضُ ابْلَعِي مَاءَكِ وَ يَا سَمَاءُ ؛ اے زمکے خپلے اُبه تیرے کړه او
أَقْلِعِي ؛ سورهٔ هود د آیة ۴۴ ؛ اے آسمانه دوریدو نه بند شه
چرے یو انسانی طاقت هم داسے حُکم ورکولے شی ؟

(۴) انسانی کلام د انسان د دماغی قوت د محدودوالی مظهر وی د هغه
د بلاغت اُس په هر میدان کښے یو شان منلے نشی د هغے. د ده
قابلیّت په خاصو مضامینو کښے د بلاغت زور ښودے شی بل قسم مضامینو کښے
د هغه د بلاغت د غشے زور نه وی، یو عرب مشهور شاعر ابو نواس صرف
د شراب په تعریف کښے بهترین شعر خو وئیلے شی په بله موضُوع نه
بل شاعر "ابُوالعتاهیه" په زُهد و تقوٰے، په فناءِ دُنیا او په شوق
آخرت باندے د بلاغت نه ډک شعر وئیلے شی خو په نورو مضامینو

داسے نشی وئیلے، په فارسی شاعرانو کښے فردوسی نظامی په جنګی
مضامینو پورے زور سره شعر وئیلے شی لیکن په بل میدان کښے هغه
پس راځی، سعدی، اخلاق شاعر دے جنګی یا بل نه دے، کچرے د
خُوش قسمتئ نه یو شاعر په هر مُوضوع باندے شعر وئیلے شی نو دا
فرق بیا هم وی چه په بعضے مضامینو د یر بنه کلام او په بعضو لږ کم
او په نورو هغه نه هم کم وئیلے شی۔ دے نه علاوه د شاعرانو او بلیغانو
ټول مضامین د فکر او د مادیاتو کوم دائره نه بهر نه وی په دے
ټولو کښے غیبیات او د مادیاتو نه پورته مضامین د یر کم وی، په
محسوساتو کښے د شاعرانو خیالات کار کولے شی، لیکن په غیبیاتو کښے
د تخیّل پرواز ختم شی او دے ټولو نه علاوه شاعران د رشتیا او
او د واقعاتو پابند نه وی، ځکه چه په دے بیا په خیال پابندی راځی
د شاعرانو کار دغه وی چه په خیال کښے څرخبره هر څنګه چه راغله
هغے د پاره هر څه الفاظ چه د هغه په خیال کښے راغلے نو د شعر په قالب
کښے ډنګینئ سره او رواچوی په دے ډوب ئے نه وی چه داسے کیدے هم
شی که نه او دا رشتیا دی او که دروغ، هم په دے وجه د شاعرانو
په باره کښے یو معقوله ده چه "أَحْسَنُهُ أَكْذَبُهُ"، چه د یر بنه
شعر به هغه وی کوم کښے چه د یر دروغ بیان وی، لیکن د قرآن حکیم
مضامین یو طرف نه دومره وسیع دی، چه دے کښے عبادات،
معاملات، قوانین منزلیه، د معاشرت احکام، د مملکت قوانین، بین
الاقوامی قوانین او بیا عقائد، اخلاق، تاریخ، محسوسات، غیبیات،
واقعاتِ دُنیا او حقائقِ آخرت ټول مضامین دی بیا دے وسیع مضامینو
دبیا نو لو د پاره دائره دومره تنګه ده چه هیڅ یو مضمون او عبارت
په دروغ او خلافِ واقعه نه وی او سره د دے د قرآن په فصاحت

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بلاغت کښے یو ذره فرق هم نه راځی لکه چه فرمائی:-

وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ لَوَجَدُوْا فِيْهِ اخْتِلَافًا كَثِيْرًا ○ سورة النساء، چا کلام وے نو ډهمه په شان

"یة ع۸۲" بلاغت او مضامینو په صداقت کښے به خامخا فرق

راغلے وو،

داسے شان ډهغه کلام کیدے شی چه ډهغے سرچشمه لامحدود

قوت وی او هغه صرف خالق کائنات کیدے شی، نو دا دلیل دے خبرے

شو چه قرآن هم د الله تعالے رشتیا کلام دے:-

۸- غیبی اعجاز

په قرآن کریم کښے د غیبی علومو یو لوی ذخیره موجوده چه

هغے ته د یوغټ فلسفی او لوئے عالم رسائی نشی کیدے نو دا به کله

شی چه د نالوستی قوم د یو نالوستی ذات به هغے ته رسائی شی دا سے

غیبی علوم و پرتمونه وی:-

(۱) د نړۍ د پیغمبرانو علیهم السلام او قومونو تاریخ، ډهغے نتیجے او ثمرے

(۲) د اتلولنکے واقعے، دوخت نه ړوند ډهغے خبرورکول او د ډهغے دا سے

حقیقت بیانول چه ظاهری اسباب دا نه وی،

(۳) د مرګ او طبعیاتو نه بعد امورو په باره کښے دا سے حقیقتونه

بیانول چه د لوئے فلسفی او د یو لوی فلسفیانه ذهن مجموعی قوت نه هم

ډیر اوچت وی:-

(۴) د تیرو پیغمبرانو علیهم السلام مثلاً آدم علیه السلام حضرت

نوح ع، حضرت هود ع، حضرت صالح ع، حضرت ابراهیم ع، حضرت

اسمٰعیل ع، حضرت اسحاق ع، حضرت یوسف ع، حضرت موسیٰ ع،

حضرت هارون ع، حضرت داود ع، حضرت سلیمان ع، حضرت عیسیٰ ع

حضرت یحیی او حضرت زکریا علیهم و علی نبینا الصلوة والسلام

تاریخی واقعات او د دے یو لو حضراتو علیهم السلام د دعوت او تبلیغ

مقصد و نه او د دے یو لو حضراتو علیهم السلام د قومونو د امتونو

واقعات او د دوی او پیغمبرانو علیهم السلام د دعوتونو او ارشادونو په

خپل خپل امتونو باندے د موافق او مخالف اثرات او د دوی انجامونه

او نتیجه، د دے نتیجو علتونه او اسباب، عبرتونه او نصیحتونه چه څنګه

تحقیق او حیرت انګیز صداقت او بلاغت سره قرآن بیان کړیدی

ډهغه مثال په انسانی تحریر کښے نشی مونده:-

د دے واقعاتو یو حصه په تورایت کښے موجوده او څه حصه د تلمود

د عالمانو او تاریخ په سینو کښے محفوظ وه لیکن د صاحب قرآن علیه

السلام په ټول ژوند کښے یو واقعه هم داسے نشته چه هغوی ته د انسانی

استاذ نه د زکی کړے څه موقعه پیښه شوی وی یا ے تر نه د زکی کړی

وی، یا چا استاذ داسے وئیلی وی، چه مانه حضور علیه السلام زد کړه کړیدی

د داسے علومو باقاعده حاصلولو د پاره بالخصوص د یو اُمی او نالوستی

سړی د پاره ډیره زمانه او ډیر له پسے زد کړے ضرورت وی، دے

د پاره د خوکینتو یا خو ملتو ملاقات کافی نه وی لیکن د نبوت د زمانے

د قرآن د شنانو هیڅ وخت د دوی ع د اُمی توب نه انکار انکړاو نه د

تیرشوو پیغمبرانو علیهم السلام یا د تیرشوی قومونو په واقعاتو کښے

څه شک پیدا کړے وو دا خبره د دے واضح دلیل دے چه ټول د شنانو

او دوستانو دا حقیقت اوږے شتینی منلے چه هغوی علیه السلام اُمی وو

او چا نه هم هغوی زد کړه نه وه کړے او قرآن کومو پیښو واقعاتو

د انبیاؤ یا د امتونو چه بیان کړی دی هغه ے هم صحیح ډول که ښائے

ملے نو خامخا به ئے اعتراض کړے وے، په دے بنا د موجوده مستشرقینو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعتراضات ډډوالړ او امورو په بارهٔ کښې غلط او بې بنیاده شی چه ددے مقصد سیاسی دے او استعمارته وده ورکول دی، د استشراق فتنه علمی اراده نده بلکه د تحقیق په مرکزی سرچشمې د طاقت (قرآن) اوپه نبوت باندې حمله کول غواړی چه د مسلمانانو د زړونو نه د قرآن او نبوت هغه جوړ شوے څخې شی او د هغوی د فطری وحدت خاتمه اوشی او دوی د ډډ اکولو او خان خان له کولو نوی دور کوونه پرانستے شی،

يُرِيدُونَ لِيُطْفِـُٔوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ: دوی غواړی چه د الله نور ټپلو وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ۝: خو الله مرکړی او الله د خپلے رڼا سورة الصف آیة ۸ عـ: پوره کونکے دے هرڅومره چه کافران ئے بدکنړی

په عامو انګریزی دانو کښے صحیح علمِ دین نشته او د دینی ژبے عربی هم مهارت نشته او ددے نه علاوه د دوی د یورپ هر یو مصنف سره عقیدتمندی هم ده چه د دغربی تهذیب اثر دے او د علماءِ دین نه کرکه ده، داخلو خیزونه داسے دی، چه مستشرقین خپلے فتنے ته په دے ښه وده ورکولے شی، مونږ دګولډزیهر" دمذاهب تفسیریه نوم کتاب او د ولیم میور" د "لائف آف محمد" نوم کتاب په آزاد فکر د یره ښه مطالعه کړیده لیکن په مونږ هر هغه اثر اُشوچه کوم مونږ اُس بیان کړو او دا خمونږ د یقین د مضبوطوالی یو باعث جوړ شو، مونږ د را تلونکی مورخ په باره کښے د قرآن کریم یو څو هغه غیبی اعلانات بیانوو چه کوم لا شوے نه وو او نه د هغے څه اسباب او ذرائع وو،

① قرآن کریم داسے قسم اعلان په دے الفاظو کښے کړیدے: غُلِبَتِ الرُّومُ فِىٓ أَدْنَى ٱلْأَرْضِ وَهُم مِّنۢ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ ۝: سورة الروم آیة ۱ عـ: رومیان دایران په مقابله کښے داسے مغلوب شوچه د کسریٰ فوجونو زړو می حکومت او د هغے مرکز داسے تباه کړو، چه دائے یو

خپل قلمکی ریاست جوړ کړو، تاریخ اُښو دل چه د دے خبرے څه نښه هم نه وه، چه رومی حکومت به بیا راپاڅی او د کسریٰ هغه لوئے حکومت ته به ماتے ورکوی، مګر قرآن "بِضْعِ سِنِينَ" یعنی دلسو کالونه کمه موده مقرر کړه او هم دغسے اُشوه د لسو کالونه کمه موده کښے رومیانو کسریٰ ته شکست ورکړو او د دوست دښمن د قرآن داغیبی اعلان ① ټپلو ستر بد و رشتیا او کیدونکے اُلیدو او د تاریخ په پاڼو کښے محفوظ شو،

② مسلمانان دیر کمزوری وو، او قریش دیر زور آور وو، بالخصوص د حدیبیے په مقام سنه ۶ هـ کښے چه صحابه کرام د دیرلږے خایه مدینے منورے نه د عمرے په نیت راغلی وو قریشو د طاقت به نشه کښے هغوی دمکے شریفے او د عمرے نه منع کړل سره د دے چه داکار د عرب و د مَنلی شوی قانون نه هم خلاف وو، مسلمانانو د صلح حدیبیے هغه کمزورے دفع هم اُمنلے په هغے کښے یو داد فعه هم وه چه داخل د مسلمانان عمره نه کوی بلکه آئنده کال د بیا راشی او په دے حال کښې سورهٔ فتح نازل شو، إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا ۝ (سورة الفتح آیة ۱ عـ) چه په دے کښے د دوو فتحو پیشګوئی شوے وه، یو د یهود و خیبر از ه زمکه د مسلمانانو په قبضه کښے راتلل او د هغوی لوئے طاقت ته ماتے ورکول، او دویم د قریشو بلکه د عرب و مجموعی طاقت ته ماتے ورکول او مرکز عرب مکه مکرمه فتح کول، دا دواړه فتح مسلمانانو صرف په دوو کالو کښې حاصله کړے، دے نه معلومه شوه چه قرآن کریم د عالم الغیب کتاب دے

③ قرآن حکیم داسے وخت کښے د خلفاءِ راشدینو د خلافت پیشګوئی کړه چه د صحابه کرامو ژوند ته هم خطره وه بلکه یو مسلمان هم خان محفوظ نه ګڼلو لیکن د قرآن حکیم دا پیشګوئی درسته ثابته شوه او هم دے مطابق هغوی د ډډ حکومت حاصل کړو د هغوی دین

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اسلام هم سیاسی طاقت بیا مومنداو مضبوط شوا و اسلام په بشپړ جهان
د خلفاءِ راشدینو په ذریعه خور شو، او د مسلمانانو نه د یو حکومت نه هم
څو پیړۍ پاتې نشوه، دې ټولو او پرو خبرو اعلان په خپلو دې الفاظو
کښې قرآن کړې وو، وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ
لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْاَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ
دِيْنَهُمُ الَّذِي ارْتَضٰى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِّنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ اَمْنًا (سورۂ نور
آیۃ ۵۵) په نادوغه حالا تو کښې قرآن حکیم دا سے نوډ ډیر غیبی اعلانات
دوخت نه ړوبه کړیدی او بیا ډیر شتیا اُختل مکرد لنډه والی په غرض
صرف هم دا مثالونه کافی ګڼړو۔

۹- اعجاز ابی اعجاز

د قرآنِ حکیم د جاذبیت دا سے یو خاص شان دے چه په هیڅ
انسانی کلام کښې نشته:

(۱) د جاذبیت یو دلیل دا دے، چه عیر عرب خلق د پردې ژبې دا قرآن
په ډیر تکلیف یا د وې یا دے سانی او د دے دوړو نه او تکرارونه کوی،
حالانکه دے کښې دُنیوی هیڅ فائده نشته۔ دا جاذبیت یوا ځے د قرآن
کیدیشی، دبل هیڅ کتاب نه۔

(۲) دویم دا چه دے په معنے نه پوهیدونکی خلق هم بیا بیا تول
دے تلاوت کوی او زړه ئے نه پوره ته کیږی نه دینه معلومه شوه چه
انسانی روح د پاره په قرآن کښې یو خاص جاذبیت مونده شی

(۳) دریم دا چه د دے په مطلب نه پوهیدونکی خلق هم چه دا تلاوت
کوی نو په هغه هم یو خاص اثر کیږی، او د دے تجربه شوے ده په هر یو
پوهیدونکو خو اثر خامخا کیږی، نو دا سے کشش چه په بل یو انسانی کتاب
کښې هم نشته، دے خبرے دلیل نشی جوړیدے چه قرآن کلام الٰهی دے

۱۰- تالیفی اعجاز

د قرآن حکیم په تالیف کښې هم اعجازی شان موجود دے، حُکمه چه
انسان یو کتاب جوړه وی، نو د هغے یو څو مضامین، د فصل، بیا څو
فصلونه د باب، بیا څو بابونه د کتاب په عنوان سره یا د وی او
بل لیکن د قرآن تالیف بالکل د انسانی تالیف نه جُدا او نوے شان
لری، او سره د دے دومره معقول دے، چه امام رازی رح فرمائی،
چه د قرآنی اینو نو ربط هم یو مستقله معجزه ده، په قرآن کښې په
یو ځائے احکام، واقعات انبیاء، اُمور آخرت، او صفات د باری تعالےٰ
بیانیږی، نو ظاهر بین نا پوهه خلق دا ډیر ربطی کنړی خو قرآنِ حکیم
خپل مضامین د دوو مقصدونو د پاره بیانوی یو دا سے څیز شود لچه
انسان ته ړوبه د هغے علم نه وی، او دویم چه قرآن په دے عمل عواړی
حُکمه چه یو بهترینه نسخه معلومول څه کمال نه دے تر څو چه په هغے
عمل نه وی شوے، نو قرآن دا دواړه عواړی، علم او عمل لیکن د هغے
ترغیب د پاره قرآن حکیم نور مضامین هم بیانوی چه هغه به د تاریخ
منلی شوی واقعات وی بالخصوص د پیغمبرانو علیهم السلام او د هغوی د
اُمتونو واقعات او یا به دا د آخرت نتائج وی حُکمه چه نه عمل انسان
هله کوی چه د هغے نه نتیجه د هغه په دماغ کښې راشی او بد عمل پریښوته
به هله تیار یږی، چه د هغے بده نتیجے ئے په وړاندے وی، او یا به دا
صفات د باری تعالیٰ وی د دے مطلب به داوی، چه انسان به خان د عالم
الکل، قادر مطلق، عادل، ذات په وړاندے ذمه دار کنړی نو نتیجه به ئی
داوی چه دا سے ذات د حکمونو خلاف ورزی به نکوی، د تالیف دا
حیرت انګیز نظام د دے دلیل دے چه قرآن کلام الٰهی دے

⁂

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱- اعتدالی اعجاز

انسان د جذباتو کو ډے دے دده هر حرکت په جذباتو بنا وی، قهر په وخت د رحم او شفقت نه خالی وی او د رحم په وخت د او غصے نه تش وی، په خوشحالئ کښے به چوی غم به ور سره پوتے نه وی لیکن د الله شان د جذباتو نه پاک دے، او قرآن د هغه کلام دے چ

پخپل غضب سره د مهربانئ او مهربانئ سره د قهر ذکر وی خو خایونه جُدا وی مثلاً د غضب خائے گنهگاران وی او د مهربانئ خائے ـ

فرمانبرداران وی هم دغه وجه ده چه قرآن کښے دُویمړو لو سره ذ زیو ورکولو او زیری ورکولو سره دُویمړو لو، جنت سره د دوزخ او د دوزخ سره جنت ذکر په یو خائے کښے موجود وی او بے شمیره خایونو کښے په یو آیت کښے مینه، او قهر، دواړه موجود وی مثلاً،

نَبِّئْ عِبَادِيْٓ اَنِّيْٓ اَنَا الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۝ خما بندګان خبر کړه چه زه وَاَنَّ عَذَابِيْ هُوَ الْعَذَابُ الْاَلِيْمُ ۝ خو معاف کوونکے او مهربان سورة الحجر آية ۴۹ و ۵۰ ؛ او دا چه خما سزا هم درد ناکه ده ؛

د دے جمع نه مطلب دا چه د قرآن سرچشمه د جذباتو نه دے انسان نه بلکه د جذباتو نه پاک د حکمتونو ذخیرے کلام دے، د هغه د حکمت تقاضا ده، چه انسان کښے د محبت او خوف دواړه حُکه وی، کچرے خوف خدائے نه وی، نو بیا به د خدائے پاک د فرمانبرداری کارخانه گډاوډه شی، کچرے معمولی انسانی حکومت کښے د حاکم ویره نوی نو حکومت پائے کیږی دا رنګ د محبت ضرورت حُکه دے، چه په عبادت کښے اخلاص وی د محبوب حُکم په اخلاص سره منلے شی او د هغه د پاره محب دخپل قربانئ ورکولو نه هم تیار وی، هرکله چه په الله تعالیٰ کښے دا دواړه جمع دی نو هغه په کلام قرآن کښے د هم دا دواړه خا ځا جمع وی، په نو

خبرو نو کښے دا دواړه جمع کیدل د نهنت په حساب دیر کم دی، انسان ده زمری یا د ظالم انسان نه ویریږی مینه ے د رسره نشته مور سره د هغه محبت شته لیکن ویره ے تر نشته معلومه خو چه یوائے خالق کائنات کښے دا دواړه جمع کیدے شی بلکه د هغه ذات د دے دواړه د مرکز دے، ثابته شوه چه قرآن حُکه هُمُر د دے ذات کلام د ترغیب او ترهیب په باره کښے آیتونه پیش کوم

لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ ؕ د الله د رحمت نه نا اُمیدی مکوئ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ؕ اِنَّهٗ هُوَ ؕ بیشکه الله ټول گناهونه معاف الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ سورة الزمر آية ۵۳ ؛ کوے شی، په تحقیق هغه معاف کوونکے او مهربان دے ؛

فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ اُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ ۔ هیڅ نفس نه پوهیږی چه ما کوم اَعْيُنٍ ۚ جَزَآءً ۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ سورة ؛ ستر ګو یخولو والا نعمتونه د هغه السجدة آية ۱۷ ؛ ؛ ؛ ؛ ؛ ؛ د پاره د عملونو په بدل کښے پټ ساتلے دی ؛

۶- دُویمړو لو په باره کښے ارشاد دے ؛

وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ ۙ مِّنْ وَّرَآئِهٖ جَهَنَّمُ وَيُسْقٰى مِنْ مَّآءٍ صَدِيْدٍ ۙ يَّتَجَرَّعُهٗ وَلَا يَكَادُ يُسِيْغُهٗ وَيَاْتِيْهِ الْمَوْتُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَّمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ؕ وَمِنْ وَّرَآئِهٖ عَذَابٌ غَلِيْظٌ ؛ سورة ابراهيم آية ۱۵ تا ۱۷ ؛

ناکامه دے هر هغه کس د چا چه په خپل زور د یا پروا او اسلام سره ے مندګولو د هغه د رُستو جهنم دے، د هغے د ذوواُبه پیه ده څښولے شی ګوټ به تر اخلی مګر نیږولے به ے نشی او د هر طرف نه به په ده د مرګ سختئ وی خو مری به نه او دے نه پس به پ سخت عذاب کښے گیر وی ؛

۱۲- ملکی اعجاز

د تولو نه لوے انسان بادشاه حُکم هم چلیږی او خلق تر ویریږی هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکړدا دوارہ محدُودوی، اوداسے هیڅرے نشی کولے چه زمکے یا آسمان غوندے یوغټ مخلُوق ته حُکم ورکړی، لیکن قُرآن طُوفانِ نوح علیه السلام کښے زمکے او آسمان ته داسے حُکم ورکړو:-

يَا أَرْضُ ابْلَعِي مَاءَكِ وَيَا سَمَاءُ أَقْلِعِي (سورهٔ هود آیة ۴۴) : اے زمکے خپلے اُبه نیږے کړه او اے آسمانه اُبه بنده کړه:-

اودا حُکمونه جاری هُم کړو دَدُنیا لوئے بادشاهان دَخلقو دَخُوشامدو تقریرونه اوخبرے دے دَپارهٔ کوی چه هغوی جرئت بغاوت اُنکری او حکم تر وا نخلی، لیکن دَیو یُورپی مُصنِّف په قول "قُرآن نه دا معلومیږی، چه دَدے مصنِّف چانه نه ویریږی" دے نه معلومیږی چه قرآن دَ خالق کلام دے:-

(دریم فصل)

دَتفسیر او تاوِیل او دَدے دواړو دَمتعلقاتو بیان:

(۱) دتفسیر او تاویل دَلفظونو معنوی تحقیق:-

تفسیر په عربی لغت کښے دَفسر نه جوړ دے چه دهغے معنیٰ دیوخیز بنکاره بیانول دی او په دے وجهٔ قارورهٔ، نه هم تفسرهٔ وئیلے شی حکه چه دَ هغے په لیدو به داکتر دَمریض حال بنکاره شی" تاویل" په عربی لغت کښے دَاوّل نه جوړ دے چه دَهغے معنیٰ راګرځیدل دی، دَتاویل اصطلاحی معنیٰ هُمدغسے دَقُرآن الفاظ تولو احتمالی معنیٰ کانو کښے یو معنیٰ ته راګرځول دی،

دَتفسیر او تاویل په شرعی او اصطلاحی معنیٰ کښے خو اقوال دی

(۱) دابوعبیدهٔ قول دے چه دواړه یَو معنی لری (۲) امام راغب فرمائی چه تفسیر عام لفظ دے دَکلامِ الٰهی تشریح او دکلامِ انسانی تشریح (دواړو) ته وئیلے شی، مګر تاویل یواځے دَکُتُبِ الٰهیه تشریح ته هم وئیلے شی:

(۳) دامام ابومنصُور ماتریدی دارائے ده، چه تفسیر دے ته وائی چه دَقُرآن مُراد یقینی طور متعین کړے شی، اوتاویل به دے ته وئیلے شی چه احتمالی معنے کانو دَقرآن کښے یوه معنیٰ غیر یقینی طور متعین کړشی، رُوح المعانی جلد اول صفحه ۳ الاتقان، جلد ۲ صفحه ۳) حُمونږ به نږدے اقوالو کښے خه اختلاف نشته صرف داصطلاح کانو اختلاف دے دَمتقدمینو اصطلاح داده چه تفسیر اوتاویل دواړه په یو معنیٰ کښے استعمالیږی او دتفسیر په موقعه لفظ دتاویل، استعمالیږی، تفسیر ابن جریر دا طرز غوره کړے دے ابوعبیده دواړه هم معنیٰ بولی دَهغه په هوراندے دغه اصطلاح دَمتقدمینو ده او دَمتأخرینو اصطلاح هغه ده کومه چه ابومنصُور ماتریدی بیان کړیده چه تفسیر هغه دے چه نقلی دلیل سره مُرادِ الٰهی متعیّن کړے شی اوتاویل به هغه ته وئیلے شی چه به احتمالی معنے کانو کښے یو معنے په ظن او اجتهاد متعین کړشی- دَامام راغب فرق حقیقی نه دے بلکه دَمتعلق په اعتبار یو اصطلاحی فرق دے. چه دَتاویل تعلّق دکتب الٰهیه دتشریح سره دے او تفسیر عام دے:-

(۴) دارنګ دا قول چه روایهٔ دَقُرآن دمعنیٰ متعین کول تفسیر او درایهٔ متعین کول تاویل دے:

(۵) یا کومه معنیٰ چه دَقُرآن دَعبارت نه واضحه معلومیږی هغه تفسیر او کومه چه په اشارے دَالفاظو سره معلومیږی هغه تاویل دے:-

(۶) تولے دَمتأخرینو اصطلاح کانے دی کوئی دَقُدماؤ په اصطلاح کښے دواړو یو معنے ده چه صاحب قاموس دا بنکاره بیان کړیده اودَ متاخرینو اصطلاح علامه آلُوسی په رُوح المعانی کښے بیان کړیده:-

(۷) دَتفسیر، تعریف، موضُوع او غایة (غرض)

علامه الوسی په رُوح المعانی کښے دعلم تفسیر دا تعریف کړے دے، چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

علم تفسیر هغه علم دے، چه په هغې کښې د قرآن د الفاظو طرز تلفظ او د مفرداتو د قرآن مدلولات او معانی مراده او د هغې افرادی او ترکیبی احوال او د نورو متعلقاتو بحث وی او په قول د صاحب د مناهل العرفان (جلد ۱ صفحه ۴۷۱) د دے مختصر تعریف دا دے، چه علم تفسیر قرآن سره د ترلی د هغه تحقیق نوم دے، چه د هغې نه مراد الهی متعین کیدے شی د قدماؤ د اصطلاح مطابق قرآن د تفسیر او تاویل یو معنی ښودلے ده سورهٔ فرقان کښې دی، وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئْنَاكَ بِالْحَقِّ وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا: (آیه ۳۳) په بل ځای کښې ارشاد دے. وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ (آل عمران آیه ۷) موضوع د علم تفسیر کلام دے (روح المعانی) غایت او غرض د علم تفسیر د مراد الهی علم حاصلول به دے غرض چه په اعتقاد او عمل کښې د هغې تابعداری وکړے شی.

د تفسیر او د مطالبو د قرآن د پوهے آداب او شرائط

روح المعانی، الاتقان، برهان، مناهل العرفان او په نورو کتابونو کښې د تفسیر د اهلیت او استعداد او د قرآن د پوهے د قابلیت د پاره څو شرطونه ذکر دی موږ دلته د اسرهٔ د دلائلو په ذکر کولو سره معلومیږی د قرآن پوهه د مفسر قرآن د پاره د قرآن د (عربی) مهارت پیر ضروری دے او دا مهارت په دے علومو حاصلیږی، د مفرداتو قرآن د مدلولاتو او د موقعو د استعمال تحقیق چه دا به په علم اللغة سره کیږی، د قرآن د مفرداتو لسانی تغیرات او تصرفات چه دا به د علم الصرف والاشتقاق په ذریعه حاصلیږی، د مرکباتو او د قرآن د جملو د تغیراتو او تصرفاتو د حرکاتو او اعرابو او د تبدلاتو چه دا به علم النحو سره معلومیږی، د قرآن د الفاظو د انتخاب او د محل استعمال د نکتو او د اسرارو چه دا به علم البلاغت

سره معلومیږی د قرآن پوهبی محاطبو (صحابه کرامو او عربو) ته د نزول قرآن په وخت دده علومو ضرورت نه و ځکه د هغوی طبعی مهارت و او به هم داوه په دے کښې د هغوی طبعی مهارت و او فطری ذوق ځه هم دے لرلو نو ځکه هغوی د دے علومو د مقاصدو ماهر و و، لیکن د غیر عربو او نزول قرآن د زمانے نه پس د نورو عربو د پاره د قرآن پوهه په غرض د دے علومو مهارت ضروری اګنړلے شو ځکه چه رسنی د سورهٔ فرقان په وجه د ذوق فطری باقی پاتے نشو دے شرط ضرورت پخپله د قرآن نه ثابت دے:

نَزَّلَهُ عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنْذِرِينَ ﴿١٩٤﴾ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ ﴿١٩٥﴾ او د قول د الله تعالیٰ إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٢﴾ د آیتونه صفا بیانوی، چه د اکتاب په عربی ژبه کښې د هغې د قواعدو مطابق نازل شوید، په دے وجه د قرآن د پوهے د پاره د علم د لسان یعنی د عربی د ټولو شعبو علم حاصلول ضروری دی او عامه قواعده هم داده چه په اردو ژبه کښې د غالب یا د مؤمن د دیوانونو د وهه د اردو ژبے د قواعدو او په هغې کښې د مهارت حاصلولو نه بغیر ممکنه نه ده:

علم اللغة یا علم اللسان

د مفسر قرآن د پاره د قرآن د (عربی) مهارت پیر ضروری دے

علم السنة

د قرآن د پوهے د پاره علم السنة هم ضروری دے او د صاحب قرآن علیه السلام نه بغیر د قرآن د پوهه ناممکنه ده چه د هغې د پاره علم السنة والحدیث ضروری دے د پاره چه د نزول قرآن اسباب - د قرآن د مجملاتو تشریح او د مبهماتو وغیره د تعیین علم حاصل شی ورنه په قرآن کښې د نسخ او د محکمو حکم شوے دے لیکن داو ضاحت نشته چه د منسوخو ټول خومره دے. د هغو نسخ وخت د کوم ځای نه شروع کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او کله خنثیزی، بیا ډهر نوځ ډ کتونو شمیر څومره دے د نوځ ا
ترکیبی څومره دی او څنګه دی ډ نوځ شرائط څومره دی، او کوم کو
دی دغه رنګ ډ زکوٰة حال دے چه زکوٰة په کوم کوم مال کښے دے او په کو
کښے نشته۔ ډ میاشت دے که ډ کال ډ مال په هر جنس کښے ډ ډے م
څومره دے، ډ زکوٰة شرطونه څه دی او ډ هغے مصارف کوم دی
دے ټولو تشریح چه حقیقت کښے ډ قرآن تشریح ده بغیر ډ سنّته نا ممکن
ده دغه حال ډ حج روځے او ډ نورو احکامو دے، څنګه چه مونږ
ډ قرآنی الفاظو په مطلب ډ پوهیدو د پاره ډ هر بود لغت محتاج یو
دغه رنګ ډ قرآن عملی شکل متعیّن کولو د پاره ډ حدیث او سنّت
محتاج یو۔ او دا خو مونږ محتاجی ده ډ قرآن محتاجی نه ده ځکه چه
مونږ ته ډ قرآن نه ډ فائدے اغستو ډ پاره قدرتی طور ډ ډے
اُمور و ضرورت دے، مونږ چه اُبو نه فائده اغستل غواړو
مونږ ته دکومی کنستو یا ډ ډولے جوړ ولو ضرورت وی، ډ ډے
دا مطلب هرګز نه دے، چه اُبو به محتاج دی، یا کومے یا ډولے محتاج
ده بلکه مونږه فائدے اغستو ډ پاره ډ ډے دوارو محتاج یو اُبو
بے نیازه دی، همدا غه وجه ده چه پخپله قرآن د خپلے ښوے د پا
ډ حدیث او ډ سُنّت ضرورت ښودلے دے کوم چه ډ حضور علیه السلا
قول او عمل یلے شی ارشاد دے،
وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ (سورهٔ جمعه آیه ۲) د حضور علیه
السلام منصب دا دے چه هغه خلقو ته ډ قرآن او ډ حکمت تعلیم و
کړی، دا ډ قرآن د مطالبو تعلیم پسے ئی، ځکه چه ډ قرآنی الفاظو ته
رُجوع ذکر دے، يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ، ځکه ډ دعا ے قاعدے له مخ
کچرے یو اُستاذ صرف د کتاب عبارت واوړی نو دا ننی و یلے چه

ده ډ کتاب تعلیم ورکړو نو څوچه هغه ډ کتاب ډ مطالبو تعلیم
نه وی ورکړے په بل ایت کښے دی:۔
لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ (سورهٔ النحل آیه ۴۴) دا پاره چه ته
واضح کړے، خلقو ته هغه کتاب چه دوی ډ پاره نازل شوے دے
علیٰ هذا القیاس په دے باره کښے ډیرا یتونه موجود دی چه ډ هغه
د قرآن پوهه په علم الحدیث باندے موقوفه ثابته شوے ده

علم الآثار

ډ قرآنی معنو پوهیدو ډ پاره ډ صحابه او تابعینو
ډ آثارو علم ضروری دے صحابه خو براه راست
د حضور علیه السلام شاګردان دی او تابعین ئے په یو واسطه
شاګردان دی، ډ دوی ډ قرآن پوهیدل د سُنّتو خلقو نه زیاته
صحیح ده، امام شافعی رحمه الله تعالیٰ په الرّسالة کښے لیکی چه
اِجْتِهَادُهُمْ فَوْقَ اِجْتِهَادِنَا، چه ډ صحابه کرامو د اجتهاد مونږ
ډ اجتهاد نه ډیر غوره دے، د صحابه کرامو په باره کښے ډ قرآن
کریم ارشاد دے،
رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ (سورهٔ البینه آیه ۸) الله تعالیٰ ډ هغوی
نه راضی او ډ دوی ډ الله تعالیٰ نه راضی دی)
ډ رضائے الٰهی دا آسمانی سنډ دومره اُوچت (اعلیٰ) دے چه دے
سره دا احتمال نه پاتے کیږی چه مجموعی حیثیت سره به ځوی تفسیر
غلط شی او دا اُمّت دپاره به ډ ګمراهئ سبب جوړ شی، ځکه چه د رضائے
الٰهی نه پس ډ دے قسمه احتمالا تو ګنجائش نه پاتے کیږی، دے نه علاوه
ډ علم الآثار نه ډ صحابه رضا او تابعینو رحمهم الله علم دا تلے شی او
مفسّر قرآن ډ دا سے تفسیر کولو نه محفوظ پاتے شی کوم چه دے ټولو نه خلاف
وی او ډ تحریف قرآن غوندے ډیوغت جُرم سبب جوړ شی یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه په هغې باندې قرآن کښې د دوزخ وعید را غلې دې

وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ ؛ او څوک چه د پیغمبر خلاف کوی

لَهُ الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ ؛ او د مؤمنانو نه په خلاف لاړ شی

نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ ط وَسَآءَتْ ؛ نو موږ به هغوی د هغوی د

مَصِيْرًا ط (سورة النساء آیة ۱۱۵) ؛ خوښې په لاره تلو ته پریږدو او

جهنم کښې به ئې ورأ ښوو چه هغه ډیر خراب ځای دې) دغه آیت

نه معلومه شوه چه څنګه مخالفت د رسول علیه السلام جرم دې دغه

رنګ د صحابه کرامو مخالفت هم جرم دې، ځکه چه د نزول قرآن

مومنان همدغه دی، له دې وجې دا سې تفسیر چه د صحابه کرامو د

مجموعی رائې نه خلاف وی هغه تحریف او جرم دې، چه د هغې سزا

دوزخ دې ؛

۴- علم القواعد و اصولِ استنباط ؛

د مفسر د پاره د عربی زبان د هغې قوانینو علم هم ضروری دې

چه په هغه د مجمل، مفصل، عام، خاص، مطلق، مقید، امر

نهی وغیره حقیقتونه او مقتضیات معلومه کړې شی چه د تفسیر

کولو په وخت احکامو او نتیجو راوسلز کښې غلطی نه کړی، دا قواعد

د اصولِ فقهې د علم نه معلومیږی۔ دا د عربی ژبې یو ژور علم دې

چه خاص اهل علم ئې پیژنی او دینته اهل استنباط ویلے شی دوی

په دې قاعدو کښې ماهر وی، او دا دې په زور د احکامو د استخراج

جوګه وی قرآن کښې د دې خاص طبقې ذکر دې ؛

وَاِذَا جَآءَهُمْ اَمْرٌ مِّنَ الْاَمْنِ اَوِ الْخَوْفِ	یعنې د امن او خوف په باره کښې څه
اَذَاعُوْا بِهٖ ط وَلَوْ رَدُّوْهُ اِلَى الرَّسُوْلِ وَاِلٰٓى	حادثه پیښه شی نو کوم هغه
اُولِى الْاَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ يَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ	الله او رسول علیه السلام ته حواله

مِنْهُمْ (سورة النساء آیة ۸۳) کړی نو دا استنباط خاوند انو به د هغې حقیقت

پیژندلے وے ؛

شرعی احکام کوم اوامر وی نو امر دې او د امن څیز دې او کوم منهیات وی

نو نهی دې او د خوف څیز دې، څه معامله کښې دا تحقیق کول چه مامور

دې که منهی نو دې به دا مطلب وی چه دا امن کښې داخل دې که

خوف کښې، او د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم (کتاب الله

او حدیث) طرف ته راوړل یکار دی، دې د پاره چه اجتهاد کونکی

د کتاب الله او سنّت منصوصا تو سره د دغې معاملې موازنه اوکړی او

د هغې حکم تر اثباتی دې د پاره د عربی په عامه ژبه د پوهیدو نه

علاوه د عربی ژبې د مخصوصو قواعدو معرفت (پیژندل) هم ضروری

دی چه په هغې د قرآن د صحیح قانونی اندازې فکر داد و مدار دې

او د اصولِ فقه د علم نه دې قانونی قواعدو پیژندګلی حاصلیږی

۵- علمُ قواعدِ الٰهیّات

د مفسر فرض دی چه هغه ته د ذاتِ الٰهی سره تر لوجا ئزو او ناجائزو

علم حاصل وی، او هغه په دې پوهیږی چه الله تعالٰی یو داسې هستی

دې چه د جسمیت، طرف او مکان او زمان نه منزه او پاک دې او د

قید و لونه بالکل بهر دې، هغه داسې ذاتی کمالاتو سره موصوف

دې چه لامحدود دی دا دې د پاره چه د هغه آیتونو په تفسیر کښې د رڼ

اُنځوری کوم چه الٰهیات تو او د الله ذات او صفاتو سره متعلق وی، او یا دې

اُمورو د پاره د علم العقائد او علم الکلام ضرورت دې، چه د الٰهیاتو

په مسئلو کښې د کُمراهۍ نه محفوظ پاتے شی ؛

اِزالهٔ شُبهه	کیدے شی چه د چا په زړه کښې دا شُبهه وی چه د تفسیر
	قرآن د پاره په کوم علومو کښې د مهارت شرط ایخودے

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوے دے نو هغه علوم خو د نزول قرآن په زمانه کښے نه وو بلکه د هغے نه
تدوین شو لکه علم الصرف، علم النحو، لغت، بلاغة علم الحدیث والآثار
علم العقائد او علم الکلام او اصول فقه. آس د دے ضرورت ولے پیدا
شو او که د دے ضرورت وی نو د ورپاندینی صحابه کرامو تابعینو تفسیر
بیا څنګه وو؟ جواب دا دے چه د علم وجود او د هغے تدوین کښے فرق دے دا
ټول علوم مذکوره، د نزول قرآن بلکه د هغے نه هم ورپاندے موجود وو
عربی ژبے سره داګنډ لی وو او په عربی خبرو اترو کښے به استعمالیدل مګر
د دے علومو تدوین او تصنیف نه وو شوے هسے خو فاعل مرفوع دلیل
مفعول منصوب دلیل، عام، خاص، مطلق او مقید دغه رنګ د صرف
او نحو تغیرات، دا ستعمال بلاغتی موقع دا ټول د نزول قرآن په
وخت کښے موجود وو او عربو به استعمالول صرف د تصنیف او تدوین
په سانچه کښے پس واچولے شو. علم الحدیث او علم الآثار د قرآن د تشریح
په حیث قرآن سره سره وجود ته راغلل خو صرف تصنیف او تدوین ته
ړستو اشو نو دا شبه څکه بے ځایه ده:-

۷- علم الموهبة

د قرآن د پوهے او د تفسیر د مهارت د پاره علم
وهبی او د شاه ولی الله رحمه الله په قول "علم لدنی"
ضروری دے، چه د نور ایمان او تقوی نه پیدا کیږی، د قرآن ارشاد دے
لَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ ○ (سورة الواقعة آیة ۷۹) د قرآن ظاهری الفاظو
او نقوشو ته صرف پاک لاس لګولے شی، یعنے د کوم کس چه طهارت او
وضو نه وی، نو هغه ظاهری قرآن ته لاس نشی لګولے د هغه رنګ چه د
ظاهرت باطنی او قلبی نه وی، نو هغه د قرآن باطن او د هغه معانی
نشی مونده ے. دا طهارت باطنی او قلبی نور په طاعت الهی او تقوی سره
پیدا کیږی، چنانچه امام سیوطی رح په اتقان جلد ۲ ص ۱۸۱ کښے دا امام

زرکشی د البرهان فی علوم القرآن نه نقل کړیدی،

اِعْلَمْ اَنَّهٗ لَا يَحْصُلُ لِلنَّاظِرِ فَهْمُ مَعَانِي الْقُرْاٰنِ وَلَا يَظْهَرُ اَسْرَارُهٗ لِمَنْ فِي قَلْبِهٖ بِدْعَةٌ اَوْ كِبْرٌ اَوْ هَوًى اَوْ حُبُّ الدُّنْيَا اَوْ مُصِرٌّ عَلٰى ذَنْبٍ اَوْ غَيْرُ مُحَقِّقِ الْاِيْمَانِ اَوْ ضَعِيْفُ التَّحْقِيْقِ اَوْ يَعْتَمِدُ عَلٰى مُفَسِّرٍ لَيْسَ عِنْدَهٗ عِلْمٌ اَوْ رَاجِعٌ اِلٰى مَعْقُوْلِهٖ وَهٰذِهٖ كُلُّهَا حُجُبٌ وَمَوَانِعُ بَعْضُهَا اَكْبَرُ مِنْ بَعْضٍ وَهٰذَا مَعْنٰى قَوْلِهٖ تَعَالٰى سَاَصْرِفُ عَنْ اٰيَاتِيَ الَّذِيْنَ يَتَكَبَّرُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ، قَالَ سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ يَقُوْلُ اَنْزِعُ عَنْهُمْ فَهْمَ الْقُرْاٰنِ اَخْرَجَهُ ابْنُ اَبِيْ حَاتِمٍ قَالَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ لَا يَجْمَعُ فَهْمَ الْقُرْاٰنِ وَالْاِشْتِغَالَ بِالْحُكَّامِ فِيْ قَلْبِ مُؤْمِنٍ ط ٭ ٭ ٭ ٭ ٭

د قرآن معانی او اسرار د هغه کس نه نشی حاصلیدے چه د چا په زړه کښے چه بدعت، تکبر، خواهش پرستی یا محبت د دنیا وی، یا په ګناه مصر وی یا د هغه ایمان مضبوط نه وی یا د هغه تحقیق کمزوری وی یا په غیر عالم مفسر باندے اعتماد کوی یا د خپل عقل منه کوی دا ټول امور د قرآن پوهه کښے بندونه وی او څه د نور نه لوڅ وی همدا معنی ده د قرآن د دے ارشاد چه څه به د قرآنی مقاصدو نه هغه خلق اړ وم چه په زمکه کښے ناحق لوئی کوی ابن ابی حاتم د سفیان بن عیینه نه نقل کړی دی چه د وی نه به د قرآن د پوهه نور را اباخم، سفیان ثوری فرمائی چه حکامو پرستی او د قرآن پوهه دواړه د مؤمن په زړه کښے نشی جمع کیدے.

دے نه معلومه شوه چه د قرآن د پوهے د پاره د زړه د نرمۍ ضرورت دے، چه څوک دے نه محروم وی نو هغه به د قرآن د پوهے نه هم محروم وی او دا نرمۍ د هغه امور و نه پیدا کیږی کوم چه پورته عبادت کښے ذکر دی او دا الله تعالیٰ نه د قبض حاصلولو د پاره شرط دی د دے نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

"علم الموهبة" دے چه په دے د قرآن دروازه پرانستے شی،
په حدیث شریف کښے دی چه چا پخپله رائے د قرآن صحیح تفسیر هم اګر و نو بیا هم ده غلطی اګره (ابوداؤد - ترمذی، نسائی) د ابوداؤد په یو بل روایت کښے دی، فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ یعنے پخپله رائے تفسیر کوونکے د دوزخ مستحق دے په دے وجه ټول علماء په دے متفق دی چه تفسیر بالرائے یو بدکار دے

د تفسیر بالرأے تحقیق

د تفسیر بالرائے نه دا معنی قطعاً مراد نه ده چه د قرآن په تفسیر د هغه رائے او فکر استعمال نشی، حکه چه دے نه خو بغیر تفسیر کید ے نشی او پخپله قرآن په (لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ) چه خلق د قرآن کښے فکر کوی او په (أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ) چه دا خلق په قرآن کښے ولے غور نکوی) قسم الفاظو سره په قرآن کښے د فکر او تدبر کولو ترغیب ورکړے دے په دے وجه "رائے" او "فکر" څه بد نه دے بلکه د تفسیر بالرأے مطلب دا دے،

(۱) چه خپله (رسول) قائمه کړے رائے بنیاد جوړ کړی او ټول آن دے رائے نه د آړولو کوشش کوی په دے صورت کښے رائے اصل شوه او قرآن تابع شو، چه موضوع په سبب کول دی او بدی او د دوزخ باعث دی، په دے صورت کښے تفسیر بالرأی کښے داسے "ب" سببیت د پاره ده سیاق سباق او د عربی قواعدو مطابق د رائے په استعمال داسے تفسیر کول چه د قرآن او د اسلام د بنیادی مقاصدو نه خلاف نه وی هغه "محمود" دے مذموم نه دے او دے ته تفسیر بالرائے هم نشی ویلے، بیا هم که دے نه څوک تفسیر بالرائے اوائی نود کتبت بالقلم" کښے استعمال شوے "ب" پشان رائے به صرف یو آله د تفسیر

د تفسیر ی عمل محور او مرجع به نه وی،
(۲) دویم صورت دا دے، چه په قرآنی تفسیر کښے د عمل او نقل دوه جدا دائرے دی، د قرآن د مفردا تو معنے متعین کول اسباب نزول، ناسخ، بیان د مجملا تو او مختلف قرآتونه، دا ټول داسے څیزونه دی چه صرف په نقل معلومیږی رائے په دے کښے نشی چلیدے، لهذا په دے امورو کښی د رائے د خل تفسیر بالرائی وی، چه هغه بد دے باقی پخپله رائے د آیت د پیرو معنو کښے یو معنی متعین کول یا د هغے نه د حکم استنباط د قواعدو د استنباط مطابق یا د قرآنی حکم د حکمت او د راز وغیره استخراج دا ټول تفسیر بالرائے کښے داخل نه دے، حکه چه دا ټول امور د عقل او د رائے دائرے سره نږدی دی نه چه د نقل او د روایت سره (الاتقان جلد ۲ ص ۱۷۹ و ص ۱۹۳) نود تفسیر بالرائی به دا مطلب وی، چه رائے د نقل په دائره کښے مداخلت اوکړی، او د نقل او روایت په موقعه نقل او روایت په خپل سره تفسیر اوکړی، نو دا د حد نه تجاوز دے،

د شبهی ازاله، د صوفیه و او باطنیه و د تفسیر په منځ کښے فرق،

د اسلام صوفیه و هم د قرآن تفسیر و نه کړی دی، او باطنیه ملاحده و هم لیکن اوّل ته تحریف او تفسیر بالرأی نشی ویلے او دویم قسم په تحریف کښے شامل دے، د دے فرق دا دے، چه صوفیه کرام د قرآن ظاهری معنے منی او د هغے سره د مناسبو او مماثلو څیزونو ذکر کوی چه د ذهن د پرواز دائره وسیع وی، او د هغه مناسب څیزونه د اسلامی مسلّماتو نه خلاف نه وی، د دے نه د اسلامیاتو انکار نه لازمیږی مګر باطنیه ظاهری معنی نه منی او د خپلے خوښے د غه باطنی معنے اصل مراد د الله ګڼی، لکه څنګه چه د افرق روح المعانی بلکه تفتازانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هُم بیان کړیدے، علامه آلوسی فرمائی

وَاَمَّا كَلَامُ الصُّوفِيَّةِ فِي الْقُرْاٰنِ فَهُوَ مِنْ بَابِ الْاِشَارَاتِ تَنْكَشِفُ عَلٰى اَرْبَابِ السُّلُوكِ وَيُمْكِنُ التَّطْبِيقُ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الظَّوَاهِرِ الْمُرَادَةِ وَ ذٰلِكَ مِنْ كَمَالِ الْاِيمَانِ وَمَحْضِ الْعِرْفَانِ لَا اَنَّهُمْ اِعْتَقَدُوا اَنَّ الظَّاهِرَ غَيْرُ مُرَادٍ اَصْلًا وَاِنَّمَا الْمُرَادُ الْبَاطِنُ فَقَطْ اِذْ ذٰلِكَ اِعْتِقَادُ الْبَاطِنِيَّةِ الْمُلَاحِدَةِ نَوَسَّلُوا بِهٖ اِلٰى نَفْيِ الشَّرِيعَةِ بِالْكُلِّيَّةِ وَحَاشَا سَادَاتِنَا مِنْ ذٰلِكَ وَقَدْ حَضُّوا عَلَى التَّفْسِيرِ الظَّاهِرِ وَقَالُوا لَا بُدَّ مِنْهُ اَوَّلًا اِذْ لَا يُطْمَعُ فِي الْوُصُولِ اِلَى الْبَاطِنِ قَبْلَ اَحْكَامِ الظَّاهِرِ وَمَنِ ادَّعٰى فَهْمَ اَسْرَارِ الْقُرْاٰنِ قَبْلَ اِحْكَامِ الظَّاهِرِ فَهُوَ كَمَنِ ادَّعَى الْبُلُوغَ اِلٰى صَدْرِ الْبَيْتِ قَبْلَ اَنْ يُجَاوِزَ الْبَابَ

د تفسیر قرآن په بارہ کښے د صوفیه د کلامونو قبیلے د اشاراتو دے چه هغه په سالکانو منکشف کیږی اود قرآن ظاهری معنو سره منطبق کیدے شی۔ داد کمالِ ایمان او د خالص معرفت نښے دی، دغوی دا مطلب هرگز نه وی چه ظاهری معنی مراد نه وی، بلکه صرف باطنی معنی مراد وی، داعقیده خو د باطنیه و ملحدینو ده چه په دے سره د دی شریعت ختمولو غواړی او خپل بزرګان خو دے نه ویزاره دی حکه چه هغوی پخپله په ظاهری تفسیر زور ورکړے دے، او وئیلی دی چه د چا ظاهری تفسیر پوخ نه وی هغه باطن ته نشی رسیدے او کوم کس چه د ظاهری تفسیر د پختګی (پوښتنی) نه وړاندے د قرآن رازونه حاصلول غواړی نو هغه داسے دے لکه چه کوم مینځ نه لږ د ډوډۍ (ډیسے) د رسیدلو دعوی کوی۔

د علامه آلوسی دغه بیان نه معلومیږی، چه د صوفیه و په تفسیر کښے د خو امورو لحاظ وی، چه هغه د باطنی تفسیر نه جدا کوی،

(۱) د الله مراد صرف ظاهری تفسیر دے نه چه باطنی اشارات (۲) صرف په

ظاهری تفسیر کښے د مهارت په وجه باطنی اشاراتو ته رسائی کیدیشی (۳) باطنی اشارات ظاهری تفسیر سره مطابق کیدل ضروری دی (۴) د معرفتِ الٰهی په نتیجه کښے د باطنی اشاراتو مطلب، د مناسبو څیزونو انکشاف دے، نه چه د الحاد او د خواهش نفسانی په نتیجه کښے! - د حدیث په دے الفاظو: لِكُلِّ اٰيَةٍ ظَهْرٌ وَبَطْنٌ وَلِكُلِّ حَدٍّ مَطْلَعٌ، کښے د ظاهر نه مراد ظاهری معنی ده او د باطن نه اَسْرار مراد دی (روح المعانی جلد ۱ ص ۷ د صوفیه و او باطنیه و په معنو کښے د بیلتون په غرض موږ یو مثال پیش کوو چه دا بیلتون ښه ښکاره شی، حدیث شریف کښے دی، اِنَّ الْمَلٰٓئِكَةَ لَا تَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَّ صُوْرَةٌ: یعنی په کوم کور کښے چه سپے یا تصویر وی نو په هغے کښے د رحمت فرشتے نه داخلیږی، دا خو ظاهری معنی ښکاره اُس کچرے، څوک دا معنی په خپل حال هُم داسے واخلی او بل یو مناسب مطلب ځے دا هُم واخلی: ..... چه د کور نه مطلب زړه او د سپی نه مطلب د درندو کانو خویونه دی او تصویر نه مطلب محبت دنیا دے نو چه په کوم زړه کښے محبت د دُنیا او د سپی پشان اخلاق وی، نو هغے کښے ملکی نور نه داخلیږی، او سره د دے حدیث د ظاهری الفاظو په جوړ بے ضرورته سپے او د سګاه والا خیز تصویر په کور کښے حرام ګڼړی دا امثال د صوفیه و د باطنی تفسیر دے، لیکن کچرے اُس څوک د دے دا مطلب بیان کړی، چه دے نه ظاهری کور ظاهری سپے او ظاهری تصویر مراد نه دے او نه هغه په شریعت کښے منع دے، بلکه د دے مطلب په حدیث کښے د سپو خویونه دی، او د تصویر نه مطلب یواځے محبت د دُنیا دے نو دے ته به موږ هغه باطنی تفسیر وایو کوم چه الحاد او تحریف دے، دغه رنګ په سورتِ بقره کښے د بنی اسرائیلو په سلسله کښے راغلی دی، اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تَذْبَحُوْا بَقَرَةً: سورهٔ بقره آیة ۶۷) د بنی اسرائیلو دیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

التَّفْسِيْرُ مِنْ غَيْرِ حُصُوْلِ الْعُلُوْمِ الَّتِيْ يَجُوْزُ مَعَهَا التَّفْسِيْرُ وَالثَّانِيْ تَفْسِيْرُ الْمُتَشَابِهِ الَّذِيْ لَا يَعْلَمُهُ اِلَّا اللّٰهُ وَالثَّالِثُ التَّفْسِيْرُ الْمُقَرِّرُ لِلْمَذْهَبِ الْفَاسِدِ بِاَنْ يَجْعَلَ الْمَذْهَبَ اَصْلًا وَالتَّفْسِيْرُ تَابِعًا فَيَرُدُّ اِلَيْهِ بِاَيِّ طَرِيْقٍ اَمْكَنَ وَاِنْ كَانَ ضَعِيْفًا۔ اَلرَّابِعُ اَنْ مُرَادَ اللّٰهِ كَذَا بِالْقَطْعِ مِنْ غَيْرِ دَلِيْلٍ، اَلْخَامِسُ التَّفْسِيْرُ بِالْاِسْتِحْسَانِ وَلَهُوَ (الاتقان جلد ۲ ص ۱۸۳)

دا تفسیر د قرآن تفسیر په خپله خوښه او خواهش اُکړی۔

دا ټول صورتونه په تفسیر بالرأی کښ داخل دی، په کومو چه د دوزخ د سزا وعید را غلے دے، د نوی رنګ په تفسیر ولوکښے به ډیر کم دا سے وی، چه په دے ډنګه صورتونو کښے به په یوه طریقه داخل نه وی۔ العیاذ باللّٰه۔

اقسامِ تفسیر:

ابن عباس رضی اللّٰه د تفسیر څلور قسمه بنودلی دی (۱) چه صرف د عربی ژبے په خاص مهارت او د هغے په قواعدو پیژندو معلومیدے شی (۲) هغه اعتقادی او عملی بنکاره احکام چه د قرآنی الفاظو به آوریدو سره معلومیدے شی، لکه چه فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ (سورۂ محمد آیه ۱۹) یوه شه چه بغیر د اللّٰه بل معبود نشته اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ (البقرة آیه ۴۳) لمونځ قائموئ او زکوٰة ورکوئ

(۲) د صفاتِ باری تعالیٰ یا د مقطعاتو یا د متشابهاتو تفسیر کول چه د هغے علم الله تعالیٰ خاص دے (۳) د خپلے غلطے قائم کړے شوے رائے مضبوطولو د پاره د اسے تفسیر کول چه هغه د خپلے غلطے رائے تابع کړی، او هم دے نه ځے دیمادا کا وی، څلورم داچه بغیر دلیله دعوے اُکړی چه هم دا مطلب یقیناً د اللّٰه تعالیٰ دے، پنځم داچه د قرآن تفسیر په خپله خوښه

مقتول سړی د قاتل معلوم مقتولو د پاره دوی ته حکم اُشوچه غواذبح کړی او بیا د هغے یو جُز مقتول سړه اُمبزئ نو مقتول به ژوندے شی او خپل قاتل به اُښائی، اُس د دے آیت د اسے تفسیر کول چه د "بقرة" نه غوا یا غوے نه دے مُراد بلکه نفس بهیمه ترمُراد دے بنکاره مطلب ښے دا وی، چه خپل نفس بهیمه د عبادت او د ریاضت په چاړه ذبح کړی یعنے مړے کړی هر کله چه نفس سرکشی او د نفس سړه د عبادت او ریاضت سړه ختمه شی نو روحانی ژوندے به نصیب شی، او اصل قاتل یعنی خواهشات نفسانی به په ګوته کړی، (مطلب دا چه د خواهشاتو نه مغلوب انسان مړے دے، د غوا/غوے نه مطلب هغه نفس بهیمه دے، کومه چه د خواهشاتو مرکز دے، د دے ذبح کول په ریاضت او عبادت سره د دے خواهشات مغلوب کول دی، چه هغه قاتل بولی، د ژوندی کیدو مطلب جسمانی نه، بلکه روحانی ژوندے مراد دے، (مترجم)

دا تفسیر کول چه غوا/غوے نه دے ذبح شوے او نه خوله مقتول بیا ژوندے شوه او خپل قاتل ے اُښودلو، نو دا تفسیر بالرأی دے چه چُوپ انحاد اوزندیقیت دے۔

که اصل واقعه او د آیت ظاهری معنی په خپل ځائے صحیح اُګڼړی او بیا د هغے باطنی تفسیر اُګڼړی نو څه بدیت ے نشته لکه څنګه چه قاضی بیضاوی په خپل تفسیر کښے د هغه ذِکر شوے اشارے د معرفت الٰهی د نکتو په درجه کښے نقل کړی دی۔

د تفسیر بالرأی قسمونه

امام سیوطی رح په اتقان کښے د ابن النقیب رح نه نقل کړے دی۔

مَا تَحْصُلُ فِيْ مَعْنٰى حَدِيْثِ التَّفْسِيْرِ: په شریعت کښے د منع شوی تفسیر بنیه بِالرَّأْيِ خَمْسَةُ اَنْوَاعٍ اَحَدُهَا صورتونه دی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

قَالَ قَوْمٌ مِنْهُمُ الْبَغَوِيُّ وَالْكَرَاشِيُّ التَّاوِيلُ صَرْفُ الْآيَةِ إِلَى مَعْنًى مُوَافِقٍ لِمَا قَبْلَهَا وَمَا بَعْدَهَا تَحْتَمِلُهُ الْآيَةُ غَيْرَ مُخَالِفٍ لِلْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ :

ه تاویل د صحت بغوی او کراشی دغه شرطونه نقل کړیدی (۱) دکوم ایت سره جوړ بنت (۲) دکتاب الله او سنت سره نه مخالف (۳) دکتاب الله او سنت سره نه مخالف کیدل) امام زرکشی د علامه زمخشری نه دا نخم شرط هم نقل کړے دے، چه د دے تاویل او تفسیر نه د قرآن په معجزانه بلاغت کښے خه نقصان نه پیښیږی، بلکه اعجازی بلاغت په خپل خائے باقی وی قال الزمخشری من حق مفسر کتاب الله الباهر و کلامه المعجز ان یتعاهد فی مذاهبه بقاء النظم علی حسنه و البلاغة علی کمالها (البرهان جلد ۱ صـ ۳۱۱)

(۱) د مفسر قرآن د پاره دا ضروری ده، چه هغه د تفسیر په لولو لاندو کښے د اخبره په نظر کښے ساتی چه د قرآن د نظم (عبارت) خوبی او د قرآن د بلاغت کمال پخپل خائے پاتے وی، دے نه پخم شرط هم معلوم شو د علامه زمخشری (رائے بالکل صحیح ده د قرآنی ایت اصلی مقصد د پاره په قرآنی تفسیر کښے اعجازی شان موجود دے کچرے معنے بدله شی او د خپلے خوښے معنے اوکړے شی نو د قرآنی تفسیر اعجازی شان بخلم شی او په قرآنی الفاظو کښے د نظم قرآنی او د سیاق سباق (ارتباط او د دلالت شان د دغه خانی معنے (ته مبلوپه وجه کمزورے شی، (۲) کتاب او سنت کښے چه کوم بیان شوے دے هغه یو ناقابل تقسیم آسمانی حق دے نو د قرآن د کوم ایت چه تفسیر کیږی نو دا به کتل پکار وی، چه دا تفسیر یا مطلب په بل خائے د قرآن یا د سنت نبوی د مطالبو سره خو تکړه نه وهی

چه دا د عربو عوام هم معلوم وے شی او دے د پاره د عربی دباریکو ضرورت نه وی او نه په دے باندے د نه پوهیدو خه عذر قبول دے، (۳) چه صرف مجتهدین علماء پرے پوهیږی او عموماً دے ته تاویل وئیلے شی مثلاً د فقهی احکامو استنباط، بیان د مجمل تخصیص د عام او تقیید د مطلق. حقیقت لغوی په باندے حقیقت شرعیه ته ترجیح ورکول او حقیقت عرفیه ته په حقیقت لغویه باندے ترجیح ورکول خو هله چه په خلاف دلیل قائم نه وی، لکه وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ : چه دلیل په معنیٰ لغوی سکنه نو معنیٰ عرفی به ترمطلب نشی اغستے :-

(۴) خلورم هغه چه د هغے علم الله سره خاص دے، لکه د متشابهاتو د وخت د قیامت او د روح وغیره علم (الاتقان جلد ۲ صـ ۱۹۲)

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ کښے د مذکوره آسانئ نه مطلب دویم قسم دے لفظ د ذکر دے قرینه ده چه یولے هغه قرآنی مضامین آسان کړے شوی دی چه وعظ او نصیحت سره تړون لری او هغه هُم دغه دویم قسم دی امام زرکشی دا تقسیم خوښ کړیدے، او په دے تقسیم کښے علماء سره چه کوم قسم خاص شوے دے هغه په عامه اصطلاح کښے تاویل بللے شی خو تاویل محمود په دے لاندے یعنی شرطونو مشروط دے که دا سے نه وی نو بیا تاویل مذموم او تحریف دے :-

(۱) دکوم ایت تاویل چه کیږی هغه به د دوړاندینی آیت سره جوړ خوری (۲) د دُرستنی آیت سره به هم جوړ خوری (۳) دلغت په اعتبار سره د آیت په مطلب کښے دے خائے وی (۴) دکتاب الله او سنتِ رسول نه به خلاف نه وی :- الاتقان جلد ۲ صـ ۳۱۱ کښے وی :-

(c) ketabton.com: The Digital Library

که تکره وهی نو دا به دے خبرے دلیل وی چه د تفسیر خپل خانی او تحریف
دے حق یو د بل سره نه تګرا ویږی نو تفسیر به هم هغه صحیح وی چه
په هغے کښے یو بل سره تګرا و تعارض نه وی خو تعارض نه مطلب حقیقی
تعارض دے هسے خو ظاهری تعارض مضر حکم نه دے چه هغه په قرآن
کښے غور کولو سره ختمیږی، هم دغه وجه ده چه د هدایت په تفسیر کښے
د مفسر نظر دې په ټول کتاب او سنت وی دے د یوه چه د هغه تفسیر
د مجموعی کتاب او سنت نه خلاف نشی، (۲) دارنګ د خیر القرون (یعنی صحابه
تابعین او تبع تابعین چه د قرآن ډیر ډیر یوهه او ممتاز، برخه لری) د
تفسیرونو د مجموعی روح نه چه ړ ستنے کوم تفسیر خلاف وی نو هغه به
تحریف وی او د قبلولو قابل به نه وی، البته کچیرے یو ماهر مفسر د تفسیر
د شرائطو په رنړا کښے داسے مطالب قرآنی بیان کړی، چه سلفونه وی
بیان کړی خو د هغے خلاف نه هم نه وی کړے، نو د داسے معارف
قرآنیه و دروازه د ډیر ستونو خلقو د پاره بنده نه هم نه ده او په قرآن کریم
د صحیح غور او فکر په زور د معارفو او اسرارو د استخراج کار به تر قیامته
جاری وی، په حدیث شریف کښے راځی، لَا یَنْقَضِی عَجَائِبُهُ: د قرآن
عجیبه مضامین نه ختمیږی د دے متعلق د امام شافعی رحمه ارشاد دے

جَمِیْعُ مَا تَقُوْلُهُ الْاُمَّةُ شَرْحٌ لِلسُّنَّةِ وَجَمِیْعُ السُّنَّةِ شَرْحٌ لِلْقُرْاٰنِ وَ جَمِیْعُ الْقُرْاٰنِ شَرْحٌ لِلْاَسْمَاءِ الْحُسْنٰی وَصِفَاتِهِ الْعُلْیَاءِ: ۞

(ټول هغه څه چه امت مجتهدین یې چه کوم احکام په اجتهاد سره اخذ کړی دی، هغه د حدیث او سنت شرح ده او پوره سنت د قرآن شرح ده او قرآن د الله تعالی د اسماء حسنیٰ او د صفاتِ عالیه و شرح ده) او دے اسرار و متعلق د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه ارشاد دے:

قَالَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ رض مَنْ اَرَادَ الْعِلْمَ: څوک چه علم غواړی نو د قرآن

فَلْیُثَوِّرِ الْقُرْاٰنَ فَاِنَّ فِیْهِ عِلْمَ: د مضامینو لټون د قرآن کریم څخه
الْاَوَّلِیْنَ وَالْاٰخِرِیْنَ (رَوَاهُ: چه په دے کښے د اوّلینو او آخرینو
البَیْهَقِیُّ فِی الْمَدْخَلِ) ۞ علم دے (مراد اُصول د علم دی)
او هم په دے باره د ارشادات د باری تعالیٰ دی، تِبْیَانًا لِّکُلِّ شَیْءٍ،
تَفْصِیْلًا لِّکُلِّ شَیْءٍ، غرض د اچه د دین ټول اُصول په قرآن حکیم
کښے موجود دی او په فیضانِ الٰهی سره د الله تعالیٰ په خاص بنده کانو د
قرآن نه د دین اسرار پرانستے کیږی د دے فیضان ذکر په روح المعانی
جلد ۱ ص ۷ کښے راغلے دے، د دے قسم فیوضاتو ته تفسیر اشاری وئیلے شی
د باطنیه وو په تفسیر اشاری کښے چونکه د ظاهری معنیٰ انکار دے په دے
وجه هغه مردود دے، د اهل السنة صوفیه و چه کوم اشاری تفسیرونه
کړی دی په هغے کښے اهم خلود دی، تفسیر نیشاپوری، تفسیر الآلوسی،
المتوفی ۱۲۷۰ھ تفسیر التستری سهل بن عبد الله التستری المتوفی
۲۸۳ھ ولم یتم (یعنی پوره نه دے) او تفسیر د محی الدین بن
عربی المتوفی بدمشق ۶۳۸ھ دا ټول صاحبان د قرآن ظاهری
معنیٰ تسلیم کولو نه پس اشاری تفسیرونه کوی چه د هغے متعلق زرکشی
په برهان کښے لیکی:

کَلَامُ الصُّوْفِیَّةِ فِیْ تَفْسِیْرِ الْقُرْاٰنِ: د صوفیه و کلام تفسیر نه دے بلکه
قِیْلَ لَیْسَ بِتَفْسِیْرٍ وَّاِنَّمَا هُوَ مَعَانٍ: هغه وارداتو او وجدانیاتو دی
وَّمَوَاجِیْدُ یَجِدُوْنَ عِنْدَ التِّلَاوَةِ: چه هغوی د تلاوت په وخت
محسوسوی) ابن الصلاح په خپله فتاوی کښے لیکی:

وَجَدْتُ عِنْدَ الْاِمَامِ اَبِی الْحَسَنِ الْوَاحِدِیِّ: ما د ابوالحسن الواحدی
اَنَّهٗ قَالَ صَنَّفَ اَبُوْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ السُّلَمِیُّ: نه معلومه کړه هغه اُو ئیلے
حَقَائِقَ التَّفْسِیْرِ فَاِنْ کَانَ اِعْتَقَدَ اَنَّهٗ تَفْسِیْرٌ: چه عبد الرحمٰن السلمی

(c) ketabton.com: The Digital Library

فَقَدْ كَفَرَ قَالَ ابْنُ الصَّلَاحِ أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْهُ تَفْسِيرًا وَلَا ذَهَبَ بِهِ مَذْهَبَ الشَّرْحِ لِلْكَلِمَةِ فَإِنَّهُ لَوْ كَانَ كَذَلِكَ كَانُوا قَدْ سَلَكُوا مَسْلَكَ الْبَاطِنِيَّةِ وَإِنَّمَا ذَلِكَ مِنْهُمْ ذِكْرُ نَظِيرٍ لِمَا وَرَدَ بِهِ الْقُرْآنُ فَإِنَّ النَّظِيرَ يُذْكَرُ بِالنَّظِيرِ:

حقائق التفسیر لیکلے دے کچرے هغه دا تفسیر ګڼری نو کافر دے ابن الصلاح فرمائی چه هغوی دا د تفسیر په توګه نه دے ذکر کړے او نه ئے دغه لفظ تشریح ګڼری، کچرے دا سے وے نو دا باطنیت دے، دا خو یوائے د قرآنی مدلول نظیر ذکر کړے دے، ځکه چه یو نظیر نه بل نظیر رایادیږی:

ددے اقوالو نه معلومه شوه چه صوفیه دا سے قسم تفسیر نه بولی بلکه د قرآنی مقاصد و نظیر بیانوی او دے سره د باطنیه او د صوفیه و د تفسیر بیلتون راغلو اول د قرآن د ظاهر نه انکار کوی لیکن صوفیه د قرآن ظاهری معنی مفلونه بعد دا سے قسم بیان کوی، په مناهل العرفان جلد ۱ ص ۵۴۷ کښے دی:

وَمِنْ هُنَا يُعْلَمُ الْفَرْقُ بَيْنَ تَفْسِيرِ الصُّوفِيَّةِ الْمُسَمَّى بِالتَّفْسِيرِ الْإِشَارِيِّ وَبَيْنَ تَفْسِيرِ الْبَاطِنِيَّةِ الْمَلَاحِدَةِ فَالصُّوفِيَّةُ لَا يَمْنَعُونَ إِرَادَةَ الظَّاهِرِ بَلْ يُحَضُّونَ عَلَيْهِ وَيَقُولُونَ لَا بُدَّ مِنْهُ أَوَّلًا إِذْ مَنْ ادَّعَى فَهْمَ أَسْرَارِ الْقُرْآنِ وَلَمْ يُحْكِمِ الظَّاهِرَ كَمَنْ ادَّعَى بُلُوغَ سَطْحِ الْبَيْتِ قَبْلَ أَنْ يُجَاوِزَ الْبَابَ ÷ ÷ ÷

ددے حالے نه د صوفیه و د تفسیر اشاری او د باطنی ملحدینو د تفسیر فرق معلوم شو، صوفیه د ظاهری معنی انکار نه کوی، بلکه د هغے ترغیب ورکوی اووائی چه دا ډیره ضروری ده، ځکه چه د ظاهری مراد د پخلتګی نه بغیر د قرآن په اسرارو د پوهے دعوے دا سے ده لکه چه څوک د علوی اُلری چه په دروازه د ننوتو بغیر د دننه کورته لاړ شی ÷ ÷ ÷

صاحب د مناهل د تفسیر اشاری قبلولو د پاره پنځه شرطونه بیاکړیدی

(۱) ظاهری معنی دې د قرآن خلاف نه وی۔

(۲) دا دعوی دې هم نه وی چه معنی مراده یوائے همغه اشاری ده نه چه معنی ظاهری۔

(۳) د قرآنی الفاظو دې لرے تاویل دې نه وی چه د الفاظو عربی حیثیت د هغے خلاف وی۔

(۴) تفسیر اشاری دې د شرع او عقل مقابل او معارض نه وی۔

(۵) اشاری مضمون دې په شرعی دلیل مضبوط او مؤید وی۔

مناهل العرفان جلد ۱ ص ۴۷۹ باندے امام ابن تیمیه رح د قرآن هرهغه تفسیر غلط بنودلے دے چه د صحابه و او د تابعینو د تفسیر نه خلاف وی، اصول التفسیر کښے لیکی:

وَفِي الْجُمْلَةِ مَنْ عَدَلَ عَنْ مَذَاهِبِ الصَّحَابَةِ وَالتَّابِعِينَ وَتَفْسِيرِهِمْ إِلَى مَا يُخَالِفُ ذَلِكَ كَانَ مُخْطِئًا فِي ذَلِكَ بَلْ مُبْتَدِعًا لِأَنَّهُمْ أَعْلَمُ بِالْحَقِّ الَّذِي بُعِثَ اللَّهُ بِهِ رَسُولَهُ انتهی:

هرهغه تفسیر چه د صحابه و او تابعینو د تفسیر نه خلاف وی نو دے مفسر په غلطه د بلکه بدعتی دے، ځکه چه د قرآن په تفسیر او د هغے په معنو دوی د ډیر سنه پوه وو نکه څنګه چه هغوی د حضور علیه السلام د راوړلی شوی حق

امام سیوطی رح په اتقان جلد ۲ ص ۱۷۵ کښے هم دے په باره کښے لیکی وَهُوَ نَفِيسٌ جِدًّا چه دا ډیره قیمتی او اعلیٰ خبره ده لیکن دے سره لیکی چه د صحابه و او تابعینو د سند د صحت تحقیق پکار دے ځکه چه په دے قسم روایاتو کښے ضعیف او موضوعی هم موجود دی هرډغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا اَلْاِعْلَامُ فِیْ خَفَاءٍ (فتح الباری ابتدا جلد اول) یعنے بل نه پټ خه بنودل، دا دوحی لغوی معنی دی، او دے شرعی معنیٰ اَلْاِعْلَامُ بِالشَّرْعِ یعنے صرف شرعی احکام بنودل وحی ده۔ دوحی لغوی، درے قسمه دی

(۱) فِطری (۲) اِیجادی (۳) عِرفانی

فطری لکه د خدائے پاك په الهام د نورو مخلوقاتو باندے چه رسول اوپه هغے کښے شهد جمع کول د غه رنګ د نورو حیواناتو کارنامے خو دا قسم وحی صرف حیواناتو (څناورو وخارورو) دپاره وی، په قرآن کریم کښے دی:

وَاَوْحٰی رَبُّكَ اِلَی النَّحْلِ اَنِ اتَّخِذِیْ: مونږ د شهدو مچو ته په وحی مِنَ الْجِبَالِ بُیُوْتًا (سورهٔ النحل آیة ۶۸)۔ فطری سره اُبنودل چه تاسو په غرونو کښے کښیوونه جوړ کړئ)

ایجادی لکه د یورپ سائنسدان چه یو آرخ ته محنه کړی او هغے دپاره کوشش کوی نو د د غه مطلوب خیز صورت او نقشه الله پاک دده په ذهن کښے راولی او د غه خیز بیا جوړ شی، مثلاً روهبی سړی هوائی جهاز جوړول غوښته هغه اوّل ډالوکے شکل ډوو لیدلے د یو الوتونکی خیز شکل ئے په خیال کښے راوستو او کار ئے پرے شروع کړو تجربے ئے کولے او تکلیفونه اوتاوانونه ئے برداشت کول تردے چه قدرت د الوتنکے مکمّله نقشه دده په ذهن کښے واچوله، د موجد کار خپل ذهن متوجّه کول وو او د خدائے کار د مطلوب خیز نقشه اچول وو دا هغه وحی او الهام دے چه عامو انسانانو ته کیږی هغه دِ کافرولے نه وی:

كُلًّا نُّمِدُّ هٰٓؤُلَآءِ وَهٰٓؤُلَآءِ مِنْ عَطَآءِ: یعنی مؤمن او کافر دواړه چه کوشش رَبِّكَ ۭ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُوْرًا ۝ کوی نو مونږ د هغه مدد کوو ستا

سورهٔ بنی اسرائیل آیة ۲۰ ﴿ د خدائے بخښنه او فیض په چا باندے دے دا قسم وحی عامو انسانانو د پاره خاص ده اګرچه هغه کافر هم وی:

عِرفانی دریم قسم وحی عِرفانی ده چه اولیاؤ سره خاص ده هغه چه یوولی د شریعت په تابعداری او په ریاضت سره د زړه صفائی بیا مؤمن نوپه ده باندے خاص علوم د الهام په ذریعه د الله د طرفه وارِد یږی چه هغے ته قرآن اشاره کوی:

وَالَّذِیْنَ جَاهَدُوْا فِیْنَا لَنَهْدِیَنَّهُمْ: څوک چه د دین په لاره کښے او د سُبُلَنَا (سورهٔ عنکبوت آیة ۶۹) ﴿ الله په فرمانبرداری کښے محنت کوی نو مونږ په هغوی د هدایت خاص لارے پرانیځو:

د دے هدایت مطلب اِلهامی معارف دی چه د هدایت ایمانی نه سوا دی، ځکه چه ایمانی هدایت خو د محنت کولو نه وړاندے هم حاصل دے دا درے واړه قسمه الهام په لُغت او په معنیٰ عامه کښی وحی ده دا حیوان انسان اولیاءِ کرامو نه کیدے شی اګرچه د مرتبو فرق پکښی هغه دے چه کوم ماوړاندے بیان کړو او دا وحی یوائے د پیغمبرانو نه ده بلکه د پیغمبرانو وحی خاص وحی شرعی ده:

وحی شرعی

څلورم قسم شرعی ده چه انبیاء علیهم السلام سره خاص ده خو هر نبی ولی هم وی نو هغه نه وحی عرفانی هم کیږی چه د هغو نبوت دوحی شرعی دے، چه د قانون او احکامو حیثیت لری بخلاف د ولی د وحی عرفانی چه هغه قانونی حیثیت نه لری او دا د علم کلام یو عامه مسئله ده:۔ وَالْاِلْهَامُ لَیْسَ بِحُجَّةٍ عِنْدَ الشَّرْعِ: یعنے د ولی الهام قانون شرعی نشی جوړیدے، دوحی شرعی حقیقت دا دے چه د الله د جانبه د فرښتے په واسطه یا بغیر په نیغه په خوب یا په

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱) دَ یو جسم په یو مکان کښے ټکاؤ کیدل لکه
نَزَلَ الْاَمِیْرُ الْمَدِیْنَةَ ، (امیر په ښار کښے ټکاؤ شو)
رَبِّ اَنْزِلْنِیْ مُنْزَلًا مُّبٰرَکًا ؛ ترجمه :- اے ځماره ما د برکت
سوره مُؤمنون ۲۹ آیة ؛ واله ځائے کښے ټکاؤ کړے۔

(۲) دَ یو جسم باندے نه لاندے راتلل، لکه
وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً مُّبٰرَکًا ؛ مُوبږ د آسمانه د برکت اُوبه راکوځے
کړی دی:

د قرآن حکیم الفاظ د جسمیت او مکانیت نه بهر د پاک) دی په دے وجه
د نُزول قرآن مطلب اعلام (ښودل) دے مطلب دا چه قرآن په ندیم
دفتر بنتے رَسُول علیه السلام ته ښودل" دا نُزُولِ قرآن دے او په
دے تعبیر (نزول) کښ د قرآن د شان لوئی ښکاره کول مقصود دی
(مناهل العرفان جلد ۱ ص ۳۴) چه انسان ته د لوړ مقامه یو څیز
را غلے دے، یا قرآن باندے د نزول اِطلاق په دے اعتبار دے چه
جبریل علیه السلام د یولوړ مقامه په زمکه راکوز شو دا خو حقیقت
دے نو په دے واسطه قرآن ته هم نزول منسوب شو۔

(۳) دریمه معنی د نزول دا هم ده چه پخپله خو یو څیز راکوځ نه شو
خو اسباب ئے د عالم بالا سره تړون لری چه ارادهٔ الٰهی هم کیدیشی
یا آسمانی تاثیرات او هم په دے اعتبار سره اُسپنه څاروا او انسانی
لباس د پاره هم قرآن د "نزول" لفظ استعمال کړیدے۔

وَاَنْزَلْنَا الْحَدِیْدَ فِیْهِ بَاْسٌ شَدِیْدٌ ؛ مُوبږ اُسپنه راکوځه کړه چه د هغه
وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ ، سوره الحدید آیه ۲۵ ؛ نه د جنګ سامان هم جوړیږی)
وَاَنْزَلَ لَکُمْ مِّنَ الْاَنْعَامِ ثَمٰنِیَةَ ؛ مُوبږ ستاسو د فائدے د پاره د
اَزْوَاجٍ وَاَنْزَلْنَا عَلَیْکُمْ لِبَاسًا یُّوَارِیْ ؛ څاروا اته جوړے راکوځے کړیدے

سَوْاٰتِکُمْ ، سوره الاعراف آیة ۲۶ ؛ مُوبږ لباس راکوز کړو چه د هغے
په اغوستو ستاسو د حیا ځایونه پرده شی،

دے درے وارو څیزونو اسباب آسمانی وی نو دے د پاره هُم د
(نزول) لفظ استعمال شو۔

نزول نه بیا دوه نور لفظونه، اِنزال او تَنْزِیل جوړیږی، (۱) تَنْزِیل
په وار وار راکوزیدونه وائی، او انزال په وار وار او په یوځل راکوزیدو
د پاره استعمالیږی، لکه چه عذاب د پاره هُم دے استعمال شوے
دے:-

اِنَّا مُنْزِلُوْنَ عَلٰٓی اَهْلِ هٰذِهِ الْقَرْیَةِ ؛ مُوبږ په دے کلی د آسمان نه عذاب
رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ (سوره عنکبوت ؛ نازلوونکی یُو
آیة ۳۴) ؛ ؛ ؛ ؛ ؛

ښکاره خبره ده چه عذاب په یوځل نازل شویدے۔ او قرآن په
وار وار او د دے دواړو د پاره د (انزال) لفظ استعمال شو، فرمائی
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَنْزَلَ عَلٰی عَبْدِهِ ؛ ټولے خوبی د هغه الله دی، چه په
الْکِتٰبَ (سوره کهف آیة ۱) ؛ ؛ خپل بنده ئے ته کتاب نازل کړو
(مفردات امام راغب ص ۷۵۰)

د قرآن درے تنزُّلات

(۱) نُزُولِ اوّل | د بارگاهِ خُداوندی نه لوحِ محفوظ نه نزول، چه هغه
د دے آیت کښے ذکر دے۔ بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِیْدٌ فِیْ
لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ○ سوره البروج آیة ۲۱ د ۲۲ ؛

(۲) دویم نزول | د لوح محفوظ نه د لاندینی آسمان د بیت العزة
مقام ته نزول چه په سورتِ دُخان سورتِ
قدر او سورتِ بقره کښے ذکر دے۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

اودویم کرت دَ لوحِ محفوظ څخه دَ بیت العزت مقام کښے او دریم کرت نزول ځے په وار وار په حضور علیه السلام اُشو، نور آسمانی کتابونه په یوځل په کتابی صورت کښے نازل شوی دی دَ قرآن دواړه قسمه (په یوځل، په وار وار) نزول دا ښائی چه دَ خدائے حکمت فربنتو تر دا ښودل وو، چه دا آخری کتاب دے، یا دُ لوی آسمان نه دَ نازلولو مطلب دَ نبی علیه السلام شوق زیاتول وُو، ځکه چه دځلونښے شے را نازلیدل شوق نُور هُم زیاتوی، یا دا حکمت وو چه دَ قرآن دَ مکمل حفاظت یقین راشی او شک شُبه بالکل ختم شی (مناهل العرفان جلد ۱ ص ۳۶ تا ۴۰)

دا حقور دا خیال دے، چه دَ قرآن دَ حفاظت مُکمّل انتظام کول په دے وجه مقصود وو چه دا آخری کتاب دے، یوځل دَ عمومی انتظام په صورت کښے قرآن په لوح محفوظ کښے محفوظ کړے شو چه دَ حکومتِ الهیّه مرکزی محافظ خانه ده- دویم ځل په بیت العزت کښے دَ آسمانی حفاظت انتظام اُشو او دریم ځل دَ نبی ﷺ په زړه نازلیدو سره دَ زمینی حفاظت انتظام اُشو، په خلورم ځل دَ اُمّت په سینو دَ دے حفاظت انتظام اُشو لکه فرمائی: اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ (سورهٔ الحجر آیت ۹) او پنځم ځل دَ حضرت ابوبکر، عُمر او عثمان رضی الله عنهم اجمعین په ذریعه دَ تحریر په صورت کښے دے دَ حفاظت انتظام اُکړے شو په زړونو کښے خبره اچوونکے او په سینو کښے محفوظ کوونکے یواځے الله دے، جبرائیل علیه السلام قرآنی الفاظ څنګه حاصل کړل، صحیح خبره دا ده چه جبرئیل علیه السلام الله نه قرآن او وحید او الفاظ ځے حاصل کړل، لکه څنګه چه بیهقی دَ (اِنَّا اَنْزَلْنٰهُ) په تفسیر کښے لیکلی دی اودے تائید د طبرانی هغه حدیث شریف دے چه دَ

اِنَّا اَنْزَلْنٰهُ فِیْ لَیْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ :- هم مُوبنږدا په مبارکه شپه کښے نازل کړے دے (سورهٔ دُخان آیة ۳)

اِنَّا اَنْزَلْنٰهُ فِیْ لَیْلَةِ الْقَدْرِ :- هم موبنږدا په شپه دقدر کښے نازل کړے دے (سورهٔ القدر آیة ۱)

شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیْ اُنْزِلَ فِیْهِ :- دَ رمضان میاشت هغه ده په کومه کښے چه دا قرآن (سورهٔ البقره آیة ۱۸۵) نازل کړے شوے دے

دا دواړه دے دَ نزول مطلب په یوځل نازلیدل دی، شپه دَ قدر او شپه مبارکه دواړه یُوه دی او په رمضان شریف کښے دی نو آیتونو کښے هیڅ تعارض نشته لکه څنګه چه مستدرک حاکم او نسائی او بیهقی هم دابن عباس رض نه نقل کړی دی:

(۳) دریم نزول

دریم نزول دَ جبرئیل علیه السلام په واسطه دَ نبی علیه السلام په زړه مبارک شوی دے، لکه فرمائی الله جل شانه

نَزَلَ بِهِ الرُّوْحُ الْاَمِیْنُ عَلٰی قَلْبِكَ لِتَكُوْنَ مِنَ الْمُنْذِرِیْنَ ۝ بِلِسَانٍ عَرَبِیٍّ مُّبِیْنٍ ۝ سورهٔ الشعراء آیة ۱۹۳ تا ۱۹۵)

دا روح الامین ستا په زړه را کوز کړے دے، چه ته ویرُونکے شے په صفا عربی ژبان کښے.

دا نزول تقریباً په دوه میاشت کاله کښے مکمل شو، دلته دا شبهه کول بے ځایه دی چه دَ نبی علیه السلام په زړه مبارک دَ قرآن دنزول مطلب دا چه صرف معانی به نازل شوی وی الفاظ به نه وی نازل ځکه چه دَ قرآن (بِلِسَانٍ عَرَبِیٍّ مُّبِیْنٍ ۝) الفاظ دا ګواهی ورکوی، چه دَ قرآن الفاظ هم نازل شوی وو، ځکه چه الفاظ دَ ژبان (ژبے) وی،

قرآن دوه کرته په یوځل نازل شویدے اول کرت په لوح محفوظ کښے او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نواس بن سمعان رضی الله نه ئے مرفوعاً نقل کړے دے:

إِذَا تَكَلَّمَ اللهُ بِالْوَحْيِ أَخَذَتِ السَّمَاءُ رَجْفَةٌ شَدِيدَةٌ مِنْ خَوْفِ اللهِ فَإِذَا سَمِعَ أَهْلُ السَّمَاءِ صَعِقُوا وَخَرُّوا سُجَّدًا فَيَكُونُ أَوَّلُهُمْ يَرْفَعُ رَأْسَهُ جِبْرَائِيلُ فَيُكَلِّمُهُ اللهُ بِوَحْيِهِ مَا أَرَادَ فَيَنْتَهِي بِهِ حَيْثُ أُمِرَ

څه وخت چه الله تعالیٰ د وحی کلام کوی نو آسمان د خدائے دویرے نه رچیږی څه وخت چه آسمان فریښتے واوری نو هر شی او په سجده پریوځی د یتولو نه رُوهیے جبرئیل علیه السلام سر راپورته کړی نو الله تعالیٰ د وحی کلام هغه سره اُکړی چه کوم ځائے ته د حکم اُشی هلته د خدائے وحی اُرسوی:

د جبرئیل علیه السلام د وحی حاصلولو یو غیبی معامله ده په هغے کښے درائے څه څه نشته لهذا دا صورت د یتولو نه زیات غوره دے، په مناهل العرفان جلد ۱ ص۴۳ کښے الله تعالیٰ نه د جبرئیل پنځه پنځه روحانی حصول او د لوح محفوظ نه حاصلول هم ذکر کړی دی

د قرآن نازل شوی الفاظ

کلام د انسان په ذهن کښے وی بیائے په ژبه د الفاظو په شکل کښے ادا کوی د کلام مکه کړو یا نه خلق هم وائی نو د دغه رُومبی کښے کلام به بلله شی مثلاً د امرؤ القیس قصیده یا د حریری مقامات چه څوک هم لولی اووائی نو دا به هم د امرؤ القیس او د حریری کلام گنړلے شی، دغه رنګه الله تعالیٰ خپل کلام د قرآنی الفاظ په شکل کښے ظاهر کړو بیا جبرائیل علیه السلام اُلوستو حضور علیه السلام اُلوستو په اربو نو انسانانو اُلوستو اولولی به ئے مګر کلام به د الله گنړلے شی نه چه د جبرئیل علیه السلام یا د محمد علیه السلام په قرآن کښے دی "حَتّٰى يَسْمَعَ كَلَامَ اللهِ" او "بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ" دهغه بنکاره ثابتیږی چه د قرآن

الفاظ د الله د جانبه دی، او د الله کلام دے، کچرے مضمون دیو زید وی او د دغے مضمون ادا په الفاظو د بل (عمرو) وی نو دے نه به د زید کلام نه بلکه د عمرو کلام وئیلے شی په دے وجه د قرآن الفاظ او معنے د واړه د الله د جانبه دی او قرآن له هُم د ے ذات ترتیب کړے دے، مونږ نور زیات د خبرو په ګولو نو کښے خان نه نسلوو ځکه چه څه ډیره فائده ئے نشته، په مناهل العرفان کښے د اپورته ذکر مضمون شته دے:-

د قرآن، سُنّت او د حدیث قُدسی بیلتون

امام سیوطی رحمه الله د امام جوینی نه نقل کړیدی، چه د قرآن الفاظ او معنے د واړه د جبرائیل علیه السلام په واسطه د الله تعالیٰ د جانبه نازل دی او د حدیث مضمون د الله د جانبه دے مګر الفاظ ئے د رسول الله صلی الله علیه وسلم دی، (اتقان جلد ۱ ص۴۳) او حدیث قدسی به هغه وی چه الفاظ ئے هُم د الله د جانبه وی لیکن مُعجزه نه وی او نه د هغے الفاظو په تلاوت هغه ثواب حاصلیږی کوم چه د قرآنی الفاظو په تلاوت حاصلیږی او نه په نمونځ کښے د دے لوستل کیدی شی (مناهل العرفان فی علوم القرآن جلد ۱ ص۴۴)

د احقر په رائے کښے د حدیثِ نبوی او حدیث قدسی دواړه مضمون د الله د جانبه دے لیکن د حدیث نبوی نسبت الله تعالیٰ نه کول معنوی دی، مطلب د جانبه د الله خو مضمون دے لیکن په بنکاره الفاظو کښے ئے نسبت الله تعالیٰ نه نه دے شوے مګر د حدیث قدسی نسبت په بنکاره الفاظو کښے الله تعالیٰ نه کول ځکه ضروری دی چه دا د الله تعالیٰ حکم او امر دے او هم په دے وجه د حدیث قدسی الفاظ بدلول او روایت بالمعنی جائز نه دے او د حدیث نبوی جائز دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو په شرط دَدے چه اصلی معنو کښے ئے فرق را نشی همدغه
وجه ده چه حدیث قدسی ته ئے حدیث اُوئیل چه الفاظ نبوی د
پاره دا (حدیث) خاص دے (قدسی) لفظ زیاتے دَ بنکاره نسبت په
وجه شوے دے چه دَ حدیث نبوی نه دَ دے زیات اهمیت او
خصوصیت ثابت شی، واللهُ اَعْلَمُ :-

دَ وحی دَ نازلیدو قِسمُونه

دوحی نازلیدل به یا ئِه ذریعه دَ فرښتے وی یا بیخ په نیغه دَ الله دَ
جانبه

دَ رُوښی قسم بیادرے قسمه دی

(۱) وحی تصلصلی (۲) وحی تمثّلی (۳) وحی رُوعی

(۱) وحی تصلصلی کښے جبرئیل علیه السلا په خپل اصلی حقیقت (مَلَکیت)
باندے قائم وی اوَ وحی راوُړی، چه په حدیث دَ بخاری کښے دے ته ډیرا
سخته وحی وئیلے شوے دی فرمائی (وَهُوَ اَشَدُّهُ عَلَیَّ) دا شدت په دے
وجه دے چه بشریت اوملکیت دواړه یوځائے کیدل ډیرلوے پیښے حُکمه
دے چه فرښته اوانسان یوجنس نه دے اوبله وجه ئے دا ده چه
نبی علیه السلام دَ بشریت نه مَلکیت ته عُرُوج اُکړی کوپاکښی دواړه
حضرت جبریل اوحضور علیهما السلام) فرښتے خپل منیځ کښے یو
ځائے شی اودا ځکه پیښے دے چه کوپاکښے دَ حضور علیه السلام جنس
بدل شی (دَ بشریت نه ملکیت ته) اوداځه آسانه خبره نده :-

(۲) دویم وحی تمثلی ده چه جبرئیل علیه السلام دَ انسان په شکل کښے وی
راوُړی په دے صُورت کښے حضرت جبرئیل علیه السلام دَ ملکیت نه
بشریت ته تنزل اُکړی اودَ وُهم جنسو یوځائے کیدل څه پیښے نه جوړ
دادواړه قسمه وحی، اودَ رُوښی قسم وحی شِدّت دَ بخاری په ابتدا کښے ذکر

اوقُرآنی وحی عمُومًا په دے دوُو طریقو را ځلے ده :-

(۳) دریم قسم وحی رُوعی ده : چه جبرئیل علیه السلام وحی په زړه
مبارک دَ نبی علیه السلام دَ الله په حُکم نازِله کړی اودَ حُضور علیه
السلام دَ آورید و (په غوږ و مبارکو) هغے سره څه تعلق نه وی :-
(اَخْرَجَهُ الْحَاکِمُ)

دَ بالذات (بیخ په نیغه) وحی دوه قسمه دی

(۱) په ویښه لکه دَ معراج په شپه دَ الله دَ جانبه بیخ په نیغه (بلاواسطے
په وحی شوے وه :-

(۲) یا په خوب کښے لکه دَ حضرت معاذ رض په حدیث کښے دی، اَتَانِیْ رَبِّیْ فَقَالَ
فِیْمَ یَخْتَصِمُ الْمَلَاُ الْاَعْلٰی، یعنے خوب کښے ما ته الله تعالے راغے اووے
فرمائیل چه دَ عالَمِ بالا فرښتے په څه کښے بحث کوی (اتقان جلد ۱ ص ۳۲)

پنځم فصل

(دَ قُرآن جمع کول اودَ هغے تدوین)

قُرآن دَ خالِق کائنات آخری کتاب دے، ځکه الله تعالیٰ دَ دے دَ
محفُوظ ساتلو مکمل انتظام اُکړو عالَمِ بالا کښے ئے په لوح محفوظ
(بَیت العزت کښے محفُوظ کړو اوبه زمکه ئی دَ دے دَ حفاظت دوه قسمه
انتظام اُکړو، یُوحِفاظتِ صدری، چه دَ نبی علیه السلام او دَ اُمت په زړونو
دِ ما غوږ کښے ئے محفُوظ کړو، چه دا قُرآن پخپله ذکر کړیدی په بخاری
کے دَ ابن عباس رض نه منقُول دی، چه دَ قرآن دَ نازلیدو په وخت به
جبریل علیه السلام سره، سره حضور علیه السلام لوستو او تلاوت کولو
چه قُرآنی وحی محفُوظه شی نو دا آیت نازل شو :-

(c) ketabton.com: The Digital Library

لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ ط دزرزده کولو دپاره نه په دے
اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ ۝ سورهٔ ځپله ژبه مه خوزوه حضرت په
القیامة آیت ۱۶ او ۱۷ ذمه دی دے جمع کول ستا سینه
کښے اولوستل ستا په ژبه

دے نه پس به دی علیه السلام په چپه خوله د قرآن وحی آوریده او هم
د غسے به ئے یاد یده له او نورو خلقو ته به ئی رسوله دا رنګ د قرآن د حفظ
ذمه واری یو بل خلے کښے الله ځپله اخیستے ده، فرمائی، سَنُقْرِئُكَ
فَلَا تَنْسٰى" موږ به تا نه (قرآن) لولکو بیا به تا نه هیریږی.
دا امت په سینو کښے د قرآن محفوظ کولو ذکر هم قرآن کښے شته فرمائی
بَلْ هُوَ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ فِيْ صُدُوْرِ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ زد قرآن سنکاره ایتونه
لادی چه د اهل علمو په سینو کښے موجود دی.

قدرت د اخری کتاب په سینو کښے محفوظ ساتل غوښته نو دے د پاره د
د رڼو میے نه دا سے قوم چوڼ کړو چه د هغوی حافظه بیمثاله وه د هغوی
سینے د نورو واقعاتو د قبائلی نسبونو خزانے وے او دوی به یوځل
د سړو لو شعرونو قصیده چه واوریده نو فوراً به یاده شوه او د عربو
تاریخ په دے ګواه دے، او بیا دا نالوستے قوم وو د دوی د هر آوریدلی
شی پتول دارومدار په قوتِ حافظه باندے وو نو د دی دے فه
قوتِ حافظے له قرآن او اسلام نور هم ترقی ورکړه او دا نور هم
زیات شو د دے نه بغیر عربو سره د قرآن محفوظ ساتلو د پاره د
هغوی د زړه لګولو، او شوق زیاتولو نورو اسباب او محرکات هم
شوچه د هغے په زور دوی د خپل ذهن او دماغ قرآن یاد ولو ته دلتو
زیاته محنه کړه چه هغه دادی

اول محرک د عربو ساده او د تکلف نه خالی وو، د هغوی د

ضروریات د یر مختصر وو چه هغے د پاره د د یر محنت او منډو وتر و
ضرورت نه وو چه کوم به ئے بیا مونده نو هم په هغے به ئے قناعت کولو
او نور و پسے به ئے مخه نه اوړه هم په دے وجه د هغوی ژوند فارغ و
او د قرآن د حفظ د پاره دوی سره د یر ازکار وخت وو مطلب دا
چه د ازکار وخت زیاتوالے هم یو سبب او محرک وو

دویم محرک قرآن او وحی سره د دوی د حد نه زیاته
مینه او عشق وو او دا دواړه داسے څیزونه
دی چه د یو څیز را بنکلوا و حاصلولو د پاره د پتولو نه لوئے محرک دے
چه دوی ئے، د یو عاشق په شان په قرآن یاد ولو مجبوره کول د صحابه
کرامو قرآن سره د عشق او محبت د یر تاریخی واقعات موجود دی چه
دے کښے د شک کولو هیڅ وخه ځائے نه پاتے کیږی هر کله چه یو څیز
سره د مضبوط حافظے والا قوم په عاشقانه دول محبت پیدا شی نو بیا
د غه څیز د یر زر یاد ولے شی:-

دریم محرک د قرآن حیران کُن او تعجب پیدا کونکے رنګ د ریم
محرک وو، خصوصاً چه پتول د عربو فصیحان
او بلیغان د دے د مثل را ورو نه پاتے راغلے وو او دا هم د صحابه کرامو
خپل ځان ته د را بنکلو یو باعث وو، ځکه چه د انسان په طبیعت کښے دا
پراته دی چه هغه د هر عجیبه او ناآشنا څیز د یاد ولو کوشش کوی لهذا
دے محرک هم د صحابه کرامو زړونه د قرآن یاد ولو ته را تیښت کړه
او دوی په پوره توجه سره د دے په یاد ولو کښے ښکیده او د قرآن
حیران کُن اعجاز په دوی کښے د دے د یاد ولو زبردسته جذبه او اشتیاق پیدا کړ

څلورم محرک په حدیث کښے د قرآن په زده کړے او د دے په
یاد ولو او په دے د عمل کولو ترغیب ورکړے

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوے دے چه په هغے د صحابه کرامو ایمان او کامل یقین وُو تر دے حده
چه په قُرآن عمل کولو باندے به هغوی ډیر خیال ځانونو قربانولو فخر
اوو بارکولو، اوکله به چه صحابه کرامو د ترغیب الهی آیتونه واوریدل
نو د هغوی د شوق اور به نور زیات په لمبو شو مثلاً دا آیتونه ـ
(۱) اِنَّ الَّذِیْنَ یَتْلُوْنَ کِتٰبَ اللّٰهِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ
سِرًّا وَّعَلَانِیَةً یَّرْجُوْنَ تِجَارَةً لَّنْ تَبُوْرَ (سورہ فاطر آیت ۲۹)
(۲) کِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَیْكَ مُبٰرَكٌ لِّیَدَّبَّرُوْٓا اٰیٰتِهٖ وَلِیَتَذَكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ
د صحیح مسلم په روایت د حضرت عثمان رض یو حدیث شریف دے
خَیْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْاٰنَ وَعَلَّمَهٗ: په تاسو کښے د ټولو نه زیات بنه
هغه کس دے چه قُرآن زده کړی او بل ته ئے اِزده کړی ـ

او بل حدیث د عبدالله بن مسعود رض په روایت د ترمذی دے
مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِّنَ الْقُرْاٰنِ فَلَهٗ بِهٖ حَسَنَةٌ وَّالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ اَمْثَالِهَا
لَا اَقُوْلُ الٓمٓ حَرْفٌ بَلْ اَلِفٌ حَرْفٌ وَلَامٌ حَرْفٌ وَّمِیْمٌ حَرْفٌ ـ
په دے حدیث کښی د قُرآن په یو یو لفظ د لسو لسو نیکو وعده اوثواب
ښودلے شوے ده نو دا سے قسم ترغیبات نو او تشویقات نو به په
صحابه کرامو دیر غټ اثر غورځید و کوم نه چه قُرآن او حدیث
ډک دے، همدغه وجوه وه چه صحابه کرامو خپل ټول ژوند د قُرآن
په حفظ کولو کښے تیر کړو ـ

پنځم محرّك د صحابه کرامو د دین د نجات اګی یوه ذریعه هم د قُرآن وو د وی به خپله ټوله کتله او کامیابی هم قُرآن سره تړله او دا عشق جذبه او یقین د دے باعث شو چه هغوی به قُرآن دے د عاشق په توګه یاد ولو ـ

شپږم محرّك صحابه کرامو به قُرآن حکیم په ښه نځه کښے په

تراویحو کښے لوستلو د ژوند په ټولو کارونو کښے به ئے هم په دے فیصله
کولے په عقائدو ـ عباداتو، اخلاقو او اعمالو کښے به د دے په هدایت
تلل غرض د اچه اسلامی ماحول او معاشره کښے د قرآن حفظ د دیر
عزت او شرافت ذریعه وه نو ځکه د دے باعث شو چه قُرآن حفظ
یاد کړے شی ـ

د قُرآن یاد ول او صحابه کرام

د دے تیرو شو و محرّکاتو اثر وو چه صحابه کرامو خپله ټوله محنه قُرآن
یاد ولو ته کړے وه ـ د عرب و قبائلو د یر لرے لرے مزلونه کول او د
قُرآن د یاد ولو د پاره به ملونے مُنوړے ته راتلل او نبی علیه السلام به
هُم قاریان او حافظان د قرآن، قبائلو ته په دے غرض لیږل چه
قرآن هغوی ته وَرْیاد کړی په صَفَر سنه ۴ هـ د ابُو براء په درخواست
نجدیانو ته د قرآن د تعلیم او تبلیغ په غرض د حضرت مُنذر بن عمرو ساعدی رض
په مشرۍ کښے دا ویا ۷۰ قاریانو یو ټولے حضور علیه السلام ورلیږلو
خو د عامر بن طفیل په ټکۍ سواد دګو صحابه کرامو مُنذر بن محمد رض
او عمرو بن اُمیه رض ټول شهیدان کړے شُو د شهید کیدو په وخت
چه حرام بن ملحان رض نه نیزه پورے را پورے اُوته نو هغوی اُفرمایل
اَللّٰهُ اَكْبَرُ فُزْتُ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ (الله اکبر ځماد ګ کعبے په پروردګار قسم
وی چه ځُر کامیاب شوم)

د دے ټولې نوم د سَرِیَّةُ الْقُرَّاءِ ط) وو او هُم د دینه په دغه وخت کښے
د قاریانو او د حافظانو د ګڼړو الی پته لګی (فتح الباری جلد ۷ صـ ۲۹۶
علامه ذهبی په طبقات القُرّاء کښے دا ډُوډ مشهور و حافظانو او قاریانو
نومونه بنودلی دی کوم نه چه د قاریانو د قرأت سند ورسیږی،
هغه دادی، (۱) عثمان بن عفان رض (۲) علی بن ابی طالب رض (۳) اُبَی بن

(c) ketabton.com: The Digital Library

کعب رضؓ (۴) عبدُ اللہ بن مسعود رضؓ (۵) سالم مولیٰ رضؓ (۶) ابی حذیفہ رضؓ
(۷) معاذ بن جبل رضؓ چه په دے کښے اُبی بن کعب رضؓ دَ قاریانو سردار دے
په مفتاح السعادات جلد ۱ کښے دی چه ابو موسیٰ الاشعری پُوره قرآن
یاد کړے وو او حضور علیه السلام تهٔ ے وایه دَ لو، په صحابه کرامو کښے لس زده
حافظان صحابه کرام دیر مشهور وو چه په هغوی کښے اُوه دیرش شوتنه اعلیٰ
مقام حاصل وو دَ هغوی نومونه دادی (۱) ابوبکر صدیق رضی اللہ تعالیٰ عنہ (۲)
عُمر فاروق رضی اللہ تعالیٰ عنہ (۳) عُثمان بن عفان رضی اللہ تعالیٰ عنہ (۴) علی بن
ابی طالب رضی اللہ تعالیٰ عنہ (۵) عبد اللہ بن مسعود رضی اللہ تعالیٰ عنہ (۶) طلحه رضی
اللہ تعالیٰ عنہ (۷) سعد بن ابی وقاص رضی اللہ تعالیٰ عنہ (۸) حذیفة بن الیمان
رضی اللہ تعالیٰ عنہ (۹) ابو هریرہ رضی اللہ تعالیٰ عنہ (۱۰) عبادة بن الصامت رضی اللہ
عنہ (۱۱) معاذ بن جبل رضی اللہ تعالیٰ عنہ (۱۲) مجمع بن حارثه رضی اللہ تعالیٰ عنہ (۱۳)
فضاله بن عبید رضی اللہ تعالیٰ عنہ (۱۴) ابو موسیٰ اشعری رضی اللہ تعالیٰ
(۵) عمرو بن العاص رضی اللہ تعالیٰ عنہ (۱۶) سعد بن عباده رضی اللہ تعالیٰ (۱۷)
عبد اللہ بن عباس رضؓ (۱۸) ابو ایوب انصاری رضی اللہ (۱۹) عبد بن ذو
ذوالحارین رضی اللہ تعالیٰ (۲۰) عبید بن مُعاویة بن زید بن ثابت رضی اللہ
تعالیٰ (۲۱) ابو زید رضی اللہ تعالیٰ (۲۲) سالم مولی ابی حذیفه رضی اللہ
تعالیٰ (۲۳) سلمه بن مخلد بن الصامت رضی اللہ تعالیٰ (۲۴) سعد بن عبید
بن نعمان الانصاری رضی اللہ تعالیٰ (۲۵) زید بن ثابت رضی اللہ تعالیٰ (۲۶)
اُبی بن کعب رضی اللہ تعالیٰ (۲۷) عبد اللہ بن السائب رضی اللہ تعالیٰ (۲۸)
سلیمان بن ابی حشمة رضی اللہ تعالیٰ (۲۹) تمیم الداری رضی اللہ تعالیٰ (۳۰)
معاذ بن الحارث رضی اللہ تعالیٰ (۳۱) ابو الدرداء رضی اللہ تعالیٰ (۳۲) عُقبه
بن عامر الجُهنی رضی اللہ تعالیٰ (۳۳) عبد اللہ بن عمر بن الخطاب رضی اللہ
(۳۴) سعد بن المنذر بن اوس رضی اللہ تعالیٰ (۳۵) قیس بن صعصعه رضؓ

(۳۶) عبد اللہ بن عمرو بن العاص رضی اللہ (۳۷) ابو حلیمه معاذ رضؓ
بحواله تهذیب، طبقات بن سعد، تذکرة الحفاظ ذهبی، مفتاح
السعادات، اتقان، صحیح البخاری) دا خُوږه پُوره قرآن دَ حافظان
لنډه بیان دے او چا ته چه نیمګړے قرآن یاد دے هغوی خو شمیر
نشی کیدے او دا دَ قرآن دَ حافظانو رُوښے دَ وروو نو اسلام رچه خوږه
به خوریدو هومره به ورسره حافظان دَ قرآن
هم زیاتیدل، سرولیم میور غوندے دَ اسلام دُشمن هم خپل
کتاب "لائف آف محمد" کښے اقرار کړے چه د صحابه کرامو حافظه
زیاداشت) بے مثاله وه لکه چه لیکی چه دَ دوی حافظه دیره لُوړه
وه خو دَ قرآن دَ پاره به ئی دا دیره زیاته استعماله وله، دَ دوی حافظه
دومره مضبوطه وه او محبت ئے هُم دومره قوی وو چه اکثر صحابه وو دَ پیغمبر
علیه السلام په حیاتِ مُبارک کښے به وحی صحیح لوسته او یاد وله، په شپږمه
صدئ عیسوی کښے عرب څه چه ټوله دُنیا کښے دلیکونکو لوستونکو خلقو
شمیر زرو کښے یو نه هم کم وو د پریس او چاپ خانے انتظام نه وو په دے
دَ دوی نیات کار به په پاڼو لوړوان وو کوندی په یوځو تحریرونو کښے خو
زیاتے کمے راوستل دیر آسان وو، هم دغه وجه ده چه دَ دُنیا ټولو
مذهبی کتابونو کښے تحریف اُشو۔ قرآن حکیم په زمانه دَ پیغمبر
کښے په زرګونو سینو کښے پُوره محفوظ وو او لکهونو سینو کښے نیمګړے محفوظ وو
دا بیان په سورهٔ عنکبوت کښے شویدے،
بَلْ هُوَ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ فِيْ صُدُوْرِ الَّذِيْنَ ۔ قرآن دَ واضحو آیتونو مجموعه ده چه
اُوتُوا الْعِلْمَ (سورهٔ عنکبوت ایت ۴۹) دَ اهل علمو په سینو کښے محفوظ دی؛
دقرآن دَ یاد لو او دَ تلاوت کار ټولو مُسلمانانو ته جاری ساتلو، مُسلمانانو په
حُکم قرآن په نوښ کښے لوستو چه دے لوستو په نماځ کښے فرض وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تردے چه عثمان غنی رضی الله تعالیٰ عنه او تمیم داری رض به په یو یو رکعت کښے ټول قرآن ختموله (تهذیب التهذیب و استیعاب) عبد الله بن عمر او عبد الله بن عمرو العاص به په یو شپه کښے قرآن ختموله (فتح الباری) سعد بن المنذر به په درے ورځو کښے قرآن ختموله (اسد الغابة) د سلفو د قرآن د تلاوت دا حال وو چه به بعضے شوارو زکے اته کرته قرآن شریف ختموله، یعنی خلور ختمه د ورځے او خلور ختمه د شپے، بعضے به دوه ورځے درے کرته او بعضے به دوه خله حالانکه حضور علیه السلام د درے ورځو نه کم وخت کښے د قرآن شریف د ختمولو نه منع کړے وو، چه د قرآن د مطالبو په پوهه کښے څه نقصان راځی، ترمذی کښے عبد الله بن عمر رض مرفوعاً روایت کړے دے:-

لَا يَفْقَهُ مَنْ قَرَءَ الْقُرْاٰنَ فِيْ اَقَلَّ مِنْ ثَلٰثٍ: (اتقان جلد ۱ ص ۳۷)

په سینو کښ د حفاظت دا انتظام هیڅ یو انسانی کتاب ته نصیب شوے نه دے کوم کتاب چه د مسلمانانو په غوبنه څرمن څه چه په رک رک اوښه زره او دما غو کښے ښودے وی او مشرق او مغرب دواړو کښ ددے داسے حافظان موجود وی چه د هغوی الفاظ او حروف بالکل یو شان وی، څه کمے زیاتے پکښے نه وی، ددے بیمثله انتظام باوجود د قرآن په حفاظت کښے بیا هم د چا شک شُبه کیدے شی:-

د قرآن حکیم تحریری حفاظت

په اتقان کښے د مستدرک حاکم په حواله نقل دی چه قرآن په تحریری صورت کښے درے کرته جمع شوے دے (۱) د پیغمبر علیه السلام په زمانه کښے (۲) د ابو بکر صدیق رضی الله په زمانه کښے (۳) د حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ عنه په زمانه کښے د ارومبی دوه جمعے په بخاری وغیره کښے د زید بن ثابت الانصاری د روایت نه ثابتے دی (اتقان جلد ۱ ص ۵۷ تا ۵۹). اودا دریمه جمع،

یعنے عثمانی جمع د حضرت حُذیفة بن الیمانی د روایت نه منقوله ده د دے د کومو اړو وجمعو په نوعیت کښے فرق وو، د ړومبی قسم (یعنی) جمع مقصد داووچه قرآن ضائع نشی نو ځکه قرآن په مختلفو څیزونو لیکلے شو - څه خو د سپینو کانړو نه جوړے کړو تختو باندے، څه د سپینو څرمنو په ټکړو او څه د کړکی په هوارو تختو باندے، نو دا جمع د یو کتاب په شکل کښے نه وه د صدیقی جمع مطلب قرآن د کتاب په شکل یوځاے کول وو چه د ځان ځان له ټکړو د ضائع کیدو هیڅ څه خطره پاتے نشی د اجمع په کاغذ شوے وه چه د نبی علیه السلام په زمانه کښے نه وو (کاغذ) او د ابو بکر صدیق رض په زمانه کښے د شام نه مدینے منوّرے ته راوړے شوے وو - مُوطا امام مالک رح کښے د سالم بن عبد الله نه روایت دے:-

جَمَعَ اَبُوْ بَكْرِنِ الْقُرْاٰنَ فِي الْقَرَاطِيْسِ: (ابو بکر رض صدیق قرآن په کاغذ جمع کړے وو) مغازی مُوسیٰ بن عُقبه کښے دی:-

حَتّٰى جُمِعَ عَلٰى عَهْدِ اَبِيْ بَكْرٍ فِي الْوَرَقِ: (اتقان جلد ۱ ص ۵۹) (د ابو بکر رض په زمانه کښے قرآن په کاغذ اُ لیکلے شوا وجمع شو):

د حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ عنه په زمانه کښے د قرآن جمع کولو مطلب داوو چه د مختلف قسمه تلفظ نه دا محفوظ کړے شی، چه دے نه فساد پیدا نشی، دا فرق امام سیوطی په اتقان کښے د ابن تین نه نقل کړے دے (اتقان جلد ۱ ص ۶۰):-

صدیقی رض جمع

د دے جمع مُحرّک فاروقِ اعظم رض وو بخاری کښے د زید بن ثابت نه روایت دے، چه کله په جنګ یمامه کښے اویا (۷۰) حافظان شهیدان شول نو ابو بکر صدیق رض ډاډ اُ للګیدو، څرچه لا هم نو هلته حضرت عمر رض

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم موجود وو، حضرت صدیق رضی الله تعالی اُ فرمائیل چه:

أَنَّ عُمَرَ رض أَتَانِي فَقَالَ إِنَّ الْقَتْلَ قَدِ اسْتَحَرَّ يَوْمَ الْيَمَامَةِ بِقُرَّاءِ الْقُرْآنِ وَإِنِّي رض أَخْشَى أَنْ يَسْتَحِرَّ الْقَتْلُ بِالْقُرَّاءِ فِي الْمَوَاطِنِ فَيَذْهَبَ كَثِيرٌ مِنَ الْقُرْآنِ وَإِنِّي أَرَى (۳) أَنْ تَأْمُرَ بِجَمْعِ الْقُرْآنِ فَقُلْتُ كَيْفَ نَفْعَلُ شَيْئًا لَمْ يَفْعَلْهُ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم

(۱) ماته عُمر رض راغلو او وے و ئیل چه د یمامه په دے کرم جنګ کښے د قُرآن قاریان شهیدان شول؛ (۲) کچرے نور وجنګونو کښے هُم داسے قاریان شهیدان کیدل نو د قُرآن ډاکثر حصه ضائع کیدو خطره ده (۳) لهذا تاسو حکم ورکړئ چه قُرآن د تحریری صورت کښے جمع شی ما هغه نه اُو ئیل چه مونږ څنګه هغه کار اُکړو کوم چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه کړے

(۴) فَقَالَ عُمَرُ رض هَذَا وَاللهِ خَيْرٌ فَلَمْ يَزَلْ؛ (۴) حضرت عُمر رضی الله تعا

(۵) يُرَاجِعُنِي حَتَّى شَرَحَ اللهُ صَدْرِي لِذَلِكَ؛ اُو ئیل چه خدائے م د قسم وی چه دے کښے خیر دے، نو همیشه به؛ (۵) ماته هم داسے و ئیل تر دے چه خُما سینه الله دے کار د پاره پرانسته،

مُونږ ډُوبے لیکلی دی چه نبی علیه السلام پخپله زمانه کښے د قُرآن لیکلو حُکم ورکړے وو، لیکن هغه په کتابی شکل کښے نه وو خو د حضرت عُمر رض مُطالبه داوه چه د کتابی صُورت کښے جمع شی، حُکه خو حضرت ابوبکر رض اُفرمائیل چه مُونږ څنګه داسے کار کولے شُو کوم چه حضور علیه السلام نه دے کړے لیکن حضرت عُمر رضی الله تعالی د دے هغه ضرورت په ابوبکر رض اُ منلو کوم چه دے وخت کښے راپیښ وو د نبی علیه السلام په زمانه کښے نه وو پیښ شوے، د نبی علیه السلام زمانه کښے قُرآن چه کتابی شکل کښے جمع نه وُو د هغے وجهے داوے (۱) د نبی علیه السلام په زمانه کښے هغه حالات نه وُو کوم چه صدیق رض په زمانه کښے راپیښ شوا و د هغے په وجه

قُرآن ته کتابی شکل ورکړے شو، (۲) د نبی علیه السلام په زمانه کښے هغه څیزونه نه مُوندے کیده کُوم چه د صدیق رض په زمانه کښے اُموندے شوه لکه کاغذ او نور د لیکلو سامان وغیره؛

(۳) د نبی علیه السلام په زمانه کښے لا د تلاوت منسُوخ کیدو احتمال وُو کچرے دغه وخت د کتاب په شکل کښے قُرآن لیکلے شوے وے، نو بیا به د بعضے تلاوت منسوخ کیدو په وجه هغه ټول کتاب بدلولے شو چه هغه پیرګران کار وو،

(۴) قُرآن به د احوالو او واقعاتو په ترتیب نازلیدو او اُیتونه او سُورتونه به د مضامینو په ترتیب لګیدل کچرے د نبی علیه السلام په زمانه کښے قُرآن د کتاب په شکل جمع شوے وے، نو د نوی اُیتونو یو ځائے کول به مناسب نه وو او سورتونو سره بیا د پیرګران وو، دا صورت د حضرت ابوبکر صدیق په زمانه کښے ختم شو، حُکه چه وحی را تلل بند شو، کاغذ او نور سامان د لیکلو پیدا مُوندے شو، حافظان د پیر شهیدان شول، نو حُکه قُرآن ته کتابی شکل ورکول ضروری شول؛

د صدیقیؓ جمع دستُور

حضرت صدیق رض د قُرآن په جمع کښے پوره احتیاط کړے وو او داسے انتظام ئے کړے وو، چه د قُرآن په کتابی جمع کښے د هیرے یا د بے غلطئ څه احتمال هم پاتے نشی هغوی په جمع کولو د قُرآن کښے صرف په دے اکتفا اُ نکړه، چه هغه اُیاتُونه د یو راجمع کړے شی کوم چه چا نه یاد وی، یا په څه څیز لیکلی وی، یا د حضور علیه السلام نه آوریدلی شوی وی، بلکه دے بارے کښے په دوه قاعدو عمل اُ کړو؛

(۱) هغه لیکلی شوی آیتُونه د جمع کړے شی، چه د رسول الله صلی الله علیه السلام د خپل وراندے په چا لیکلی وی او د دوو عادلانو ګواهانو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذریعه دده ثبوت اُمونده شی، په ابوداؤد کښے د حضرت عُروه رض نه روایت دے،

اِنَّ اَبَا بَکْرٍ قَالَ لِعُمَرَ وَزَیْدٍ اقْعُدَا عَلٰی بَابِ الْمَسْجِدِ فَمَنْ جَاءَکُمَا بِشَاهِدَیْنِ عَلٰی شَیْءٍ مِّنْ کِتَابِ اللّٰهِ فَاکْتُبَاهُ:	حضرت ابوبکر رض حضرت عمر رض او زید رض دواړه ته اُویل چه تاسو د جماعت په دروازه کښے کینئ چه دکتاب الله په کوم لیکلی شوی ایتو نو وه کسان گواهان

تیر شول نو هغه ایتونه اُلیکئ،

(۴) دویم داچه دغه لیکلی آیتونه د دیرو صحابه کرامو رض په سینو محفوظ هُم وی (مناهل العرفان جلد ۱ ص ۲۴۵)

دغه رنگ ابن ابی داؤد په کتاب المصاحف کښے سند سره بیان کړیدے چه وَمَا کَانُوا یَکْتُبُوْنَ فِی الصُّحُفِ وَالْاَلْوَاحِ: صحابه ورض به چه کوم قرآن په صحیفو وَالْعُصُبِ وَکَانَ لَا یُقْبَلُ مِنْ اَحَدٍ حَتّٰی: په تختو او د قجورو په خانگو لیکلی و یَشْهَدَ شَاهِدَانِ ... نو هغه به د دوو کسانو د گواهئ نه پس قبلولے شو

عثمانی جمع

د اسلام دائره هرکله چه لویه شوه نو کوم مسلمانان نو قرآنی ایتونه د کوم اُستاذ نه په کوم تلفظ او قرأت سره زده کړی وو نو په هغوی کښے او به نورو هغه مسلمانانو اختلاف پیدا شو کوم موته چه په بل قرأت کښے تعلیم ورکړے شوے وو، لکه څنگه چه بُخاری کښے د حذیفه بن الیمانی دا ذکر شوے خبره ده دے قسمه فتنے دلیل دے کوم چه د آرمینیا او د آذربائیجان د فتح کولو نه پس مدینے منورے ته واپسی کښے د حضرت عثمان رض په خدمت کښے داعرض وړاندے کړو:

اَدْرِكْ هٰذِهِ الْاُمَّةَ قَبْلَ اَنْ یَّخْتَلِفُوْا: په دے اُمت کښے د یهودو او نصارا اِخْتِلَافَ الْیَهُوْدِ وَالنَّصَارٰی ... په شان اختلاف پیدا کیدو نه وړاندے

تاسو دا سنبال کړئ:

تر دے چه په مدینه منوّره کښے هر د اُستاذ انو او شاگردانو په مینځ کښے د قرأت دا اختلاف فتنه پیدا شوه. نو ځکه خو حضرت عثمان رضی الله په خطبه کښے اُفرمایل چه "هر کله تاسو کښے دا اختلاف دے (چه په مدینه کښے یئ) نو نور ... بنارونو کښے خو دده نه هُمره زیات اختلاف پیدا کیدو خطره ده" معنوی خبل الفاظ دادی،

اَنْتُمْ عِنْدِیْ تَخْتَلِفُوْنَ فَمَنْ نَّاٰی مِنَ الْاَمْصَارِ اَشَدُّ اِخْتِلَافًا. (مناهل العرفان جلد ۱ ص ۲۴۵ و اتقان ص ۵۹)

نو بیا هغوی دا قضیه صحابه کرامو رض وړاندے کړه او د هغوی په اتفاق سره حضرت عثمان رض د حضرت حفصه رض نه د قرآن هغه نُسخه را اُوبلله کومه چه د حضرت صدیق رض په زمانه کښ لیکلے شوے وه او د هغے څو یو نقلونه ے واخیستل د دے د پاره چه هغه مشهوره او بناد و نوته اُکیزی او هر د هغے په مُطابق د دے قرآن ذکر کړے او بشود نه جاری وی او د دے نه علاوه د نورو قرآنونو بندیز ے اُکړو، د دے عثمانی مجموعے نوم "امام" حُکمه کیښودے شو چه هغه د نورو قرآنی نسخو پیشوا او امام دے، په اجماع د صحابه کرامو سره د دے لیکل چه د کوم مجلس (کمیټی) په حواله شو، هغه څلور تنه وو، د دے قریش او یو انصاری وو د قریشو صاحبان داوو،

(۱) عبدالله بن زبیر رض (۲) سعید بن العاص رض (۳) عبدالرحمان بن الحارث رض (۴) او زید بن ثابت انصاری وو.

د عثمانی رض جمع د دستور آئین

په عثمانی جمع کښے د دے خبرو خیال اُساتلے شی:

(۱) په مصحف کښے هم هغه څیز درج دی کوم چه یقینی قرآن منلے شی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) داهم معلومه وی چه د حضور علیه السلام په آخری دور کښے د دے تلاوت باقی وو۔

(۳) د کوم صحیح والے چه حضور علیه السلام نه ثابت وی او د هغے تلاوت منسوخ نه وی (مناهل العرفان جلد ۱ ص ۲۵۰) امام سیوطی رح نقل کړیدی چه د دے نسخو شمیر اوه ووچه اوو بنادونو سره تړون لری، یوه نسخه حضرت عثمان رض په مدینه منوره کښے اساتله اونورے مکے مکرمے، شام، یمن، بحرین، بصرے، اوکوفے ته الیږلے (اتقان جلد ۱ ص ۶۰) بیا د دے نسخو نه مسلمانانو بیشمیره نسخے نقل کړے او حضرت عثمان رض حکم اوکړو، چه د دے نه سوا په کومو نورو نسخو کښے چه د قرأت اختلاف وی نو هغه ضائع کړی، د حارث محاسبی نه په اتقان کښے نقل دی چه مشهوره داده چه حضرت عثمان رض جامع قرآن دے مګر په اصل کښے جامع قرآن حضرت ابوبکر رض دے، حضرت عثمان رض خلق د تلفظ (قرأت) په یوه طریقه راجمع کړل، حکمه چه په وړاندینو نسخو کښے د هر قرأت تونه موجود وو خو په اصل مضمون د قرآن کښے تر نه هیڅ فرق نه راتلو حضرت علی رض فرمائی کچرے حکه په دغه وخت کښے امیرالمؤمنین وے، نو ما به هم هغه کول چه کوم حضرت عثمان اوکړل (اتقان جلد ۱ ص ۶۰)

د قرآن آیتونه او سورتونه

عثمانی جمع په ۲۵ سنه هجری کښے اشوه امام زرکشی او نورو علماؤ اجماع په دے خبره نقل کړیده چه د قرآن د آیتونو ترتیب توقیفی دے مطلب دا چه د الله په حکم شوے دے د جبریل د چارلے او خیال کار نه دے کړے د هر آیت په باره کښے به جبریل علیه السلام دا حکم راوړو چه فلانے آیت د فلانی آیت سره یو ځائے اوکلوی، امام احمد د عثمان بن

العاص نه په اسناد حسن سره نقل کړیدے، حضور علیه السلام رض ته وئی دی چه فلانے آیت په فلانی سورت کښے شامل کړئ همدغه رنګ ابوداؤد ترمذی او نسائی کښے د ابن عباس رضی الله تعالیٰ نه نقل شویدی،

كَانَ اِذَا نَزَلَ عَلَيْهِ الشَّيْءُ دَعَا بَعْضَ : یعنی په حضور علیه السلام به چه مَنْ كَانَ يَكْتُبُ فَيَقُوْلُ ضَعُوْا هٰذِهِ : څه وخت څه آیتونه نازل شوی الْاٰيَاتِ فِي السُّوْرَةِ الَّتِيْ يُذْكَرُ : لیکونکے به ئی راوبللو او وے به ئے فِيْهَا كَذَا وَكَذَا : فرمایل چه دا آیتونه په هغه سورت کښے شامل کړه په کوم کښے چه دا دا مضمون دے،

د سورتونو په ترتیب کښے غوره خبره داده چه هغه هم توقیفی دے، مطلب دا چه دا هم د الله په حکم شویدے۔ امام جلال الدین سیوطی رح د کرمانی رح د کتاب البرهان نه نقل کړیدی:۔

تَرْتِيْبُ السُّوَرِ هٰكَذَا هُوَ عِنْدَ اللّٰهِ فِي اللَّوْحِ الْمَحْفُوْظِ : د سورتونو ترتیب هم دغه شان د عَلٰى هٰذَا التَّرْتِيْبِ وَعَلَيْهِ كَانَ صَلَّى اللّٰهُ يَعْرِضُ : الله په نزد په لوح محفوظ کښ دے عَلٰى جِبْرِيْلَ كُلَّ سَنَةٍ : او هم په دغه ترتیب به حضور علیه السلام هر کال جبریل علیه السلام له آوروله:۔

دغه شان د امام بیهقی نه هم منقول دے امام بیهقی په "المدخل" کښ هم لیکلی دی،

كَانَ الْقُرْاٰنُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ : د نبی صلی الله علیه وسلم په زمانه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرَتَّبًا سُوَرُهُ : کښے د قرآن سورتونو او آیتونه وَاٰيَاتُهُ عَلٰى هٰذَا التَّرْتِيْبِ اِلَّا الْبَرَاءَةَ : هم په دے ترتیب وو، وَالْاَنْفَالَ :۔ سوا د سورۂ براءة او سورۂ انفال:۔

ابوجعفر نحاس نه هم دغسے منقول دی، امام سیوطی رح په اتقان

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلد ۲ ص ۶۳ کښے د حذیفه ثقفی رض په روایت یو حدیث دا سے نقل کړے دے کوم چه په مسند احمد او په سنن ابی داؤد کښے هم موجود دے او د ابن رشد د کتاب المصاحف نه هم په تائید کښے دا سے روایت نقل کړیدے چه د قرآن د آیتونو او سورتونو ترتیب هم د الله په حکم شوید ے (توقیفی دے)

امام زرکشی رح په (برهان) کښے لیکلی دی چه څوک د سورتونو ترتیب نه اجتهادی وائی نو هغوی ته هم توقیفی مانی جګړه یواځے د لفظونو ده، حکه چه توقیف عام دے که قولی اوکه فعلی، بهرحال د حدیثو د ذخیرے نه ثابته ده چه د سورتونو مونږ نه په نماز د نبوت کښے مشهور او معروف کوم چه په اتقان کښے شته او دا د ده خبرے ثبوت دے چه د سورتونو ترتیب توقیفی دے،

د عثمانی رض مصحفونو تاریخ

مصحف مدنی

د عثمانی مصحفونو کومه نسخه چه په مدینه منوره کښے اینوده شوے وه نو هغه د شهادت تر وخته حضرت عثمان رض سره وه د هغوی نه پس حضرت علی رض سره اوبیا د خلافت ملاویدا وسره حضرت معاویه رض ته اُسپارلے شوه بیا د اُندلس ته اُرسیده بیا د مراکش دارالسلطنت سره فاس ته اُرسیده (تاریخ ادب لیبی تذکرة المصاحف) بیا په څه طریقه مدینے منوره ته اُرسیده په رُومی جنګ عظیم کښے د مدینے گورنر فخری پاشا نودو نبوکانو سره قسطنطنیه ته یوړه او تر اُوسه هلته پرته ده،

مکی مصحف

مکی نسخه ۶۵۷ هجری پورے په مکه معظمه کښے پرته وه، محمد بن جبیر اندلسی په ۵۷۱ه د هغه د هغه زیارت کړے دو،

مولانا شبلی نعمانی لیکلی دی چه د هغه د سیاحت په وخت د هغه نسخه د جامع دمشق کښے پرته وه او هغوی غالباً د نولسمے صدئ په اخر کښے زیارت کړیدو، کشاف المهدی ص ۱۵۷ کښے لیکل دی، چه سلطان عبد الحمید خان ۱۸۷۶ء نه تر دیرشو کالو پورے حکومت کړیدو په دغه زمانه کښے جامع دمشق کښے اُورا اُلګیدو او د هغه نسخه پکښ اُسوځیده

شامی مصحف

مورخ احمد مقری ۱۰۴۱ه کښے د ده نسخے زیارت کړیدو دا کوفی نه د اُندلس د بادشاهانو بیا د سلاطین موحدینو، بیا د سلاطینو بنی مرین په قبضه کښے راغله او جامع قرطبه کښے پرته وه، قرطبے والو سلطان عبد المؤمن نه ورکړه او هم د ده په حکم ابن الشکوال د مراکش دارالسلطنت ته په رشول ۵۵۲ه یوړه ۵۷۶ه کښے خلیفه معتضد علی بن مامون سره وه او هم په دغه کال د هرکله چه په تلمسان حمله اُکړه نو دے په کښے مړ شو په دے هله کله کښے دغه نسخه ورکه شوه خو بیا د تلمسان بادشاهی خزانے نه راڅرګنده د هغه خاے نه یوسوداګر په بیعه واغسته او فاس ته ے راوړه چه تر اُوسه هلته پرته ده

بصری مصحف

دا نسخه د مصر په کتب خانه خدیوکښ پرته وه، د سلطان صلاح الدین ایوبی یووزیر په ۵۷۵ه کښ دا په دیرش زده اشرفو واغسته،

یمنی مصحف

یمنی مصحف د مصر د جامع ازهر په کتب خانه کښے اُس هم شته

د بحرین مصحف

د ده فرانس په یو کتب خانه کښے پروت دے،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوفی مصحف

دا د قسطنطنیے په کتب خانه کښے شته دے، د حضرت عثمان رضی اللہ
درے نور مصحفونه هم دی په دے کښے دویم مصحف عثمانی دقاهرے
په جامع سیدنا حسین رض کښے شته۔ دریم مصحف عثمانی دتاشقند
ملیه دلی کښے وو، کچرے د تقسیم په هله کله کښے گډاوډ شوے نو
هلته به پروت وی، خلورم مصحف عثمانی د لندن په انډیا آفس
کتب خانه کښے شته په دے لیکل دی، "کَتَبَهُ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانٍ"، دا
د مغلو بادشاهانو سره وو، داکبر بادشاه مُهرهم پرے شته په هغه
کښے دا میجر راونس له کوتونه وړ غلو هغه دا ایسټ انډیا کتب خانے
ته ورکړو۔ د دے یوسل یواتیا صفحے دی او په یو صفحه کښے شپاړس
کرښے دی۔

د قرآن محفوظوالے یو داسے حقیقت دے، چه د هغے اقرار بحیثیت د
اسلام مخالفینو هم کړے دے لیکن بعضے مستشرقینو مثلاً گولډزیهر
وغیره د مسلمانانو د یقین او عقیدے کمزورے کولو د پاره بے سروپیخه
شکونه پیدا کولو کوشش کړیدے، نومونږ اُس ددے نه تاسو خبرول
ددے خلفو اصلی غرض په قرآن کښے گډبُون اوبدلون راوستل دی
دغه گولډزیهر یهودی مستشرق خو بیا په دے ډیر زور لګولے دے
په تفسیری مذاهبو کښ هغه د بیشیره اسلامی کتابونو مطالعه کړیده
او داخپل کتاب کے د "علمی تحقیق" په نوم اُلیکلو لیکن بیا هم د مستشرقینو
د عادت په توګه ددوی هر کتاب تحقیقی او علمی شان کم لری خو
سیاسی شان ډیر زیات لری ددوی یقین دے، چه مسلمانان د خپلو
مرکزونو قرآن او صاحب قرآن نه د ټیکاره سیاسی طاقت په ذریعه
لرے سائل ممکن نه دی نو د خپل اصلی مقصد د تکمیل د پاره دے د ګ

او د سیاست د میدان په ځای علمی میدان غوره کړو او د استشراق
په زهرجنه وسله ے د مسلمانانو د یقین کمزوری کولو او په دوی کښے
ے د شک د زهرو خورلو د پاره د اسلامی تحقیق په نوم کروړونه
روپئی اُلګولے او کتابونه لیکل ے د کامیابئ په اُمید شروع کړه د دوی د کامیابئ اُمید نه دی
را، د مغربی طاقتونو سیاسی ترقی او د مسلمانانو سیاسی تنزل چه دے
نه هغوی دا پے شتونی نتیجه را اُښکله چه پریوتی قومونه د غالب قومونو
هر قسم (غلطه هم) خبره منی او پریقین کوی:

(۲) انګریزی دان یوازے نه بلکه نورو مغرب زده خلق (چه احساس
کهتری کښے مبتلا دی) دیورپ هر مُصنف مُحقق کنړی او د خپل دینی
عالمانو نه کرکه لری، خو بنو نوی تعلیم یافته خلق د دینی تعلیم نه نا
خبره د یورپی مصنفینو هر یو خبره بے تحقیقه منی او دینی عُلماوو ته د کرکے
په وجه هم د کوری نه چنانچه د مسلمانانو دا قسم کمزوری د مستشرقینو
د کامیابئ باعث شوے، او مسلمانانو پخپله د دے نه په شکوک اوشبهاتو
کښے راګیر شوے۔ د قرآن د محفوظیت په بارہ کښے د دوی شبهے اُصولاً دا دی

(۱) د بعضے آیتونو اور وایتونو نه د قرآن د غیر محفوظ کیدو دلیلونه نیول۔

(۲) د اختلافِ قرأت او سبعه احرف نه دلیل نیول۔

(۳) د شیعه و د روایتونو نه حُجت نیول۔

مونږ به دا ټول په لنډه نقل کوو او د دے جوابونه به ورکوو

د بعضے آیتونو اور وایتونو نه دلیل نیول

د سورۂ اعلیٰ آیت	سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسٰٓى اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؛ البته

مونږ به تاته اُلولو نو ته به هیر نکړے خو چه کوم
الله اُغواړی۔

د دے آیت نه مستشرقینو دا نتیجه را اُښکے ده چه د قرآن څو آیتونه هیر کړے

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دا غلط حُکمه ده (ر) چه دا استثناء صُوری ده حقیقی نه ده، په علمی اصطلاح کښے دا قسم استثناء دَخپل فضل یا دَقدرت دَ اظهار دپاره استعمالیږی دے نه دَ یو څیز مستثنےٰ کول مطلب نه وی بلکه مطلب دا دے چه مُونږ به تاته قرآن داسے اُولُوو چه ته به ئے هیر نکړے نو دا دَاللہ فضل او احسان اګنړه ددے مثال داسے دے، لکه دَقُرآنِ کریم په بل یو حائے کښے په جنت کښے دَ جنتیانو د همیشه پاتے کیدو بیانولو نه پس اِلَّا مَا شَاءَ اللّٰهُ چه ذِکر دی، او مطلب ئے دا دے چه جنت کښے هیشوالے دَ اللہ فضل دے، کوندی اللہ تعالےٰ خو دا هیشوالے دَ جنتی ژوندو اپس هم اغستے شی خو دَ اللہ وعده ده چه واپس ئے نه اخلی (ر) دغه نه علاوه که دا مطلب هُم واغستے شی چه ته به ئے نه هیروے خوهله که مونږ ته ئے هم نه هیرول اُغواړو، یعنے دا ستا نه هیرول دَ اللہ په مرضئ موقوف دی. نو بیا هم هیرول حُکمه ثابت نه دی چه قرآن کریم په بل حائے کښے صفا فرمائیلی دی، چه مونږ ته ئے تاسو نه هیرول نه غواړو بلکه حُمونږ دا خوښه ده چه قُرآن دِستاسینه کښے محفُوظ وی، لکه چه سُورهٔ قیامة کښے دی:۔

اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ: سورهٔ القیامه (ر) ستا په سینه کښے دَ قرآن جمع کول دَ هغے محفُوظ کول او ستا په ژبه دَ هغے دَ لوستلو ذمه واری حُمونږ ده په دے سُورت کښے دَ استثنائی صورت جوړه ئے هغه پریکړه اُس خو هغه دَ هیرولو یا هیرید لو سوال نه پیدا کیږی:۔

(ر) دریم جواب دا دے کچرے څه آیتونه هیر کړے شی نو دا به دَ هغے دَ منسُوخ کیدو یو شکل وی په دے دَ قرآن په محفوظیت کښے هیڅ فرق نه راځی یعنی کومه آیتونه چه دَ حضور علیه السلام په سینه مبارکه کښ اللہ تعالیٰ محفوظ اُساتل او هغوی اُمّت ته اُ رَسُول نو هم دا

قُرآن دے اوکه دَ حِکمت په وجه دَ حضور علیه السلام نه هیر کړے شوی نو هغه قُرآن پاتے نشو بلکه خالق کائنات پخپله هغه دَ قُرآن برخه جوړه نکړه، لکه څنګه چه هر حاکم ته اختیار وی چه خپل فرمان کښے څه ټکی او جُمله لیکی اوځه نکی او جُمله تر لرے کوی دا کار دَ فرمان دَ محفُوظیت نه خِلاف نه دے، دا خو دَ صاحب فرمان خپل کار دے دَ بل چا کار خو نه دے، چه فرمان پریکاره کیږی دَ قرآن کریم اِرشاد دے،

قُلْ مَا يَكُوْنُ لِيْٓ اَنْ اُبَدِّلَهٗ مِنْ: اے پیغمبره دا اعلان اُکړه چه مَا يَكُوْنُ لِيْٓ اَنْ اُبَدِّلَهٗ مِنْ تِلْقَآئِ نَفْسِيْ اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى: خپله حاد په وحی الٰهی کښے ردّد اِلَيَّ: (سورهٔ یُونس آیة ۱۵) بدل نشم کولے څه خو صِرف دَ وحی تابعداری کوم:

دحضرت عائشےؓ حدیث

عَنْ عَائِشَةَ اَنَّهٗ عَلَيْهِ السَّلَامُ سَمِعَ رَجُلًا يَقْرَأُ مِنَ اللَّيْلِ قَالَ يَرْحَمُهُ اللّٰهُ لَقَدْ ذَكَّرَنِيْ كَذَا وَكَذَا اٰيَةً كُنْتُ اُسْقِطُهَا مِنْ سُوْرَةِ كَذَا وَكَذَا (رواه مسلم)

حضور علیه السلام د شپے دیوسړی قُرآن واوریده و نو وے فرمائیل چه اللہ دِ په دے رحم اُکړی دے ماته فلانی فلانی آیتونه د فلانی فلانی سورتو نو یاد کړی وو.

دے روایت نه دا ثابتیږی چه دَ قُرآن دغه آیتونه بالکل بیکاره او ضائع شول بلکه دَ دے سړی دَ لوستلو نه وراندے حضور علیه السلام نه دا یادوُو، صحابه کرامونه هم یاد وو. لیکلے شوی هم وو صحابه کرام په لوستل لکه څنګه چه دغه سړی اُلوستل، نو په دے وجه دے آیتونو دَ ضائع کیدو خوځه احتمال پاتے نشو پرته دوهمه خبره دا چه دَ نبی علیه السلام توجُّه ودتله نه وَه او دَ دغه سړی په لوستو دَ نبی علیه السلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

توجُّه بیاورته اُشوه داسے نه چه حضور علیه السلام نه بالکل هیروو
دا خویو عامه محاوره ده خودے سره هوکله چه قرآن دَلیک په شکل
کښے موجُودوو، لکهونوته یادوُو، نویو یا څوکسانو نه که هیرهم شی نودے
سره دَقرآن په محفُوظیت هیڅ اثر نه پریوځی:۔

یو عامه ضابطه. یوعامه قاعده داده چه داسے قسم هرځائے کښے پکار راځی، هغه داده چه قرآن په تواتر او قطعی اجتماع سره ثابت دے دَاعتراض دَیاده کوم روایتونه چه پیش کولے شی هغه خو یا ضعیف وی او یا نور یات نه زیات خبرِ واحد وی، خبرِ واحد ظنّی وی، او ظنّی دَقطعی په مُقابله کښے بیکاره دے، نوځکه داسے ټول قسمه اِعتراضُونه بالکل بے ځایه وی:۔

دَابن مسعود رضؓ روایت

مسند احمد او طبرانی او ابنِ حبان کښے دَ حضرت عبدالله بن مسعود رضؓ نه منقول دَه، چه هغوی به قرآن کښے مُعَوِّذَتین یعنی قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ دواړه سورتونه نه لیکل، دغه شان ابوعبیده رح په روایت دَابن سیرین رح دَابن مسعود رضؓ نه نقل کوی چه هغوی به سورتِ فاتحه په قرآن کښے نه لیکله او حافظ بن حجر رح دَبخاری په شرح کښے دے روایتونو نه صحیح وئیلی دی خودَے خوجوابونه دی:۔

(۱) دَسورۃِ فاتحه او دَدواړو معوِّذتینو قرأت په یقینی تواتر سره ثابت دے نو ظنّی خبر دَدے مُقابله کښے هیڅ نه دے اوکړے دَابن مسعود رضؓ دا انکار ثابت هُم شی نو اجماع او تواتر دیوکس په مخالفت نه ماتیږی کله داسے کیدے شوے نو بیا خو یو مُتواتر هم نه وو پاتے او دَدین ټول کار به بیا ګرنګ وو: (۲) قاضی ابوبکر رضؓ دَابن مسعود دَانکار جواب داوکړے دے

چه داد هغے دَقرأنیت نه اِنکار ندے، بلکه په مصحف کښے دننه دَلیکلو نه اِنکار دے، ځکه چه لیکل دَهغه څیز ضروری وی چه دَکومودَ هیریدو ویره وی او سورهٔ فاتحه او معوذتین داسے سُورتونه نه دی چه دَدے دَهیریدو هڅه او څه امکان نه وو، هم دا جواب ابن قُتیبه په مشکلات القرآن، کښے ورکړے دے اګرچه په روایت کښے اِنَّهُمَا لَيْسَتَا مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ ردا دواړه دَکتاب الله نه نه دی راغلے دے خو دَکتاب الله: مطلب مصحف وی او پُوره مطلب به ئی داشی چه دَدے دواړو په مصحف کښے دلیکلو ضرورت نشته:۔

(۳) ابن الصباغ رح جواب ورکړے دے، چه دا سورتُونه دَابن مسعود رضؓ په زمانه کښے متواتر وو مګر هغوی ته دَتواتُر علم نه وو رسیدلے په دے وجه ئے احتیاط کولو څه وخت چه دوئ ته دَتواتُر علم اُشو نو دَخپل قول نه ئے رُجوع اُکړه، لکه چه عاصم رح په واسطه دَزِرّ دَابن مسعود رضؓ نه قرأت نقل کړیدے چه دا دے واړه سُورتُونه ګڼلے ثابت دی نو دا دَخپل پُومبی قول نه ئے دَرُجوع کولو دلیل دے،

دَدے ټولو جوابونو ضرورت هله پیښیږی چه دَابن مسعود رضؓ دے اِنکار ثابت شی، لیکن دیرو محققینو دَابن مسعود رضؓ دَانکار تردید کړیدے اودے روایت ته ئی موضُوع، باطل او غلط وئیلی دی:۔

قَالَ النَّوَوِيُّ فِي شَرْحِ الْمُهَذَّبِ اَجْمَعَ الْمُسْلِمُوْنَ عَلٰى اَنَّ الْمُعَوِّذَتَيْنِ وَالْفَاتِحَةَ مِنَ الْقُرْاٰنِ وَاَنَّ مَنْ جَحَدَ شَيْئًا مِّنْهَا كَفَرَ وَمَا نُقِلَ عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضؓ بَاطِلٌ لَيْسَ بِصَحِيْحٍ وَقَالَ ابْنُ حَزْمٍ فِي تَذْحِ الْمُعَلّٰى الْمُجَلّٰى

امام نووی رح په شرح مهذب کښے لیکلی دی چه دَمسلمانانو په دے اتفاق دے چه معوِّذتین او فاتحه دَقرآن حصه دَه چه څوک دے نه انکار کوی هغه کافر دے او کوم چه دَابن مسعود رضؓ نه نقل دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

هٰذَا كَذِبٌ عَلَى ابْنِ مَسْعُوْدٍ وَإِنَّمَا صَحَّ عَنْهُ قِرَاءَةُ عَاصِمٍ عَنْ زِرٍّ عَنْهُ وَفِيْهَا الْمُعَوِّذَتَانِ وَالْفَاتِحَةُ (اتقان جلد ۱ صفحه ۷۰)

نوهغه باطل دے درست نه دے ابن حزم محدث په قدح معلّق کښے لیکلی دی چه انکار کول په ابن مسعود رض باندے دروغ ترل دی، حکه چه دَه نه په روایت دَ زِرّ د عاصم قراءت داسے ثابت دے، چه دے کښی دا دواړه سورتونه دی)

دغه رنګ امام رازیؒ په تفسیر کبیر کښ لیکلی دی په اتقان جلد ۱ صفحه ۷۰ کښ تفصیل شته، چه دا ابن مسعودؓ انکار کول نه نووئ باطل وئیلی دی او ابن حزم ورته دروغ او موضوع وئیلی دی

د قراءاتو اختلاف او د احرف

مستشرقین د قرآن د تحریف یو دا دلیل هم وړکوی چه دے کښے گنې قراءتونه وی (یعنی یو قراءت نه دے) نو دا دلیل حکه غلط دے چه تحریف هغه دے چه په بادشاهی دستاویز کښے د اصل متکلم او د دستاویز جوړونکی نه بغیر بل څوک زیاتے کړے او کړی، که بادشاه پخپله دے کښے زیاتے کړے او کړی نو هیڅ عقلمند دے ته تحریف نه وائی.

د قرآن پاک قراءت دوه قسمه دے (۱) متواتره او (۲) غیر متواتره، دا دویم قراءت د قرآن حکم نه دے چه د اصول امامان په دے متفق دی چه قرآنیت د پاره تواتر شرط دے، او هم قراءاتِ متواتره قرآن دے دے نه تحریف نه ثابتیږی، تحریف دے ته وئیلی شی، چه غیر قرآن په قرآن کښے داخل کړیشی او یا د قرآن څه برخه د قرآن نه بهر کړیشی نو د قراءت اختلاف په دے دواړو کښے یو هم نه دے لانور داچه امام زرکشیؒ په برهان کښے لیکی چه قرآن د الفاظو نوم دے او د قرآن قراءت د الفاظو د تلفظ او د ادا طرز دے، نو دے په زیا توالی د

د قرآن په الفاظو کښے هیڅ کمے زیاتے نه راځی (اتقان جلد ۱ صفحه ۷۰)

اوه قراءتونه

په برهان کښے امام زرکشی لیکلی دی چه قرآن د وحی هغو الفاظو نه وئیلی شی چه حضور علیه الصلوٰة والسلام ته د احکامو بیانولو د پاره کوم چه په معجزانه انداز نازل شوی دی او قراءت دَدے تلفظ او د ادا طرز نه وئیلی شی، اوه قراءتونه تر اوو قاریانو په تواتر ثابت دی، او بیا د دغه اوو امامانو نه تر حضور علیه السلام پورے سند د قراءت په کتابونو کښے موجود دے، چه یو راوی دبل نه نقل کړیدی لیکن په اتقان کښے د ابن جزری نه نقل دے چه حضور علیه السلام پورے هم د اوه قراءته متواتر دی:-

وَقَدْ نَصَّ عَلٰى تَوَاتُرِ ذٰلِكَ كُلِّهٖ ؛ د اصولو امامانو بنکاره بیان کړیدے اَئِمَّةُ الْاُصُوْلِ كَقَاضِيْ اَبِيْ بَكْرٍ ؛ چه اوه قراءتونه سراسر د حضور غَيْرِهٖ وَهُوَ الصَّوَابُ لِاَنَّهٗ اِذَا ؛ علیه السلام پورے متواتر دی ثَبَتَ تَوَاتُرُ اللَّفْظِ ثَبَتَ تَوَاتُرُ ؛ نو هر کله چه الفاظ متواتر شو نو د هَيْئَةِ اَدَائِهٖ لِاَنَّ اللَّفْظَ لَا يَقُوْمُ ؛ هغ تلفظ او ادا هم متواتره شوه اِلَّا بِهٖ وَلَا يَصِحُّ اِلَّا بِوُجُوْدِهٖ ؛ حکه چه تلفظ او ادا الفاظو سره تړلی (اتقان جلد ۱ صفحه ۷۰) دی رځان له دَدے وجود نشته

صحابه رض قاریان

هغه قاریان اوه دی کومو چه نبغه په نبغه د حضور علیه الصلوٰة والسلام نه قراءت زده کړو. د قاریانو په نوم مشهور شول، د رسول قاریانو اُستاذان او شیوخ دی او د دوی قراءت په ټولو مسلمانو ملکونو کښ خور شو حتّٰی چه تر اوسه داشته (۱) حضرت عثمان رض (۲) حضرت علی رض (۳) اُبَیّ بن کعب رض (۴) زید بن ثابت رض (۵) عبد الله بن مسعود رض

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۶) ابوالدرداء رض (۷) ابوموسی اشعری رض (مناهل العرفان جلد ۱ صفحه ۴۰۷)

اوه قرأتونه

(۱) ابن عامر رح چه نومئی عبدالله یحصبی دے یحصب د حمیر قبیلے د یو شاخ نوم دے داهغه منسوب دے، ابونعیم او ابوعمران کنیت دے، تابعی دے، ده د مغیره بن ابی شهاب المخزومی نه قرأت حاصل کړے وو او هغه د حضرت عثمان رض او هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه، دا عامر په ۱۱۸ هـ کښے په دمشق کښے وفات شو:

(۲) ابن کثیر نومئی عبدالله بن کثیر دارمی، ابومحمد یا ابومعبدئی دے، داد مکے معظمے د قرأت امام وو دوی د مجاهد نه قرأت حاصل کړے وو هغوی د ابن عباس رض نه دوی د اُبی بن کعب رض نه او اُبی بن کعب د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه حاصل کړے وو، د ابن عامر ده بالواسطه شاگردان هشام او ابن ذکوان مشهور دی او د ابن کثیر ده بالواسطه شاگردان البزی او قنبل مشهور وو، دا ابن کثیر رح په ۱۲۰ هـ کښے په مکه مکرمه کښے وفات شو:

(۳) عاصم، عاصم بن ابی النجود ئے نوم، په قرأت، فصاحت او خوش آوازئے کښے مشهور وو. دوی د زِرّ بن حُبیش او هغوی د عبدالله بن مسعود رض او هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه قرأت حاصل کړے وو، د نافع رح کنیت ابوروم دے دوی (۱) قالون ابوموسی، عیسی بن منیا النحوی، د قالون معنی "گره" ده قرأت د یزید کره وو محکمه وه تر قالون و بُحیلے شی المتوفی ۲۳۰ هـ او (۲) ورش نوم د عثمان سعید المصری دے، په قرأت او خوش آوازئے کښے بیمثاله وو په مصر کښے ۱۹۷ هـ کښے وفات شو د دوه هغه مشهور شاگردان دی چه کوموچه دده د قرأت سلسله چلیدله ده:-

(۴) الکسائی، ابوالحسن علی بن حمزه الکسائی النحوی په احرام کښے بنئ کساء (خادر) (لنگ) اغوستو نکه په کسائی مشهور شو، په نحو ډیر بیت

او هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه قرأت حاصل کړے وو د یزیدی په واسطه د هغوی مشهور شاگردان دوه دی (۱) دوری ابوعمر حفص بن عمر المُقری العزیز البغدادی المتوفی ۲۴۶ هـ (۲) ابوشعیب صالح بن زیاد المتوفی ۲۶۱ هـ

۵. حمزه بن حبیب بن الزیات الکوفی مولی د عکرمه بن ربیع التیمی دوی د اعمش نه هغوی د یحیی بن وثاب نه هغوی د زِرّ بن حُبیش نه او هغوی د عثمان رض، حضرت علی رض، حضرت عبدالله بن مسعود رض نه او بیا دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه قرأت حاصل کړے وو. د دے د عربیت د علم، فرائضو او د علم حدیث ماهر وو په ۱۵۶ هـ کښے په حلوان کښے وفات شو، د ابوعیسیٰ واسطه د دوی دوه مشهور شاگردان سلیم بن عیسیٰ الکوفی خلف المتوفی ۲۲۹ هـ او خلاد المتوفی ۲۲۰ هـ وو او د دوی د قرأت سلسله په دواړو روانه شوه وه:-

(۶) نافع بن عبدالرحمٰن بن ابی نعیم المدنی، دوی د ابوجعفر القاری او د نورو او ۷۰ تابعینو نه قرأت حاصل کړے وو. کوموچه د ابن عباس رض او د ابوهریره رض نه او دے دواړو د اُبی بن کعب رض نه او هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه قرأت حاصل کړے وو، د نافع رح کنیت ابورویم دے د دوی (۱) قالون ابوموسیٰ، عیسی بن منیا النحوی، د قالون معنی "گره" ده قرأت د یزید کره وو محکمه وه تر قالون و بُحیلے شی المتوفی ۲۲۰ هـ او (۲) ورش نوم د عثمان سعید المصری دے، په قرأت او خوش آوازئے کښے بیمثاله وو په مصر کښے ۱۹۷ هـ کښے وفات شو د دوه هغه مشهور شاگردان دی چه کوموچه د ده د قرأت سلسله چلیدله ده:-

(۷) ابوعمرو مازنی بن العلاء عمار البصریؒ، دوی د سعید بن جبیر رض او مجاهد رض او بیا دے دواړو د ابن عباس رض نه او هغوی د اُبی بن کعب رض

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوپه قرآن کښے بمثاله ووسنه ۱۸۶ هـ کښے وفات شو ۔

په لسو قاریانو کښے نور درے دا دی:۔

(۸) ابوجعفر یزید بن القعقاع دَ دوی دَ قرأت سند دَ ابن عباس رض او ابی هریره رض دے دوارو دَ ابی بن کعب رض نه اودَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دے المتوفی سنه ۱۳۰ هـ ۔

(۹) یعقوب بن اسحاق الحضرمی ۔ دوی دَ عاصم او ابوعمرو بن العلاء دَ قرأت حاصل کړے وو المتوفی سنه ۲۰۵ هـ ۔

(۱۰) خلف بن هشام بن ثعلب، کنیت ابومحمد دے دَ عاصم بالواسطه شاګرد وو المتوفی سنه ۲۲۹ هـ (طبقات القراء لابن الجزری و مناهل العرفان جلد ۱ ص ۴۲۹ تا ۴۵۰)

اَحرُفِ سبعه

په اُووُ اَحرُفو دَ نزولِ قُرآن حدیث دَ بوولسو صحابُو نه روایت شوے دے ابوعبید بنکارلے چه دا متواتر دی، اتقان جلد ۱ ص ۴۵ په صحیحینو کښ دا ابن عباس رض روایت دے الفاظ دادی چه حضور علیه السلام فرمائیل چه جبرئیل علیه السلام ماته یو حرف اُ لولو ما نور هم اُ غوښته نو هغوی به ما ته زیاتول ..... تر دے چه اُووُ ته رَاَرسیدل دَ دے حدیث په شرح کښے امام سیوطی په اتقان جلد ۱ ص ۴۵ کښے څلویښت اَقوال او علامه آلوسی په روح المعانی کښ اُوه اقوال نقل کړیدی، غوره یزه خبره دا ده چه دَ اُووُ حرفو مطلب دَ عربو قبیلو اُوه لغتونه دی، گوندَ دیر فصیح اُو قبیلوو وو دادی (۱) قریش (۲) هذیل، (۳) تمیم (۴) اَزد (۵) ربیعه (۶) هوازن (۷) سعد بن بکر دا غوره قول دے حُکه چه ابوعبید، ثعلب، زهری او علماؤ بلکه عطیه هم دے ته مختار (غوره) وئیلے دے او بیهقی په شعب الایمان کښے دے ته صحیح وئیلی دی، اتقان جلد ۱ ص ۴۷ وروح المعانی

په دے قول امام سیوطی رح دا سے اعتراض کړے دے، چه دا اُوه قرأتونه یوازے دَ قُریشو وُو، حُکه چه دَ عُمر او دَ هشام دَ قرأت په جکړه کښے حضور علیه السلام دَ دوارو تو صحیح اُو ئیل حالانکه دا دواړه قُریشیان وُو، دا سے ابوقتیبه او ابوعلی الاهوازی هم وائی، خو هُمونږ په خیال کښے دا اعتراض صحیح نه ښکاری، حُکه چه کیدیشی چه دَ نبی علیه السلام زهغه یو صاحب دیوے قبیلے په قرأت اودویم صاحب دَ بلے قبیلے په قرأت آوریدلی وی نه دا چه کولزے دَ قریشو دا اُوه قرأته (لُغاته) وُو:۔

دَاُووا اَحرُفو حکمت

په شروع کښے دَ اُووا و لُغاتو قرأت او بیا صرف دَ یو لُغت قرأت مقرر کولو حکمت دادے (والله اعلم) دَ قرآن ښکاره بیان دے بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ ۝ چه قرآن په عربی ژبه کښے نازل شوے دے، خو په بعضے مخصوصو الفاظو کښے دعربو قبیلو اختلاف وو لکه څنګه چه کَهِيْتُ او لکهنتُ په اَردو کښ یا دَ پیښور او دَ قندهار په پښتو کښے:۔

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهٖ:۔ موبنږهر رسول دَ هغه دقوم په ژبه کښے جوړ کړے وو)

ښکاره خبره دا ده چه دَ حضور علیه السلام خاص قوم قُریش وو اعمام قوم ئے عرب وو دَ عربو قبیلے په تعصُّب کښے دومره زیاتے وے چه ژبے په خاصو ټکو په خاص طرز او تلفُّظ باندے به ئے مړ کونه کول نو دَ الله تعالےٰ حکمت دا وو چه اسلام په ابتداء کښے کچرے دوی ته یوازے دَ قُریشو لُغت مخصُوص او مقرر کړیشی، نو کیدے شی چه دَ دغے تعقب په وجه دَ عربو هغه نورے قبیلے دَ قُرآن نه هُم فیض وا خلی نو هر یو قبیلے ته په دے غرض په خپل لُغت کښے دقرأت اجازت حُکه ورکړے شوچه یو خو به دَ قُرآن نه فیض یاب شی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبل به د خپلے محرومئی په سبب د تعقب او ضد بنکار نشی د
عثمانی رض جمع قرآن په وخت کښے هرکله چه اسلام ډیر خور شو د
قبیلو خصوصیتونه او خان خانی ختمه شوه نو ټول مسلمانان یورونړه
شول د ژبے وغیره هیڅ فرق په دوی اثر نشو غورزولے نو په مصحف
عثمانی کښے صرف د قریشو په لغت د نبی علیه السلام په ژوبی حکم
او یا د مذکور علت او سبب ختمید و په وجه اکتفا اوکړے شوه لکه څنګه
چه مؤلفة القلوب په زمانه د نبوت کښے د زکوٰة مصرف وو، لیکن فاروقی
زمانه کښ د اسلام د طاقت اغستو په وجه د اعلت او سبب پاتے نشو
حکه دوی بیا مصرف د زکوٰة نه خارج کړے شوو لسے نور هم ډیر
احکام امام زرکشی په برهان کښے نقل کړیدی چه د علت او سبب
ختمید و په وجه هغه ختم کړے شوی دی۔

د قرآن تحریف ثابتولو د پاره مستشرقینو دا اوه حرفونه یا اوه
لغتونه هم دلیل جوړ کړیدے، خو داحکه صحیح نه دے لکه څنګه
مونږ وړاندے ذکر کړل چه تحریف د بل چا زیاتی کمی نه وئیلی شی
کچرے متکلم (دلته الله پاک) پخپله په خپل کلام کښے کمے زیاتے څه
مصلحت د پاره اوکړی نو دے نه تحریف نشی وئیلے لکه څنګه چه د
بادشاهانو او د نورو حاکمانو په حکمونو کښے د ایو عام معمول دے او
د هغه رنګ د تیر شوی مصلحت په بنیاد اول په اوو قرأتونو د قرآن
دلو ستے اجازت او بیا د اموقوف کول او په یو خاص لغت (د قریشو) د
قرآن قرأت تحریف نه دے بلکه دا تصرّف الٰهی په خپل کلام (قرآن)
کښے دے چه په دے حق د ټولو روغو خلقو اتفاق دے چه پخپله خبره
یا حکم کښے متکلم زیاتے کمے کولے شی، د هغه رنګ منسوخ التلاوة
(د رجم) ایت هم اوګڼړه چه اول د قرآن برخه وه او بیا د قرآن

نه د دے تلاوت اوښکلے شو، نو دا تصرف په قرآن کښے د قرآن د نازلونکی
پخپله وو نه چه د بل چا لکه چه فرمائی:-

قُلْ مَا يَكُوْنُ لِيْ اَنْ اُبَدِّلَهٗ مِنْ تِلْقَآئِ نَفْسِيْ اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ (یونس آیة ۱۵)	نه اعلان اوکړه چه دا قرآن د خپله خانه نشم بدلولے هر خوم د هغے تابعداری کوم کوم چه ما ته وحی کیږی:-

د هغه رنګ د خلع سورت چه د اُبی رض په مصحف کښے وو او بیا منسوخ
التلاوت شو نو دا تصرف الٰهی وو د بل چا نه د دے سره سره دا هم
حقیقت دے چه په اعجاز کښے منسوخ التلاوت آیتونه د قرآن حکیم
مستقل آیتونو سره هرګز برابر نه دی بلکه کم دی حکه خو معلومیږی
چه د رب هیڅ نه د غه آیتونو د مستقل پریښودو الله تعالیٰ اراده نه
وه

اوه قرأتونه

د اوو حرفونو د حدیث دویمه تشریح اوه متواتر قرأتونه دی، د
تحریف اعتراض په دے هم حکه نشی کیدے چه د اوه وارہ قرأتونه
هم قرآن دے په قرآن کښے دے سره هیڅ کمے زیاتے نه راځی، په دے
صورت کښے د اوو حرفونو مطلب د تلفظ اوه طرزونه دی، د حرف، بخوی
معنے، مطلب نه دے بلکه لغوی معنیٰ مطلب دے، چه معنیٰ ئے اوه
قرأتونه دی، قرأتونه خو د اوو نه زیات دی او په حدیث کښے اوه
یاد یږی، دا ولے؟

د دے جواب یو هغه دے کوم چه اتقان د جزری نه نقل کړیدے
هغه وائی چه ما د صحیحو، شاذو او د ضعیفو ټولو قرأتونو نه چاڼ
اوکړو نو معلومه شوه چه آخرکښ دا ټول د اوو نه بهر نه دی (اتقان
جلد ۱ صـ ۴۷) کچرے د اوو نه زیاتی هم وی، نو دد ے هم څه پروا

(c) ketabton.com: The Digital Library

حُکه نشته چه داُوو نه مطلب مشهور قرأتُونه دی اوبل داچه لفظ داُوو (سبع) دَحصرد پاره نه دے، دویم داحدیث دَ نبی علیه السلام رُوبهبے دے، اواُوه قرأتُونه بیارُ ستوظاهر شوی اوتصنیف شوی دی داځکه چل دے، نودَ دے جواب دادے چه اُوه واړه قرأتُونه دنبی علیه السلام په وخت کښے وو، حُکه خودَ هغوئ نه داتول داُوو مشهورو قاریانو رضی الله عنهم په ذریعه روایت شوی دی، صِرف دَدے کتابُونه رُستو جوړ شوی دی۔

دریم اعتراض دادے چه هرایت کښے خواُوه قرأتُونه نه جاری کیږی، نو جواب ئے دادے چه په تول قرآن کښے داُوو قرأتونو وجود بنودلے شوے دے نه چه په هرآیت کښے۔

دَ اسلام مخالفینو په مصحفِ عثمانی خواعتراضونه کړیدی چه په هغے کښ مستشرقین پیش پیش دی۔ مُربنزاُس هغه نقل کړو اودوار په وار به دَ هغے جواب ورکړو۔

(۱) رُوبهبے اعتراض دادے چه څه وخت حضرت عُثمان رضی الله تعالیٰ ته مصحفونه وړاندے کړیشو نو هغوی اُفرمائیل۔ اِنَّ فِی القرآنِ لَحْنًا سَتُقِیْمُهُ الْعَرَبُ بِاَلْسِنَتِهِمْ (رُوح المعانی جلد ۱ ص ۲۸) په مصحف عثمانی کښے دا سے غلطئ دی چه عرب به ئی په خپلو ژبو درست کړی هم داشان په فوزالکبیر کښے دی: نواول جواب ئے دادے لکه چه علامه آلوسی لیکی، لَمْ یَصِحَّ عَنْ عُثْمَانَ اَصْلًا، (چه دادروایت دحضرت عثمان رضی الله عنه بالکل ثابت نه دے۔

(۲) دویم جواب دادے چه په مصحفِ عثمانی دَصحابه وُ اجماع ده اور رسمِ عثمانی هم وحی سره ثابت دے، نو په غلطه څنګه اجماع کیدے شی، (۳) دریم جواب دادے، چه حضرت عثمان د مصحف عثمانی

کاتبانو ته په جمع شابا سے ورکړووے فرمائیل، اَحْسَنْتُمْ وَاَجْمَلْتُمْ ناسو دیربنه اوښائسته کار اُکړو نیو صحابی په غلط کار څنګه شایلے سے وو کولے شی، بل داچه ابوعبیده دَعبدالرحمن بن هانی نه نقل کړیدے والی چه حُکه حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ سره وُم کاتبانو چه دغه مصحف حضرت عثمان ته وراندے کړو نو هغوی قلم دوات طلب کړو، اوددے غلطیانے ئے درستے کړے (۱) لَمْ یَتَسَنَّ ئے "لَمْ یَتَسَنَّهْ" کړو (۲) لَا تَبْدِیْلَ لِلْخَلْقِ ئے "لَا تَبْدِیْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ" کړو، اور (۳) اَمْهِلِ الْکٰفِرِیْنَ ئے مَهِّلِ الْکٰفِرِیْنَ کړو، (تفصیل وراندے هم ذکر شوے دے) داسے وړے دَکتابت غلطئ هرکله چه حضرت عثمان رضی الله عنه درستے کړے نونورے څنګه غلطئ به ئه په کښے څنګه پریښوے۔

خلوُرم داچه دلته د لحن" معنے غلطی نه ده بلکه دَقرآن هغه صحیح الفاظ دی په کوموچه دغه وخت دَعربو ژبه نه چلیده اود هغوی دخبرو په طرز نه ووه نو حضرت عثمان رضی الله عنه اُفرمائیل چه عرب به ئے په بیابیا تلاوت قابو کړی اوژبه به ئے پرواوړی، دے کښے شک نشته چه دَلحن دوه معنے دی، (۱) غلطی (۲) طرزِ کلام دحضرت عثمان رضی الله عنه په روایت کښے دادویمه معنی مُراده ده کومه چه امام راغب رحمه الله په مفردات القرآن کښے لیکلے ده خو دے ته لحنِ محمود وئیلے شی لکه دَ عربو شاعروائی: خَیْرُ الْحَدِیْثِ مَا کَانَ لَحْنًا (بنه خبره هغه وی چه په بنه طرز اُوئیلے شی) ہر او هم دغه معنی دَقرآن په "وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِیْ لَحْنِ الْقَوْلِ" کښے استعمال ده لَعَلَّ بَعْضُکُمْ اَلْحَنُ بِحُجَّتِهٖ ددے مطلب دادے، چه دَمقدمے یوفریق دفصیح طرزِ کلام ماهِر وی، نوځُکه دهغوی په خبره فیصله کوم کچرے داخبر واقعی دهغه حق نه وی نوداډِکړی به دَهغه په حق کښے داور یوتاکړه وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے حوالو، مطلب داچه د لحن نه یوازے غلطی نده مراد ده
بلکه یوخاص طرزِ تلفظ مُراد دے:۔

پنځم داچه د لحن مطلب د رسم الخط لحن دے مزید تشریح ځ
داده چه په مصحف عثمانی کښے څه رسم الخط د تلفظ سره مطابق
نه وی، لیکن د ژبے (عربی) والا به ئے پخپله درسته کړی، لکه څنګه
چه په انګریزی کښے د یر داسے لیکل دی، چه د تلفظ مطابق نه دی خو
د ے ژبے والا ئے پخپله درست کوی:۔

د تحریف په بارہ کښے دابن عباس رض روایتونه

مستشرقینو دابن عباس رضی اللہ

څه روایتونه نقل کړیدی بلکه وَقَضٰی رَبُّكَ په ځائے وَوَصّٰی رَبُّكَ
او د مَثَلُ نُوْرِهٖ په ځائے مَثَلُ نُوْرِ الْمُؤْمِنِ ؛ د دے لسے روایاتونه
نه خود قرآن په معنٰے څه خاص فرق نه پریووځی خوبیاهم صاحب
د مناهل العرفان د ے څوجواب ورکړی دی:۔

(۱) اِنَّ هٰذِهٖ رِوَایَاتٌ ضَعِیْفَةٌ: دا ضعیف روایتونه د حضرت عبداللہ
لَمْ یَصِحَّ شَیْءٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: بن عباس رضی اللہ تعالے نه ثابت نه دی
(۲) دا روایتونه د قرآن د قرأت متواتره نه خلاف دی ځکه بیکاره دی
عام جواب دا د ابن عباس رض نه د اسلام مخالفینو څومره روایتونه چه نقل
کړیدی د هغے ټولو عام جواب داد ے چه ابن عباس رض په قرآن
او په قرأت کښے د زید بن ثابت رض او د اُبی بن کعب شاګرد ے او دا دواړه
حضرات د هغے کمیټئ ارکان دی، کوم چه حضرت عثمان رض د قرآن د جمع
د بارہ مقرر ده کړے وه، نو د ده د ے دوارو اُستاذانو اونورو لویو صحابه د
چه د کومو الفاظو د قرآن سره اتفاق کړیوی، نو ابن عباس رض د هغے
هیڅرنے مخالف کیدے نشی نو دا روایتونه اول خوضعیف او بے اعتباره

دی که ثابت هم شی نو د قرآن د مُتواتر و الفاظو مقابله د یوکس بیان
نشی کولے لکه چه بغداد بنار په تواتر ثابت د ے که یوکس د ے خلاف
بیان ورکړی نو هغه اعتباری او د منلو نه د ے، اصلی خبره دا ده
چه څوک صحابه کرامو نه دا سے کچه خبره منسوب کوی نو دا د ے
دلیل د ے چه دا نسبت کوونکے کچه سړے د ے او د ده خبره د اعتبار
کولو او د منلو جوګه نه ده:۔

شیعه او د قرآن تحریف

مستشرقین پخپله د قرآن په تحریف ثابتولو کښے پاتے راغلے نو دا بُوښه
ځ خوشی کړل چه د مسلمانانو یوغټه فرقه (شیعه) د قرآن د تحریف
قایله دی او دا ازے ورله هغه کیښود کوم چه دابنائی چه د شیعه و
منلے عقیده ده ده چه قرآن کښے تحریف شته خو دا ځکه غلط دی چه د
شیعه وُهم هغه عقیده ده کومه چه د سُنّیانو ده هغه داچه قرآن
پُوره او مکمّل محفوظ د ے په د ے کښے د یر حرف کے زیاتے نشته د
شیعه وُ د د یرو کتابونو حوالے دا دی:۔

(۱) شیخ صدوق ابو جعفر محمد بن علی بابویه په رسالهٔ اعتقادیه کښ یکی
مَا بَیْنَ الدَّفَّتَیْنِ لَیْسَ بِاَکْثَرَ مِنْ: کوم قرآن چه د د ے دوو دفتیو په
ذٰلِكَ وَمَنْ نَسَبَ اِلَیْنَا اَنَّهٗ اَکْثَرُ: مینځ کښے د ے د ے نه نور زیات
فَهُوَ کَاذِبٌ: ☆ ☆ ☆ نشته او څوک چه موبز ته د ے
نه د زیات منلو نسبت کوی نو هغه دروغژن د ے،

(۲) په تفسیر مجمع البیان دابوالقاسم علی بن الحسین المُوسوی کښے دی
اِنَّ الْقُرْاٰنَ عَلٰی عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ: قرآن د نبی علیه السّلام په زمانه
صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَانَ مَجْمُوْعًا: ☆ کښے هم د غسے جمع وو لکه چه
مُؤَلَّفًا عَلٰی مَا هُوَ الْاٰنَ وَذَکَرَ اَنَّ مَنْ: اُس د ے او کوم امامیه یا حشویه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خَالَفَ مِنَ الْإِمَامِيَّةِ وَالْحَشْوِيَّةِ لَا ؛ چه دَ دے خلاف کوی نو په هغے
يُعْتَبَرُ بِخِلَافِهِمْ لِأَنَّهُمْ قَبِلُوا الْأَخْبَارَ ؛ حُکمه اعتبار نشته چه هغوی
الضَّعِيفَةَ ؛ ؛ ضعیف خبرونه قبول کړیدی ؛

سید مرتضٰی شیعه لیکی

إِنَّ الْعِلْمَ بِصِحَّةِ الْقُرْآنِ كَالْعِلْمِ ؛ داُسنی قُرآن دَ صحت علم دا سے
بِالْبُلْدَانِ وَالْوَقَائِعِ الْكِبَارِ ؛ ؛ یقینی دے لکه دَ مشهور بنارونو
دَ موجودګئی او یا دَ لویو لویو تاریخی واقعاتو علم ؛

قاضی نورالله الشوستری شیعه په مصائب النواصب کښ لیکی

مَا نُسِبَ إِلَى الشِّيعَةِ الْإِمَامِيَّةِ ؛ ؛ کومه خبره چه امامیه شیعه وُته
بِوُقُوعِ التَّغْيِيرِ فِي الْقُرْآنِ لَيْسَ ؛ ؛ منسُوب شوے دے هغه چه هغوی په
مِمَّا قَالَ بِهِ جُمْهُورُ الْإِمَامِيَّةِ وَإِنَّمَا ؛ ؛ قُرآن کښے تحریف مَنی دا دَ ټولو امامیه وُ
قَالَ بِهِ شِرْذِمَةٌ قَلِيلَةٌ مِنْهُمْ لَا ؛ قول نه دے بلکه دَ دوی دَ یوو ډلو کی
اِعْتِدَادَ بِهِمْ، وَقَالَ الْمُلَا صَادِقُ ؛ ټولی قول دے کوم چه بے اعتباره دی
فِي شَرْحِ الْكُلَيْنِيِّ يُظْهِرُ الْقُرْآنُ ؛ اومُلا صادق په شرح کلینی کښ لیکی
هٰذَا التَّرْتِيبُ عِنْدَ ظُهُورِ الْإِمَامِ ؛ چه قرآن به هم په دے ترتیب دولسم
الثَّانِي عَشَرَ ؛ امام ظاهر وی ؛

محمد بن حسن الحر العاملی دَ امامیه شیعه وُلوئے محدث په خپله رساله کښ
لیکی کومه ځے چه د خپلے زمانے دَ یو عالم په رد کښ لیکلے ده چه
هر کسے که تتبُّع اخبار و تفحُّص تواریخ و آثار وکړی چه هم چه دَ اخبارو، آثارو او تواریخو لُټون
نموده بعلم یقینی میداند که قُرآن در غایت ؛ اُګرو هغه یقیناً پوهیږی چه موجوده
درجهٔ تواتر بوده و آلاف صحابه ضبط ؛ قُرآن په انتهائی تواتُر سره ثابت دے او په
ونقل کرده وآن در عهد رسول الله مجموع و ؛ زړګونو صحابه کرام موهغه نقل کړے او
مؤلف بوده، ؛ ضبط کړیدے او هغه دَ حضُور علیه السلام په زمانه کښ لیکلے شوے او جمع شوے

فروع کافی کتاب الروضة ص۸۵ کښ حضرت علی رض نه روایت دے

هُوَ كِتَابٌ كَرِيمٌ فَضَّلَهُ وَفَصَّلَهُ وَ قُرآن یو عزتمند کتاب دے کوم له چه
بَيَّنَهُ وَأَوْضَحَهُ وَأَعَزَّهُ وَحَفِظَهُ الله تعالیٰ فضیلت او بُزرګی ورکړیدے
مِنْ أَنْ يَأْتِيَهُ الْبَاطِلُ بَيْنَ يَدَيْهِ اوهغه ته دَ باطل دَ ګډوون نه محفُوظ کړیدے

شیخ صدوق دَ رساله عقائد کښے لیکی،

اَلْقُرْآنُ الْمُنَزَّلُ وَمَا بِأَيْدِي النَّاسِ ؛ نازل شوے او دَ خلقو په لاسونو
وَاحِدٌ لَا زِيَادَةَ فِيهِ وَلَا نُقْصَانَ ؛ ؛ کښے موجود قُرآن یو دے چه په
هغے کښ کمے زیاتے نشته

دَ شیعه وُ دا دے مستند وحوالونه پس دا حقیقت بنکاره کیږی چه دَ یوخو
بے اعتباره خلقو نه سوا په شیعه وُ کښ هم په قرآن کښ دتحریف یا دکمی زیاتی قائل نه دی
نور تفصیل دَ نعمان آلوسی په کتاب الجواب النصیح لما لفقه عبد المسیح،،
کښے اُګورئ قُرآن حکیم دَ تحریر او دِ ماغ په دولړو اړخونو محفُوظ دے او دَ
قُرآن الفاظ او مطالب دواړه معجزه دی ؛

دَ بائیبل تحریف

دا دے په عکس دَ بائیبل نه تاریخی بنیاد شته او نه علمی دانجیلونوخو
داحال دے چه (۱) اصل انجیل یووا واُس څلورد ی، او بخآر په قصص
الانبیاء کښے لیکلی دی چه دَ یورپ محققین دا مَنی چه پوه مبودرے
صدو کښے دَ سلو نه زیات انجیلونه وو، چه څرمُوده پس دَ هغے نه څلور
انجیلونه دَ نائیسیا په کلیسا کښے دَ یو فال په بنا چُونړ کړے شُوا ونور انجیلونه
پریښوے شو،،

(۲) دیورپ سکټس دَ زړے کتب خانے نه انجیل برنابا راُوَ توچه دسُورت
مریم په مطابق دَ حضرت مسیح پیدائش او زیږے په پیغمبرانه اسلام مشتمل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوپ خاص شاګرد (فرامرشو) چه دا اُلیدو نو مُسلمان شو دا انجیل المنار، پریس کښے چاپ شوے دے د یُورپ محققین په دے مُتفق دی چه په دے انجیلونو کښے یو هُم د حضرت عیسیٰ علیه السلام نه دے او نه د هغے ترجمه ده او نه د دے څه سل شته، د مسیحیت مشهور دُشمن پولوس دامشهور ګرځیدلے چه ما ته مسیح علیه السلام لاس را اُړے دے، ځکه چه هغه غورزیدلے وو نو هغه اُوویل چه اُس به د مسیح په هدایت د مسیحیت د دُشمنئ په ځائے د هغه د تبلیغ کوشش کوم هغه او سینټ پال مسیحیت ګډوډ کړو د ډائرة المعارف مسیحی مصنف البُستانی لیکی چه لوقا خو د مسیحیت یو خراب دُشمن سینټ پال نه مسیحیت راغلے دے او اِبنیّت، کفاره، شراب، مردار او خنزیر حلالولے ئے په مسیحیّت کښے شامل کړو او دا ئے د خرابو یو مجموعه جوړه کړه

انجیل متی د زړو نصارای و اتفاق دے چه دا اصلی انجیل نه دے او نه د هغے ترجمه ده کچرے ترجمه ئے وی نو د ترجمے زمانه او د مترجم نوم نه دے معلوم، متی دا انجیل ۱۳۹ سنه، کښ په بیت المقدس کښے کینا ستو او وے لیکلو دے خو د حضرت عیسی علیه السلام صحابی هُم نه دے، زوبن بغانی داسے لیکلی دی:

مرقس پطرس ګوا ناګو په مروج الاخبار کښے لیکی چه مرقس یهودی و د رُومیانو په غوښتنه هغه دا انجیل غالباً ۶۰ سنه کښ اُلیکلو۔

لوقا مسترکډل په رسالهٔ الهام کښ لیکی چه د لوقا انجیل الهامی ځکه نه دے چه د هغه پخپله د دے په سر کښے لیکلی دی چه هغه دا انجیل شاه فیلس سره د خط و کتابت په بنا لیکلے دے، لوقا په انطاکیه

کښے طبیب وو۔ د مسیحیت یو خراب دُشمن سینټ پال نه مسیحیت راغلے دے او اِبنیّت، کفاره، شراب، مردار او د خنزیر حلالولے ئے مسیحیت کښے داخل کړو،

انجیل یُوحنّا کیتھولک هیرالډ جلد ۷ کښے پروفیسر لِق نه منقول دے چه انجیل یُوحنّا د سرنه تزیخه د اسکندریئے د یو طالب علم تصنیف دے (الفاروق باجه زاده ص۳۴۲)

تثلیث د دائرة المعارف مسیحی مُصنف البُستانی لیکی چه مسیحیانو د تثلیث لفظ د پولوس نه زُوجے د سینټ پال او پولوس نه وا ژُرید و کوم چه مُتعصب یهودی وو او هغه مسیحی توحید په شرک کنده کړو او د کامیابئ سائے واغستله په دے صنم پرستانه عقیده کښ مسیحی صداقت ورک شو۔

ختنه او د جنابت غسل نصاری منی چه ختنه د پولو پیغمبر الو علیهم السلام کړیده، عیسے علیه السلام سُنّت و و پولس یهودی د کتاب په مخالف سُنتونه بند کړه چنانچه (۱) وَلِيُخْتَنَنَّ كُلُّ ذَكَرٍ (هرنارینه د سنت کړیشی) تورات تکوین (۲) قُلْ لَهُمْ فِي يَوْمِ الثَّامِنِ يُخْتَنَنَّ الصَّبِيُّ (دوی ته اُووایه چه په اته ورځ د ماشوم سُنتونه شی (سفر الاحبار باب ۱۲) او حضرت مسیح فرمائی چه لَا أُغَيِّرُ شَيْئًا فِي التَّوْرَاةِ (چه څه به په تورات کښے هیڅ تبدیلی نکوم (متی باب ۵)

(۳) کوم سړی نه چه منی اُوځی نو غسل بدن د په اُبو اُوینځی او حائضه د هُم داسے کوی

(۴) خنزیر حرام دے (سفر الاحبار باب ۱۱) د دے نه پولوحوالو نه معلومه شوه چه د انجیلونو او د هغوی د احکامو تحریف نو کومه حد شوے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبائیبل دتحریف داخلی شهادت

کچرے تاریخی شهادتونه اودیورپ دمحققینو اقرارونه شانه اغټولے شی نو بیا هم بائیبل کښ چدننه داسے مضامین موجود دی چه دهغه نه دده تحریف پته بنکاره پول ظاهر یږی حکه چه دین مذهب کښے بنیادی مسئله تل درے دی:-

① دالوهیت تصوّر ② دنبوّت تصوّر ③ دعملونو دبدلو تصوّر یا آخرت دهر مذهب دا بنیادی اصول دی:-

① دالوهیت په تصوّر کښ دالله تعالیٰ عظمت، پاکی او تنزیه ضروری ده حکه چه انسان دهغے صحیح معرفت بیا مونده شی اوزړه دهغه دجلال اوجمال په شان رنړا او آباد کړیشی،

② دنبوت تصوّر په دلسے پوانداز کښ پیش کړیشی چه دانسان زړه او دماغ دنبی دعظمت اوعصمت په وړاندے نیټ شی او دهغه دفرمانبردارئ عشق دِ دهغه په زړه کښ پیدا شی:-

③ دبدلو تصوّر اودعملونو دجزا نقشه دِ داسے جوړه وی چه انسان دِ نیکئ نه بلی اوبدئ نه دِ وړله کړکه اووېره پیدا کوی او دعملونو دِ نتیجو دینی تصوّر دِ هغه په فرمانبردارئ کولو تیارَوی او دګناه نه دِ منع کوی، حکه چه دنیکئ دنتیجو زیرے اودبدئ دنتیجو نه ویرو لومقصد دانسانی شخصیت اصلاح اودجماعتی ژوند پاکوه، په دے تله اُس مُوبنږد بائیبل تعلیمات اوهدایات تلُوچه هغه دردے وار تصوّرات مقصدونه ترکومے پُورې کوی:-

دالوهیت تصوّر او بائیبل (۱) خُداوند، په زمکه دانسان پیدا کولو پښیمانه اودلګیر شو۔ (تورات پیدائشی درس ع ۵ و ۶) (۲) پښیمانه کیدو ستړے شو (کتاب پرسیا باب ۶ درس ع ۶) دخط کشیدهٔ الفاظ نه دخدائے تعالیٰ جاهل کیدل، غمژن کیدل او ستړی کیدل ثابتیږی چه هیڅرے دالله دشان سره سمون نخوری:

(۳) نه به بیشکه هغه زمکه تهٔ اُنه رسے، دکومے په یابت چه ما قسم خوړلے دے، چه حُه به هلته ستا دَاستوګنے بندوبست کوم (توراټ ګنتی باب ۱۴ آیت ع ۳۰ بیا په آیت ع ۳۵ کښ دی) تاته به حُما وعدهٔ ما تَوَل معلُومه شی، دقسم وعده ما تَوَل یو شریف انسان سره نه بنائی نو خالق کائنات سره به څنګه اُ بنائی،

(۴) تر صباصادقه پورے یعقُوب خُدائے سره پرزَوَنے کولے او سحر چه څه وخت تلو نو یعقوب پرهغے نه پریښو نو ترڅو چه برکت ئے تر وانغستو رپیدائش باب ۳۲ آیت ع ۲۴:

(۵) خُدائے پاک به دهغه پلار ندسمان دبیخه را اُ یاسی (کتاب یسعیا باب ۴۰ آیت ع ۱۸):

(۶) خدائے دَ خپے په دروازه ولاړ دهغه دخُلے نه اوراو سپیرمونه لوړے راأُو تو او سُور شو او منډے کړه۔ خلقو موسیٰ اوهارون ۴ سره خُدائے په ګرسئی ناست اُلیدو او خورل سبنل ئے اُکړه، دهغه جامے دواړے پشان سپینے او دهغه دسر ویښته سُتړه او دهغه پشان وو (اول سلاطین باب ۲۲)

(۷) حُو بزخُدائے لپاره دا پیدا شو (عبرانیون باب ۱۱ آیت ع ۱۷)

(۸) دخدائے کم عقلی دخلقو دعقلمندئ نه او دخدائے کمزورئ دخلقو دزور نه زیاته ده، ته حُما حوئے او مانه نن پیدا شوے، (اعمال باب ۱۳ آیت ع ۳۶)

دے خوالو نه تاسو دخُدائے بائیبلی تصوّر اندازه کړئ، دَ دینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوره زیاته د خُدائے بیعزتی څه کیدیشی، بیا د قرآن د احکم چه ،
لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ او لَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ نبه اُګوري چه د خُدائے هستی
دَځه په شان نده او نه د هغه څوک سیال شته ،

بائیبل او د نبوّت تصوّر

(۱) نوحؑ شراب اُخښل او بدمسته شو، د هغه ستر بربنډ شو خو د
هغه ځامنو پټ کړو (پیدائش باب ۹ ع ۱۹)

(۲) لوط علیه السلام شراب اُخښل او خپلو لُونړو سره ئے زنا اُکړه
او معامله دوه کرته اُشوه ، (پیدائش باب ۱۹ ع)

(۳) حضرت یعقوب علیه السلام د بزے د بچو څرمن د لاسه تاؤ کړه
او د دروغ ئے اُو ئیل او خپل پلار ته دوکه ورکولو د پاره ئے خپل نوم
عیص اُښود و (پیدائش باب ۲۷ ع)

(۴) د حمور څوئے سکم د حضرت یعقوب لُور و سا سره زنا اُکړه :-
(پیدائش باب ۳۴ ع)

(۵) د مُوسیٰ علیه السلام په غائبید و هارون علیه السلام د خلقو په وینا
د کالُوبُت جوړ کړو او په خلقوئے د د ے عبادت اُکړلو او د هغے د پاره ئے
د قُربانئ ورکولو حُکم ورکړو، اووے د ئیل چه داستا سو معبودد ے
چه د مصر د زمکے نه ئے تاسو را اُویستئ (خروج باب ۳۲ ع)

(۶) داؤد علیه السلام په چت اُخنو د حتّی اوریا بنځه ئے په لمبا اُلیده
نو پرے عاشق شو راوے بلله او زنا ئے ورسره اُکړه چه د هغے خیټه
شوه نو د هغے خاوند ئے په مکر اُوژلو (د سموئیل دویم کتاب باب ۱۱ ع)

(۷) حضرت سلیمان علیه السلام د ممانعت باوجود مُوآبی او عمُونی
بُت پرستو ښځے جوړے کړے او نفسانی خواهش ئے د دومره په
چپو شوچه اوُ سو و بیګمو اودرے سو و حرمو نه ئے خبره اُرسیده

بیا په دی دومره عاشق اوزن مُرید شوچه بتولی نه مائل شوا و په
آخری عُمر کښے ئے ایمان نه هم سلام اُکړو (اول سلاطین باب ۱۱ ع)

(۸) مُوبنزا ایمان نا وړ وچه ته خدائے نه راوَ تے ئے، یعنی یسوع :-
(یُوحنّا باب ۱۴ آیت ۳۰)

(۹) یسُوع اُو ئیل چه د آسمان او زمکے بتول اختیار ما له را کړیشو
(متی باب ۲۸ آیت ۱۸) :-

(۱۰) مانه چه څومره وړاندے را غلی دی هغه ټول غله او ډاکوان
دی، (یُوحنا باب ۱۰ آیت ۸)

(۱۱) امت د پاره نبیؐ د عمل نمُونه وی آیا د نبیانو د شان د نبوّت
مقصد پوره کولے شی)

بائیبل او د عملو نو بدله

(۱) څومره خلق چه په شریعت تکیه کوی، هغه ټول لعنت لاندے
دی (کلیتون باب ۳ آیت ۱۰)

(۲) خُدائے د چا عدالتُونه نه کوی هغه د عدالت ټول کار خپل څوئے
نه اُسپارلو (یوحنّا باب ۱۵ آیت ۲۱)

(۳) کوم مسیح چه څُوبنزد پاره لعنتی جوړ شو هغه مُوبنز په بیوه
اغستو او د شریعت د لعنت نه ئے خلاص کړو :- (کلیتون باب ۳
آیت ۱۳)

(۴) هغه یوازے څُوبنز د ګُناهونو ګفّاره نه ده بلکه د ټولے دُنیا
ګُناهونو هم د (یُوحنا پوهے عام خط باب ۲ آیت ۲) :-

(۵) پادریانو نه د ګُناه بخښلو اختیار دے د چا ګُناهُونه چه تاسو
بخښئ نو هغوی اُبخښلے شوا و د چا ګُناهُونه چه قائم پریږدئ نو
هغه اُسائلے شوے (یوحنا باب ۲۰ آیت ۲۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

آیاد بدلے دلسے تصوّر نه پس دنیکی کولواودګناه نه بچ کیدجن به پاتے کیدے شی ۵ دے نه معلومه شوه، چه دا ټول تحریفات دی،

شپږم فصل

مکی اومدنی سُورتونه اود هغے شمیراود آیتونوکلمواد حروفو د شمیر په بیان کښے

دمکی اومدنی متعلق درے اصطلاحات دی

(۱) کوم سُورتُونه چه د هجرت شروع کیدو د زمانے نه ورانده نازل شوی دی، هغه مکی دی اوکوم چه دے نه رُستو نازل دی هغه مدنی دی

(۲) کوم سُورتونه چه په مکه کښے نازل شویدی هغه مکی دی، خو مکے نه مطلب خُود مکه اود هغے حواؤ شاعلاقه ده، لکه مِنیٰ، عرفات اوحُدیبیه اوکوم چه مدینه کښ نازل شوی دی، نو هغه مدنی دی خو دلته هم خُود مدینه اود هغے حواؤ شاعلاقه مُراد ده لکه بدر، اُحد، سلع، (۳) کوم موآیتونو کښ چه خِطاب اهلِ مکه ته دے هغه مکی اوکوم کښے چه اهلِ مدینه ته خطاب دے، هغه مدنی دی، خو مشهور بولے قول دے، د مکی اومدنی پیژندل د صحابه کرامو له اقوالو معلومیږی لکه چه ابوبکر بن عربی په «انتصار» کښ لیکلی دی په دے بارہ کښے د نبی علیه السلام هیڅ قول نه دے نقل شوے په مکی او مدنی معلومولو کښے دافائده ده چه په نزول کښ د ورانده رُستو سُورتونو پته لګی اودے سره د نسخ او تخصیص مسئله په آسانه حل کیدے شی ابوالحصار نه منقول دی چه شل خو په اتفاق سره مدنی سورتونه دی. دولسو سورتونو کښے اختلاف دے، اونور ټول بیا مکی دی، لیکن اُبَی بن کعب اُوه ویشت سُورتونه مدنی بنائی اونور ټول مکی، زیات تفصیل اتقان جلد ۱ ص ۹ و ۱۰ کښے شی،

قرآن د سُورتونو شمیر

د قرآن د سُورتونو په شمیر کښے دوه مشهورا قوال دی ۰

(۱) د قرآن سُورتُونه یوسل خوارلس دی، مطلب داچه انفال او براءة څان له څانله سُورتونه دی ۰

(۲) دویم داچه سُورتونه یوسل اودیارلس دی مطلب ئے داشو چه انفال او براءة دواړه په یو سُورت حسابیږی ۰

د قرآن په سُورتونو کښ د تقسیمولو یوځو حکمتُونه دی

هر یو سورت مستقل معجزے په شکل کښے ورانده کول ۰

د لوستونکو او یادوونکو نه یو قسم تسلّی خوشحالی او همت ورکول چه یو سُورة ختمولو سره هغوی د قُران یو مستقله برښه ختمه کړه (متناسب مضمونُونه یوځائے کول (اتقان جلد ۱ ص ۶۶)

د کار یوه فائده ۰ د مکی مدنی سورتونو پیژندلو یوځو ضابطے ۰

(۱) کوم سُورت کښے چه «کَلّا» لفظ راغلے دے هغه مکی دی، د کَلّا لفظ درے ځله شش ځایه په پنځلسو سورتونو کښے راغلے دے چه ټول د قرآن په اخری نیمه حصه کښ دی کوآخری نیمه حصه زیاته مکی خو مستثنیات پکښ مدنی دی ۰

(۲) په کوم سورت کښ چه سجده د تلاوت ده هغه مکّی دے، سوا د سُورت بقره او آل عمران دنورو کوموسُورتونو په سر چه حروف لتهجّی دی هغه مکّی دی ۰

(۳) مفصّل یعنی د قرآن اخری اُومه زیاته برخه مکی ده (طلاق، تحریم او سُورت نصر مدنی دی) ۰

(۴) په کوم سُورت کښے چه حدود او فرائض دی، هغه مدنی دی ۰

(۵) په کوموسورتونو کښے چه د جهاد بیان دے هغه مدنی دی ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۷) په کومو سورتونو کښے چه د مُنافقانو بیان دے هغه مدنی دی
رمناهل العرفان جلد ۱ ص ۱۸۹ او ۱۹۰ :-

د قُرآن دَ آیتونو شمیر | د حضرت عائشے رضی د شمیر مطابق د قُرآن آیتونه شپږ زره شپږ سوه او شپږ شپیته دی،

د قُرآن دَ کلمو شمیر | د حضرت مُجاهد رح د شمیر مطابق دا شپږ لاکه پنځه شپږ شپیته زره اوه سوه نیم سوه دی

د قُرآن د حروفو شمیر | د حضرت ابن مسعود رض د شمیر مطابق دا درے لکه دوه ویشت زره شپږ سوه یواویا دی

زُوړونه پنځه خلویښت زره دوه سوه اودرے خلویښت دی (۳۴۲۴۵)
زیږونه یوکم خلویښت زره پنځه سوه او دوه اتیا (۳۴۰۵۸۲) دی :-
پینځونه اته زره اته سوه او خلور (۳۴۰۸۰۴) دی :-
نقطے (.) یو لک پنځه زره شپږ سوه او خلور اتیا دی
(تاریخ القرآن صادر، ص ۱۱۹ او فنون الافنان م د ابن الجوزی)

د مختلفو سورتونو مختلف نومونه

سبع طِوال | اوه اُږده سُورتونه (۱) بقره (۲) آل عمران (۳) نساء (۴) سورهٔ مائده (۵) سورهٔ انعام (۶) سورهٔ اعراف (۷) سورهٔ انفال سره د سورهٔ توبه :-

مِئین | داهغه سُورتونه دی، په کومو کښے چه سل یا لږ زیات آیتونه وی سورهٔ یونس نه تر سورهٔ فاطر پورے :-

المثانی | داهغه سُورتونه دی په کومو کښ چه د سلونه کم آیتونه وی د سورت یٰسین نه تر سُورت قٓ پورے :-

مفصل : دَ دوړو بیلو بیلو سُورتونو نُوم دے د سورت قٓ نه واخله د

قرآن تر آخره پورے، یعنی د شپږ ویشتے سپارے د دریم پاؤ نه رُستو واخله تر آخرد قُرآنه پورے :-
طوال مُفصّل : بیادرے قسمه دی :-
اوساط مُفصّل : د سُورت بروج نه تر سورت لم یکن (بینه) پورے
قصار مُفصّل : د سورت (بیّنه) لم یکن نه تر والنّاس پورے،
(بعضو علماؤ په نزد طوال مفصل د سُورت قٓ نه تر والمُرسلٰت) پورے
اوساط مُفصّل د سورت نبأ نه تر والضُحیٰ پورے، او قصار مُفصّل د الم نشرح نه تر والنّاس پورے.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قرآن مهمات

اوّل فصل: د باری تعالیٰ جلّ مجدهٗ هستی

انسانی تاریخ سره د باری تعالیٰ جل مجدهٗ د ثبوت عقیده را روانه د
ټول قومونه او ملکونه په اکثریت په دے مسئله کښ اتفاق لر
اګرچه په نورو څیزونو کښے اختلاف شته په هر زمانه کښ خلق
په دے زمانه کښے د خدائ نه منکر خلق هم وی، خو دا په څه دلی
یا علم او انډه نه لری بلکه د بے علمئ نتیجه ده، د ملحدانو داوږو ک
ټولے وائی چه مونږ د سائنس او د محسوساتو په احاطه کښ خدا
اُنه مونده و بعضے کم عقل خلق دے نه علم بالعدم وائی خو دا سے
بلکه د اعدم علم دے:

د باری تعالیٰ هستی هر کله چه د محسوساتو نه بهر ده نو په دے کښ
خدائ څنګه بیا مونده شی خو د دے دا مطلب هم نه دے چه خدا
هیڅ شته نه او که څوک بے عقله دا مطلب واخلی نو بیا به دا سے
شی لکه څوک وائی هر کله چه په اُوچه مېڅ نشی مونده، نو بیا
دریاب کښے به هر نه وی، یا په دریاب کښے سمسره اُنه دینی نو وائی
چه په اُوچه هم سمسره نشته، مونږ چه څنګه اُ لیکل ملحدان پخپله
هر د دے اقرار کوی پروفیسر لیتوړ (LETTARE) چه د ملحدانو سر
پینځ دے او د دوی غټ عالم دے لیکی، چه مونږ د کائنات تو د اول
اخر نه تاخبره یو نو څومونږ دا کار نه دے چه د یو ازلی یا ابدی هیڅ
انکار اُکړو لکه څنګه چه څومونږ دا کار هم نه دے چه دا هستی ثابته
مادی مذهب خپل څان د عقل اوّل د وجود د بحث نه جدا

ساتی، حُکه چه هغوی نه د دے هیڅ علم نشته - مونږ د حکمت الٰهی خو
منکریُو او نه ئے ثابتوونکی څومونږ کار بالکل د نفی او اثبات نه بیل دی
لیکن د سائنسدانانو اکثریت د خدائ د هستئ قائل دے (الکلام
حصه دوم صفحه)

(۱) ایزک نیوټن لیکی چه د کائنات په برخوکښ کوم جوړښت او تناسب
چه سره د زړکو نوانقلابانو د زمان او مکان دے دا بغیر د یو ذات نه
قائم ساتل ممکن نه دی کوم ذات چه اول دے او د علم او اختیار
خاوند دے،

(۲) د دے زمانے د ټولو نه لوئے هوښیار سائنسدان هربرټ سپنسر
وائی، د کومو رازونو او پټو څیزونو چه دا حال دی چه مونږ پرې څومره
زیات غور او فکر کوو هومره هغه نور هم د اسے پټیږی، دینه یقینی
ثابتیږی چه انسان نه پورته یوانلی او ابدی دا سے یو طاقت شته
چه هغے نه ټول څیزونه صادریږی،

(۳) د فرانس یو فاضل کیمل فلامریان وائی، چه ټول اُستاذان په دے
خبره پوهیدونه عاجز دی چه وُجود موجود کیدل څنګه اُشوا او څنګه
جاری دے په دے بنا د دا سے یو خالق خامخا اقرار کول دی چه هروخت
د هغه مؤثر کیدل همیشه قائم دی.

(۴) پروفیسر لینی لیکی چه قادر او دانا خُدائ څما په ورانده خپلو عجیبه
غریبه کارونکرو سره دلسے جلوه کړکیږی، چه څما ستر بے واز ے
پاتے شی او څه پاکل شم هرخیز کښے خواه هغه څومره وړوکے وی
د هغه څومره عجیبه قُدرت، څومره عجیبه حکمت او څومره عجیبه
ایجاد مونده شی،

(۵) فونتسل په انسائیکلوپیډیا کښے لیکی، چه د علومِ طبعیاتو مقصد

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازے دا نه دے، چه خمونږ د عقل تنده ډمانه کړی بلکه د هغے لوئے مقصد دا دے چه مونږ د خپل عقل نظر خالق کائنات ته ورپورته کړو، او د هغه په جلال او عظمت عاشقان شو۔

د الکلام ص ۳۸ و ۳۹ ج ۱۔

د نوی فکر په رنړا کښ د باری تعالیٰ ثبوت

دنوی فکر خاوندانو ته د معرفت الٰهی په لار کښے دے شبهے خندان جوړ شوی دی، د خدائی د انکار سره سره د امریکے یو مشهور ملحد دا شبهے پیش کوی:

(۱) د یقینی علم ذریعے یا حس دے او یا وجدان (یعنی حس باطنی) خو په دے دواړو لاروی د باری تعالیٰ وجود نه ثابتیږی۔

(۲) د باری تعالیٰ ذات او حقیقت د تصور نه پورته دے او د کوم څیز چه حقیقت نامعلوم وی، نو هغه به څنګه ثابت او منلے شی۔

(۳) کچرے د خدائے هستی او منلے شی، نو په دنیا کښے موجود شر د هغه د حکمت نه خلاف دے لهذا داسے کائنات چه هغے کښے شر هم شامل دے د هغه ذات ته نشی منسوب کیدے۔

د دوهمی شبهے جواب د دوهمی شبهے جواب دادے چه باری تعالیٰ په وجدان (حس باطنی) سره څنګه ثابت دے چه انسانی اکثریت د وجود د خدائے اقرار کوی کچرے دیوځوکسانو له دے انکار دے نو د هغے وجه داده چه د هغه وجدان صحیح نه دے، لکه څنګه چه ظاهری حواسو کښے نقصان راتلے شی د غه رنګ په وجدان یعنی باطنی حواسو کښے هم نقصان راتلے شی، کچرے

د ستر د و نظر درست نه وی نو څه ورته نه بښکاری د غه رنګ کچرے د وجدانی بینائی خرابه شی نو د وجدانی امورو احساس ورته نه کیږی مونږ ته وبے هم ویلی دی چه ظاهری حس سره خدائے څکه نشی معلومیدے چه هغه د دے احاطے نه بهر دے، که بیا هم څوک خامخا زور ټکوی، نو د هغے به دا مطلب وی، چه هغه خو بر اوتریخ په ستر د و معلو مول غواړی، حالانکه هغه د دے احاطے نه بهر د مبصراتو په ځائے د مدرکاتو په احاطه کښ داخل دے، نو د باری تعالیٰ ذات د ظاهری محسوساتو نه بالاتر د وجدانیاتو او معقولاتو په احاطه کښے راځی۔

د دوهمے شبهے جواب د دوهمے شبهے جواب دادے چه د دیر خیزونو حقیقت معلوم نه وی خو مونږ منو، نو د خدائے په منلو کښے دا اشکال ولے دے وی، لکه چه شیخ ندیم الحبر د خپل کتاب (قصة الإيمان بين الفلسفة والعلم والقرآن) په ص ۳۰ کښ لیکی چه سائنس دانان ماده، روح او حیات مثنی او حقیقت ئے ورته معلوم نه دے، د غه رنګ د عقل حقیقت او ادراک حسی سره د هغے جوړښت هم معلوم نه دے، لیکن سره د دے، داخو منی نو د خدائے له هستی په دے بناء انکار کول ولے دی؟

د دریمے شبهے جواب د دریمے شبهے جواب دادے، چه (۱) کچرے کائنات تو کښے د شر داسے واقعات شته کوم چه حکمتِ خداوندی سره اوس مونږ په علم کښے سمون نه خوړی، خو کیدے شی چه رستونه وخت ددے سمون مونږ په علم کښے راشی، په دے خبره اوس مونږ علم نه راتلل ددے دلیل نه دے، چه بل وخت به هم علم نه راځی، لکه څنګه چه دا یو حقیقت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے چه زړګونه کاله وړاندے انسان تر دې پورې قوانینِ قُدرت
عِلم نه وو اوړ ستوړ ته دَ دے علم اُ شو،
(۲) دَ عالَمِ واقِعاتو کومے کړئ چه مُوبنز ته شر بښکاري دَ هغے وجه
دا ده چه مُوبنز ته دَ ټولو واقعاتو دز تحیر عِلم نشته کړے دا سے
کیدے شوے، نو دا بښکارید ونکے شر به مُوبنز ته خیر معلوميدو،
(۳) ابن سینا په (شِفا) کښے جواب ورکړے دے، چه دَ دُنیا دړے حالته
فرض کولے شی، (ا) خالص خیر (ب) خالص شر (ج) دیر خیر او
لږ شر، دقدرت په وړاندے دا دریوا ړه صُورتونه وُو، په پُوهبی
صُورت عمل کیدے شُو. دویم صورت حُکمه نشوکیدے، چه قدرت
دا سے دُنیا نده پیدا کړے چه ټول دِ شر شروی، دریم صورت
کښے خبرے شته لکه دا خبره چه قدرت له دَ دے عالم پیدا کول،
مناسب ووچه په هغے کښے خیر زیات او شر کم وے، که دا شے
بالکُل کت کړے وے، نو ټول به خیر خیر پاتے شوے وو، خو دا سے حُکمه
نشی کیدے چه دَ دغه لږ شر کټ کولو په وجه به دُنیا دَ دیر خیر نه
محرُومه وَ ه، لکه چه اوږد سوځولو په وجه شَړ دے بدن، جامے، آبادی
سوځوی، که دا لږ شان شَر نه وے، نو پخلے کرمَول او نور دیر دَ فائدے
کار ونه به هم ورسره ختم وُو دُنیا به څنګه چلیده، یا لکه اُو به چه دَ
شَرا رخ ئے (سیلاب وغیره) دیر کم دے مګر دخیر آړخ ئے دیر زیات
دے دَ دُنیا د دیرو خیزولو ژوندے سره تړلے دے او نور بیشمیره
خیرونه پکښے دی. یا لکه هوا چه دَ شر آړخ ئے (طوفان او بیا پیر
اُونے دبیخه راګڼاړیدل) کم او دَ فائدے آړخ ئے دیر زیات دے
په دے دَ اُ بونه زیات دَ دیرو خیزولو ژوندونه لا ړ دے، او نور
دیر خیرونه پکښے نو قدرت دا سے اُ کړه چه لږ شر ئے دَ دیر

خیر د پاره پکښ پریښو، او به بیا او رنه ووچه پخلے ئے کولے شوے
او جماعت ئے نشوے سیزلے دے خو به بیا پخلے هم نشوے کولے او نه
به پکښے دا سے کرمی وَ ه چه په یخنئ کښ ئے پرِ ځان کرم کړے وے
(۴) ابن رُشد دد ے شے دا جواب ورکړے دے، چه دُنیا کښے
ټول شَړ و نه ځان له ندی بلکه خیر سره دَ تابع په ډول تړلے دی
لکه غُصه بده خو ده لیکن که دا نه وے، نو چا به هم دَ قابِل مُقابله
نشوه کولے او نه به ئے دَ خپل مال او عِزّت حفاظت په هغه وخت
کښے کولے شو کوم وخت چه چا په دے حمله کولے، شهوت خراب
دے خو بښکاره غټه فائده ئے دا هُم ده چه دُنیا تر آبادۍ ده او ټول
السانی نَسل هم په دے قائم دے د ملحدانو دَ شبهو لرے کولو نه
پس مونږ دَ نوی فِکر په ړنګ کښے د باری جلّ مجده دَ اثبات دلائل
پیش کوو،

اول دلیل

دَ عالم وجود به یا[1] دَ باری تعالےٰ ته منسوب وی یا به ما[2] دے او دَ هغے حرکت
ته بے له قصد او اِرادے او یا به ما[3] دے او ارادے نه منسوب وی خو
سره دَ قصد او اِرادے، دد ے دریم صُورت هیڅوک قائل نشته نه دَ
خدائے منُونکی او نه نامنُونکی حُکمه چه مادیّین په دے متفق دی چه مادّه
اراده نه لری اُس صرف دویم صُورت د بحث دَ پاره پاتے شو چه عالَم
دِ مادے نه بے له قصده او ارادے اتفاقی طور منسوب وی، لیکن دا صورت
هُم قطعاً باطل دے حُکمه چه عالم کښ حکیمانه ترتیب موجود دے
او په دے دَ قُدرت قوانین دلیل دے، په عناصرو او مرکباتو کښے ترتیب
نشته، دنیّاتاتو او حیواناتو په تخلیق کښے مُرتب نظام شته دَ موسمونو
او دَ شپے او ورځے په تبدیلو کښ دَ سیّارو په حرکاتو کښ یو خاص ترتیب
دے، چه دَ مادے یا دَ هغے دَ حرکتِ مسادفه یا اتفاقیه نتیجه نشی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیدے ځکه کچرے د کاغذ په لسو جدا جدا ټکړو د یو نه تر لسو هندسے
اُلیکلے شی بیا په یو تهیله کښ واچوے شی او یو تابینا ما شوم ته اُو ټیلے
شی چه دے نه یو یو ټکړه راواباسه نو که هغه کروړو نه واړه دا پرچے
بیا راواباسی هیڅرے به په ترتیب راؤ نځی، د غه رنګ که د یو قصیدے
پیلے پیلے جُملے او ټکی په یو بوجنګئ کښے واچوے شی او بیا د غسے یو
ناشوم نابینا ته د هغے د راوِ ستو اُو ټیلے شی نو هیڅرے به د قصیدے
په اصل ترتیب راؤ نځی اګرچه په کروړو نو واړه د غه پیلے پیلے پرچے
راواباسی نو د دُنیا د امُرتبه سلسله به د یو نابینا او بے شعوره ماؤنه
بے له قصد او ارادے څنګه ظاهره شی، د دے نه دا معلومه شوه
چه د عالَم متعلق رو میے صُورت «چه دا د یو حکیم خدائے په قصد
او اراده ظاهر شوے دے». صحیح او معقول دے (قِصَّةُ الْاِیْمَانِ بَیْنَ
الْفَلْسَفَةِ وَالْعِلْمِ وَالْقُرْاٰنِ لِابْنِ نَدِیْمٍ البحر ص ۲۹۲)

دویم دلیل نوے اوزړه فلسفه په دُ متفقه ده چه د عالم ماده
علم، شعور او ژوند نه لرې او په کائنات کښ دا دے
واړه خیزونه موجودی، په ژوندی خیزونو کښ ژوند شته انسان
علم او شعور لرې په څناورو کښ شعور شته نوے تحقیق خو دا وائی
چه بعضے اُونبُوټو کښے هُم شعور شته، نو دا څنګه کیدے شی چه دا
خیزونه خو د ماده یا د هغے د حرکت نه پیدا وی او بے څپله د ماده
د علم، ژوند او شعور درے واړو نه تشه وی، حالانکه د نفی محض
نه د اثبات، وُجود ناممکن دے، لهٰذا د کائنات سرچشمه هغه ذات
کیدے شی چه هغه کښے ذاتی ژوند او علم وی دا سے ذات صِرف هغه
خُدائے کیدے شی چه اصل ژوندے علیم او حکیم دے،

دریم دلیل د انسانیت جوهر فکر او ادراک دے هغه چه په

اُنبُوټو کښے اُوده وی په څناورو کښ دے ارخ وار ولو او په انسان
کښ راویښ شوا ویو اُوچت مقصدے اُغوښتو اُس د خاخا دے ترقی
سبب وی د علم الحیات مشهور ماهر ډاکټر لائیډ مارګن" لیکی چه د دے
ترقئ ظهُور د دے خبرے دلیل دے چه د کائنات تو د تخلیق اصل
او بنیاد شته چه خُدائے دے ځکه چه ارتقاء (ترقئ) د پاره
د منزل وجود ضروری دے، د علم تقاضا داده چه د کُوزنی علم
راوړنه په بَرَنی علم کښ حل شوی وی، د طبعیاتو د پښتورانړو نوحل به علم
الحیات کښے او دے د پښتورانړو نوحل بیا په علم النفسیات کښ دے د
د پښتورانړو نوحل بیا په علم تحلیل او تعلیل منطقی کښے او بیا د دے علم
د پښتورانړو نوحل په مقام رُوحانی کښ وی۔

څلورم دلیل د انسانی عقل د خُصوصیت دے چه هغه فرد یت
نه کُلیّت را آخلی او تجریّت او تصوُّریت پیدا کوی
مثلاً انسانی اشخاص د نفسِ انسانی، حیوانانو نه نفسِ نباتی او بیا د
عالمی کنړوالی نه د عالَم نفسِ کُلّی را آخلی، دا نفسِ کُلّی (وحدت) الله
دے چه پټول کنړوالی هُم په دَه ختمیږی (مطلب دا چه د آخری
وحدت دے دے نه پس بل وحدت نشته (مترجم)

د باری تعالےٰ ثبُوت د سلفی دلائلو په رنړا کښ

رُومبے دلیل دے رُومبی دلیل نه مونږ د دلیل غرنی، ځکه وایو چه
امام جعفر صادق رح نه چا د الله د وُجود دلیل اُغوښتو
نو هغه ورته اُفرمائیل چه دریاب کښ ستا کشتئ ډُوبه شی تاسه د هغے
تخته قدرے نه وی او لامبو هُم نه د رځی نو ستا به د بچ کیدو څه اُمیدی
نو سائل اُوئیل چه و لے نه! بیا امام موصوف اُوئیل چه د بچ کیدو
ظاهری اسباب نشته بیا هم د دے اُمید لرل د چا په آسرا خو به وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه آسراخُدائے دے، نو دا دباری تعالیٰ د هستئ نفسیاتی دلیل دے

دویم دلیل

دے دویم دلیل ته مُونږ ردلیل فلکی) ځکه وایُو چه امام ابوحنیفه رح یو سائل ته په ثبوت د باری تعالیٰ دا دلیل پیش کړے وو، چه یو بیړئ پخپله د یوه غاړے نه د دریاب بلے غاړے ته نشی راتلے نو د نړۍ عالم دا دومره غټه بیړئ به پخپله څنګه اُچیږی دے عالم د غټے بیړئ په انتظام چلیدل دے دلیل دے چه دد ے چلوونکے شته چه هغه خُدائے دے۔

دریم دلیل

دے دریم دلیل ته مُونږ ردلیل تُوتی) ځکه وایُو چه امام شافعی رحمه الله د اثباتِ باری تعالیٰ د یارہ په دے طرز پیش کړے وو چه د تُوت پانړے چه بزه اُخوری نو پچے کوی چه د دیښمو چینجے ئے اُخوری نو د لبنم تر جوړشی او د شهدو مچئ چه اُخوری نو شات تر جوړشی نو د یوخیزه دلے مختلف څیزونه جوړیدل دے اقرار ته مونږ مجبورږ وی چه دا د هغے قادرِ مطلق کار دے کوم ته چه مُونږ خُدائے وایُو۔

څلورم دلیل

دے ته مُونږ ردلیل صوتی) وایو، ځکه چه امام مالک دا دلیل دا سے وړکړے وو چه هرکله د یو انسان ۳ واز بل سړه نه ویلاویږی او دغه دنګ شکل هُمُ نو معلُومیږی چه دا اختلاف د یو عظیم قوّت کار دے کوم ته چه مُونږ خُدائے وایُو۔

پنځم دلیل

دے ته مُونږ ردلیل بیضوی) دا سے وایُو چه د چرګے اګئی نه بچے را اُوځی او د اګئی هغه مضبُوطه قلعه مانه کړی او د بچی د راوتو نه وخته چرګه هُمدا سے په اګونا سته وی، چرګه د دغے کینا ستو پا بند دُل د بچی د جوړیدو وخت معلُوم دل د اګئی د ماتولو وخت معلومیږی دا ټول الهامی کارونه دی چه خداوند

تعالیٰ په الهام چرګے او بچو ته اُبنودل، دے نه د الله هستی ثابته شوه

شپږم دلیل

دے ته مونږ ردلیل پیدائی) وایُو اُونو اس د قسما قسم اُونو بُوتو د هغے د قسما قسم پانړو میوو او کلونو نه د الله تعالیٰ په هستئ دا سے دلیل یونے دے چه د دے ټولو ما ده یوه ده (یعنی اُوبه او خاوره) او بیا دے نه عجیبه مختلف قسمه خونړه پیدا کیدل دا بنائی چه د دا د یو عظیم قوّت کار نامه ده کوم چه خدائے وئیلی شی۔

دا ټول دلیلُونه امام رازی رح په تفسیر کبیر جلد اول کښ نقل کړیدی مونږ نور هُم واضح بیان کړه: سعدی رح فرمائی:۔

برگِ درختانِ سبز در نظرِ هوشیار	هر ورقے دفتریست معرفتِ کردگار

اُوم دلیل

دے ته مونږ ردلیل لسانی) دا سے وایُو، چه په دنیا کښے دے وخت کنړے ژبے شته داژبے اولاد د موړ پلار یا د خپل ماحول د خلقو نه اِزده کړی دی او دا سلسله تر آخره تله ده تر دے چه د اوّل انسان د دُنیا په بارہ کښ دا جواب ختم شی چه آخر هغه د چا نه ژبه زده کړه چه بغیر د ده نه بل هیڅوک د غه وخت کښ نه وُو، نو دا به مجبُوراً منلے شی، چه دده ژبه الهامی وَه او د دغے الهام کوُونکی نُومر خُدائے دے، اُس مُونږ د باری تعالیٰ په ثبوت فلسفی او کلامی دلیلُونه پیش کوو۔

د باری تعالیٰ د ثبُوت کلامی او فلسفی دلیلُونه

۱: **دلیل حدوثی**: کائنات او عالم د دوُ څیزونه نومړدے، یا به جسم وی یا به په جسم اړه بل څیز دا دواړه څیزونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالذات وی، اوکه بالواسطه له دوو حالتو به خالی نه وی حرکت
او سکون، کچرے جسم یا په دے اندازه نور خیزونه په دوو
وختونکښ په دوو ځایونکښ وی نو دا متحرک دے، اوکچرے په دوو
وختونکښ په یو ځائے وی نو ساکن دے بیا دا دواړه ډیو بل ضد دی
چه حرکت راشی نو سکون ختم او سکون چه راشی نو حرکت ختم
شی معلومه شوه چه دواړه حادث (نو پیدا) دی، دغه رنګے جسم
او جسم سره تړلی نور خیزونه له دے دوو حادث حالتونو خالی
نه وی بلکه دا به ور سره نښتی وی نو جسم او جسم سره تړلی خیزونه
هم ددے په وجه حادث شو، د حادث د پاره محدث (پیدا کوونکے)
ضروری دے کچرے هغه پخپله هم حادث وی نو هغه د پاره به بل محدث
ضروری وی او دے نه به تسلسل (د پنډانے قصې جوړ) شی داسے
کیدے نشی نو ضرور دا محدث به قدیم وی چه هغه خدائے دے او
دے نه د خدائے وجود ثابت شو۔

۲: دلیل امکانی د هر خیز درے حالته فرض کولے شی ممتنع الوجود چه دا کیدل او نه کیدل ځکه دوه په دوو کښ پنځه واجب الوجود چه د هغه وجود ضروری وی، یا ممکن الوجود چه کیدل او نه کیدل ځکه دواړه ضروری نه وی لکه اُبه چه رنګ دا ډه هم کیدے شی او بے رنګه هم اُس عالم ممتنع الوجود ځکه نه دے چه دا موجود دے، او واجب الوجود هم ځکه ندے چه د هیڅ خیز د نه پکښ ختم شی او اخر به ټول هم ختم شی دا خو خو مونږ په ستر بو وینو او خو په قیاس معلوم وو، نو عالم بیا ممکن الوجود شو د دے وجود هم ضروری ندے او عدم وجود هم ضروری نه دے لکه اُبه چه د هغے رنګ ضروری ندے که راغلو پکښے نو د هغے وجه به

بهرنئ وی ځکه چه دا خپل هیڅ رنګ نه لری دا شان د عالم وجود
ضروری نه وو، که موجود شو، نو دا د بهرنی علت نتیجه ده دا
علت که ممکن وی، نو هغے د پاره به بل علت پکار وی او دا سے به
تسلسل (د پنډانے قصه) جوړ شی، چه محال دے نو فیصله دا
شوه چه دا علت به ممکن الوجود نه بلکه واجب الوجود وی چه دا
نوم د خدائے دے چه د هغه وجود دا سے ضروری وی چه د
بهرنی علت نتیجه نه بلکه هم د هغه ذات دا سے تقاضا ده چه د
عقل د رک پکښ نه لګی ۔

۳: دلیل قاسمی د یو خیز بل ته چه نسبت اُشی نو دا دوه قسمه دے یا به دا دویم تړلے خیز دا اصل خیز سره
د رخت وی تړ به نه جُدا کیږی، لکه د اور نه ګرمی او تاؤ دے نه به
بالذات، او ټیلے شی مطلب به ئے دا وی چه د اور ذات دا غواړی
چه ګرمی او تاؤ د اور سره خامخا وی، یا به دویم د رومبی خیز لازم نښتے
وی کله به وی او کله به نه وی دے ته (ما بالعرض) او ټیلی شی لکه
د اور سره ګرمی چه کله پکښ په بهرنی علت (اور، نمر وغیره) راځی
کله پکښ نه راځی په دے (ما بالعرض) خیز کښ د علت تپوس
ملکه دا به ولے ګرمے دی او په ما بالذات کښ د علت دا سے تپوس نشی کیدے چه اور ولے ګرم دے
قاعدے مطابق د کائناتو وجود او په ما بالعرض، ځکه ځینے کله پکښ یو خیز وی کله پکښ نه وی کله د راتګ
په وی کله نه وی، نو دلته دا سوال خامخا کیږی، چه دا کائنات
موجود دی د دے جواب به دا ورکولے شی چه د اد دا سے ذات
ثابته ده چه هغه واجب الوجود دے وجود د هغه ذاتی او ضروری
دے، او هغه ته رب العالمین و ټیلے شی دلته بیا بل سوال (چه الله
موجود دے) دا سے ختم شی لکه دا سوال ختم شی چه اور ولے

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړمړ دے، نو په دے دلیل د باری تعالیٰ د ذات او صفات دوارو ثبوت کیږی، مثلاً انسان او د انسان ژوند، علم، لیدل، آوریدل، قدرت، کلام او اراده ټول "ما بالعرض" دی، چه د دے فیضان د پاره د "ما بالذات" او د ذاتی سر چشمے ضرورت وی. نو د انسان بلکه د ټول عالم د وجود د پاره وجود د باری تعالےٰ او د صفاتو د پاره صفات د باری تعالیٰ سرچشمه اوخزانه ده چه هغه "ما بالذات" او واجب الوجود دے

۴: دلیل اِتقانی په کائناتو کښے حکیمانه قوانین شته، چه د هغے په زور علتونو نه د معلولاتو او اسبابو د مسبباتو علم راځی، د حکیمانه قوانین دومره وسیع دی چه د ماضی نه تر اوسه د سائنس په ذریعه څومره قوانین معلومه شوی دی د هغو قوانینو په نسبت چه تر اوسه لا معلومه هم نه دی د یو رکه دی، بلکه د دے معلومه قوانینو نسبت نا معلوم قوانینو سره دلته دیو خاخکی چه سمندر سره دے همدغه وجه ده چه په سائنسی قوانینو کښی ترقی لاتر اوسه د یو چرے داحکیمانه قوانین کم و نوسائنسی ترقی په تپه ولاړه وه حکه چه سائنس د قدرت د قوانینو معلوم مول او پښکاره کولو نوم دے، دا پښکاره خبره ده چه دا حده او بیحسابه حکیمانه قوانین د قادر مطلق حکیم کیدے شی هغه خدائے دے، دا هیڅرے د مادے کار نشی جوړیدے چه پخپله د علم، شعور، حیات او حکمت نه تشه ده،

۵: دلیل حُبّی د شاه ولی الله رحمة الله علیه مرقده، د اَسرار المَحَبَّة، نومے رسالے مطابق د ټولو کائناتو په خمیر کښی محبت اَخلے شوے دے: او خصوصاً په انسان کښی

د پیرزیات محبت شته بیا د دے محبت دوه قسمه دی:-

① یو مُحبّتِ ناقصه:- ② دویم محبّتِ کامِله:-

د ړومبے قسم د مال اولاد مُحبّت دے، او دویم قسم د الله مُحبّت دے ټول مذهبونه د الله په مُحبّت قائم دی، دے نه معلومیږی چه مُحبّتِ الٰهی په فطرت کښی داخل دے، مُحبّت د موجُود سره کیږی، مثلاً مُونږ خپل ذات یا مال اولاد سره محبت کوو چه دا موجُود دی نیشت سره محبت خه معنی نه لری د محبتِ ناقصه داحال شو چه د هغے محبُوب د مَوجُود وی نو د محبّتِ کامِلے د ولے محبُوب موجُود نه وی! ضرور موجُود دے داهم د وجُودِ باری تعالیٰ دلیل شو، او د الله محبت ته کامِل حُکه وئیلے شی چه د محبتِ ناقصه ټول محبُوبات لکه مال اولاد وغیره په محبّتِ الٰهی قربانولے شی.-

۶: دلیل اِلتجائی دُنیا ظُلم نه دکه ده، او په هره زمانه کښے د مظلومانو شیرزه ظالمانو نه د پیرزیاتے وی، نو انسانی فطرت د ظاهری ټولو اسبابو او ذریعو نه نا اُمیدی کښے د خپل زړه مضبوطولو د پاره او د غه نا اُمیدی په اُمید کښی بدلولو د پاره د غیبی قُوّت سره د رابطے او ترون پیدا کولو کوشش کوی چه هغه د ټولو نه بالا او قادرِ مُطلق وی او حالات بدلول د هغه په قابو کښی وی د اسے قسم التجا کانے د دُعا کانے اَوزارئ په ټولو مذهبونو کښے شته چه د ذاتِ الٰهی د وُجود دلیل دے:-

۷: دلیل ترتیبی ټول کائنات په ترتیب دی، یخنی گرمی شپه ورځ، سپرلے اوخزان، د ستورو حرکت د حیواناتو او نباتاتو نشوونُما ټول په ترتیب دی، دا ټول د یو حکیم ذات د موجُودیت حُکه دلیل دے چه د هر ترتیب

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړے عقل مند دے دَ رُومبی بیان چوت غلط او دروغ او کدویم بیان بالکل رِشتیا او صحیح دے دغه رنګ دَ جهان دَ عمارت باره کښے دمادہ پرستو بیان دَ رُومبی کس په شان دروغ او غلط دے او دَ مُومن او خدا پرست بیان بالکل صحیح او رِشتیا حکیمانه او عاقلانه دے. لهٰذا دعقل په موجب دَ جهان دَ عمارت دپاره دَ خدائے وُجود ډیر ضرُوری دے او پخپله دَ جهان دا عمارت دَ خُدائے دَ ذات، صِفاتو او کمالونو دَ ثبوت یوغټ دلیل دے

۹: حیاتی دلیل په دُنیا کښ ژوندۍ مُوښږو او بنو کوم وچه شته مُوښږ ژوندی یُو ډیر نور خیزونه ژوندی دی، نو دا دلیل دَ دے خبرے دے چه دَ عالمِ حیات (ژوندی) دپاره یو دَ ژوندۍ سرچشمه او بُنیاد شته چه دا حقیقی او اصلی ژوندے ذات هُم دَ ربّ العالمین دے.

۱۰: ذِکری دلیل دالله په ذِکر کښ کامِل خوند، دَ انجذاب انبساط او دَ زړه دَ اِصلاح ښے شته، دَ نیشت په ذِکر کښ خوند خولاخه کوے دَ سَرَه ذِکر ئے وی نه، نو دے نه معلُومیږی چه دَ الله ذات موجُود دے

۱۱: دَ اطلاق دلیل دَ اقانون دے چه دَ هر مُقید دپاره دَ مطلق وُجود ضروری دے حکمه چه دَ تقیید او تحدید مطلب دَ وسیع او مُطلق څیز نه یو محدود او مُقیّد څیز حاصلول دی، مثلاً دَ زمکے حد بندی هله کیږی چه وسیع زمکه موجُود وی دَ کائنات نو تولو وُجود محدود دے چه دَ زمان او مکان په حدود و کښے بند او راګیر دے دَ پاره دَ حدود و، قیودو او دمکان او زمان نه بالا تر دَ یو هستئ ضرورت دے او دا صرف دَ رب العالمین ذات دے

ترتیب و رکوونکے وی، دَ دیوان حافظ دَ الفاظو ترتیب دا ښائی چه دَ دے ترتیب و رکوونکے شته الفاظ پخپله یو پل سره ترتیب نه خوری همُدغسے دَ کائناتو داغټ او حیران کُن ترتیب دا ګواهی ورکوی چه دلته یو عظیم ترتیب ورکوونکے شته. چه الله دے او هُم دا دَ الله تعالیٰ دَ هستئ دلیل دے،

۸: دلیلِ شُعوری دا جهان یولوئے عمارت دے چه دَ دے هره پُرزه دَ حکمت وِکه ده او دا دلیل دے چه دَ دے بانی او معمار دَ عقل او شعور خاوند دے نو بیا دَ دے نسبت بے شعوره مادے ګولهٔ دا سے نامعقوله دے لکه دره کَسان په یو بیابان کښے یو بنائسته کوټه بیا مُومی هغته دواړه ور ننوتی هرشے پکښے موجُود په ترتیب پروت وی اُس دا دواړه کَسان په دے خپل خیال بنکاره کوی یووائی چه دا هرڅه پخپله شوی دی کچه خښتے پخپله جوړے شوے بیا پخپله پخے شوے او سره پخپله ماغلو، بَل شو خښتے پخپله ورغلے پخے شوے پخپله بیا یوځائے شوے دیوالونه چتُونه وغیره پخپله جوړ شُو قالینونه پخپله جوړ شو دګډو بزونه پخپله وړئ دا اُوته یوځائے شوه پخپله رنګ اُوټه راغے دا پکښ پخپله رنګ شوه او بُوټی ګلونو پر پخپله اُشو او قالین تر تیار شو. او بل وائی چه دا سے نه ده دا ټول پخپله نه دی شوی دَ دا ماهر انجنیئر او کاریګر دَ پوهے او فکر نتیجه دَ ګُوښے دَ عمارت نقشه ئے په ذهن کښ تیاره کړه، بیا ئے ضروری خیزونه او سامان راجمع کړو او په ماهرانو او کاریګرانو ئے دَ نقشے په مطابق جوړ کړو اُس دَ دے دواړو بیان چه دَ عقل په عدالت کښے پیش شی نو فیصله به دا وی چه ګُوښے سړے لیونے دِماغ خراب دے او دویم

(c) ketabton.com: The Digital Library

وُجود دَ باری تَعالیٰ او قُرآن مجید

قُرآن دا بسائی چه دَ خدائ اقرار دَ اِنسان په فِطرت کښ داخل دے دَ علم الانسان دَ ماهرانو دَ اُمتفقه فیصله ده، چه کوم وخت دَ علوم فُنُونو او تهذیب وُجود نه وُو او انسان په فطری حالت کښے وو نو هغه دا سے وخت کښ هُم دَ خُدائے عبادت کړیدے، دَ یو مشهور محقق "مکس مولر" په کتاب "د الکلام" کښ داخبره نقل ده چه "ځمونږ اسلافو دَ خدائے پاک په ورانده هغه وخت سَر تیت کړیو وچه دَ خدائے پاک نوم ئے هُم نه ووزده، دَ جسمانی خدائے یعنی دَ بُت عبادت دیکنه پس دا سے پیدا شوچه اصلی اِنسانی فطرت دَ مثالی صورت په پرده کښ پټ شو، هم دغه وجه ده چه دَ دُنیا دَ تاریخ معلومه سره د دنیا په هره برخه کښ دَ خُدائے عقیده موجُوده وَه۔ اثوری، مصری، کلدانی، یهود، اهل فینیشه، تول دَ خدائے قائل وو" پلوتارک وائی چه دُنیا ته اُګورئی، په دیرو خایونو کښ قلاکانی، کارخانے، سیاست، علم، فن، کار کسب، دولت به نه وی لیکن خدائے به هر خائے کښ موجُود وی"، دَ وحی او الهام مُنکر دَ فرانسو مشهور فاضل رفولتیر" وائی چه زردشت منوسولن، سقراط، پتولو دیو سردار، یو منصف او یو خُدائے عبادت کولو هدغه فطرت دے، چه قرآن ئے داسے بیان کوی:۔

وَاِذْ اَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِیْٓ اٰدَمَ مِنْ ظُهُوْرِهِمْ ذُرِّیَّتَهُمْ وَاَشْهَدَهُمْ عَلٰٓی اَنْفُسِهِمْ اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوْا بَلٰی شَهِدْنَا سورهٔ الاعراف آیت ۱۷۲

دا خُدائے کار یکړی ده چه هر شے ئے په پخه جوړ کړیدے، دَ رحمٰن په پیدا او بنت کښ بناسو خه فرق اُنه وینئ بیا بیا هم اُګورئ چه دَ رحمٰن پکښ چرته سنکاری ده

لیکن دَ خارجی اسبابو او آثارو نه کله دا فطری احساس دباؤ شی نو نکه قرآن ځائے په ځائے دا فطرت خبر دار ه کړو۔

آفِی اللّٰهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ (القرآن) (آیا دَ خدائے په بارهٔ کښ هم څه شک کیدے شی، کوم چه دَ آسمان او ځمکے مُوجِد دے)

کله خو دَ خارجی اسبابو نه دا فطری احساس دومره دباؤ شی چه بوازے دَ خبر دارئ اِشارهٔ وَرله کافی نه وی په دے وجه قرآن دَ تجربو او دَ حِسّ په بنیاد دَ خدائے په وجود استدلال اُکړو، دَ انسانی تمیز او پوهے دَ شروع نه، انسان ته چه کومو بدیهی او حِسّی مقدّماتو علم وی هغه دا دے، چه کله هغه څه خیز په ترتیب او تنظیم بیا مُومی نو دَ هغه یقین راشی چه چا عقلمند ذات دا ترتیب او تنظیم ورکړیدے او دَ بے ترتیبه خیزونو دا اندازه اَخلی چه دا خیزونه پخپله رائے خائے شوی دی دَ حافظ یا نظامی دَ شعر بے ترتیبه الفاظ یو معمولی انسان ته ورکړه هغه چه ئے سل واره واړوی او اړوی نو هُم به ترِپه اتکل دَ دوی هغه شعر پخپله جوړ نشی حالانکه هر هغه الفاظ دَ شعر وی خو صِرف دَ ترتیب ورکولو کسر پکښے باقی وی نو دا به کله اُشی چه دَ دُنیا دا په ترتیب نظام دِ پخپله جوړ شوے وی، قُرآن مجید دَ خدائے په وجود داسے استدلال کړے دے:۔

(۱) صُنْعَ اللّٰهِ الَّذِیْٓ اَتْقَنَ كُلَّ شَیْءٍ

(۲) مَا تَرٰی فِیْ خَلْقِ الرَّحْمٰنِ مِنْ تَفٰوُتٍ فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ تَرٰی مِنْ فُطُوْرٍ ○

سورهٔ ملک آیت ۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳) خَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا ۝ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ط لَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللَّهِ تَبْدِيلًا ۝

خدائے پاک هر یو خیز جوړ کړو، او بیا ئے دهغے یو اندازه مقرره کړه، (دخدائے په پیدا او بنت کښے هیڅ تبدیلی نشی کیدے) دخدائے په طریقه کښ به ته هیڅ تبدیلی نه مومے)

په دے آیتونو کښ قرآن د جهان ددے صفته بیان کړیدی (۱) کامل او بے نقصانه دے (۲) په ترتیب او مناسب دے (۳) دداسے اصولو اوضوابطو پابند دے چه خوک ئے ماتولے نشی:۔

ن چه تحقیقات آخری حدته رسیدلی دی او د کائناتو په سوونو نورانو بنکاره شوے لوئے فلسفیان او حکیمان په دیر زور او فکر سره د خدائے د ثبوت هم دا استدلال پیش کوی:۔

ارسطو د خدائے د وجود، د هغه د توحید او د قیامت قائل دو (ملل و نحل د شهرستانی جلد ۲ ص ۳۹۸)

(۱) ملاین ایډورډوائی چه انسان هغه وخت حق دق شی چه داسے خلق اوینی چه هغوی داوائی چه د ناطق او مکرر مشاهدات نو غوندے عجائبات تو په لیدو هم داوائی چه دا صرف د بخت او اتفاق (بخپله د پیدا کیدو) نتیجه ده، دا فرضی احتمالونه او عقلی گمراهئ کومولہ چه خلق د علم محسوسات، نو م ایښے دے دے لره علم حقیقی بالکل باطل کړے دے په فزیکل سائنس پوهیدونکی هیچرے په دے یقین نشی کولے،

(۲) هربرټ اسپنسر لیکی دا راز و نه چه ورځ په ورځ نوره هم باریک، کیږی هرکله چه مونږ په هغے ذیات بحث کړو، نو دا به خامخا منلے شی چه انسان د پاسه داسے یو ازلی او ابدی قوت موجود دے چه د هغے موجب دا ټول خیزونه موجودیږی:۔

(۴) پروفیسر لینه وائی، کوم لوئے خدائے چه ازلی دے، د ټولو خیزونو عالم دے په هرخیز قادر دے، د خپلو کارونو په ذریعه خپا پوراندے داشان جلوه کړدے چه څه حیران او بیخوده شم (الکلام جلد ۲ ص ۵۶ و ۵۷)

د باری تعالیٰ توحید

په کومو دلائلو چه د خدائے د وجود یقین راځی هم هغه د خدائے د یووالی دلائل هم دی، عالم دیرے برخے بنکاری خو حقیقت کښ هغه یو خیز دے، لکه څنگه چه د انسان اندامونه مثلاً ستر بنے غوږونه خو په لید و دیر بنکاری لیکن هغه حقیقت کښ یو څه (انسان) دے اُس د دے پیدا کوونکے او چلوونکے هم یو ذات دے دوه نه دی نو د دوو نه به ذیات څنگه وی، څکه چه یو خدائے انتظام چلولے شی، نو بل خدائے بیا بیکاره شو او بیکاره خدائے کیدے نشی او کچرے دوارو هم انتظام نه شو چلولے نو دوارہ خدایان څکه نه شو چه دوارہ به بے وسه وی او بے وسه خدائے مونږ خپرته نه دے لیدلے، کچرے دوارہ مختلف نظامونه چلوی، نو عالم به تس نس شی او کچرے دوارہ یو نظام چلوی نو بیا هم عالم څکه به هم وړاندے اوختم شی چه د عالم حقیقت یو دے او چلوونکی د یو حقیقت دوه یا زیات حکم نشی کیدے چه د وجود او ذات په منبع کښ داسے نسبت وی، لکه د ظرف او مظروف مثلاً پنړه او تخپه، اُس کچرے یو خدائے یو ذات نه یو وجود و رکوی او بل خدائے هم دغه ذات نه بل وجود ورکوی، نو دغه یو ذات به د یو څه ختم شی، لکه چه یو پنړه کښ دوه څیزونه اُمنلے نو هغه شلیږی او پنړه پاتے نشی، دغه رنگ د دوارو خدایانو په دخل ورکولو د عالم تباهی ده او کچرے بل خدائے په کښ دخل نه ورکوی نو داسے بیکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

او عاجز خدائی نه وی بل داچه د اتفاق ضرورت هلته وی کوم څائے
کښ چه د اختلاف نه ضرر پیدا کیږی کچرے دواړه خدایان وی نو
ضرورت او حاجت د اتفاق به ورته نه وی او
نه به ورته د ضرر ویره وی، حُکه چه دا دواړه کمزورئ د خدائی
خلاف دی، نو دواړه خُدایان به خامخا پُوره تصرُّف کوی او کامل
دَخل به ورکوی، نو اُس مُوبزو ئیلی دی چه کچرے دوی دواړه مخالف
تصرف کوی نو هم عالَم نس نس او کچرے مُوافق کوی نو هم عالَم
تباه برباد لکه چه دوه مَینزه بوجئی کښ دوه تنه خان خان له
دوه دومنه غله آچوی نو هغه به پرې اُشلیږی، دا دلیل قرآن
دا سے بیان کړے دے :-
لَوْ كَانَ فِيهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا: کچرے زمکه آسمان کښے د پیر
سُورهٔ انبیاء ایة ع۲۲ : : خُدایان وے، نو دواړه به برباد
شوی وو)
هُم دغه وجه ده چه دعوٰی د توحید په پټولو مذهبونو کښ شته مُشرک
قومُونه هُم یو ذات قادرِ مُطلق منی :-
وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ: کچرے د مشرکانو نه تپوس
وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ط سورهٔ : اُکړے، چه آسمانونه او زمکه
لقمٰن آیة ع۲۶) : چا پیدا کړی دی نو خامخا به دا وائی چه الله پیدا کړی دی
عیسایان (مشرکان) منی درے خُدایان خو وائی، چه دا درے واړه یو دی
خبره غلطه ده خو بیا هُم حقیقی کنړوالے هغوی هُم نشی برداشت
کولے، باری تعالیٰ سره په صفتونو فعلونو او عبادت کښ دوی نور شیُونه
هُم شریک کړی : حُکه د کامل توحید نه محروم شول، په پټولو مذهبونو
کښے بوازے اِسلام دا سے مذهب دے چه هغه د باری تعالیٰ توحید

د هر قسم شرک د بُوټیُونو نه پاک کړو :-

د شرک مذمّت

(۱) شرک د مغفرت جوګه نه دے، اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ
وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ سورهٔ النساء آیة ع۱۱۶)
(۲) په مُشرکانو جنت حرام دے، اِنَّهٗ مَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ حَرَّمَ
عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَاْوٰىهُ النَّارُ ط :
(۳) د مُشرکانو نیکئ برباد دی: وَلَقَدْ اُوْحِيَ اِلَيْكَ وَاِلَى الَّذِيْنَ
مِنْ قَبْلِكَ ج لَئِنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ
سورهٔ الزمر آیة ع۶۵ :-
(۴) د مُشرک د پاره د بخښنے دُعا جائز نه ده، مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ
اٰمَنُوْٓا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ كَانُوْٓا اُولِيْ قُرْبٰى مِنْۢ بَعْدِ مَا
تَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ سورهٔ التوبه آیه ع۱۱۳)
مُشرکین هُم د الله په ذات او د عالَم په خالقیت کښ ده سره په شریک
نه منلو متفق دی، لکه چه شاه ولی الله رح بنکاره فرمائیلی دی :
، مُشرکانو صفاتی، افعالی او عبادتی شرک کړید دے،
مطلب دا چه د الله په صفاتو او په فوق الاسباب افعالو او عبادت کښ
ئے ورسره نورے مقدّسے هستیانے شریکے کړے خو د اسلام او
قرآن لوئے خصوصیت دادے چه دوی د باری تعالیٰ توحید د هر
قسم شرک د بُونئی نه پاک کړو تړے دے چه د ما فوق الاسباب نفع
او ضرر مرکزئے یوازے د رب العٰلمین ذات کړئ، ولو، قُلْ لَّآ
اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا ط (سورهٔ اعراف)
حاضر او ناظر ئے یو ذات خداوندی اُګرځه ولو، وَهُوَ مَعَكُمْ
اَيْنَمَا كُنْتُمْ (سورهٔ الحدید ایة ع۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

علم غیب ئے صرف ذات خداوندی سره خاص کړه، قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ ط (سورۂ النمل آیة ۶۵) دمشکلا توحل کولو د پاره ئے بلل هم هغه سره خاص کړل :- فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ اَحَدًا ۙ (سورۂ الجن آیة ۱۸) :-

هر قسم عبادت اوما فوق الاسباب مدد غوښتل ئے هم د الله ذات سره خاص کړل :- اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ۝ (سورة الفاتحه آیة ۴) :

تر دے چه سجده تعظیمی ئے هم الله سره خاص کړل، کومه چه نور د دینو نو کښ د غیر الله د پاره جائز وه اَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ :- سورۂ الجن آیة ۱۸)

نذر لغیر الله، قسم بغیر اسم الله، طواف لغیر بیت الله ئے بند کړو او دا سے د شک تولے دروازے ئے بند ے کړے، حقیقت دا دے چه د خدائے د اقرار نه په زړه چه کوم اخلاقی اثر غورزیدی هغه بغیر د دے توحید کامل نه نشی کیدے، د اطاعت، انقیاد، اخبات، خشوع، استقلال، توکل او اخلاص حالت په زړه هله طاری کیدے شی چه داخیال او اعتقاد ے وی چه خمونږ د تولو حاجتونو، ضرورتونو، امیدونو، غرضونو او مقصدونو هم یو مرکز دے، داشان د آزادئ، زړور تیا او بے نیازئ صفتونه د دے توحید کامل نه بغیر نشی پیدا کیدے کوم گس چه د یو ذات نه سوا بل څوک حاجت روا گنړی د هغه سر په هره آستانه د ټیټیدو د پاره تیار وی

نبوّت

د نبوت لغوی ښیاد کچرے (نَبَأٌ) خبر وی، نو د نبی شرعی او عرفی معنی په دالله له طرفه خبر ورکولونکے وی، او کچرے د "نبوة" په معنی د

رفعة نه منقول وی نو د نبی معنی به د تولو نه لوړ او اوچت شان والا وی، او کچرے د "نبی بمعنی طریق" نه منقول وی، نو مطلب به ئے دا وی چه پیغمبر عم الله تر د رسید و لار او وسیله ده، په ډومبی صورت کښ مهموز اللام او په آخر و دو صورتونو کښ به معتل اللام وی، د اشاعره و نه د "مواقف" شارح د "نبی" شرعی او اصطلاحی تعریف دا نقل کړے دے :-

مَنْ قَالَ لَهُ اللّٰهُ اَرْسَلْتُكَ اِلٰى قَوْمٍ :- نبی هغه څوک وی، کوم ته چه الله دا فرمائیلی وی، چه اَوْ اِلَى النَّاسِ جَمِيْعًا :- ؛ ته مایوقوم یا تولو خلقونه پیغمبر لیږلے ئے :

د نبی ډومبی دوه لغوی معنی امام راغب رحمه الله په مفردات کښ لیکلی دی، د نبی یو خو خصوصیات دی چه په هغے د غیر نبی نه جدا کیږی

د نبوت خصوصیتونه

(۱) یو انسان د نبوت د عهدے د پاره چونږ کول د الله کار دے، دا عهده وهبی ده کسبی نه ده، الله تعالیٰ په ظاهر او باطن په حال او مستقبل پوره خبردار دے چه هغه کوم انسان ته د نبوت فرض په غاړه کوی نو د غے فرض دا کولو په هغه کښ کامل قابلیت او استعداد موجود وی اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهٗ ط (الله بنه پوهیږی چه د پیغمبرئ منصب چا له ورکول په کار دی :-

(۲) د نبی علوم هم وهبی وی کسبی نه وی، هغه د زمکے د کوم اُستاذ نه زده کړه نه وی کړی، بلکه د آسمانی اُستاذ نه د آسمانی علومو زده کړه کړی وی، او د زمکے په تعلیم کښے هغه اُمّی (نالوستے) وی امام غزالی رح د احیاء العلوم په ډومبی جلد کښ د عقل د مرتبو د فرق دا سے بیان کړے دے چه د خلقو د عقل مرتبے مختلفے دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بعضے دیر غبتی وی چه په بنود لوهم زده کړه نشی کولے، او بعضے تیز دِ ماغی وی چه په بنود نه زده کړه کولے شی او بعضے هغه حضرات دی کوم چه د انسانی بنودنے نه بغیر د خپل زړه په رانږا علوم حاصلوی، دا پیغمبران علیهم السلام دی،

(۳) په شکل و شباهت او په خوئے خصلت کښ د نورو نه ممتاز وی بخاری وغیره کښ دی:-

کَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: نبی علیه السلام په صورت اَحْسَنَ النَّاسِ خَلْقًا وَّ خُلُقًا: او سیرت کښے له ټولو خلقو بهتر وو:-

(۴) په علم او عمل دواړو کښے کامل وی، د علم کمال ئے داد ے چه پکښے غلطی نه وی او د عمل کمال ئے داد ے، چه گناه ترهیڅه کبیره وی د عبادتِ الٰهی د حد نه تیریدل د ده په عمل کښ نه وی، نبی د اُمّت د پاره د عمل نمونه وی:

لَقَدْ کَانَ لَکُمْ فِیْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ: نو حکه د گناه نه پاک وی او د خپل عمل غلطه نمونه نه ورکوی، لکه انسان چه د خپل چکن د پاره درزی ته غلطه نمونه نه ورکوی، الله تعالیٰ چه نبیٔ د عمل نمونه را لیږلے نو په هغه کښ د غلطئ او گناه څخه امکان کیدے شی:-

(۵) نبی علیه السلام د علم او عمل تکمیل کوی، مطلب دا چه څوک د هغه تربیت کښ راشی نو هغوی په علم او عمل کښ کامل جوړ شی د هغوی د علم او عمل شان د نورو او ټولو خلقو نه بلند او ممتاز شی:-

(۶) د نبیٔ د تعلیم او عملی ژوند نه دا ښکاره معلومیږی، چه د ده اصل مقصد عام مصالح دی یعنی د ده په ورانده، د یوکس یا د تیر او ټولی د فائده په څانے به عمومی فائده وی:-

(۷) د نبی اُوم خصوصیت دا دے، چه د نبی معاشی ژوند او اخلاقی کردار د بے مالئ او مالدارئ په دواړو صورتونو کښے یو شان وی کوم خوراک سینا ئ استوگنه او اغوستنه چه د بے مالئ په حالت کښے ئے وی هم هغه ئے د مالدارئ په حالت کښ وی، کومه عاجزی او خاکساری چه د بے مالئ په حالت کښے وی هم هغه ئے د مالدارئ په حالت کښ وی لکه چه د حضور علیه السلام اُو نورو پیغمبرانو علیهم السلام، دا ثبوت د تاریخ په پاڼو کښے محفوظ دے گویا که پیغمبران علیهم السلام په عوامی مفاد و خپل ذاتی مفاد، قُربانوی، او د غلبے او حکومت حاصلولو نه پس هم د هغوی د عجز و نیاز د بندگئ د شان او د هغوی په تواضع هیڅ اثر نه پریوزی، د پیغمبرانو علیهم السلام د زړه او روح خداداد پاکی او صفائی د هیڅ ماحول نه خرابیږی او کبر او کبریٰ نه د دے مطلب دا شوچه عام و انسانانو نه د هغوی فطرت مختلف دے:

(۸) د نبی په ژوند کښ د تصنع تکلف، نمائش، خپلے لویئ او د ځان بنکاره کولو هیڅ نښه نه وی، او د هغه محبت او بغض د خپل ذات د پاره نه بلکه د رب العلمین د ذات د پاره وی، هغه خو د خپل ځان حق معاف کوی، لیکن د الله حق نه معاف کوی:

(۹) نبی د الله د فرمانبردارئ عملی نمونه وی، هغه په بنکاره او پټه په دننه او بهر دوستانو او دُشمنانو سره، په قهر او په خوشحالئ کښے بلکه په هر حالت کښے د رضائے الٰهی د لارے نه یو ذره هم نه اړوی د گنړے حالاتو او ځانگړی کیفیات د هغه په استقامت کښے څه نقص نشی راوستے گویا کښے د الله رضا او د شرع تابعداری د هغه په خمیر کښ اَخلے شوی وی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱۰) دَ هغه په ذریعه دِ دے دَ پاڑه معجزات او معجزات ظاهریږی چه دَ هغه دَ نبوت تائید پرِ اُوشی. په شرح مواقف کښے دَ معجزے اُوه (۷) شرطه لیکلی دی:-

(۱) دا به دَ خدائے فعل وی (۲) دَ عادت خِلاف به وی، (۳) دَ هغے مقابل به نشی کیدے (۴) دَ نبوت دعویدار نه به ظاهریږی (۵) دَ دعوے موافق به وی (۶) بل نبی نه به دَ رد غژن نه وائی (۷) دَ دعوے کولو نه به وروسته وی (طبع نولکشور ص۲۲۵ تا ۲۲۶)

دَ معجزے اُصولی قسمونه دوه دی (۱) معنوی مُعجزه دَ خاصانو دَ پاڑه (۲) حِسی مُعجزه چه عوامو دَ پاڑه وی دَ حضور علیه السلام معنوی معجزه قُرآن دے، او حِسّی معجزه ئے شق القمر، تکثیر طعام ومیاه (یعنے خوراک خښاک زیاتول) او دَ څارو وو خناورو اُونبُو تو خبرے کول دی.

په معجزے، کرامت او سحر کښ بیلتُون

معجزه او کرامت دواړه دَ الله کارُونه دی، معجزه ئے له پیغمبرانو او کرامت له وَلی، ظاهریږی دواړه اختیاری نوی په اکتساب حاصلولے نشی، بنود نه اوزګړه ئے نوی، دَ دے دواړو سبب صِرف دَ الله اراده وی، په خلاف د سِحر چه دَ هغے معنے د لُغت اِمامان او مُفسِّرین بنودلے دا بیان کړیده، مَا دَقَّ مَأْخَذُهٗ وَلَطُفَ، یعنے کوم فعل او عمل چه په مخفی اسبابو بنا وی هغه سِحر دے، دَ سائنس بعضے موجُوده مصنوعات هُم دَ سِحر په تعریف کښ داخلیږی شی، ځکه چه دَ انسانی فعل دے، دَ انسان په اختیار کښ دے په بنود نه اِزد کړه، کسب او اکتساب، په مشق او تجربه حاصلیږی دے نه علاوه عادی اُمورو دی دَ دے اسبابو لکه دَ عام کار کسب دا سے بنکاره او ظاهِرُی

چه عام خلق پرِ هُم پوهیږی، کچرے له دَ رد وغژن بنی یو خِلاف دِ عادت کار ظاهر شی نو دا به معجزه نه وی، بلکه په استدراج او سحر کښے به ځکه داخل وی، چه دَ هغے مخفی هغه اسباب موجُود وی کوم چه مادی وی او که غیر مادی وی، خو تعلیم یافته او مشق کُونکی خلق ئے اِستعمالوی، "عبد الله المقنع یا زردشت نه کچرے دا سے کارونه صادر شوی وی، نو هغه هم په دے قِسم کښ داخِل دی، لکه چه دَ شیخ الاشراق او سکاکی نه هم دا سے اُمُور بنکاره شوی دی چه د نبوت دعوٰی ئے نه لرله (تاریخ کښ شته) دغه رنګ دَ ابُوالطیب المتنبّی او دَ نورو متنبیانو نه هم دا سے کارونه ظاهر شوی دی دا ټول سِحر، استدراج تجربو، او تعلیم سره تعلق لری مثلاً دَ شپُونکی په لاس اچولو دَ شیخ الاشراق لاس دَ اُو بنسه را بیلیدل او دَ شپُونکی تنګ نه پس بیا لاس جوړ یدل چه په حقیقت کښے لاس نه وو بلکه رُومال وو، او که دَ سکاکی چه بُخدا دکښ اُور دا سے بند کړو چه یو تغرے هم نه بګلیدو، دَ طاش کبری زاده (روحی نه نقل دے (بحواله مسلمانوں کا نظامِ تعلیم وتربیت گیلانی جلد ۱ ص۲۳ حاشیه ابن سینا) په آخر دَ اشارات په یو باب کښ اګرچه دَ خوارِقو دَ خِلافِ عادت خیزونو طبعی اسباب هم بیان کړیدی او په تفهیمات کښ شاه ولی الله رح دا دو اِنَّمَا الْمُعْجِزَاتُ وَالْكَرَامَاتُ اُمُوْرٌ اَسْبَابِيَّةٌ غَلَبَ عَلَيْهَا السُّبُوْغُ فَبَايَنَتْ سَائِرَ الْاَسْبَابِيَّاتِ، "اُو خوارق ئے په ممتاز اسبابیانو کښے شمیر کړیدی لیکن دا هغه مقصد خوارِق پوهه نه تر نِږدے کول اُو دا ئے مقصد نه دے چه دا دے درجه دَ عاموا سبابیانو په شان کسبی او مشقی دا ؤ.

د نبوت حقیقت

(۱) دَ نبوت حقیقت خو الله تعالیٰ پیژنی یا پخپله نبی لیکن دَ دے شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ذهن کښ را وستو د پاره امام رازی رحمه الله په (مطالب عالیه) کښ چه څه لیکلی دی د هغې خلاصه داده:- چه انسان کښ دوه طاقته دی، (۱) د خیر او شر معلومه ول (۲) او دویم د خیر د عمل کولو او د شر نه د بچ کیدو طاقت، د روښی طاقت نوم قوّت نظری دے او د دویم طاقت نوم قوّت عملی دے د دے دواړو قوّتونو په لحاظ د انسان دوه قسمه دی،

(۱) یو هغه خلق چه پخپله په دے اوصافو کښ ناقص وی:-

(۲) بل هغه خلق چه پخپله هم کامل وی او ناقصان هم کاملان کولے شی د کمال بیا مختلفے درجے دی د دے آخری حد دادے چه قوّت نظری د دومره کامل وی چه د دے په څه علم راشی نو هغه د بالکل صحیح وی او غلطئ امکان هیڅ پکښ وی نه او د قوّت عملی د کمال آخری حد دادے چه هغه ته د دے اسے قوی ملکه حاصله وی چه پخپله تربنه کار و نه صادر اود بدئ د صادیدو امکان تربنه وی، کوم یو انسان ته چه د نظری او عملی کمال دا انتهائی درجه حاصله وی هم د غه پیغمبر او نبی وی،

(۲) امام غزالی رحمه الله تعالی، په (مَعَارِجُ الْقُدْسِ) او (اَلْمُنْقِذُ مِنَ الضَّلَالِ) کښ د نبوت په حقیقت د پوهے له پاره چه کوم تقریر کړے دے د هغې خلاصه داده چه انسان د پیدائش په وخت جاهل وی د بیا یو نړۍ په هغه کښے د لمس قوّت پیدا کیږی چه پرې گرم، یخ او سخت پیژنی، بیا په ده کښ قوّت حاسّه او باصره پیدا شی چه په رنګ او مقدار پیژنی بیا ئے د آوریدو او څکلو قوّت پیدا شی چه هغې آواز او نا او مزے پیژنی او په دے د محسوساتو حد ختم شی بیا یوه نوے دیتیز د ور شروع شی چه په هغې دے د هغه څیزونو علم

(حاصلوی)، چه په کومو د دے حالاتو کښ د نړۍ د ادوړه اُومکال د عُمر شروع کیږی، پرده دے د ور کښ دے خپل، پرده د خوراک څکاک قابل نه وی او پیژنی، بیا د عقل زمانه راشی چه په هغې انسان ممکن، (کمال، صحیح او غلط پیژنی اُس د دے نه وړاندے یو بله داسے درجه د عقل رسائی هغلته نشته لکه څنګه د حواسو چه د عقل درجے ترسائی نه، د دے درجے نوم نبوت دے چه د هغې په وجه د وحی په ذریعه د هغه علومو او معلومات حاصلیږی د کومو د موندو نه چه عقل عاجز دے:-

(۳) د نبوت ثابتولو د پاره د امام غزالی رحمه الله تعالی، دوه طریقه دی چه نه ټول کار و نه د کولو دی، او نه د نه کولو، بلکه بعضے کولودی او بعضے د نه کولو، اُس دا سوال پیدا کیږی چه د کولو او نه کولو د کار و نو فرق هر انسان کولے شی، او یا ئے هیڅوک نشی کولے یا ئے څوک کولے شی او څوک ئے نشی کولے رُومبی دوارہ احتمالونه باطل دی، یوازے دریم احتمال دا سے پاتے کیږی، چه بعضے انسانان چه هغوی د احدُ و نه متعیّن کولے شی چه فلانی عملُونه د کولو او فلانی د کولو جوګه دی د غه حضرات پیغمبران او صاحب شریعت دی:-

(۴) د احقر په خیال کښ د بعضے لطیفو خیزونو مثلاً د ایمان، کفر، د طاعت معصیت تاثیرات د عقل د حد نه بهر دی، لکه څنګه چه معقولات د حواسو نه بهر دی نو د د وی علم د عقل په ذریعه حُکه نشی حاصلیدے مګر د د تاثیراتو علم د پیغمبر یاتو ضروری دے، حُکه چه د کثیفو خیزونو د نزیا قواوو هر و نفع نقصان معمولی دے لیکن روح سره د ان په وجه د لطیفو خیزونو اثر قوی وی، مادیاتو کښے لطیف اشیاء الاثر وی، لکه ستیم چه د دومره قوی الاثر دے چه ریل ګاډے

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرمنډے وهی، لهذا دا انسانی فلاح دَ دے څیز دنوم دَ نفع او نقصان
یوازے رب العلمین ځکه کولے شی چه هغه پخپله لطیف او خبیر دے مګر
انتهائی مشرف او عظیم دے او انسان بے حده کمزوری او ذلیل دے
په دوارد کښے هیڅ جوړخت نشتوالی لهذا دے دَ پاره یو واسطه دا سے
چه څه قدرے نسبت ځ دَ الله سره وی او څه دَ انسان سره چه په
طریقه د الله فیض انسانانو پورے راأړسوی او دا واسطه دَ نبوت
شی دَ دے واسطے به دَ اسے مثال وی لکه داورا او أبو یو خائے کولو دَ پار
چه دَ اور پشان گرم او لطیف هم نه دے او دَ أبو پشان یخ او بلید و ځکه هم
دَ اور فیض (گرمی) بیغ په نیغه ځکه أبو ترنشی منتقل کولے چه دے ډ
هیڅ کښ جوړخت نشته هرکله چه د یخ کے واسطه شوه نو دا اور فیض بی
هله أړسی او هغه گرمے شی، دغه حال دَ محبت الهی او د نبوت دَ علوم
چه د نبی په ذریعه اُمت او عامو انسانانو ته منتقل کولے شی دَ روحا
او ملکیّت په اعتبار دَ نبی ذات الله سره نسبت لری او دَ بشریّت
انسانیّت په اعتبار انسانانو سره نسبت لری او دغه رنګه دَ یو وا
په توګه د نبیﷺ مناسبت مفیض (الله) او مستفیض (انسان) د
سره دے:-

(۱) شاه ولی الله نوّر الله مرقده، په حجة الله کښ دَ نبوت په انبا
کوم کلام کړیدے دَ هغے خلاصه دا ده چه په نباتاتو کښ دهریو ته
جُدا خاصیتونه دی دغه رنګ د حیواناتو دَ هر قسم خان خان له خه
دی، دا ټول خاصیتونه دَ دوی دَ صُوَرِ نوعیه و فطری غوښتنه ده
نوعیه په مُوجب حیواناتو له چه دَ هغوی دَ ژوند دَ پاره فطری او
غوښتنه، نه علاوه یو بل قسم اِدراک هم ورکړے شوے دے چه هغ
اکتسابی او نظری وسیلے شی او دا په تجربه، غور، فکر او په ترتیب

ښه ماتو حاصلیږی، دا دے په ذریعه انسان، تجارت، کار کسب او
علوم او فنون حاصلوی، خو دا ټول علومونه دَ انسان بدنی حالت
اړتیاوو لری، دا دے نه بغیر انسان نه یو بل قسم ادراک هم ورکړے
شوے دے چه دَ هغه دَ روحانیت فطری خصوصیّت دے. او هغه ته
دَ ملکیّه هم وسیلے شی هم دَ دے قوّت په اثر هغه دَ کائناتو په کارخانه
کښ چه دا څه له جوړه دی، څه چا پیدا کړے یم، څوک ما له روزی
کوی، او څه دَ پاره ځے پیدا کړے یم، او دا دے سوالونو په جواب ورکښے
هر دیو دیرلوے طاقت اقراری شی، او دَ هغه په وړاندے دَ زاری،
عاجزۍ تیټوالی او دَ تابعداری آداب په ځائے راوړی خو دے امور
ټول په یو قانونِ الهی موقوف دے، چه دَ هغه دَ رضا پوره لے مقرّرے
شوے دے صُورت دا جوړ کړی چه له دیرو مودو وروسته خپل منظورِ نظر
یعنے انسان پیدا کړی کوم چه دا دے فطری غوښتنے (دَ فرمانبرداری
قانون) دَ ظهور سبب جوړ شی دا نبی وی، په اصل مضمون مونږ دے دَ پاره
اضافه اُکړه، چه عام فهم شی.

دَ قانونی دلیل دالله جل جلاله، دا دے صفتونه ټول قومونه او
هغوی نه مَنی، (۱) حاکمیت (۲) قُدرت (۳) حکمت
دا ټول صفتونه تقاضا دا ده چه خپل رعیت او انسانی مخلوق بانده
قانون اُجلوی ځکه چه بے قانونه حکومت هیڅ شرم دے، قدرت
حکمت هم بے قانونی نه مَنی، نو دا ضروری شوه چه دَ حاکمِ اعلیٰ او دَ
العلمین ذات یو قانونِ د موجودوی او دا هم ضروری ده چه انسان
قانون نه خبردار کړیشی ځکه چه بے اِعلانه او بے خبره قانون بیکاره دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

دقانون د اطلاع دوه صورته کیدلیشی، یوعمومی او دویم انتخابی اوتو
عمومی داچه الله رب العلمین هرکس نه څان څان له په هرملک ر
زمانه کښ ددے خبرورکوی، خودا د الله د شان او د عظمت نه څک
خلاف ده، چه یوحقیر انسان امیر یا بادشاه هم داسے نه کوی چه کو
په کور دِ کرزی او هر هرتن ته دِ خبرورکوی، نو دویم صورت ا
داسے مناسب دے چه الله تعالے یوغوره انسان اُتاکی او د هغه پ
واسطه د خپل قانون خداوندی نه خبرکړی چه د خلقو دین دنیا پ
شی، او عدل او انصاف قائم شی، او د خیر او شر د عملونو د نتیجو نه
خبر شی د دا سے منتخب او نمائنده حاکم اعلیٰ هستئ نوم د شریعت
په اصطلاح کښ نبی اور سُول دے۔

(۷) د دُنیٰ دلیل د انسان په فطرت کښے د جسمانی ضروریاتو (لکه خو
څښاک نکاح وغیره) محبت هم پروت دے، او د روحانی ضروریا
(د الله) محبّت هم، په دُنیا کښ د ټولو قومونو او مذهبُونو د بیشمیر
عبادتونه کاهُونه دی، صحیح یا غلط مظاهر دی، د عبادت طریقه هم
وی او که غلطه خو مطلب ئے الله سره د محبّت ثبوت دے، هرکله
الله پاک د ټولو خلقو محبُوب دے او د محبُوب رضا لټول هُم فطر
غوښتنه ده خو دا رضا یوپټ څیز دے چه د هغے اظهار به په کلا
نه چه په قیاس او اټکل د هغه کلام د الله کوم پاک او اعتباری ذات
چه بنکاره کیږی هغه ته نبی اور سُول وئیلے شی، او په دغه کلام د
د اخوښئ او ناخوښئ متعیّن حدود و نه د شریعت په اصطلاح کښ حل
باطله عقیدے، بنه او خراب خُویُونه او ناروا او ناروا عملونه وئیلے
(۸) عدلی دلیل، انسانان د خپل ذات باقی سائلو د پاره د دغه
څیزونو محتاج دی، خوراک، څښاک، او ځائے ځایکے، او د

نورے د باقی سائلو د پاره د دغه نه علاوه د نکاح او د نورے هم محتاج وی
داخلور ضروریات ټول انسانان غواړی او طلب کوی، هرکله چه هر
انسان په خپل شهوانی اوپه نزوی قوّت داضروریات لټوی نو
خامخا به جګړے او کشمکش پیدا کیږی او هریوه به په خپل غضبی قوت خپل مدافعت
کوی، د دے جګړو او شر ختمولو د پاره د انصاف قانون زمکار دے
چه د هر انسان خپل خپل حق محفوظ کړی اُس به دا قانون د چا وی
(د) دیوانسان یا د ګڼو انسانانو نور پارلیمنټ) او یا به ئے خدائے جوړ کړی
، په ډومبی دوو صورتونو کښے د عدل مقصد نه پوره کیږی، ځکه
چه د عدل قانون جوړ ولو د پاره داخیزونه ضروری دی:۔

(۱) کامل علم او کامل حکمت چه د خیر و شر حدود نو متعین کولو کښے غلطی
اُنشی:۔

(۲) رحمت او شفقت چه د بُغض او عناد په وجه د قانون په جوړ
کښے بے انصافی اُنشی:۔

(۳) پره داری به پکښ نه وی چه د قانون په جوړ ولو کښے د خپل
قوم د خپلو وطن دار و لحاظ اُنشی او د نورو حق اُنه وهلے شی:۔

انسان کښ دا درے واړه صفته نشته د ده علم مکمل نه دے نه پوره
شفقت شته او نه د پرے څنبے نه بچ کیدے شی، خو د خدائے په ذات
کښے دا درے واړه صفتونه پوره د دل شته، د ده په علم کښ غلطی نشته
د دُنیا ټول انسانان د ده پیدا شوی بندګان دی دے د ټولو یوشان
معبُود دے، نور رحمت او شفقت ئے هُم په یوشان دے او پره
جنبه پکښ هُم حُکه نشی راتلے چه الله یو قوم قبیلے یا وطن سره هیڅ
تعلّق نه لری د ده شان دے تصور نه هم اُچت او بالا دے، قانون جوړ
هُم د دے ذات حق دے او دا قانون د کوم برکزیده بنده، معتمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

اومنتخب نمائنده په ذریعه چه لیږی دا نبی[۳۵] اورسول عام دے :-

(۹) توسطی دلیل، پټول مذهبونه داخبره منی چه انسان هله د خدائے پیژندګلی اوعبادت کولے شی چه ورته د هغه د هنمائی وی لیکن د عاموانسانانو اود خدائے په مینځ کښے د مرتبو په لحاظ هیڅ مناسبت نشته، عام انسان ډیرلاندے اود دنیا خالق انتهائی بلند دے منزی شوه چه انسانانو کښی د الله د فیض حاصلو لو دا سے برګزیده واسطه دوی چه بیا دغه فیض عاموانسانانو ته هغه اُدَ سَوی، یوطرف ته د بشریت په واسطه انسانانو سره نژدے وی او بل طرف نه د روحانی پاکیزګئی او بلندئ په برکت الله جل جلاله سره مناسبت لری دوی په حقیقت کښے د فیضان الهی واسطه وی چه د دوی په ذریعه د خالق کائنات فیض انسانانو ته رسیږی مثلاً موبز د اور فیض (ګرمی) اوبو رسول غواړو چه د هغے نه چائے یا پخګرے جوړ کړو، خو دا اوبو اوراور جوړ خت نه راځی یوګرم دے بل بیخ یو اوچ دے بل لوند یو واسطه دیچکے پکار دے چه د هغے په ذریعه داورګرمی اُبو کښے منتقل او مقصد حاصل شی یا داسے لکه شاه ولی الله رح فرمائی، روح انسانی رچه لطیفه ربانی دے ډیر لطیف دے او انسانی بدن کثیف دے ددے دواړو جوړ خت بشر تعالی الله د جوړ خت راوستو د پاره چه د روح انسانی فیض بدن انسانی ته اُرسی واسطه د روح طبی (هغه براس چه وینے نه پیدا کیږی) پیدا کړه چه د انسان په بدن کښے خوږوی، همدغه رنګ پیغمبران علیهم السلام د الله او د عامو بندګانو په مینځ کښی واسطے دی، د رشد او هدایت د اشکال د الله د عظمت سره سبائی لکه د نصاری و د عقیدے مطابق الله په شکل د عیسی علیه السلام یا د هندوانو د عقیدے مطابق الله په شکل د رام بشن مهادیو را تلل غلط او د فطرت خلاف دی۔

اول داچه لامحدود خدائے د انسان په شکل کښے محدود کیدل د عقل خلاف دی، دویم[۳۶] :- خدائی د انسان په شکل کیدلو سره خپله خدائی قائمه نشی ساتلے او بل دا چه خدائے پاک کښی به هم د بشریت حاجتونه او ضرورتونه راشی، بیا به خدائے پاتے نشی، دریم[۳۷] :- داچه د انسان په شکل سهی خو خدائے پخپله هادی شو اُس به چه د دے کوم عمل کوی هغه به د خدائے عمل ګڼرلے شی، نو انسان به د هغه تابعداری په دے عمل کښی څکه نشی کولے چه هغه به د اعذر لری چه انسان د انسان پشان عمل خو کولے شی مګر د خپل خالق او خدائے پشان عمل کول نا ممکن دی،

څلورم :- داچه په انسانی جامه کښی د خدائے را تلل مفید نه دی څکه هغه د چا (عیسیٰ یا رام چندر) په شکل کښے چه را شی نو نو تول تعلق به ئے هم د هغه سره براه راست[۳۸] وی، او نور و انسانانو سره به ئے بالواسطه وی، څکه چه هر انسان کښی خو به د دغے عقیدے مطابق خدائے نشی ننوتے، لهذا په څه دے چه خدائے تعالیٰ د انسانی تشکل ذلت په سر واخلی، او پخپله د فیض واسطه شی د اخبره د یره معقوله ده چه یو غوره کړے انسان د فیض واسطه جوړه کړی چه د هغه عمل د انسانیت (بشریت) په وجه د نورو انسانانو د پاره نمونه جوړه شی یو انسان بادشاه پخپله کوڅه په کوڅه نه ګرزی او نه د بل چا په شکل کښی ګرزی، صرف خپل بو نمائنده وزیر وغیره مقرر کړی چه هغه د ده احکام او قوانین نورو ته رسوی :- د اسلام د نبوت تصور د بتولونه زیات معقول دے هغه د فطرتِ سلیمه او د دنیا د روش بالکل مطابق دے،

پنځم :- داچه په شکل د بل (عیسیٰ یا رامچندر) کښی د را تلو مطلب دادے

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه په هغې کښے ظاهر شوے دے نو داخبره ځکه غلطه ده چه د خدائے جلوه گاه او مظهر د دنیا هر یو څیز دے ۔

(۱) تقدیسی دلیل : خدائی احکام پیژندل د هغه منل او ګومل دی، دا ضروری، دا احکام پیژندلو او پوهه د پاره د معلم د هغه منلو پاره د تقدس (پاکئ) او د ګولو د پاره د مقدسه سے (پاکے) نمونے ضرورت دی، چه د تعلیم، تسلیم، او تعمیل په ذریعه دین الهی باقی پاتے شی، که دا سے نه وی د دین سلسیله به ګټ شی او د دین جاری ساتلو د پاره د دے ربط او تړون دا سے یو محسوس شخصیت سره ضروری دے چه د هغه عظمت، تقدس، محبوبیت، په زړونو کښے دا سے مضبوط وی، چه کله هم تر سترګو اوزی او دا حیثیت هم د نبی کیدے شی، ځکه د نبی تصور دین د پاره ضروری دے چه د هغه محبت او تقدس د دین د شمع د روښانه ساتلو د پاره د تیلو کار ورکوی ۔

ختمِ نبوت

د ختمِ نبوت مسئله د اسلامی تاریخ په یو دور کښ هم د شک شبے جوګه نه ده پاتے شوے او نه په هغے د بحث کولو څه ضرورت ګڼلے شوے دے، لیکن د پاک او هند په برصغیر کښ انګریزی حکومت د خپلو مفادو او د تاریخی اسلام دشمنئ د تکمیل د پاره د اسلام په دے مرکزی عقیده ګذار کول ضروری ګڼلی د پاره د دے چه د مسلمانانو یووالے ختم شی د دے سازش پوره کولو د پاره د پنجاب د ضلع ګورداسپور نه انګریزانو ته دا سے یو سړے په ګوتو راغے چه د دے مقصد پوره کولو د پاره مناسب وو، هغه د انګریزانو په حمایت

خپل یو امت جوړ کړو او د نوی نبوت بنیاد ئے اُ ګولو ۔ په ډیر کتابونه سے اُ لیکل چه د هغے بنیادی مقصدونه درته دی :-

(۱) په خپل شخصیت او دعوو زور درکول :

(۲) د قرآن تحریفونو نه معارف دلیل :-

(۳) د مسلمانانو په دشمنئ او د انګریزانو په دوستئ زور ګڼلول :-

د دے پټولے کاروائی هم دغه خلاصه لری، لکه اقبال مرحوم وائی :-

سلطنتِ اغیار را رحمت شمرد	رقصها ئے گرد کلیسا کرد و مرد

ترجمه : د غیر قومونو نه انګریزانو حکومت ته رحمت ګڼلو ۔ د ګرجے خوا ته ګرځیدل کار اکمالے ګڼلے او مړ شول :-

د نا خبره مسلمانانو د ایمان بچ کولو د پاره په ختم نبوت څه بیان کول ضروری دی، د اسلام مثال د یو عمارت دے او د اهم عمارت د دے نقشے وی چه انجنیر ئے جوړ وی :-

(۱) ذهنی او فکری نقشه (۲) تحریری او کتابتی نقشه (۳) خارجی نقشه

اسلام د عقائدو، اخلاقو، عبادتو یو عمارت دے د هغے پوره نقشه په علم الهی کښ محفوظ ده، بیا دا نقشه د کتاب او سنت په شکل کښ جوړه شوه چه دا د عمارتِ اسلام یو تحریری نقشه ګڼلے شی، بیا خو ارلس سوه کاله د مسلمانانو جاری عمل د دے نقشے او عمارتِ اسلام یو بهرنے وجود وو دا د هغه یو بل سره ګډ یوځائے والی دی د الله په علم کښے د اسلام حقیقت هو بهو د قرآن او حدیث په شکل کښ بنکاره شو او قرآن او حدیث کښ د اسلام چه کوم حقیقت دو هم هغه د مسلمانانو په ذهن او فکر کښ پرله پسے نسل په نسل منتقل کیدو، د اسلام په

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنیادی اُمورو کښې مُسلمانانو اختلاف اُنکړو اګرچه په نورو اُمورو
کښې اِختلاف وو، هم دغه وجه ده چې په اِسلام کښې ډیرې نِرتې پیدا
شوې خو تِرې نه هغوی د ختمِ نبوت په بُنیادی حقیقت کښې څه قسم
اختلاف اُنکړو البته د کتاب الله او سُنّت نبوی نه د بهرو تو په چل
انکار کیدے شو او همدغسے اُشو، په دے مسئلهٔ په دوۀ اړخونو، بحث کوو
(۱) عقل (۲) نقل : په نقل کښې به په درے خیزونو بحث کیږی
(۱) کتاب یعنی قُرآن او ختمِ نبوّت (۲) حدیث او ختمِ نبوّت (۳) اجماع
او ختمِ نبوّت، اوس دے نه پس به د ختمِ نبوت په عقلی اړخ بیان کوو :-

۱: قرآن او ختمِ نبوّت

د قُرآن حکیم د سلو آیتونو نه زیاتو کښې د ختمِ نبوت مسئله بیان شوېده
خو د کوتاه والی په خیال مونږ یو څو آیتونه را چوڼ کړکوو، رُوجحے په سوت
احزاب کښې دے :-

مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ ۔ محمد صلی الله علیه وسلم ستاسو په سړو
وَلَٰكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ ۗ د کښې د چا پلار نه دے لیکن د الله رسول
اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ○ ۔ ۔ ۔ او په ټولو نبیانو مُهر دے، او الله په
هر څیز خبردار دے :-

دا آیت بالخصوص په ختم نبوّت دلالت کوی، یعنی د نبی علیه السلام په
تشریف آوړی سره د ټولو نبیانو په سلسله مُهر اُلګیدو، اُس به چانته
هُم نبوّت نشی ورکولے، چانته چه ملاویدو هغه ملاؤ شو او د هغوی د
نبوت دور د ټولو نه حُکه رُستو کیږی نو دے شو چه د نبوت به تر قیامته
چلیږی په آخره زمانه کښې به حضرت مسیح علیه السلام د دوی د اُمتی په
حیث راځی، ټول پیغمبران اُس هُم په خپل خپل ځائے پیغمبران دی مګر
دُنیا کښې صرف د مُحمدؐ د نبوّت عمل جاری او ساری دے، او الله ټول

خیزونه پیژنی تر دے، چه داهُم پیژنی چه زمانه د ختمِ نبوت او
ځائے د ختمِ نبوت کوم یو دے په "خاتم" کښې دے، په زیر د ویرو
قاریانو قرأت مے، او د "ت" په زور د حسن او د عاصم قرأت دے،
د زبر سره قرأت (یعنی خاتَم) د خاتم النبیین معنی د ټولو نبیانو
ختمونکے او د "ت" په زور (خاتِم) معنی د ټولو نبیانو مُهر لګوونکے دواړو
قرأتونو مطلب یو دے هغه داچه هغوی صلی الله علیه وسلم آخری
نبی دے او د دوی نه پس د نبوّت دروازه بنده شوه، حُکه چه د مُهر
معنی د نبوّت بندیز د ایو بلیغ انداز دے، چه پرِ قرآن سنت او عربی
لغت متفق دی، د کومو کافرانو په نصیب کښې چه ایمان نه وو، د هغوی
په بارہ کښې د ایمان بندیز ځے په لفظ د مُهر بیان کړو، فرمائی.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ○ خَتَمَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَعَلَىٰ سَمْعِهِمْ د سورۀ البقرة آیة ۶ ع ۱

یقیناً څه خاص خلق داسے کافران دی
چه نه هغوی ویرَوے او که نه
ویرَوے هغوی به ایمان نه راوړی
حُکه چه د هغوی په زړونو او غوږونو
مُهر لګیدلے دے

کچیرے دلته د مُهر معنی د ایمان دروازه بندیدل وی نو په خاتم
النبیین کښې هُم د مُهر معنی به خامخا د نبوّت بندیزوی، لکه صاحب
قرآن پخپله دا تفسیر کړے دے په مسلم کښې د ابو هُریرهؓ او په
ترمذی او ابو داؤد کښې د ثوبان رضؓ نه مرفوعاً روایت دے چه
قیامت نه وړاندے به دجّالان او دروغژنان د نبوت دعوا کړی
وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ لَا نَبِيَّ بَعْدِي، حالانکه زه خاتم النبیین یم خما
نه پس چانته نبوت نشی ملاویدے" هُم دا الفاظ د حذیفه رضؓ
نه طبرانی او احمد مرفوعاً نقل کړیدی په روایت د ابو هریره رضؓ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بخاری او مسلم کښ د نبوت تشبیه دا سے یو کور سره ورکړیده، چه د هغے تعمیر د نبوت د خښتو شوے وی د هرنبی د نبوت مثال ئے د یو خښتے ورکړیدے، او په دغه عمارت کښے صرف د یو خښتے ځائے خالی وی نو حضور فرمائی چه (فَأَنَا هٰذِهِ اللَّبِنَةُ وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ) د ابوهریرة رضی الله عنه مرفوعاً د حضور علیه السلام شپږ خصوصیات ذکر دی چه په هغے کښ شپږم خصوصیت "وَخُتِمَ بِيَ النَّبِيُّوْنَ" یعنی په ما د پیغمبرئ سلسله ختمه شوه (رواه مسلم فی الفضائل) په فتنة الدجال کښ د ابوامامه رضی الله عنه مرفوعاً روایت نقل دے، "وَأَنَا آخِرُ الْأَنْبِيَاءِ وَأَنْتُمْ آخِرُ الْأُمَمِ" یعنی محمد آخری نبی یم او تاسو آخری اُمّت یئ، دغه رنګ په صحیحینو کښے حضرت علی رضی الله عنه ته د حضور علیه السلام دا فرمائیلی "أَنْتَ مِنِّيْ بِمَنْزِلَةِ هَارُوْنَ مِنْ مُوْسٰى إِلَّا أَنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ"، یعنی ستا تعلق ما سره هغه دے کوم چه د هارون علیه السلام د موسی علیه السلام سره وو سوا د دے چه هارون علیه السلام پیغمبر وو او ځما نه پس پیغمبر نشی کیدے دغه رنګ د صحیحینو د روایت چه "لَمْ يَبْقَ مِنَ النُّبُوَّةِ إِلَّا الْمُبَشِّرَاتُ" د نبوت هیڅ پاتے نشو سوا د رښتینی خوبونو پاس تیر شوی د ختم آیت په باره کښ پخپله مرزا په (ازالهٔ اوهام) صـ۲۵۲ او ۶۱۴ کښ دا سے لیکی رمګر دا رسول ختم کوونکے د نبیانو دے"، دا آیت چه محمد نبی نه پس به بل نبی دُنیا کښے نه راځی په (حمامة البشری) صـ۲۳ کښ لیکی، "اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ الرَّبَّ الرَّحِيْمَ الْمُتَفَضِّلَ سَمّٰى نَبِيَّنَا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمَ الْأَنْبِيَاءِ بِغَيْرِ اِسْتِثْنَاءٍ وَفَسَّرَ نَبِيُّنَا فِيْ قَوْلِهٖ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ بِبَيَانٍ وَّاضِحٍ لِلطَّالِبِيْنَ" په ایام الصلح صـ۴۶ کښ لیکی (محمد نبی صلی الله علیه وسلم د خاتم النبیین تفسیر په لا نبی بعدی سره فرمائیلو

چه ځما نه پس به بل نبی نه وی او د حق طلب کوونکو له پاره دا خبره بنه بنکاره ده په حدیث (لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ) کښ "لا" د نفی عام له پاره دے (کتاب البریة) صـ۱۸۴ کښ لیکی آنحضرت صلی الله علیه وسلم بیا بیا فرمائیلی دی، چه ځما نه پس به بل هیڅ یو نبی نه راځی او حدیث (لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ) دا سے مشهور دو چه چا هم د دے صحت کښے خبره نشوه کولے او قرآن شریف (چه لفظ ئے یقینی دے په خپل آیت کریمه "وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ) سره هم د دے تصدیق کوی، چه په حقیقت کښ محمد نبی په نبیانو باندے نبوت ختم شوید ے"، په تریاق القلوب صـ۳۷۵ کښ لیکی:-

هست اُو خیر الرسل خیر الانام	هر نبوّت را بروشُد اختتام

د دے تصریحاتو نه پس په دے خبره کښ هیڅ شک شُبه نه پاتے کیږی چه ذکر شوے آیت په ختم نبوت کښ د قطعی الثبوت کید و نه علاوه قطعی الدلالت هم دے،

د خاتم النبیین لفظ او د عربو لغت

(۱) په رُوح المعانی کښ دی چه (خَاتَم) مَا يُخْتَمُ بِهٖ) ته وئیلے شی لکه څنګه (طَابِعٌ) (مَا يُطْبَعُ بِهٖ وئیلے شی،

(۲) په "مفردات"، دا مالم راغب کښ دی، "وَخَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ لِأَنَّهٗ خَتَمَ النُّبُوَّةَ

(۳) وَفِي الْمُحْكَمِ لِابْنِ سِيْدَهْ "وَخَاتَمُ كُلِّ شَيْءٍ وَّخَاتِمَتُهٗ عَاقِبَتُهٗ وَآخِرُهٗ

(۴) وَفِي التَّهْذِيْبِ، لِلْأَزْهَرِيِّ "وَخَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ أَيْ آخِرُهُمْ"

(۵) وَفِيْ لِسَانِ الْعَرَبِ "وَخَاتَمُهُمْ وَخَاتِمُهُمْ آخِرُهُمْ،

(۶) وَفِيْ تَاجِ الْعُرُوْسِ) "اَلْخَاتِمُ بِالْفَتْحِ وَالْكَسْرِ مِنْ أَسْمَائِهٖ

(c) ketabton.com: The Digital Library

عَلَيْهِ السَّلَامُ وَهُوَ الَّذِيْ خُتِمَ النُّبُوَّةَ بِمَجِيْئِهٖ ؛

(۷) وَفِيْ مَجْمَعِ الْبِحَارِ، وَخَاتَمٌ بِالْفَتْحِ بِمَعْنَى الطَّابِعِ اَيْ شَيْءٌ يَدُلُّ عَلٰى اَنَّهٗ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ ؛

(۸) وَفِي الْقَامُوْسِ الْخَاتِمُ اٰخِرُ الْقَوْمِ كَالْخَاتَمِ وَخَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ اَيْ اٰخِرُهُمْ

(۹) وَفِيْ كُلِّيَّاتِ اَبِي الْبَقَاءِ وَتَسْمِيَةُ نَبِيِّنَا خَاتَمَ الْاَنْبِيَاءِ لِاَنَّ خَاتَمَ الْقَوْمِ اٰخِرُ الْقَوْمِ ثُمَّ قَالَ وَنَفْيُ الْاَعَمِّ يَسْتَلْزِمُ نَفْيَ الْاَخَصِّ ؛

(۱۰) وَفِي الصِّحَاحِ وَخَاتِمٌ بِكَسْرِ التَّاءِ وَفَتْحِهَا كُلُّهٗ بِمَعْنًى وَاحِدٍ وَالْجَمْعُ الْخَوَاتِمُ وَخَاتِمَةُ الشَّيْءِ اٰخِرُهٗ وَمُحَمَّدٌ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمُ الْاَنْبِيَاءِ

د خاتم النبیین لفظ او مفسرین کرام

دا صحابو کرامو نه د مرزا تر زمانے پورے یا د دے نه د ستو پورے د قرآن حکیم چه څومره تفاسیر یا تر چے شویدی ټولو د خاتم النبیین تشریح دا کړیده چه د حضور علیه السلام نه پس بل چا ته نبوت نشی ملاویدے لیکن څه وخت چه کوردوا سړوری د نبی جوړیدو غم اخوږلو نو په اول کښے خو نه بلکه په اخر کښ ئے د ختم نبوت خپله عقیده او خپله تشریح دے د پاره بدله کړه چه پخپله هم نبی جوړ شی او په دے کښ د امید خلاف کامیابی ده ته اشوه ؛

د دغه خپل بیان دے چه حما د اګمان هم نه دو چه مسلمانان به د نبوت جاری پاتے کیدل قبول کړی، لیکن انګریزی تعلیم او د انګریزی حکومت حمایت او د دین د پوهے او عظمت خنډ او دانه ګیدونکے کار کیدونکے کړو، اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ○ نو دے چه دے مصنوعی نبوت د یو کامیابے او فائده مند ے فیکټرئ شکل اختیار کړو او مرتد سازئ له ے د تبلیغ اسلام په نوم د فیکټرئ په امد نئ کښے بنه زیاتے اکړو،

او بل طرف ته د دے نبوت په منونکو د عهد او تنخواګانو بارانونه اوورید او نو په دے دوی محسوسه کړه چه د انبول هر څه په دے خود ساخته نبوت د ایمان او ورو برکت دے، یا په نورو نکو کښی د مرزا معجزه ده د کومے د چه اکثریت د مسلمانانو نه محرومه دے، کجرے د حالانو یا خوښ د غفلت دار فتار دو نو عجیبه نده چه د مسلمانانو په سر یو بل اسرائیل سورشی او دغه وخت به بیا هیڅ تدبیر څه کار نشی کولے ع

کشورے محکم اساسے بایدت	دیدهٔ مردم شناسے بایدت
مرشد رومی حکیم پاک زاد	سر مرگ و زندگی بر ما کشاد

هر هلاک امت پیشین که بود ✤ زانکه بر جندل گمان برد ند عود

(اقبال مرحوم)

(۱) امام المفسرین ابن جریر طبری په خپل تفسیر کښ فرمائی :

وَلٰكِنَّهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَخَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ الَّذِيْ خَتَمَ النُّبُوَّةَ فَطَبَعَ عَلَيْهَا فَلَا تُفْتَحُ لِاَحَدٍ بَعْدَهٗ اِلٰى قِيَامِ السَّاعَةِ وَبِنَحْوِ الَّذِيْ قُلْنَا قَالَ اَهْلُ التَّاْوِيْلِ

(ج ۲۲ صلے)

یعنے دوی د الله هغه د سول او خاتم النبیین دی کوم چه نبوت ختم کړو او په هغے ے مُهر انګولو او د دغه نه پس به هیڅوا د پاره تر قیامته نشی پرانستے کیدے او همدغه

(۲) د حضرت علی بن حسین نه ابن جریر نقل کوی،

بِكَسْرِ التَّاءِ مِنْ خَاتِمِ النَّبِيِّيْنَ بِمَعْنٰى : خَاتِمِ النبیین دٌ ټ، په زیر چه معنے دا ده چه خَتَمَ النَّبِيِّيْنَ اِلٰى قَوْلِهٖ وَقَرَءَ ؛ به ټه دا وی چه هغوی ټول انبیاء

ذٰلِكَ فِيْمَا يَذْكُرُ الْحَسَنُ وَالْعَاصِمُ ؛ ختم کړل په قاسم یا نو کښ د حسن رح

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ بِفَتْحِ التَّاءِ بِمَعْنَىٰ ؛ او عاصم رح نه د (ت) په زور (خاتم) دے
أَنَّهُ آخِرُ النَّبِيِّينَ (جلد ۲۲ ص ۱۱) ؛ نقل دے په دے معنی چه دے آخری
پیغمبر دے،

(۳) تفسیر ابن کثیر کښ دی:-

فَهٰذِهِ الْآيَةُ نَصٌّ فِي أَنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدَهُ وَإِذَا كَانَ لَا نَبِيَّ بَعْدَهُ فَلَا رَسُولَ بِالطَّرِيقِ الْأَوْلَىٰ لِأَنَّ مَقَامَ الرِّسَالَةِ أَخَصُّ مِنْ مَقَامِ النُّبُوَّةِ فَإِنَّ كُلَّ رَسُولٍ نَبِيٌّ وَلَا يَنْعَكِسُ وَبِذٰلِكَ وَرَدَتِ الْأَحَادِيثُ الْمُتَوَاتِرَةُ مِنْ حَدِيثِ جَمَاعَةٍ مِنَ الصَّحَابَةِ (ابن کثیر جلد ۳ ص ۴۹۳)

دا آیت صریح نص دے چه د محمد صلی الله علیه وسلم نه پس بل نبی نشی جوړیدے چه نبی نشی کیدے نو رسول خو په طریق اولی نشی جوړیدے حکه چه رسالت د نبوت نه خاص دے هر رسول نبی وی خو هر نبی رسول نه وی، په دے د رسول الله صلی الله علیه وسلم متواتر احادیث وارد شوی دی کوم چه د صحابه کرامو یو لوئے ټولی د حضور علیه السلام نه نقل کړیدی، او راندے لیکی:-

لِيَعْلَمُوا أَنَّ كُلَّ مَنِ ادَّعَىٰ هٰذَا الْمَقَامَ بَعْدَهُ فَهُوَ كَذَّابٌ أَفَّاكٌ دَجَّالٌ (جلد ۸ ص ۱۰) ؛ شی چه د حضور علیه السلام نه پس خوک چه دے دے مقام (نبوت) دعوے کوی هغه دروغژن، دروغ تیوکے او دجّال دے،

(۴) تفسیر کشاف کښ دی:-

خَاتَمٌ بِفَتْحِ التَّاءِ بِمَعْنَى الطَّابِعِ ؛ خاتَم (تے) په زور معنی د (مهر) او بِكَسْرِهَا بِمَعْنَى الطَّابِعِ وَفَاعِلٍ او د (تے) په زیر معنی د مُهر لکونکے الْخَتْمِ وَتُقَوِّيهِ قِرَاءَةُ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رض وَلٰكِنْ نَبِيًّا خَتَمَ النَّبِيِّينَ ؛ الله بن مسعود رضی الله (د) راوی چاچه

فَإِنْ قُلْتَ كَيْفَ يَكُونُ آخِرَ الْأَنْبِيَاءِ وَعِيسَىٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ يَنْزِلُ آخِرَ الزَّمَانِ قُلْتُ مَعْنَىٰ كَوْنِهِ آخِرَ الْأَنْبِيَاءِ أَنَّهُ لَا يُنَبَّأُ أَحَدٌ بَعْدَهُ وَعِيسَىٰ مِمَّنْ نُبِّئَ قَبْلَهُ ؛ زمانه کښ د آسمانه راکوز یږی نو جواب ئے دا دے چه د حضور علیه السلام نه پس به بل خوک نبی نشی جوړولے او عیسیٰ علیه السلام خو د وړاندے نه نبی جوړ دے،

داقراءت کړیدے ړ والکن نَبِيًّا خَتَمَ النَّبِيِّينَ) کجړے ته اولټے چه دے آخری نبی څنګه کیدے شی چه عیسیٰ علیه السلام به په آخره کښ نبی جوړ شی؟ نو جواب ئے دا دے چه د

(۵) په تفسیر روح المعانی کښ دی:-

وَالْمُرَادُ بِالنَّبِيِّ مَا هُوَ أَعَمُّ مِنَ الرَّسُولِ فَيَلْزَمُ مِنْ كَوْنِهِ خَاتَمَ النَّبِيِّينَ كَوْنُهُ خَاتَمَ الْمُرْسَلِينَ، وَالْمُرَادُ بِكَوْنِهِ خَاتَمَهُمْ انْقِطَاعُ حُدُوثِ وَصْفِ النُّبُوَّةِ فِي أَحَدٍ مِنَ الثَّقَلَيْنِ بَعْدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ بِهَا فِي هٰذِهِ النَّشْأَةِ لَا يُقْدَحُ فِي ذٰلِكَ مَا اجْتَمَعَتْ عَلَيْهِ الْأُمَّةُ وَاشْتَهَرَتْ فِيهِ الْأَخْبَارُ وَلَعَلَّهَا بَلَغَتْ مَبْلَغَ التَّوَاتُرِ مَعْنَوِيًّا وَنَطَقَ بِهِ الْكِتَابُ عَلَى أُصُولٍ وَوَجَبَ الْإِيمَانُ وَكَفَرَ مُنْكِرُهُ إِلَّا سِفَةٍ مِنْ نُزُولِ عِيسَىٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ آخِرَ الزَّمَانِ لِأَنَّهُ كَانَ قَبْلَ نَحْنُ نَبِيُّنَا بِالنُّبُوَّةِ فِي هٰذِهِ النَّشْأَةِ ؛

د نبی مطلب د رسول نه عام دے نو هر کله چه حضور علیه السلام خاتم النبیین شو نو خاتم المرسلین خامخا شو او د ختمولو نکی مطلب داچه نوے نبوت په ثقلینو (پریانو او انسانانو) کښ څوک هم شو هر کله چه نبی علیه السلام پیغمبر شو، او ختم نبوت دے عقیدے خلاف نه دے په کوم چه امت اجماع کړیده او په هغے کښے مشهور احادیث وارد دی او کیدے شی چه د تواتر معنوی درجے ته رسیدلی وی، او په کوم چه قرآن تصریح کړیده او ایمان په هغه واجب دے، او دے منکر فلسفیان کافر شول

(c) ketabton.com: The Digital Library

(یعنی نزول د عیسیٰ علیه السلام په آخره زمانه کښ) حکمچه دے
حضور د نبی علیه السلام نه وړاندے ؛ نبی شوے دے ؛

(۶) په تفسیر مدارك کښ دی،

خَاتَمَ النَّبِيِّينَ بِفَتْحِ التَّاءِ فِي قِرَاءَةِ عَاصِمٍ بِمَعْنَى الطَّابِعِ أَيْ آخِرِهِمْ لَا يُنَبَّأُ أَحَدٌ بَعْدَهُ وَعِيسَىٰ مِمَّنْ نُبِّئَ قَبْلَهُ وَغَيْرُهُ بِكَسْرِ التَّاءِ بِمَعْنَى الطَّابِعِ فَاعِلِ الْخَتْمِ وَتُقَوِّيهِ قِرَاءَةُ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ

د عاصم رح په قرأت کښ د دے
په زور د (خاتم النبیین) معنے
طابع یعنی آخر دے مطلب ئے
دا دے چه د دے نه پس په بل
نوے نبی نشی جوړ؛ ولے او
عیسیٰ علیه السلام خو د حضور علیه

السلام نه وړاندے پیغمبر شوے دے ؛ او د عاصم نه بغیر د نورو قاریانو
قرأت دا ښے په زیږدے چه معنی ئے ختم کوونکے او مهر لګوونکے دے او
د ابن مسعود رض قرأت د دے تائید کوی ؛

(۷) په زرقانی شرح مواهب کښ دی (خَاتَمُ النَّبِيِّينَ، أَيْ آخِرُهُم
د خاتم النبیین معنی آخری نبی (جلد ۵ ص ۲۲۷) په هم دا پسے
تفسیر د بحر المحیط جلد ۷ ص ۲۳۲ او ابو السعود په حاشیه د تفسیر
کبیر جلد ۶ ص ۲۸۵ کښ لیکی ؛

(۸) شفاء قاضی عیاض رح په تفسیر د آیت (خاتم النبیین) کښ لیکی
(طبع بریلی ص ۳۶۲) ؛

مَنِ ادَّعَىٰ مِنْهُمْ أَنَّهُ يُوحَىٰ إِلَيْهِ ؛ چه څوک د دے دعوی وکړی
وَإِنْ لَمْ يَدَّعِ النُّبُوَّةَ إِلَىٰ أَنْ قَالَ ؛ دعوی لری اګرچه دعوله د نبوت
فَهَؤُلَاءِ كُلُّهُمْ كُفَّارٌ مُكَذِّبُونَ ؛ نه وی خو دا ټول کافران دی
النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَنَّهُ ؛ علیه السلام ته د دروغو نسبت
أَخْبَرَ أَنَّهُ خَاتَمُ النَّبِيِّينَ وَلَا نَبِيَّ ؛ کوونکی دی، ځکه چه هغه خبر

بَعْدَهُ وَأَخْبَرَ عَنِ اللَّهِ أَنَّهُ خَاتَمُ النَّبِيِّينَ وَأَنَّهُ أُرْسِلَ إِلَىٰ كَافَّةِ النَّاسِ وَأَجْمَعَتِ الْأُمَّةُ عَلَىٰ حَمْلِ هَٰذَا الْكَلَامِ عَلَىٰ ظَاهِرِهِ وَأَنَّ مَفْهُومَهُ الْمُرَادُ بِهِ دُونَ تَأْوِيلٍ وَلَا تَخْصِيصٍ فَلَا شَكَّ فِي كُفْرِ هَؤُلَاءِ الطَّوَائِفِ قَطْعًا إِجْمَاعًا وَسَمْعًا ؛

ورکړے دے چه هغه آخری نبی
دے او د هغه نه پس بل څوك نبی
نشی کیدے او هغه ټولو خلقو ته
لیږلے شوے دے او د دے کلام
په ظاهری معنی حملولو باندے ټول
اُمّت متفق دے چه تاویل او
تخصیص پکښ نشته او د دے ټولو
کفر کښ هیڅ شک نشته کوم چه بله معنی د دے خلاف کوی ؛

(۹) امام غزالی رحمه الله لیکی ؛

أَنَّهُ لَيْسَ فِيهِ تَأْوِيلٌ وَلَا تَخْصِيصٌ وَمَنْ أَوَّلَهُ بِتَخْصِيصٍ فَكَلَامُهُ مِنْ أَنْوَاعِ الْهَذَيَانِ لَا يَمْنَعُ الْكُفْرَ بِتَكْفِيرٍ لِأَنَّهُ مُكَذِّبٌ لِهَذَا النَّصِّ الَّذِي أَجْمَعَتِ الْأُمَّةُ أَنَّهُ غَيْرُ مُؤَوَّلٍ وَلَا مَخْصُوصٍ (الاقتصاد) ؛ ؛ ؛

په دے آیت کښ تاویل او تخصیص
نشته او چه څوك د دے کوی نو
بکواس کوی او ده باندے د کفر
حکم کول هیڅوك نشی بندے ولے
ځکه چه امت په دے متفق دے چه
تاویل او تخصیص پدے کښ نشته

د غه رنګ د تفاسیرو په ټولو کتابونو کښ د (خاتم النبیین) هم دا معنے
بیان شوید ده او په آثارو کښ د څلورشپیتو صحابه کرامو نه د ختم نبوت
هم دا معنی منقول ده ؛

د سلونه زیات آیتونو د قرآن کښ په عمومی انداز دا مسئله ثابته ده چه د
حضور علیه السلام نه پس بل چاته پیغمبری نشی ورکولے چه هغه به مونږ
س د څوعنوانا نو په ذیل کښ بیا ټوکو خو دے نه وړاندے د قادیانیانو
بوخو تحریفونو او شیطانی وسوسے لرے کول غواړو چه د (خاتم النبیین
آیت سره تعلق لری ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومبے تحریف کچرے د خاتم النبیین معنی آخری نبی وی نو د حضرت عیسیٰ علیه السلام نزول د دے خلاف

د دے جواب تیر شوچه د ختم نبوت معنی دنوی نبوت ګرد کیدو) بند یزدے د زور پیغمبر نه پیغمبری واپس اغستل نه دی، مراد، په دور محمدی کښ د عیسیٰ علیه السلام را تلل داسے دی لکه یوکور نر د صوبے د بل کور نر صوبے ته په دے حیثیت راشی چه د ځی صوبے د احکامو د لاندے به وی، بلکه په غورا و ژور کتلو سره معلومیږی چه د عیسیٰ علیه السلام را تلل، د ختم نبوت دلیل دے، کچرے آئنده کښ د نبوت سلسله ختمه نه وی نو د تیر شوو پیغمبرانو نه یوازے د حضرت عیسیٰ علیه السلام د راوستو هیڅ ضرورت نه وو، د نورو نه د یو پیغمبر (عیسیٰ علیه السلام) راوستل د دے خبرے دلیل دے، چه د انبیاء علیهم السلام شمیر د حضور علیه السلام په نبوت ختم شو، لهذا د نورو نه هم دغه یو پیغمبر حکمه مخصوص کړیشو

دویم تحریف د خاتم معنی مُهر دے یعنی د حضور علیه السلام نه رُستو کچرے پیغمبر جوړیدلو نو دده علیه السلام په مُهر او تصدیق سره به جوړیږی، نو اول خو مونږ داتپوس کوو چه دا معنی د عربی لغت په کوم کتاب کښ لیکلے ده او په کوم حدیث کښ بیان ده او په کوم تفسیر کښ دا تشریح شویده؟

په قرآن، متواتر حدیثو او اجماع امت کښ خو د مُهر معنی پند یز دا غلے ده لکه خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰی قُلُوْبِهِمْ۔ او۔ اَلْیَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰی اَفْوَاهِهِمْ، نو د دے نه پتولو په خلاف د مُهر معنی جاری کول کله کیدلے شی، حکه چه پخپله مرزا هم د مُهر معنی بند یز کړیده، او کچرے جاری کول مُراد وی، نو بیا دیکښ د حضور علیه السلام څه خصوصیت شو چه د نورو پیغمبرانو نه پس بنوت او د حضور علیه السلام نه پس هم جاری او کچرے دے نه مطلب بنوت جاری ساتل دے نو په دے

خوارلس سوو کالو کښ کم نا کم سل نبیان خو به راغلی وو کنه چه د حضور علیه السلام کمال خو بنه بنکارلا شوے وے کنه، او کچرے نبوت د حضور علیه السلام په تابعداری ملاویدے، نو بیا به داکسی وے وهبی به نه وے، دَدے نه علاوه په دے صورت کښ به داهم مثل پکاروی، چرته دے خوارلس سوه کاله کښ د پیغمبر اسلام صلے الله علیه وسلم، داسے یوکامل متبع پیدا نشوچه د هغے په بدل کښے مغه ته نبوت ورکړے شوے وے، په دومره زمانه کښ هیله د نکریز په مهر باندے یوازے په آدیه ورت کښ هم پیدا نشوچه د مغه تر آخره پخپل نبوت کښ سټک وو، کله اقرار او کله به انکار نزدے چه د هغه منونکی په دوو ټولو کښ تقسیم شو:۔

دریم تحریف په آیت د خاتم النبیین) کښ د (النبیین) الف لام ذهنی یا عهد خارجی دے

چه مطلب ئے صرف تشریعی انبیاء دی گویا که حضور علیه السلام د تشریعی انبیاؤ خاتم دے، جواب دادے چه عهد خارجی د پاره په تیر شوی کلام کښ د تشریعی انبیاؤ علیهم السلام ذکر ضروری دے خو دلته نشته او عهد ذهنی د پاره دا ضروری دے چه استغراق هلته ممکن نه وی لکه اَکَلَهُ الذِّئْبُ۔ او۔ اِشْتَرَی اللَّحْمَ عِنْدَ عَامَّةِ اَهْلِ الْاُصُوْلِ، وَالْعَرَبِیَّةِ۔ لِاَنَّ التَّعْرِیْفَ سَوَاءٌ دَخَلَتْ عَلَی الْمُفْرَدِ اَوِ الْجَمْعِ تُفِیْدُ الْاِسْتِغْرَاقَ اِلَّا اِذَا کَانَ مَعْهُوْدًا (آیات ابی البقاء ص۵۲۳) وَفِی الْکَشْفِ (ج۱ ص۲۳) وَاِنْ دَخَلَتْ عَلَی الْجَمْعِ وَفِی الرَّضِی ج۲ ص۱۳ فَاِذَا لَمْ یَکُنْ لِلْبَعْضِیَّةِ لِعَدَمِ دَلِیْلِهَا تَرَجَّحَ کَوْنُهَا لِلْاِسْتِغْرَاقِ:۔

څلورم تحریف خاتم النبیین کښ الف لام استغراقِ حقیقی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاره نۀ دے بلکه د عُرفی د پاره دے، یعنی تشریعی انبیاء مُراد دی نه چه مطلق انبیاء لکه (وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ) کښ چه صرف بعضے هغه انبیاء مُراد دی چه د بنی اسرائیلو پرته نه ما نه کښ وو، جواب ئے دا دے چه استغراقِ عُرفی هلته اغستے شی کوم خائے چه استغراقِ حقیقی ممکن نه وی لکه (جَمَعَ الْأَمِيرُ الصَّاغَةَ) حکمه چه د ټولے دُنیا د زرګرانو راجمع کول د عُرف او عادت په لحاظ مُمکن نه دی، لیکن په (خاتم النبیین) کښ بے تکلُّفه استغراق درست دے، او (يَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ) کښ استغراق ممکن نه دے، مُوبز ټپوس کوو چه (وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْكِتٰبِ وَالنَّبِيِّنَ) دا رنګ وُضِعَ الْكِتٰبُ وَجِايْٓءَ بِالنَّبِيِّنَ، (وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ النَّبِيِّنَ) کښ استغراق حقیقی مُراد دے او که عُرفی؟

پنځم تحریف

د (خاتم) معنیٰ د کوتے غمے دے چه مطلب ئے زینت (سنګار) دے یعنی حضور علیه السلام د انبیاؤ علیهم السلام سنګار ښائست دے، جواب دا دے چه حقیقی معنیٰ مراد اغستل ترهغے محال نه دے تر څو چه مجازی معنیٰ مراد اغستل صحیح نه وی او دلته خو حقیقی معنیٰ مُراد اغستل صحیح دی او لغت، حدیث، او اجماع دا معنیٰ متعیّن کړیدے لهٰذا دلته مجازی معنیٰ اغستل غلط دی که داسے نه وی نو بیا به د قُرآن د یو لفظ معنیٰ هم نشی متعیّن کیدے او هر لفظ به د مجاز او تاویلاتو کارخانه جوړه شی او حقیقت به ورک شی، د صوم، صلوٰة او زکوٰة ټولو معنیٰ به بدلے شی

د (خاتم النبیین) آیت نه پس مُوبز د قُرآنِ حکیم څو نور آیتُونه پیش کوو

کمالی دلیل:- دویم آیت، (اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا (المائدہ آیه ۳)

په دے آیت کښ د دین د کمال اعلان اُشو د بُخاری د حدیث په موجب هغه ورځ د عرفے وو، مظهری کښ دی چه دے نه پس حضور علیه السلام یو اتیا ورځے ژوندے وو، ابن کثیر دے آیت په بارہ کښ لیکی، چه دا آیت په اُمت د ټولو نه لوئے نعمت دے، (حَيْثُ اَكْمَلَ لَهُمْ دِيْنَهُمْ فَلَا يَحْتَاجُوْنَ اِلٰى دِيْنٍ غَيْرِهٖ وَلَآ اِلٰى نَبِيٍّ غَيْرِ نَبِيِّهِمْ وَلِهٰذَا جَعَلَهٗ خَاتَمَ الْاَنْبِيَآءِ وَبَعَثَهٗ اِلَى الْاِنْسِ وَالْجِنِّ)

امام رازی رحمه دے آیت په تفسیر کښ لیکی، (اِنَّ الدِّيْنَ مَا كَانَ نَاقِصًا اَلْبَتَّةَ بَلْ كَانَ اَبَدًا كَامِلًا كَانَتِ الشَّرَائِعُ النَّازِلَةُ كَافِيَةً فِيْ ذٰلِكَ الْوَقْتِ اِلَّآ اَنَّهٗ تَعَالٰى كَانَ عَالِمًا فِيْ اَوَّلِ وَقْتِ الْبَعْثَةِ بِاَنَّ مَا هُوَ كَامِلٌ فِيْ هٰذَا الْيَوْمِ لَيْسَ بِكَامِلٍ فِي الْغَدِ وَلَا يُصَالِحُ فِيْهِ لَاجَرَمَ كَانَ يُنْسَخُ بَعْدَ النُّبُوَّةِ وَكَانَ يَزِيْدُ بَعْدَ التَّحْكِيْمِ وَاَمَّا فِيْ اٰخِرِ زَمَانِ الْبَعْثَةِ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ شَرِيْعَةً كَامِلَةً وَحَكَمَ بِبَقَائِهَا اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ فَالشَّرْعُ اَبَدًا كَانَ كَامِلًا اِلَّآ اَنَّ الْاَوَّلَ كَمَالٌ اِلٰى يَوْمٍ مَّخْصُوْصٍ وَالثَّانِيْ كَمَالٌ اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلِاَجْلِ هٰذَا الْمَعْنٰى قَالَ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ:- دا آیت په لاندینو وجهو په ختم نبوت دلالت کوی

(۱) د دین کمال پخپله د دے دلیل دے چه د حضور علیه السلام بعثت د ټولو نه آخر کښ اُشو چه د نبوت په فهرست کښ هیڅوک نبی باقی پاتے نشو:-

(۲) د نبی راتګ په دین کښ د پاتے نقص لرے کولو د پاره، یا خو د پورے د چلیدو نکو احکامو د تنسیخ د پاره یا په دین کښ د کړے شوی تحریف لرے کولو د پاره وی لیکن قُرآن او دین اسلام کامل دے په دے کښ ترمیم او تنسیخ نشی کیدے او په (اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ۝) کښ د قُرآن د الفاظو او معنو بلکه د تلفظ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حفاظت اعلان دے لهذا د تحریف لرے کولو هم ضرورت نشته باقی د تجدید او تبلیغ کار ټول اُمّت ته په جمع ورکړے شوید ے لکه فرمائی کُنتُم خَیرَ اُمَّةٍ اُخرِجَت لِلنَّاسِ تَأمُرُونَ بِالمَعرُوفِ وَ تَنهَونَ عَنِ المُنکَرِ ط. نو څکه د بل نبی ضرورت پاتے نشو۔

(۳) کچرے نبوّت جاری وی نو دین اسلام به ناقص پاتے شی او د اسلام ټول احکام به فضول ثابت شی څکه چه څو پورے مسلمانان په دے نوی نبی ایمان راوړی، نو په قرآن، حدیث او په ټول اسلامی شریعت د اوّل نه تر آخره د ایمان راوړو باوجود به کافر او همیشه جهنمی وی. نو دین کمال به په دغه نبی ایمان راوړو باندے ځصر وی او په هغه به د ایمان راوړو نه بغیر دین نامکمّل بلکه کالعدم وی۔

میثاقی دلیل

ایت د و اِذ اَخَذَ اللّٰهُ مِیثَاقَ النَّبِیّٖنَ لَمَآ اٰتَیتُکُم مِّن کِتٰبٍ وَّ حِکمَةٍ ثُمَّ جَآءَکُم رَسُولٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَکُم لَتُؤمِنُنَّ بِهٖ وَ لَتَنصُرُنَّهٗ: یعنی څه وخت چه الله تعالیٰ د نبیانو علیهم السلام نه وعده واخسته چه څه به تاسو ته کتاب او حکمت درکوم او د هغے نه ډستو د اسے رسُول راشی چه ستاسو د آسمانی کتابونو تصدیق کوی نو تاسو به په هغه ایمان راوړئ او د هغه مدد به کوئ ـــ دا د ټولو نبیاؤ علیهم السلام نه په عالَم ارواح کښے وعده اخستے شوے وه په دے آیت کښی ثُمَّ جَآءَکُم رَسُولٌ، نه حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم مُراد دے او د دوی د ټولو انبیاؤ نه رُستو تشریف راوړل ثابتیږی چه د دے خبرے دلیل دے چه مشیت اِلٰهی کښے څومره انبیاء علیهم السلام چه مقدر وو، نو هغه ټول ځ د حضور علیه السلام نه وړاندے، مبعوث کړل او د دوی علیه السلام ځ د ټولو

نه په آخر کښی راالیږلو د دے نه داهُم معلُومه شوه چه د دوی بعثت د بندیز باعث نهٔ بلکه د ټولو په آخر کښی د دوی علیه السلام مبعُوث کول د الله په مشیّت کښی مُقدّر وُو۔

د بعثت عُمومی دلیل

قُل یٰٓاَیُّهَا النَّاسُ اِنِّی رَسُولُ اللّٰهِ اِلَیکُم جَمِیعًا اِنِ الَّذِی لَهٗ مُلکُ السَّمٰوٰتِ وَالاَرضِ ج (الاعراف آیة ۱۵۸) او تَبٰرَکَ الَّذِی نَزَّلَ الفُرقَانَ عَلٰی عَبدِهٖ لِیَکُونَ لِلعٰلَمِینَ نَذِیرًا ○ (سورهٔ الفرقان آیة ۱) او وَمَآ اَرسَلنٰکَ اِلَّا رَحمَةً لِّلعٰلَمِینَ ○ (سورهٔ الانبیاء آیة ۱۰۷) د ټول دلالت کوی چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم بعثت ټولو قومونو او زمانو د پاره وو نو قیامته پورے انسانان د دوی علیه السلام په اُمّت کښے شامل دی، دا دلیل دے چه د دوی علیه السلام نه پس به بل څوک نهٔ مبعُوث کیږی، او د دوی علیه السلام په موجودګی کښے د بل نبی راتلو ضرورت څکه نشته، چه دوی علیه السلام (اَکمَلُ الاَنبِیاء) دی، لکه چه نهر نه پس د ډیوے بلکولو او د رباب نه پس د پرزے ضرورت نشته، په مَا کَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّن رِّجَالِکُم) کښی ړُوبهے د حضور علیه السلام د نسبی پلار والی نفی اُشوه، او په وَلٰکِن رَّسُولَ اللّٰهِ وَ خَاتَمَ النَّبِیّٖنَ) کښی د روحانی او دینی پلار والی نفی ثابته معلُومه شوه چه د حضور علیه السلام په دینی پلار والی کښی د بل چا شرکت نشی کیدے لکه څنګه چه په نسبی پلار والی کښی د بل سره هیڅوک شریک نشو، څکه چه د یو سړی هیڅرے دوه نسبی پلاران نشی کیدے. نو د یو اُمّت دوه روحانی پلاران څنګه کیدے شی، هیڅرے نشی کیدے

د وحی قبلی دلیل

یُؤمِنُونَ بِمَآ اُنزِلَ اِلَیکَ وَمَآ اُنزِلَ مِن قَبلِکَ (سورهٔ البقرة آیة ۴) وَمَآ اَرسَلنَا مِن رَّسُولٍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ ، (سورۃ الانبیاء آیۃ ۲۵)

(۳) وَلَقَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ (الزمر آیۃ ۶۵)

(۴) وَمَآ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ إِلَّآ إِنَّهُمۡ لَيَأۡكُلُونَ ٱلطَّعَامَ (سورۃ الفرقان آیۃ ۲۰) ،

(۵) وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٖ مِّن قَبۡلِكَ (سورۃ الانعام آیۃ ۴۲)

(۶) قُلۡ قَدۡ جَآءَكُمۡ رُسُلٞ مِّن قَبۡلِي بِٱلۡبَيِّنَٰتِ (سورۃ آل عمران آیۃ ۱۸۳)

(۷) وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ هُوَ ٱلۡحَقُّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ (سورۃ فاطر آیۃ ۳۱)

په دے آیتونو مبارکو کښے او په داسے نورو آیتونو مبارکو کښے د وحی الٰہی دا سے ذکر دے چه هغه ئے په قید در (قبلیت) سره مقید کړے شوے دے، کچرے ما بعد کښ څرګنده وحی یا نبوت وے نو دا (قید) د ګمراه کولو سبب وو، ځکه چه بیا به د "ما قبل" د وحی سره د "ما بعد" د وحی هم ذکر کول ضروری وو او (مُصَدِّقًا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ) سره به د (مِن خَلۡفِهِۦ) ذکر هم ضروری وے او کم ناکم، وحی، خو به ئی "مطلق" پریښے وه چه د ما بعد د وحی گنجائش پکښ هم پاتے وے،

وعدی دلیل فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِهِۦ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَٱتَّبَعُواْ ٱلنُّورَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ مَعَهُۥٓ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ

(سورۃ الاعراف آیۃ ۱۵۷) :

دا سے ټول آیتونه په ګومو کښ چه صرف د الله او رسول په اطاعت د جنت او فلاح وعده شوے ده، نو دا د نبوت د ختمیدو دلیل دے ولے که بل نبی را ته ظلی وے او که بروزی، نو جنت او فلاح به د هغه په منلو هم موقوف وے، نو بیا به د دا سے آیتونو مضمون درست نه وے،

بهر کیف دے نه هم معلومیږی چه وحی بند ده،

حدیث او ختم نبوت

(۱)

عَنۡ أَبِيۡ هُرَيۡرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنۡهُ مَرۡفُوۡعًا أَنَّ مَثَلِيۡ وَمَثَلَ الۡأَنۡبِيَاءِ مِنۡ قَبۡلِيۡ كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنٰى بُيُوۡتًا فَأَحۡسَنَهٗ وَأَجۡمَلَهٗ إِلَّا مَوۡضِعَ لَبِنَةٍ مِّنۡ زَاوِيَتِهٖ فَجَعَلَ النَّاسُ يَطُوۡفُوۡنَ بِهٖ وَيُعۡجِبُوۡنَ لَهٗ وَيَقُوۡلُوۡنَ هَلَّا وُضِعَتۡ هٰذِهِ اللَّبِنَةُ قَالَ فَأَنَا اللَّبِنَةُ وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيۡنَ ؛

دا بو هریره رضی الله نه مرفوعًا روایت دے، چه ځما او ځما نورو پخوا د انبیاء علیهم السلام مثال داسے دے چه یو سړے، کور جوړ کړی او هغه ښائسته کړی مګر د یو ځنځے ځائے په یو ګوټ کښ پریږدی، خلق هغے کور ته ګیږی او خوشحالیږی او وائی چه دا یو کور خښته ئی ولے نه ده ایښے! نو وے فرمائیل، چه دغه آخری خښته ځه یم او ځه خاتم النبیین یم :-

(۲)

إِنَّ لِيۡ أَسۡمَاءً أَنَا مُحَمَّدٌ وَّأَنَا أَحۡمَدُ إِلَيَّ ؛ ځما د یو نومونه دی زه محمدٌ یم قَوۡلِهٖ وَأَنَا الۡعَاقِبُ وَالۡعَاقِبُ الَّذِيۡ ؛ او زه احمدٌ یم ترڅو د ما نه بعد هیڅ نبی نه وی (بخاری ومسلم) ؛ نیچه زه عاقب یم او عاقب هغه وی چه د هغه نه پس بل نبی نه وی (بخاری مشکوٰۃ شریف باب ۵)

(۳) لَوۡ كَانَ بَعۡدِيۡ نَبِيٌّ لَكَانَ عُمَرُ بۡنُ الۡخَطَّابِ ، کچرے ځما نه پس بل نبی وے نو هغه به عمر رض وو (مشکوٰۃ مناقب عمر رض ازاله او هام ص ۲۳۶ و ۲۳۹)

(۴) قَالَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ ، حضور علیه السلام فرمایل علی ته أَنۡتَ مِنِّيۡ بِمَنۡزِلَةِ هٰرُوۡنَ مِنۡ مُّوۡسٰى إِلَّا أَنَّهٗ ؛ ته زما دا سے یے لکه هارون علیه السلام چه د موسیٰ لَا نَبِيَّ بَعۡدِيۡ (بخاری ومسلم، مشکوٰۃ ؛ لکه هارون علیه السلام چه د موسیٰ باب مناقب علی) ؛ وو صرف دومره وه چه ځما نه پس بل نبی نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۵) كَانَتْ بَنُوْا اِسْرَائِيْلَ تَسُوْسُهُمُ الْاَنْبِيَاءُ كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهٗ وَاِنَّهٗ لَانَبِيَّ بَعْدِيْ وَيَكُوْنُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُوْنَ (بخاری شریف جلد ۱ ص ۴۹۱ ومسلم کتاب الایمان)

ترجمه: د بنی اسرائیلو دسیاست واکے د پیغمبرانو علیهم السلام تر لاس کښ به وے، چه یو نبی م به فوت شو نو هغه جانشین به بل نبی وو مګر دا نه پس بل نبی نشته عنقریب د خلفاءِ

کرام سلسله به شروع شی چه کثیر به وی

مرزا لیکی چه وحی اور سالت به ختم وی مګر ولایت، امامت او خلافت به کله نه ختمیږی (مکتوب مرزا تشحیذ الاذهان جلد اول ص)

(۶) اِنَّ الرِّسَالَةَ وَالنُّبُوَّةَ قَدِ انْقَطَعَتْ: رسالت او نبوت ختم دے دے فَلَا رَسُوْلَ بَعْدُ وَلَا نَبِيَّ (ترمذی وصحیح): نو نه پس نه به رسول وی، نه

تحفهٔ بغداد مرزا ص ومرزا ازالهٔ اوهام ص کښ لیکی چه اوس او نه نبی وی او رسالت تر قیامته ختم دے، په آئینه کمالات ص۳۷۷ کښ لیکی زما سره به هیڅوک نه خبرے اُنشی چه الله تعالیٰ حضور د نبی علیه السلام نه پس بل څوک نبی کړی او وے لیږی او دا به هم اُنشی چه سلسله د نبوت ختمیدو نه پس بیا جاری کړی، په حمامة البشری ص۳۴ کښ لیکی، چه د حضور علیه السلام د وفات نه پس وحی ختمه شوه او الله تعالیٰ په ده علیه السلام د نبیانو خاتمه اُکړه، حقیقة ص۲۴ ضمیمهٔ عربی کښ لیکی اِنَّ رَسُوْلَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ وَعَلَيْهِ انْقَطَعَتْ سِلْسِلَةُ الْمُرْسَلِيْنَ

(۷) عَنْ اَبِيْ مُوْسٰى مَرْفُوْعًا اَنَا مُحَمَّدٌ وَاَنَا اَحْمَدُ وَاَنَا الْمُقَفِّيْ (رواه مسلم جلد دوم ص۲۶۱) قَالَ النَّوَوِيُّ اَلْمُقَفِّيْ اَلْعَاقِبُ، یعنی زه آخر الانبیاء یم

(۸) اَبُوْ نُعَيْمٍ فِي الْحِلْيَةِ عَنْ اَبِيْ ذَرٍّ مَرْفُوْعًا: او دوهمه نبی آدم علیه السلام یَا اَبَا ذَرٍّ اَوَّلُ الْاَنْبِيَاءِ اٰدَمُ وَاٰخِرُهُمْ مُحَمَّدٌ: او آخر محمد صلی الله علیه وسلم دے، ابن حجر په فتح الباری کښ دے حدیث نه صحیح ویلی دی،

مرزا په حقیقة الوحی ص۱۴۱ کښ لیکی، او د ټولونه آخرے محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم پیدا کړو چه خاتم الانبیاء او ختم الرُّسل دے،

(۹) عَنْ اَبِيْ اُمَامَةَ مَرْفُوْعًا اَنَا اٰخِرُ: یعنی زه آخر الانبیاء او تاسو اَلْاَنْبِيَاءِ وَاَنْتُمْ اٰخِرُ الْاُمَمِ: آخر الاُمم یئ (ابن ماجة)

(۱۰) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى مَرْفُوْعًا لَيْسَ يَبْقٰى بَعْدِيْ مِنَ النُّبُوَّةِ: یعنی حما نه پس به سوا د ښه خوبانو اِلَّا الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ (نسائی وابوداود): بله هیڅ برخه پاتے نشی،

(۱۱) اَنَا اٰخِرُ الْاَنْبِيَاءِ وَمَسْجِدِيْ اٰخِرُ الْمَسَاجِدِ (مسلم جلد اول ص۴۴۶) وَفِي الْبَزَّارِ وَمَسْجِدِيْ اٰخِرُ مَسَاجِدِ الْاَنْبِيَاءِ، یعنی زه آخری نبی یم او حما جمات د انبیاء علیهم السلام د جما تونو خاتم دے

دا رنګ د دوو سو نه زیات احادیث د ختم نبوت باره کښ موجود دی او په دے عقیده قائمه شوید، د قرآن په هیڅ آیت او د احادیثو په هیڅ حدیث کښ د نبوت د سلسلے جاری کولو خبر نه دے ورکړے شوے نه د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه د تابعینو او تبع تابعینو رحمهم الله نه پس زمانه کښ سوا د مرزا د چا دا عقیده پاتے شویده، په دا سے صورت کښ محض قیاس نه غلو لو او نوی نزاشلی تاویلونو سره د نبوت د جاری کولو عقیده پیدا کول د عقل او دین نه د محرومئ څومره غټ دلیل دے،

اَللّٰهُمَّ احْفَظْنَا مِنْ هٰذِهِ الشَّقَاوَةِ:

ختم نبوت او اجماع اُمت

ابن خلدون لیکی، چه په دے اُمت کښ د ډومبئ اجماع، د نبوت دعوه کولو په وجه د مسیلمهٔ کذاب په کفر او قتل اُشوه او د هغه نورے خبرے ټولو صحابه کرامو رضی الله عنهم د هغه د قتل نه پس معلومه شوے او دغه رنګ بے اختلافه اجماع صدئ په صدئ کښ د نبوت د دعویدار

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کفر، ارتداد او قتل باندے جاری دہ او په دے کښ د تشریعی اود غیر تشریعی نبوّت هیڅ تفصیل نه دے پښتلے شوے. خاتم النبیین للشیخ الانور ص۳۳ و ۳۴، علامه قاری شرح فقه اکبر مجتبائی ص۲۲۲ کښے لیکی دَعْوَی النُّبُوَّةِ بَعْدَ نَبِیِّنَا کُفْرٌ بِالْاِجْمَاعِ، دغه رنګ د تفسیر په عاموکتابونو، د حدیثو په شرحو او د علمِ کلام په کتابونو کښ د مُدّعی نبوّت په کفر د اجماع اُمّت تصریح شوېده.

ختمِ نبوت او درایت

د الله نه بغیر د هر څیز شروع او ختمیدل دواړه وی د نبوّت هم شروع او ختمیدل ضروری دی، د انسانی ژوند او مبنی زمانه دماشومو والی وه، روږدو انسانی عقل کښے اضافه کیدله لکه څنګه چه دماشوم والی د وخت لباس دماشوم د بدنی وده په جوړ بدلیږی. د خاتم الانبیاء علیه السلام زمانے پورے د انسانی عقل او شعور دده مکمله شوه نو د غه وخت انسان ته د کامل شریعت او نبوّت غونډے نعمت عطا کولو ضرورت وو چه قرآن په اَلْیَوْمَ اَکْمَلْتُ لَکُمْ دِیْنَکُمْ سره د شریعتِ کامله عطا کولو اعلان اُکړو، او اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّکْرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ○ سره د دین او شریعت د حفاظت هم اعلان اُشو دے له بارہ چه انسان د بل نبی د راتلونه په مستقبل کښ بالکل بے طمعه شی، حکمه چه تکمیلِ دین او حفاظتِ دین دواړه شویدی د کوم د پاره چه د نبی د راتلو ضرورت وی تبلیغ خو د اُمّت او د عُلماءِ کرامو کار دے چه د هغے د پاره د نبی ضرورت نشته لکه قرآن کښ دی، کُنْتُمْ خَیْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْکَرِ، او وَلْتَکُنْ مِّنْکُمْ یَدْعُوْنَ اِلَی الْخَیْرِ وَیَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَیَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْکَرِ او د مثال په دول د اُمّت د تبلیغ فریضه په قول د اکثر سمتو یواځے شیخ معین الدین

نوی (۹۰۰۰۰۰۰) لکه هندوان مُسلمانان کړل" اداکړه (نقش حیات) تاریخ اسلام ددے گواه دے چه حضور علیه السلام د خپل وصال نه پس تقریباً بولک یا پاؤ باندے لګ مُسلمانان پریښی وو او نن نوی کروړه (۹۰۰۰۰۰۰) مُسلمانان دی، چه د اُمّت په تبلیغ مُسلمانان شول، نو داخو معقول کار دے چه اُمت په کوشش نو او تبلیغ سره د نوی کروړه مسلمانان په دُنیا کښے موجود وی لا تبلیغ جاری دے او بیا د هم د کوم یو نبی راتلل ضروری وی چه دے کروړو نو مُسلمانانو نه کافر اُوائی او یوازے یوځو مُرید انو او چیلګانو نه مسلمانان اُوائی گویا دده راتلل د کافرانو، مُسلمانانو لو د پاره نه بلکه د مسلمانانو کافرولو د پاره دی فَفِیْمُوْ فَتِیْمُوْ

د مرزائی وسوسو جواب

د نبوّت مسئله داسے بُنیادی ده چه د کفر او ایمان په منځ کښے د فرق او ستونکی پُولے کار ورکوی، هرکله چه مرزا یانو د نبوّت جاری سائلو دا مسئله د قرآن، حدیث، اجماعِ اُمت، صحابه، تابعین، فقهاء، متکلمین او د محدثینو په خلاف بیا مُوندله نو خپلو پښورا تیښکولو د پاره ځے دیوځو مُصنّفینو رح په مبهمو عبارتونو نوا دانره اُکړه اګرچه په نورو ځایونو کښ هم دغه مصنفینو رح په خپلو صریحو عبارتونو نو د حقیقت صفا ښکاره کړے دے خو سودا پوره کول هُم یو لوے مرض دے چه هغے نه د خلاصیدو لپاره د چا نه رسی نو د اوسوسے او دلیلونه مُونږ ښکاره کوُو او ورسره دے جوابونه ورکوُو:

په حضرت عائشه رض مرزائی افتراء

مرزایان وائی چه حضرت عائشے رض فرمائیلی دی قُوْلُوْا اَنَّهٗ خَاتَمُ النَّبِیِّیْنَ وَلَا تَقُوْلُوْا لَا نَبِیَّ بَعْدَهٗ، دا حدیث په دُرِّ منثور کښ د خاتم النبیین د آیت تشریح د پاره، او د مجمع البحار په تکمله کښ په صفحه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شته خو اصلی عبارت بل شان دے چه مرزا یانو پکښی دوه کے د پار
کښ کوت کړے دے، والفظ صدیقی رض د حضرت عیسے علیه السلام پ
سلسله کښ ارشاد فرمایلے دے راَصْلُهَا فِیْ حَدِیْثِ عِیْسٰی اَنَّهٗ یَقْتُلُ
الْخِنْزِیْرَ وَیَکْسِرُ الصَّلِیْبَ وَیَزِیْدُ فِی الْحَلَالِ اَیْ یَزِیْدُ فِیْ حَلَالِ نَفْسِ
بِاَنْ یَتَزَوَّجَ وَیُوْلَدُ لَهٗ وَکَانَ لَمْ یَتَزَوَّجْ قَبْلَ رَفْعِهٖ اِلَی السَّمَآءِ
فَزَادَ فِی الْهُبُوْطِ فِی الْحَلَالِ فَحِیْنَئِذٍ یُؤْمِنُ کُلُّ اَحَدٍ مِّنْ اَهْلِ الْکِتَابِ
وَیَتَیَقَّنُوْنَ اَنَّهٗ بَشَرٌ وَعَنْ عَائِشَةَ رض قُوْلُوْا اِنَّهٗ خَاتَمُ الْاَنْبِیَاءِ وَلَا
تَقُوْلُوْا لَا نَبِیَّ بَعْدَهٗ، دے پورہ عبارت نه معلومه شوه چه
صدیقی رض فرمائیل چه حضرت عیسی علیه السلام آسمان نه ختل
نه وړاندے نکاح نه ووکړه آسمان نه راکوزیدو نه پس به نکاح کو
اولاد به ئے هم کیږی او په حلالو کښی ئے اضافی مطلب هم دا دے دخ
خوږی او صلیب پرستی خاتمه به اُکړی او بتول اهل کتاب به دده په پ
او بشریت ایمان او یقین راوړی نو په دے وجه حضور علیه السلام نه خ
الانبیاء وائی لیکن لَا نَبِیَّ بَعْدَهٗ په دے بنیاد مه وایئ چه د حضرت عی
علیه السلام د آسمان نه د راکوزیدو انکار اُکړئ، د هغوی، بنکا
مقصد داوُو، چه حضور علیه السلام خاتم الانبیاء هم دے او د هغه نه
بل نوے نبی نشی جوړے دے دروسبی جوړ نبی حضرت عیسی علیه السلام د
راتلو انکار د پاڑه والفظ مه استعمالوئ، حُکه چه صدیقه رض پخپ
د نوی نبوت د نفی قائله ده مسند احمد جلد ۶ صـ ۱۲۹ کښ صدیقه
حضور علیه السلام نه مرفوعًا روایت کړیدے لَا یَبْقٰی بَعْدِیْ مِنَ النُّبُوَّةِ
اِلَّا الْمُبَشِّرَاتُ وَالرُّؤْیَا الصَّالِحَةُ، هوډا روایت د عائشے رض مجهول الا
هم دے

په حضرت علی رض دروغ ترل

داچه حضرت علی رض د حسنینو اُستاد ابو عبد الرحمن السلمی نه وئیلی وو

وی ته (خاتم) په زور لولوه - دده جواب بنکاره دے چه د حضرت علی
په نزد راجح قرأت د زور والا وو او مونږ وړاندے په دلیلونو بیان کړے
ے چه د معنی په لحاظ د فتحے او کسرے فرق نشته پخپله حضرت علی رض د
بوت د بندیز د حدیث راوی دے، بخاری او مسلم کښے شته چه اَنْتَ
نِّیْ بِمَنْزِلَةِ هٰرُوْنَ مِنْ مُّوْسٰی اِلَّا اَنَّهٗ لَا نَبِیَّ بَعْدِیْ

په شیخ اکبر رح دروغ ترل

داچه شیخ اکبر رح ولی د پاڑه نبوت ثابت کړیدے، جواب دادے چه د
موني اوُرم په اصطلاح کښی د نبوت لغوی معنی اِنْبَاءٌ عَنِ الْغَیْبِ
طْلَقًا وَحْیًا اَوْ اِلْهَامًا، هغوی وحی نه شرعی او الهام نه غیر شرعی وائی
وندی هسے خو شیخ اکبر رح دا منی چه د شرعی نبوت دروازه بنده ده لکه
په فتوحات مکیه جلد ۲ صـ ۳۹۵ کښ لیکی: اِنَّ الرُّؤْیَا جُزْءٌ مِّنْ اَجْزَاءِ
نُّبُوَّةِ فَبَقِیَ لِلنَّاسِ فِی النُّبُوَّةِ هٰذَا وَغَیْرُهٗ وَمَعَ هٰذَا لَا یُطْلَقُ اِسْمُ
نُّبُوَّةِ وَلَا النَّبِیِّ اِلَّا عَلَی الْمُشَرِّعِ اَیْ صَاحِبِ الْوَحْیِ خَاصَّةً اوهم
کښے لیکی، فَمَا تُطْلَقُ النُّبُوَّةُ اِلَّا لِمَنِ اتَّصَفَ بِالْمَجْمُوْعِ فَذٰلِكَ النَّبِیُّ
وَتِلْكَ النُّبُوَّةُ حُجِرَتْ عَلَیْنَا وَانْقَطَعَتْ، اوهم دده نه په الیواقیت
جلد ۲ صـ ۳۵ طبع مصر کښ نقل دی هٰذَا بَابٌ اُغْلِقَ بَعْدَ مَوْتِ مُحَمَّدٍ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ
وَسَلَّمَ لَا یُفْتَحُ لِاَحَدٍ اِلٰی یَوْمِ الْقِیَامَةِ لٰکِنْ بَقِیَ لِلْاَوْلِیَاءِ وَحْیُ الْاِلْهَامِ
الَّذِیْ لَا تَشْرِیْعَ فِیْهِ:

په امام راغب دروغ ترل

داچه په بحر المحیط جلد دریم صـ ۲۸۵ کښ امام راغب په حواله داخبره
موجوده ده چه په ارباب اطاعت کښ به نبی د نبیانو سره شامل وی
جواب دادے چه دے نه مراد رسوم مبنی انبیاء علیهم السلام وی حُکه
چه امام موصوف د ختم نبوت تصریح کړیده لکه چه د ختم نبوت مطلب

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسے بیا ئوی، اَنَّهٗ خَاتَمُ النَّبِیِّیْنَ لِاَنَّهٗ خَتَمَ النُّبُوَّةَ اَیْ تَمَّمَهَا بِمَجِیْئِهٖ

په جلال الدین رومی رح دروغ ترل: فرمائی،

فکر کن در راه نیکو خدمتے		تا نبوت یابی اندر اُمتے!

دَدے نبوّت مقصد هغه قُربِ الٰهی دے چه دَ نبوّت دنبیض ته حاصلیږی اصل نبوّت نږ مطلب نهٔ دے ځکه چه رومی رح پخپله دَ خَتمِ نبوّت قائله دے، لکه دفتر پنجم کښی لیکی: ع

با رسول اللہ رسالت را تمام		تو نمودی همچو شمس بے غمام

اوپه څلورم دفتر کښی لیکی ع

این همه افکار کفران زا دشان		چون در آمد سیّدِ آخر زمان

په علامه قاری دروغ ترل

په موضوعات کبیر ص۵۵ کښی دا حدیث، لَوْ عَاشَ اِبْرَاهِیْمُ لَکَانَ نَبِیًّا قُلْتُ مَعَ هٰذَا اَیُّ الضُّعْفِ لَوْ عَاشَ اِبْرَاهِیْمُ وَصَارَ نَبِیًّا وَکَذَا لَوْ صَارَ عُمَرُ رض نَبِیًّا لَکَانَ مِنْ اَتْبَاعِهٖ عَلَیْهِ السَّلَامُ کَعِیْسٰی وَخِضْرٍ وَاِلْیَاسَ عَلَیْهِمُ السَّلَامُ فَلَا یُنَاقِضُ قَوْلَهٗ وَخَاتَمُ النَّبِیِّیْنَ اِذِ الْمَعْنٰی لَوْ یَاْتِیْ نَبِیٌّ بَعْدَهٗ یَنْسَخُ مِلَّتَهٗ وَلَمْ یَکُنْ مِنْ اُمَّتِهٖ،

دده جواب دادے چه دَ ابراهیم او عمر رض نبوّت که وے،

هُم نو دَ حضور علیه السلام په وخت کښی به وو نه چه دَ حضور علیه السلام

نه دُستور زمانه کښی کچرے عیسیٰ، خضر او الیاس علیهم السلام راځی نو هغه پخوانی (وړاندینی) پیغمبرانو دی نوی نه دی او چرته ځی نو دَ اُمّتی په حیثیت به راځی، پخپله علامه قاری رحمه الله تعالیٰ په شرح شمائل باب اول ص۳۳ کښی فرمائیلی دی،

اَنَّهٗ خَتَمَهُمْ اَیْ جَاءَ اٰخِرَهُمْ فَلَا نَبِیَّ بَعْدَهٗ اَیْ لَا یُنَبَّاُ اَحَدٌ بَعْدُ فَلَا یُنَافِیْ نُزُوْلَ عِیْسٰی مُتَابِعًا لِشَرِیْعَتِهٖ مُسْتَمِدًّا مِنَ الْقُرْاٰنِ وَالسُّنَّةِ وَقَالَ فِی الْمِرْقَاتِ جلد۹ ص۳۷۲ اَلْمُقْتَفِیْ مَنْ قَفَا اَثَرَهٗ اِذَا تَبِعَهٗ یَعْنِیْ اَنَّهٗ اٰخِرُ الْاَنْبِیَاءِ الْاُتِیْ عَلٰی اٰخِرِهِمْ لَا نَبِیَّ بَعْدَهٗ وَقَالَ فِیْ شَرْحِ الْفِقْهِ الْاَکْبَرِ (المجتبائی ص۲۰۳) وَدَعْوَی النُّبُوَّةِ بَعْدَ نَبِیِّنَا کُفْرٌ بِالْاِجْمَاعِ،

دغه رنګ حدیث دَ لَوْ عَاشَ اِبْرَاهِیْمُ لَکَانَ نَبِیًّا) دابن ماجه روایت دے چه په کښی ابو شیبه ابراهیم بن عثمان ساقط راوی دے (تهذیب التهذیب) صحیح حدیث د بخاری دا سے دے لَوْ قُضِیَ اَنْ یَّکُوْنَ بَعْدَ مُحَمَّدٍ نَبِیٌّ عَاشَ اِبْنُهٗ وَلٰکِنْ لَّا نَبِیَّ بَعْدَهٗ،

په امام ربّانی مُجدّدِ الف ثانی باندې دروغ ترل

دامام ربانی په مکتوبات جلد۱ مکتوب ۴۱ کښی دَ (الیکل)

حصول کمالات نبوت مرتابعان را بطریق تبعیت وراثت بعد از بعثت خاتم الرسل علیه و علی جمیع الانبیاء والرسل الصلوٰة والتحیات منافی خاتمیت او نیست،

فَلَا تَکُنْ مِّنَ الْمُمْتَرِیْنَ ۵، مرزا یانو دده عبارت نه دده ثابتولو کوشش کړیدے چه امام ربانی رح دَ نبوت جاری پاتے کیدو قائل دے، خو داسے نه ده او مطلب دَ بعضوا جزاؤه نبوت کمالات حاصلول دی، نه چه ترل کمالات دَ نبوّت «یعنی نبوت شرعی» ځکه چه امام موصوف رح پخپله دویم دفتر ۴۴ اومه حصه مکتوب ۶۶ کښی دَ اهل السنت دَ عقائدو په باره کښی لیکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

و خاتم الانبیاء محمد رسول است و عیسیٰ علیه السلام که نزول خواهد نمود عمل بشریعت
او خواهد کرد و بعنوان اُمّتیِ او خواهد بُود، او دفتر دوم حصه ہشتم صـ ۳۴ و ۳۵
مطبوعه امرتسر تحتی کلان کښے لیکی، "اول انبیاء آدم علیه السلام و آخر ایشان خاتم
نبوّت شان حضرت محمد رسول الله است و عیسیٰ علیه السلام که از آسمان نزول خواهد
فرمود متابعت شریعتِ خاتم الرّسل خواهد نمود"، دا ټول بیان د میرزا ایت خلاف
دے، د ختم نبوت نه علاوه، په دے کښ د حضرت عیسیٰ علیه السلام نزول
د آسمانه ذکر دے، او د یو مُجدّد متعلق مرزا پخپله په "شهادة القرآن"
کښ لیکی، داویناچه مُجدّد باندے ایمان راوړل فرض نه دی او ګرېدل دی
اخراني حکمه چه الله تعالیٰ فرمائی،

وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ۝

په شاه ولی الله رح دروغ ترل

په تفهیمات الهیّه جلد دویم صـ ۵۳ تفهیم ۲۵ شاه صاحب لیکی
خُتِمَ بِهِ النَّبِيُّوْنَ اَیْ لَا یُوْجَدُ مَنْ یَّاْمُرُهُ اللّٰهُ سُبْحَانَهٗ بِالنَّشْرِ
عَلَى النَّاسِ، دے عبارت نه مرزا یانو دا مطلب راباسلو چه د
علیه السلام نه پس صرف شرعی (تشریعی) نبوت بند دے، حالانکه د
تشریح شاه صاحب رح پخپله په تفهیمات جلد دوم صـ ۴۲ کښ کړې
فرمائی، وَصَارَ خَاتَمَ هٰذِهِ الدَّوْرَةِ لَا یُمْكِنُ اَنْ یُّوْجَدَ بَعْدَهٗ
نَبِیٌّ، او بیا جلد ۱ تفهیم ۲۵ صـ ۱۳۷ کښ لیکی، مُحَمَّدٌ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمُ النَّبِیِّیْنَ لَا نَبِیَّ بَعْدَهٗ وَدَعْوَتُهٗ عَامَّةٌ لِّجَمِیْعِ
الْاِنْسِ وَالْجِنِّ وَهُوَ اَفْضَلُ الْاَنْبِیَاءِ بِهٰذِهِ الْخَاصَّةِ وَبِخَوَاصَّ
اُخْرٰی وَقَالَ فِیْ حُجَّةِ اللّٰهِ فِیْ حَدِیْثِ بَدْءِ هٰذَا الْاَمْرِ نُبُوَّةٌ ثُمَّ
فَالنُّبُوَّةُ اِنْقَضَتْ بِوَفَاةِ النَّبِیِّ عَلَیْهِ السَّلَامُ
وَالْخِلَافَةُ لَا سَیْفَ فِیْهَا بِمَقْتَلِ عُثْمَانَ رض وَالْخِلَافَةُ

بِشَهَادَةِ عَلِیٍّ كَرَّمَ اللّٰهُ وَجْهَهٗ وَخَلِیْعِ الْحَسَنِ، او په دے فارسی ترجمه
د خاتم النبیین کښ بیا لیکی، نیست محمد پدر هیچ کس از مردان شما ولیکن
پیغمبر خدا و مُهر پیغمبران یعنی بعد از وے هیچ پیغمبر نباشد،

په مولانا محمد قاسم رح دروغ ترل

مرزا یانو مولنا محمد قاسم رح نه د ختم زمانی انکار منسوب کړیدے
حالانکه هغوی رح پخپله فرمائی، کچرے اطلاق او عموم شته نو خاتمیّت
زمانی ثابت دے کچرے دا سے نه وی نو د خاتمیت زمانی لزوم منتفی
دلالتِ التزامی خامخا ثابت دی، بل خواد نبی علیه السلام دا قسم تصریحات
اَنْتَ مِنِّیْ بِمَنْزِلَةِ هَارُوْنَ مِنْ مُّوْسٰی اِلَّا اَنَّهٗ لَا نَبِیَّ بَعْدِیْ، چه په
ذکر شوی، طرز د لفظ، خاتم النبیین، نه ما خوذ دی، په دے باب
کښ کافی دی، حکه چه دا مضمون تواتُر ته رسیدلے دے او په دے
د امت اجماع هم ده، اگرچه الفاظ د "لَا نَبِیَّ بَعْدِیْ"، په سندِ مُتواتر
منقول نه دی، نو د الفاظو دا عدمِ تواتُر با وُجود دا تواتُر معنوی
به دا سے دی، لکه د فرضو د رکعاتو نو د شمیر تواتُر چه منکرئے کافر د
دارنګ د دے، "لَا نَبِیَّ بَعْدِیْ"، منکر هُم کافر دے، په تحذیر الناس
صـ ۹ کتب خانه امدادیه او په مناظر عجیبه صـ ۳۹ کښے لیکی خاتمیتِ
زمانی (زما) خپل دین او ایمان دے البته د ناحق تهمت څه علاج نشته

په مولنا عبد الحی رح دروغ ترل

مولانا موصوف په "دافع الوساوس فی اثر ابن عباس"، صـ ۳۹ کښ لیکلی
دی، "د اهل سنت عُلماء هم دا خبره بنکاره کوی، چه د نبی علیه السلام په
زمانه د رسالت کښ هیڅوک نبی خاوند د نوی شریعت نشی کیدے
کوم نبی چه په د ے زمانه کښ راځی، نو هغه به د شریعتِ محمدی تابع وی
نو په هر تقدیر بعثتِ محمدیه عام دے، جواب دا دے چه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

مضمون د نورو طبقواو د هغوی د انبیاؤ متعلق دے لکه د دے وضاحت په "زجر الناس" ص۸۴ کښ چه د وی کړے دے، "خَتَمَ نَبِيُّنَا حَقِيقِيٌّ بِالنِّسْبَةِ إِلَى أَنْبِيَاءِ جَمِيعِ الطَّبَقَاتِ بِمَعْنَى أَنَّهُ لَمْ تُعْطَ النُّبُوَّةُ لِأَحَدٍ فِي طَبَقَةٍ"، او مجموع الفتاوی جلد اول ص۹۹ کښ مولانا محمد صونی لیکی، "قَالَ أَبُو شَكُورٍ فِي التَّمْهِيدِ اِعْلَمْ أَنَّ الْوَاجِبَ عَلَى كُلِّ عَاقِلٍ أَنْ يَعْتَقِدَ أَنَّ مُحَمَّدًا كَانَ رَسُولَ اللهِ وَالْآنَ هُوَ رَسُولُ اللهِ وَكَانَ خَاتَمَ الْأَنْبِيَاءِ وَلَا يَجُوزُ بَعْدَهُ أَنْ يَكُونَ أَحَدٌ نَبِيًّا وَمَنِ ادَّعَى النُّبُوَّةَ فِي زَمَانِنَا يَكُونُ كَافِرًا"، دا سے بنکاره خبرو کولو باوجود خو دا وئیلی شی، چه دے د "ختم نبوت منکر وو!!!

ختمِ نبوّت د علامه اقبال رح په نظر کښ

① لیکی چه "قادیانیت د یهودی مذهب چربه ده، حُما په نزد بهائیّت د قادیانیّت نه زیات مُخلص دے، حُکه چه بهایان بنکاره د اِسلام مُخالف دی، لیکن قادیانیان د اسلام څواهم اُصول ظاهری طور قائم ساتی مگر په پته د اِسلام د رُوح او مقاصدو مُهلک دی، د قادیانی فِرقے د خُدائے دا سے تصوّر چه هغه حاسه دے، او هغه سره د د شمنانو د پاره بیشمیره زلزلے او بیماریانه اودد وی د نبی په باره کښ دا تخیّل چه هغه بُروُزی وی او د د وی عقیده چه د مسیح رُوح کښ تسلسل دے (په هره زمانه کښ بیل بیل مسیح راتلے شی د ایونهٔ ووچه بس ختم شو (العیاذ باالله مترجم) دا ټولے عقیدے دا سے دی چه د یهودیت عناصِر لری گویا که دا تحریک یهودیت طرف ته واپس بوتلل دی، حرف اقبال "ص۱۲۳ مُرتبه لطیف احمد شروانی)

① په اسلامی ایران کښ د مُوبدانه اثر لاندے مُلحدانه تحریکونه

اُوچت شوَل او هغوی د بُروز، حُلُول او ظلّ وغیره اصطلاح کانے دے له پاره روانے کړے چه په هغې کښ د تناسُخ تصوُّر پټ کړے شی، دے اصطلاح کانو رَوا ټول په دے وجه ضروری وو چه د مُسلمانانو په زړونو اوّل وار بدا نه لګی نو ترڅو چه د مسیح موعُود اصطلاح هُم اسلامی نه ده بلکه اجنبی ده چه شروع ئے هم د دغے مُوبدانه تصوُّر نه شوې ده، حُکه چه دا اصطلاح کانے موبنز ته د اسلام د رومبی دور په تاریخی او مذهبی کتابونو کښے نه ملاویږی"

(حرف اقبال، ص۱۲۳ و ۱۲۴)

③ قادیانی ټولے د اسلامی یووالی دُشمن دے مسلمانان د هغے تحریکونو په معامله کښ ډیر حسّاس دی، کوم چه د هغوی د یووالی د پاره خطرناک وی، چنانچه هرڅو دا سے مذهبی جماعت چه په تاریخی طور خو د اسلام سره تړلی وی، لیکن خپل بُنیاد په نوی نبوّت اِږدی، او د د وی په الهامونو اِعتقاد نه لرونکی ټول مُسلمانان د وی کافر بولی دا خو مسلمانان د خپل یووالی د پاره خطره ګڼری حُکه چه اسلامی یووالے په ختمِ نبوّت مضبُوط ګڼی" (حرفِ اقبال ص۱۲۲ مرزا محمود خلیفه دوم په آئینه صداقت ص۳۵ کښ لیکی، هر هغه مُسلمان چه د حضرت مسیح موعود په بیعت کښ شامل نه دے نو هغه کافر دے د اسلام دائرے نه بهر دے، اګرچه هغه د مسیح موعُود نوم هُم نه وی اوریدلے

(۴) حُکه په دے هیڅ شک شبه نه لرم چه دا احمدیان د اسلام او د ملک دوارو غدّاران دی (د اقبال رح خط د جواهر لال په نوم، څه زاره خطُونه، حصه اوّل ص۲۹۳ مُرتبه جواهر لال مطبُوعه جامعه ملیه نوے دِیلے اِنډیا)

⑤ حُما په رائے کښ د قادیانیانو نو صرف دوه لارے دی چربا خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلورُونږو تقلید اُکړی او یا دَ ختم نبوّت تاویلُونه پریږدی او هغه
دَ خپل پُوره مفهُوم سره قبول کړی، کَدوی دا نوی تاویلونه صِرف
په دے غرض دی چه دَ دوی شمیر دَ اِسلام په حلقه کښ وی چه سیاسی
فائدے واخلی (حرفِ اقبال صـ۱۳۶ ـ ۱۳۷)۔

(۶) خُما په رائے کښ حکُومت دَ پارہ بهترینه طریقه کار به داوی چه
هغه قادیانیان یو بیل ټولے اُمّتی چه دا به دَ قادیانیانو دَ پالِسۍ
عین مُطابق وی او مُسلمانان به هُم دَ روا دارئ دا سے مُعامله کوی لکه
څنګه چه پَرُو مذهبونو سره کوی، او دا دَ قادیانیانو دَ پالِسۍ مُطابق حُکم
دی چه دَ دویم خلیفه مرزا بشیرالدین پخپله خطبه په حواله دالفضل
اخبار ۲۱ اګست ۱۹۱۷ء حضرت مسیح مَوعُود فرمائی، چه دَ هغوی
(دَ مُسلمانانو) اسلام بیل او خُمونږ اسلام بیل دے، دَ هغوی خدائے
بَل او خُمونږ بَل دے، دَ هغوی حج بَل او خُمونږ حج بَل دے دغه رنګ خُمونږ
په هره خبره کښ اختلاف دے ؛ ؛ ؛

(۷) دَ علامه اقبال انګریزی حُکومت ته مشوره، "په نوی د ستُوڼو کښے
دَ اقلیتُونو دَ تحفُّظ خیال ساتلے شوے، دے خُما په خیال کښے قادیانیان
به دَ حُکومت نه دَ جُدا کیدو په مطالبه کښے وراندے والے نه کَوی خو مِلّت
اسلامیه ددے مطالبے پوره حق لری چه قادیانیان دِ جُدا کړے شی،
کَچرے حُکومت دا مطالبه اُنه مَنَله نو دَ مسلمانانو به شک وی چه حکومت
ددے نوی مذهب په جدا کولو کښے دِ یل کوی، حکومت په ۱۹۱۹ء دَ
سِکهانو دَ جُدا کیدو دَ مطالبے انتظار اُنکړو اُس دَ قادیانیانو دَ مطالبے
ولے اِنتظار کوی (حرفِ اقبال صـ۱۳۸) باندے علامه اقبال لیکی، په غونډ
کښ قطع تعلُّق په نکاح او نورو معاملو کښ د مسلمانانو نه بائیکاټ او دَ ټولو
دیرزیات دا اِعلان چه دُنیائے اِسلام کافِره ده، او دا اِسلام نه دومره

زیاته لرے ده څومره چه سِکهان به دَ هندوانو نه لرے نه وی حُکه چه
سِکهان او هندوان خو خپل مینځ کښ دَ دُو نه کوی، هر کله چه قادیانیان
په مذهبی، مُعاشرتی معاملو کښ خان جُدا کړی، نو په سیاسی "دول
مسلمانانو کښے دَ شامل پاتے کیدو دَ پاره ولے پریشانه وی (حرفِ اقبال
صـ۱۳۸)

(۸) پابندی په باغی جماعت لګول پکار دی۔ علامه اقبال انګریزی حکومت
نه لیکلی دی، کَچرے دَیو توم یووالے په خطره کښ وی نو هغه دَ پاره سِوا دے
بل علاج نشته چه هغه دَ عِنادی قُوّتُونو په خِلاف مدافعت اُکړی،
اُس سوال دا دے چه دمدافعت طریقه دِ څه وی؟ هغه دا ده چه اصل ټولی
ته دِ دَ روا دارئ تلقین اُکړیشی حالانکه دَ هغوی یووالے به خطره کښے
وی او باغی ټولی ته دِ دَ هغه تبلیغ پُوره اِجازت وی کوم چه دروغلو کُفلُونه
پک پک وی (حرفِ اقبال صـ۱۳۸)

زه وایم چه دَ مرزا دا یو کُفل دَ کرورو نو کُفلُونه زیات دی کوم چه هغه په آئینه
کمالات صـ۵۴۸ کښے لیکلی دی چه څوک ما نه مَنی او خُما د دعوے تصدیق
نه کوی او ایمان پرے نه راوړی نو هغه ټول دَ زِنا اولاد دی،

قیامت، معاد او مجازات دَ اعمالو دَ قیامت نُومُونه

دَ کوم څیز نُومُونه چه کُفر وی نو دا دَ هغه دَ لوئے والی دلیل دے، دالله تعالیٰ
نُومُونه کُفر دی دا هم دَ الله تعالیٰ دَ لویئ دلیل دے، امام سیوطی رح
پُه بدور السافرة فی امور الآخرة، کښ دَ قیامت اَتیا نُومونه ذِکر کړیدی
(صـ۴۲ مطبوعهٔ کانشی رام لاهور) موبږ په هغے کښے بنکاره مشهُور نُومُونه
ذکر کوُو

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱) السَّاعَةُ د قیامت دا نوم له دُوَړو وجهو دے، یُوله دے وجهے چه قیامت به ناګهانه راځی، لکه چه یو کینټه تیریدو نه پس ناګهانه چه دویمه کینټه راځی، او دویم له دے وجهے چه قیامت کښ د اولینو آخرینو حساب به په لږ وخت مثلاً یو کینټه کښ ختم شی او هم دا معنیٰ د "سَرِیعُ الحِسَابِ" ده او هم دا معنیٰ د حضرت علی رضه منقول ده، (اِنَّ السَّاعَةَ اٰتِیَةٌ لَّا رَیْبَ فِیْهَا (سورهٔ الحج آیة ۷))

۲) اَلْقِیَامَةُ (کُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ؕ وَاِنَّمَا تُوَفَّوْنَ اُجُوْرَکُمْ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ (سورهٔ اٰل عمران آیة ۱۸۴) دده نوم وجه دا ده چه د دے معنے اُودریدل دی، او په دے ورځ به ټول خلق ملائکے او روح به د الله په محکمه کښ ترهغه وخته ولاړ وی تر کومے چه الله تعالیٰ جل شانه اُغواړی۔

۳۔ اَلْقَارِعَةُ قَرْع زړه درزولو او ټکولو ته وئیلے شی، د دے ورځ د ویرے نه به هم زړه ونه درزیږی او ټکیږی؛ اَلْقَارِعَةُ مَا الْقَارِعَةُ ؕ

۴۔ اَلْحَاقَّةُ دا د حق نه ماخوذ دے، د دے نوم مطلب دا ښودل دی چه دا ورځ حقه ده او په دے کښ د شک شُبهے څه ګنجائش نشته، اَلْحَآقَّةُ مَا الْحَآقَّةُ ؕ

۵۔ اَلْوَاقِعَةُ دا د روقوع نه ماخوذ دے مطلب دا چه د دے واقع کیدو کښ هیڅ شک نشته بلکه دا ځامخا واقع کیدونکے حقیقت دے (اِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ لَیْسَ لِوَقْعَتِهَا کَاذِبَةٌ)

۶۔ اَلْغَاشِیَةُ (د غشی) معنی پټول دی، د دے ورځ له هیبته به زړونه پټ شی او خلق به اُوترشی هَلْ اَتٰىکَ حَدِیْثُ الْغَاشِیَةِ ؕ

۷۔ اَزِفَةٌ (د آزف) معنے نزدے کیدل (اَزِفَ الشَّیْئُ قَرُبَ، او دا اورځ د حقیقت په اعتبار سره نزدے ده حکمه چه خامخا راتلونکے څیز نزدے وی او تلونکے څیز لرے وی، بله دا چه مرګ د قیامت دروازه ده او مرګ نزدے دے (اَزِفَتِ الْاٰزِفَةُ لَیْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ کَاشِفَةٌ ؕ

۸۔ یَوْمُ التَّغَابُنِ غبن ټکۍ او دوکے ته وائی، په دے ورځ به دا ښکاره شی چه په دُنیا کښ کوم خلق په دوکه کښ وو چه د عُمر عزیز قیمتی برخه ئی په کومو مُضِر وخیزونو کښ تیره کړه کار او د کومو قیمتی عملونو نه محرومه وه، ذٰلِكَ یَوْمُ التَّغَابُنِ ؕ

۹۔ خَافِضَةٌ ذلیله کوونکے ورځ چه دین نه آوریدلی خلق به په دے ورځ په جهنم کښ په ډیر لاندے ذلت کښ وی

۱۰۔ رَافِعَةٌ اُچتوونکے ورځ کومو خلقو چه د دُنیا په ژوند کښ د دین غمخوری کړیده هغوی به په دے ورځ د جنّت په لوړو اُچتو د شهنشاهیت مقاموونو کښ وی، خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ؕ

۱۱۔ اَلطَّآمَّةُ الْکُبْرٰی د دے معنیٰ لویه هله ګله ده او د قیامت نه بله ډیاته هیڅ هله ګله نشته چه په دے کښ به د ټولو انسانانو د قسمت ابدی فیصله کیږی، (فَاِذَا جَآءَتِ الطَّآمَّةُ الْکُبْرٰی) قیامت او حشر نشر د انسانانو ژوند ډیره ضروری خائکه ده چه په دے ځائ خوشحالئ او تباهئ دارومدار د دے او د قیامت په باره کښ درے څیزونه د غور فکر جوګه دی:

(۱) د قیامت وجود چه دا مُو نزد د قیامت صورت نه وائیو:

(۲) د قیامت مقصد یعنی د عملونو بدله چه دا مُو نزد د قیامت نُوم نه وائیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳) د قیامت تفصیلات مثلاً د قیامت کیفیت، وزن د اعمالو، حوض کوثر، پل صراط، نور، جنت او دوزخ او داسې نور دیر،

د ټولو نه زړه چې به مونږ د قیامت او د معاد د صورت ذکر کوو او د دې عقلي او نقلي دلیلونه به پیش کوو،

د معاد او قیامت نقلي ثبوت

(۱) ټول آسماني دینونه په قیامت قائید او په دوباره ژوندون متفق دي او ټول آسماني ملتونه دا مني، په شرح مواقف جلد اتم ص۲۹۴ کښې دا نقل موجود دے، اَجْمَعَ اَهْلُ الْمِلَلِ وَالشَّرَائِعِ عَنْ اٰخِرِهِمْ عَلٰى جَوَازِهٖ وَوُقُوْعِهٖ: یعنې ټول ملتونه او شریعتونه منلې دي چې د خلق د حشر اجسادو په جواز او وقوع باندې متفق دي۔

(۲) ټولو پیغمبرانو علیهم السلام د قیامت خبر ورکول کړیدي د کومو نه چې د ریاتو د شتیق خلق په بنیاد موږ کښې نشته قرآن پوره تفصیل سره د قیامت بیان کړیدے او بیا د دے په باره کښې، مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ، فرمائیل دي دے ثبوت دے چې قرآن د تیرو شپږو آسماني کتابونو د اصولو اوعقائدو تصدیق کوي نو حکمًا د ثبوت، قیامت او د مجازات اعمال وغیره په باره کښې د دې ومنو آسماني کتابونو هم تصدیق کوي، د قیامت نه پس د آخرت ژوند د دې دنیا د ژوند نه دیر ښه والي او پائیدارتیا دے وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى، د آخرت ژوند بهتر او پائیدار دے او بیا ئے فرمائیل، اِنَّ هٰذَا لَفِي الصُّحُفِ الْاُوْلٰى صُحُفِ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى دا مضمون د حضرت ابراهیم او د حضرت موسیٰ علیهما السلام په صحیفو کښې موجود دے۔

د فلسفیانو د انکار تردید

فلسفیانو د حشر اجساد نه انکار کړیدے د عملونو بدله هغوی هم مني

خو بعضے د سعادت او شقاوت روحاني او بعضے د تناسخ په صورت کښې موږ نه دد دے تردید کوو، خو اول داوالو چې د فلسفې د قوانینو په مطابق هم دا انکار د منلو جوګه نه دے، حکمچې دوی هر ممکن د قدرت او طاقت لاندے مني او دا ظاهره ده چې حشر د اجسادو ممکن حکمدے چې د حشر یو جزء انساني روح دے، دویم د بدن ذرے، او دریم د بدن جوړښت، دا دریے وارې خیزونه ممکن دي چې پر قدرت الٰهي شته دا دریے وارې خیزونه د مرګ نه وروسته ئے د الله په ایجاد موجود شوي وو، کومے دا ممکنات ومتنع وے نو اول خو دا هم نه وو موجود شوي دوباره ژوندي کیدل خو اُس عقل ته ډیر نزدے دي د منلو د باره دا قرآن بیان کړي دي، وَهُوَ اَهْوَنُ عَلَيْهِ، وَلَهُ الْمَثَلُ الْاَعْلٰى، (سورة الروم آیة ۲۷) یعنې د انساني قدرت د قاعدے مطابق دوباره پیدا کول د ډیرو مبې حل پیدا کولو نه زیات آسان دي هر کله چې الله ډیر لوئے دے نو هغه نه دے دوارو تخلیقونو کښې هیڅ فرق نشته۔

د نیشت د شته کولو شبه

فلسفیان بل انکار په دے قاعدہ کوي چې نیشت سره خیزونه بدلیزي مطلب دا چې اول خیز یو واړه ختم شئ نو دویم وارهم هغه شے بیا نشي موجودیدے کله وي نو هغه به بل خیز ري، نو دا غلطه ده چې په قیامت کښې به هو بهو هم هغه انسان بیا دوباره ژوندے شي، دا شبه بالکل باطله ده حکمچې د اول وجود زمانه یو اوبل وجود زمانه بله نو د اولے زمانے وجود ختم شو او پلے زمانے کښې بیا موجود شو خو شے بدل نه دے او هم هغه شے دے، کومه چې ډوبه وو مطلب دا شو چې دا هغه شے نشي کیدے چې په یو زمانه کښې یو شے ختم شي او هم په هغه زمانه کښې هم هغه شے بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

موجود شی نو دے کښ هیڅ اشکال پاتے نشو چه په بله زمانه کښے دیو څیز بعینه وجود کیدیشی او پورته ذکر قاعده د فلسفیانو غلطه ده، دا اعتراض خو د خندا وړ دے چرا وله زمانه د اول شخصیت جزء وو، بله زمانه به د بل شخصیت جزء وی هم د ګډ وډ ممبی شخصیت نه ځکه چه زمانه د شخصیت جزء هیڅرے نشی کیدے هغه مشخصه نده که داسے وے نو د تن سړے به هغه پرون ے ځکه نو وو چه زمانه بدله شوید ه، دپوهے د پاره یو آسان مثال، یو انسان په یو زمانه (دنیا) کښ موجود مړ (معدوم) کیدو سره په برزخ (بله زمانه) کښ وړک او په قیامت (په دریمه زمانه) کښ هم دغه انسان دا سے مثال لری لکه چه یو سړے دلاهور نه کراچئ ته لاړ شی، زمانه بدله شوه مقامات بدل شوا و سړے هم هغه دے اول وارلاهور کښ موجود وو (دنیا) چه روان شو نو ټ لاهور کښ وو او نه کراچئ کښ وو معدوم شو، (برزخ) او کراچئ ته چه اورسید و نو لاهور کښ نو وو (آخرت) دا دے زمانے بدلے شوے یو انسان معدوم شو او بیا موجود شو، خو هم دغه انسان دے او بالکل بدل نشو، نو دا اعتراض بالکل غلط شو چه د زمانے په بدلیدو سره شخصیت بدلیږی ګډ وډ دا سے وے نو د مکان په بدلیدو به شخصیت بدلیدو کوم سړے چه په لاهور کښ وی نو ملتان ته په تلو اورسید و به د هغه شخصیت بدل شوے وو حالانکه دا سے نه کیږی، دویم دا چه د یو والی دار ومدار د اصلی اجزاؤ او د روح په یو والی دے دے نه بغیر کچرے بل څه فرق راشی نو په شخصیت څه اثر نه غورزوی، مثلاً کچرے د یو سړی رنګ مخکښ سپین وو بیا ګرم ملک کښ په مزدکښ کار کولو سره د هغه رنګ کله تور هم شی نو سړے هم هغه دے بدل نشو د غه رنګ که د پنځلسو کالو یو سړے د دیر شو کالو شی نو رنګ او قد او غټ والی کښ فرق را تلو سره به هم دا هغه سړے وی کوم چه وړانډے وو

پو حکومت هم د هغه د نوکرئ تنخواه ورکولونه په دغه بنیاد انکار نه کوی او د غټوالی او وړوتوالی په وجه یو عدالت چرے د چا مقدمه نه ده خارجه کړے چه ته اوس بل سړے ئے، دغه رنګ که د نیک یا بد عمل په وجه کچرے شکل اور نګ کښ څه فرق په آخرت کښ هم شی، اصلی اجزاء ئے هم هغه وی کوم چه دنیا کښ وو نو دا به هم هغه سړے ګڼړلے شی کوم چه دنیا کښ وو،

د معاد په باره کښ مذهبونه

د روح متعلق دوه رائے دی، اول دا چه جسم لطیف دے، دویم دا چه مجرد غیر مادی دے دے اختلاف په بنیاد د معاد په باره کښ د شرح مواقف مصری جلد آتم ص۲۹۷ د نقل مطابق پنځه اقواله دی:-

(۱) معاد صرف جسمانی دے، ځکه چه بدن او روح دواړه جسمونه دی (صرف د کثافت او لطافت فرق دے) نو اعاده هم د جسم اشوه د اکثرو متکلمینو د اسلام قول دے چه روح جسم لطیف امنی:-

(۲) معاد صرف روحانی ځکه دے چه د جسم اعاده نشته یوازے په روح د سعادت او شقاوت دار ومدار دے، دا د یونان د فلاسفه الهیین قول دے

(۳) معاد جسمانی او روحانی دواړه دے (دنیا جسم او روح دواړه دوباره موجود ډشته دا قول حنفی، حنبلی، اشعری، ابوبکر باقلانی، راغب، معمر، دهنا خرینو امامیه و اولو اکثرو صوفیاؤ دے دا قول حضرات د روح تر مجرد غیر مادی

(۴) معاد به نه جسمانی وی او نه روحانی، دا قول د یونان تو طبیب حکیمانو

(۵) د معاد ذکید و او نه کید و هیڅ فیصله نده شوے توقف دے، چه دا قول د جالینوس دے ده ته دا شک پریوتے دے چه روح د هغه مزاج نوم دے کوم چه په مرګ ختم شو او که د هغه جوهر نوم دے چه مرګ نه پس هم باقی وی دا نځه اقواله د انسان د بدن او روح سره تړون لری خو یو شپږم قول د تناسخ هم شته چه هغه د حکماء هند او د یونان د بعضے

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکماؤ، اودَ بعضے منسُوب الی الاسلام خلقود ے مثلاً احمد بن حابط چ
دابراهیم نظام شاگرد دے ابُومُسلم خُراسانی، محمد بن زکریا، طبیب
رازی او قرامطه:

د مجازاة درے شکله

(آخِر حوالے د پاره دابن حزم ملل نحل جلد ۱ صفحه ۵ کوری)

د مجازاةِ اعمال درے شکله دی:-

(۱) د جُنُو حشر به د بعث بعد الموت په شکل کښی اود مجازاةِ اعمال به د
جنّت اود دوزخ په شکل کښی وی، دا ئے د اهلِ اِسلام او د آسمانی
مذهبونو والو وُوده۔

(۲) د جُنُو د حشر نه بغیر صرف رُوح د نیکئ او بدئ اثر (خوند او درد)
محسوسوی، دا قسم مُجازاة د حکماءِ الهیّین قول دے،

(۳) د نیک او بد عملُونو په بدله کښی د یو انسان رُوح بل انسان ته بدلیدل
تناسخ مجازاة اعمال دے بعضے حکماء د یونان او اکثر حُکماء د هند دا قول
گوی،

تنقید

دا دواړه آخیری قولُونه د انبیاء علیهم السلام د اِجماع او د آسمانی
کتابُونو نه خلاف دی او د عقل او فلسفے په بُنیاد هم غلط دی، یوازے رُوحانی
مجازات خو ځکه غلط دے چه اعمالو کښی بدن او رُوح دواړه شریک دی او
بدله به یوازے رُوح نه ملاویږی او دے مثال دلے اُگنړئ، لکه یو شل
اوړوند د انار رُوغلا گوی، ژوند کچه او پوخ انار نه پیژنی او شل انار وته
رسیدے نشی دوی، دا ستا مشوره اُگړی چه ړوند لا ندے شی او
شل په اُوږه سور گړی انار را اُشوگړی د باغ مالک دا دواړه عدالت نه
ورانده گړی دواړه د ځان خلاصولو چیل دلیلونه اُوائی پُوند
وائی چه زه وینم نه نو غلا څنگه کولے شم پوخ او کچه انار م څنگه اُپیژندل
او شل به وائی چه څرا انار وته رسیدے نه شوم ما غلا څنگه اُگړه؟

نو بشکاره خبره ده چه غلا خو شوے ده بلکه دواړو سره په موقع
ولے شوے ده نو د علالت فیصله به ضرور دا وی چه غلا دواړو کړے
دواړه په غلا کښ شریک دی نو سزا به هُم دواړو ته ورکولے شی، هُم
امثال د رُوح او بدن دے هر یو یوازے یوازے نیک او بد عمل نشی
لے هر کله چه نیک او بد عمل په شریکه دواړه کوی نو جزاء او سزا دواړو ته
شریکه پکار ده۔

ے نه علاوه یوازے، د رُوحانی مجازاة حقیقت د خوب دے چه څوک ښه
د فائدے خوب اُوبنی نو هغه نه صرف په خوب کښی خوند او آرام وی او که
په حزاب خوب اُوبنی نو په خوب کښی ورته بے خوندی او تکلیف محسُوس
نو دا قسم جزا سزا لوبے لوتے دی د اعمالو پائیدار کا او څوچنده زیاته
له پکار ده چه انسان د هغے په طمع خپله عمل اُگړے شی د خوب د مزو
طمع هیڅوک بنه عمل نه کوی او دے سره هیڅرے د انسان اِصلاح نشی
ے د بنه عمل شوق پیدا کولو، بدله دلے پکار ده چه د دُنیا د فائدے
په څوچنده زیاته فائده په آخرت کښی ملاوُ شی او بیا پائیدار ه
وی، لکه یو مړ کید و نکے سړے خپل یتیم کیدو نکی څوئے د پاره
نو سړی سره لس زره (۱۰۰۰۰) روپئ امانت کیږدی، د خوب د ناپائیدار
رضا صلولو په خاطر د غه سړے که د غه یتیم نه د غه خپل امانت په
پاکښی ورکړی نو کړ عقل او پاگل به څُکه بشکاره شی چه د لسو زرو روپو
قی فائده د خوب او تصور په فائده بیلگی د هو بشیار او روغ سړی
دے او دا باحث د امانت سپارلو هم نشی چورید ے د امانت سپارلو
ه هغه بدله کار ورکولے شی کومه چه دے نه په څوچنده زیاته وی
ئیدار ه او حقیقی وی لکه په آخرت کښی د لسو زرو روپو امانت سپارلو
ر نقصان کولو او څربا نئ ورکولو په بدله کښی چه ده ته جنت یا د آخرت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتناسخ رد

نورنعمتونه ورکړیشی: دتناسخ رد

(۱) د تناسخ په شکل کښی د عملونو بدله ورکول د عقل په موجب په دے وجهو درسته نه دی،

(۱) تناسخ له انصافه خلاف حکمه دے چه په عمل کښی بدن اوروح دواړه شریک دی اود تناسخ په شکل کښی بدله صرف روح ته ورکولے شی مثلاً د یو مجرم انسان روح د مرګ نه پس په یو ذلیل چوړی کښی یا په ذلیل خاروی او ځناور کښی ولیږلے شی نو سزا به یوازے روح ته ورکولے شی (بله د څنداخبره داچه د بدن سړی د بدن په ځای به سزا د چوړی یا د ذلیل ځناور او د خاروی بدن ته ورکولے شی، نو دا خو د خرپه ځای کلاوړ داخل شو بله داچه دے ځای نه به دا روح د بدلے د پاره کوم خواځی او بل بدن ته چه لاړشی، نو دا بدله به د چا ګنړلے شی د تولونه زیات کهورسره د نزدیکه خیال اګرچه څنګه دے نه غټ اوږد او جنجالی اشکال جوړیږی نو حکمه ئے بس کوم چه د تناسخ قائل کیدل په تصور څان باندے دی مترجم) دلته داخیال هم غلط دے، چه بدن صرف د عمل آله حکمه داپه مجازاة اعمال کښ نشتر یکول انه ی پکار او دے ته سزا ورکول به داسے وی لکه د یو قاتل توپک تړسزا ورکول او یا د یو مسلح اوبلکار تیښتی اوکړنه ی نه جزا ورکول کوم چه جمات یا خانه کعبه جوړه کړی وی، داخیال حکمه غلط دے چه بدن آله نده بلکه پخپله اوکوونکے دے آله خو د فاعل نه جدا اوی د هغه جزء نوی لکه توپک د توړه لیکن روح او بدن چه یوځائے شی نو هله څوک بنه یا بد عمل شی نو اصل فاعل بدن دے چه د روح په امر نه یو عمل کولے شی چه څنګه روح د بدن په هر اندام کښ ننوتے وی نو بنکاره شوه چه د آله حکمه نده چه دا د روح په غم او خوشحالئ کښ خامخا شریک وی

نو توپک د قاتل، او تیښتی کړنه ی د خانه کعبے د معمار په غم او خوشحالئ کښ هیڅ رنګه شریکیدے نه،

(۲) د تناسخ د پاره دا دلیل باطل دے چه انسان د حیوانا تو نه چه د آخلی یا د غریبے کورنئ یو ذلیل انسان چه مصیبتونو کښ مبتلا شی، دے بنیاد دا دے، چه یو انسان بد عمل کړے وی، نو د هغه روح په ذلیل حیوان کښ او یا ذلیل بل انسان کښ ننوزی او دا رنګ هغه وړاندینی کس ته د خپل عمل بدله د څناور یا د انسان د ذلت په صورت کښ ملاوشی،

(۳) باطل حکمه دے چه د خاروو فطری تقاضا داده چه انسان تر کاروا خلی او د پاره د جرم سابق هیڅ ضرورت نشته حکمه چه د دنیا نظام چلولو د پاره د حکمت الهی تقاضا او ظهور دے، کوم انسان دے د کار نه لرے نو د خاروو وجود به لغو او بے فائده وو داهم د حکمت الهی د شان خلاف دی، دغه رنګ د بنیاد مو خوشحالی او بدحالی د هغوی فطری تقاضا ده چه غنی د فقیر نه کاروا خلی، فقیر د اجرت محتاج او غنی د هغه د کار محتاج دے په دے احتیاجونو د انسانی تمدن ربط قائم دے او د دنیا نظام پرے چلیږی که د تناسخ تصور پکښ راغلو نو انسانی تمدن به بالکل درپے وړپے شی د انسانانو مصیبتونه او غمونه هم د حکمت الهی نه خالی دا سے نه دی چه د صحت او خوشحالئ په حالت کښ د شکر جذبه او د مرض او د بدحالئ په حالت کښ د صبر جذبه انسانی کمالات بنکاره کوی او په دے د الله لرے او نزدے بندګان پیژندے شی،

په تناسخی مجازات کښ د جرم علم نه وی

د تناسخ په نامتناهی صورت کښ یو حیوان او انسان نه دا علم نه وی چه د هغه د کوم جرم په بدله کښ عذاب ورلے شی، یو انسانی عدالت کښ خو مجرم ته د سزا ورکولے شی په هغه د تا بتولو خواری او کړیشی هله پس ته سزا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکولے شی، لیکن د تناسخ په صورت کښ د الله عدالت دلو بوتو قوښکار
کولے شی کوم کښ چه نه تحقیق وی، نه مقدمه چلول وی او نه مجرم ته
د خپل خپل جرم پته وی چه دا سزا هغه ته د کوم جرم په بدله کښ
ورکولے شی العیاذ بالله، نو ځکه د تناسخ داعتبده د عقل نه هم خلاف
دمرګ او پیدائش شمیر کښ د جوړښت نشتوالے د تناسخ تردید دے

د تناسخیانو په خیال کچرے د حیوانا تو پیدائش د انسانانو د بدلو
د پاره د بدلے په نتیجه کښ وی نو پکار داده چه د بدو انسانانو زمرګ
په مناسب شمیر کښ هومره ځناور او حیوانات پیدا کیدلے خو دلے
ځکه نه ده چه موبږ وینو مثلاً یوورځ کښ یو لګ انسانان مری چه په
هغے کښ نیم څه بلکه زیات مجرمان او بدکاره وی، خو بل خوا نو د حیوا
هم په دغه ورځ کرور و نه زیات نه پیدا کیږی نو معلومه شوه چه د حیو
پیدائش د مجرم مړو حونو د تناسخی جنجال نتیجه نه ده بلکه د ابتدائی تخلیق
په وخت د الله تعالیٰ د حکمت په جوړ پیدا کیږی ځکه د تناسخ عقیده باطله
د تناسخ د تردید یوه غټه وجه دا هم ده، چه د تناسخ په صورت کښ به د
منل ضروری وی چه د مجرما نو انسانانو او د حیوانا تو روحونه یودی حالت
موبږ د ینو کورو چه دا جدا جدا دی انسانی روحونو کښ عقل او نطق
لیکن حیوانی روحونه دا سے ندی یا مثلاً په پشوکښ کچرے د انسان روح داخل
وے د انسانی روح په فطرت کښ د مړے نه کرګه پرتے ده دا هیچرے
نشی کیدے چه پشوکښ راننوتو نه فوراً پس فطرت دا سے بدل شی چه
مړے پسے منډه کړی راوے نیسی او په خوندے اُخوری هر کلمه چه د فطرت
فوراً بدلیدل نامعقول دی د انسانی او حیوانی روحونو فطرتونه جدا
جدا دی په دے وجه د تناسخ عقیده سر تر پایه نامعقوله ده ۱۲
هر کلمه چه د مجازاتِ اعمال دوه صورته ریوازے د روح معاد او تناسخ

او نامعقوله ثابت شو، نو د دے طرف یو صورت باقی پاتے شو هغه دا چه
د مړی بدن او روح دواړه ژوندی کړ یشی او د حساب کتاب نه
پس د جنت او دوزخ په شکل کښ په دے قانون مجازات نافذ کړ یشی، داخبره
یوازے په آسمانی شریعتونو او د انبیائے کرامو علیهم السلام په تواتر
ثابته نه ده بلکه عقل او فلسفه هم د موږ ون او معقول کښ ی، په ظاهر
خو دا دیره کرانه بښکاری لیکن حقیقت کښ هیڅ کرانه نه ده.

د معاد جسمانی حقیقت په دوو قاعدو مبنی دے، یو دا چه دا ممکن دے
او محال نه دے، بل دا چه دا د تخریب او تعمیر الٰهی نتیجه ده:-

د جسمانی معاد روهبے دلیل

د مجازاتِ اعمال په خاطر روح
سره د جسم دویم ځل بیا ژوندی

کیدل ممکن دی او محال نه دی، د محال دوه معنی دی، یو څرنګه چه مطلب
کران والے او سخت والے دی لکه یو سړی ته دا ویل چه را څه لاهو، نه خو
هغه عذر اُ کړی چه نشم تلے دا بل ورپورے اُنښلی چه خانخانه ښے نو هغه
اُوائی چه ناممکنه (محاله) ده نو د دے مطلب به دا وی چه تلل ډیر کران
دی، خو که روان کړے ئے وے ټکټ هر څه ئے ورته برابر کړے وے د هغه
اراده شوے وے نو لاهو، نه تلل ناممکن او محال نه دی، او بل د فلسفے
ناممکن او محال دے معنی ئے دا چه نفی او اثبات یو ځائے کیدل چه هیڅ
نشی کیدے لکه یو سړے یو کمره کښ په یووخت شته هم او نشته هم یا لکه
دوه په دوو کښے پنځه چه تولے د نیا د دے ضرب حاصل هغه څلور، ښائی
چه پنځه نه وی، نو خلاصه مطلب ئے دا وی چه پنځه نه دی خو پنځه دی
نو قیامت او معاد په دے معنی محال نه دے او کچرے محال په معنی د مشکل
او د سخت والا څلو نو هغه به وی خو انسان د پاره چه د هغه پوهه کار وینه
پرے اسباب بنادی او الله ته په دے معنی هم محال ځکه نه دے چه، اِنَّمَآ اَمْرُهٗٓ

(c) ketabton.com: The Digital Library

إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ، او بله داچه متواتر خبر صادق دَ دے تصدیق کړے دے، نو حُکمه دا صحیح ده، چه دیو ممکن تواتُر سره تصدیق اُشی یا اعتباری ذریعو سره دا ثابت شی نو دَ هغے په واقع کیدو کښی هیڅ شک شُبه نه پاتے کیږی، مثلاً تیرشوی وخت کښی دَ جاپان هیره شیما په ایتم بم تباه کیدل یو مُمکنه معامله وه هرکله چه اعتباری ذریعو سره دَ دے تصدیق اُشو نو بیا دُنیا اُمَنَلَه، دغه رنګ دَ موجوده دُنیا په شپیلیُ دَ اسرائیل علیه السلام رچه ایتم بم نه په اربو نو درجے زیاته قوی ده) تباه کیدل ممکن اومړدے اوور سره دے تصدیق آسمانی کتابونو او دَ انبیاؤ علیهم السلام غوندے رشتینو هستو په پرله پسے شهادتونو کړے دے نو بیا دے په واقع کیدو کښی هیڅ شک شُبه نشی کیدے۔

دَ جسمانی معاد دویم دلیل

دَ معاد جسمانی حقیقت ورانول اوجوړه وَل دی مطلب

داچه دَ دُنیا نظام ورانه دل او دَ آخرت نظام جوړ وَل دَ معادِ جسمانی حقیقت دے دا به الله کوی نوګرانه ځکه نو ده کچرے انسان ته ګرانه ګڼری نو هغه ځان ته کوی او په دے قیاس کوی لکه چه شل منه اَتی اُچتولے شی او میرے ته نشی اُچتولے حالانکه دوارو حیوانات دی خالق او مخلوق خو برابر کیدے هم نشی الله دا سے قوی دے چه نسبت ته دَ مخلوق سره کول ناممکن دی نو هغه ته دا هیڅ ګرانه نه ده چه هغه څپل جوړ کړے تعمیر (دُنیا) ورانوی او دَ هغے په ځای بل تعمیر (آخرت) اُکړی، ځکه چه دا سے خو انسان لګیا دے کوی یو عمارت ورانوی او بل دَ هغے په ځای جوړ وی، نو خُدائے تعالیٰ چه بے انتها قوی دے، یقیناً دا سے کولے شی چه عمارت دَ دُنیا ورانوی

او عمارت دَ آخرت پرآباد کړی، او همدغه معادِ جسمانی او قیامت دے چه دَ هغے ذریعه ستوڼے اوږه شتینوالے په عقل ثابت شوه،

دَ قیامت او معادِ جسمانی دریم دلیل

خالق کائناتِ انسان ته رُوحے ژوند ور کړو لیدلے کتلے شی) په هغه وخت چه دَ ده نوم او نشان هم نه وو هَلْ أَتَىٰ عَلَى الْإِنسَانِ حِينٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُن شَيْئًا مَّذْكُورًا ۝ سورهٔ دهر آیه ۱ اویا به ئی په قیامت کښی دَ مجازاتِ اعمال دپاره ژوندے کوی، انسان نه رُوحے ځل بے ځایه نوے پوښے جوړ وَل دیر ګران دی نمونه چه پیدا شی نو بیا هغه ښه ښه شے هم جوړ وَلے شی، رُوحے دَ انسان هیڅ نمونه نه وه خُدائے بے تکلیفه پیدا کړونکے دے قوی ترین هستی نه دوباره پیدا کول دَ انسان څنګه ګران کیدے شی لکه فرمائی:

كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُ ۚ وَعْدًا ۚ مونږ انسان رُوحے ځل جوړ کړو عَلَيْنَا ۚ إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ (سورهٔ انبیاء) دویم ځل به ئے هم دا سے جوړ کړو (آیة ۱۰۴) ۔ دا خو مونږ پخه وعده دده مونږ به ضرور دا سے کوو،

وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُ ۖ قَالَ انسان په مونږ مثال خیژوی مَن يُحْيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ ۝ قُلْ ۔ چه داوراسته هډوکی به څوک يُحْيِيهَا الَّذِي أَنشَأَهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ ۖ ژوندی کوی، (هغه چه خپل سورهٔ یٰسٓ آیة ۷۸ و ۷۹) ۔ پیدائش هیر کړونو) نه ورته اُوایه چه چا رُوحے وار پیدا کړے وو هغه به ئے دویم وار هم ژوندے کوی،

بلکه دویم ایت شریف کښی دی:

وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ ۚ ۔ دا دویم باره پیدا کول دَ رُومبی وار پیدا کولو نه دیر آزیات آسان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے خبرو سره قیامت په عقلی رنګ کښ ثابت شود آسانی لپاره انسانی نسبت اُخودل
ګوندی الله تعالی دوباره پیدا کول یوشان دی،

وَلَهُ الْمَثَلُ الْأَعْلَىٰ :(د الله دپاره اعلیٰ کمال دے)

د معاد څلورم دلیل

یو درزی چه کوت او شیروانی جوړوله شی نو هغه به خاوند په
ډیر آسانه ځکه جوړ ولے شی چه دا یو کار (کنډول) دے، دغه رنګ
پیدا کول د آسمان چه الله کړیدے نو دویم ځل پیدا کول د ورکولو
غوندے (په نسبت د آسمان) انسان پیدا کول خو بیا ډیر آسانه ځکه
چه کار (پیدا کول) یو دے،

ءَاَنْتُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمِ السَّمَآءُ بَنٰهَا ؛ آیا ستاسو پیدا کول ګران دی که د
رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوّٰىهَا (سورۃ النّٰزعٰت ایته ۲۷) آسمان چه الله جوړ کړ او ډیر
په اُوچت ځای هغه کیښودو:

یعنے آسمان نه چه اُګورے نو ډهغے په نسبت انسان ډیر ورکوتے دے
هرکله چه الله تعالیٰ د آسمان پیدا کول کښ هیڅ تکلیف نه وو نو د انسان په
پیدا کولو کښ به ورته څنګه تکلیف وی، بنا په دے د انسان دوباره ژوند
د عقل نه خلاف نه دے،

د معاد او مجازاتِ اعمال پنځم دلیل

سوا د انسانانه کُل کائنات د انسان د خدمت او فائدے لپاره
پیدا شوی دی (وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ، د آسمانونو او
د ځمکے ټول کائنات الله تعالیٰ ستاسو په کار او خدمت کښ لګیا کړیدی
خو انسان ته د طاعت او عبادتِ خداوندی لپاره جوړ کړیدے
وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ؛ مونږ پیریان او بنیادم د
خدائے د عبادت دپاره پیدا کړی او د عبادت نتیجه د دے فائده دی

کچرے قیامت، دوباره ژوند، مجازاتِ اعمال، جنت او دوزخ هیڅ نه وی
نو د عبادت هیڅ فائده نشوه، له دے وجے د انسان پیدا کول
عبث شوا او په دے بنا د کائناتو پیدا کول هم عبث شوا او په دے دول
به (العیاذ بالله) د الله د اقوال کار و نه عبث ثابت شی، چه د الله تعالیٰ
د حکمت له شانه خلاف ده د الله تعالیٰ حکمت دا دے چه د انسان د
عملونو پوره نتیجه ورکړی او په قیامت کښ چه د ځمکه چه د دنیا کښ دا ډیر نشی کیدے
د مونږ د وړاندے تفصیل سره بیان کړیدے، چه د الله د عمل دا کارخانه
عبث ثابته نشی او د دے او د انسان په پیدا کولو کښ د الله حکمتونه هم
بنکاره شی، په دے خبرو د قیامت عقلی ثبوت راځی

د قیامت او مجازاتِ اعمال شپږم دلیل

الله پاک انسان بیکاری د پاره نه دے پیدا کړے، (اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ
اَنْ يُّتْرَكَ سُدًى، (القیامة آیته ۳۶) آیا د انسان داخیال دے چه دے
به بیکاره پریښودے شی) د غه شان، (اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّ
اَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ ○ سورۃ المؤمنون آیة ۱۱۵) (آیا تاسو
ګمان کوئ چه تاسو مونږ عبث پیدا کړی یئ او د عملونو نتیجو موندلو د
پاره به قیامت کښ مونږ ته نه بیرته راځئ) خو دُنیا کښے ښه او بد دوه
قسم انسانان شته، څوک ظالم څوک مُنصف، څوک نافرمان څوک
فرمانبردار، څوک متقی، څوک فاجر وغیره، د دُنیا ټول قومونه د
الله د عدل او انصاف منتظر وی د دے په جوړ د الله تعالیٰ سلوک دے
ټولو سره یوشان نه دے پکار ځکه چه د الله عدل به بنکاره نشی
لکه یو انسانی بادشاه چه دافرق کوی وفادار او باغی سره یوشان سلوک
نه کوی وفادار له انعام ورکوی او باغی له سزا ورکوی په دنیا کښے
دا سے نشوکیدے ردیا تفصیل سره بیان شوے دے:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو دا انسان دویم ژوند دَ الله دے قسم انصاف کولو ډیره ضروری شو
همدا قیامت دے او د مجازاتِ اعمال ورځ ده چې د عقل له اړخه ضروری
ثابته شوه او قرآن دَ دے بیان دا سے کړیدے :
اَمْ نَجْعَلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ؛ آیا کچرے آخرت نه وی نو مونږ
كَالْمُفْسِدِيْنَ فِي الْاَرْضِ اَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِيْنَ ؛ به الله باندے یقین کوونکی او
كَالْفُجَّارِ ○ ؛ نیکوکاره خلق مفسدانو سره برابر سانو او خدا ترسوونکي
به د بدکردارو په شان سلوک کوو، ډېر هېڅ نه

دَ قیامت او مجازات اُوم دلیل

دَ اضابطه شته چې هر مرکب (اصلي یا مصنوعي) دَ پاره مفرد ضروري
دے لکه انسان چې دخاورے، اُبو، هَوا او ورځنه اصل مرکب دے نو خان خان
دَ دے مفردات هم شته خالصے خاورے، خالص اُبه او وغیره او مصنوعي
مرکب (شربت شکنجبین) دَ اُبو، سرکے او چینو نه جوړ دے دا ډېرے واړه
خالص خیزونه خان خان له هم موجود دي دا ضابطه په اعیانو، اعراضو،
جواهرو او اوصافو نوکولو باندے حاوي ده، مثلاً دَ یوزړو کې رنګ چې
تورا و سور رنګ نه مرکب وي، نو دا دواړه خان خان له خالص هم
شته، دَ نیاکښ غم اُو خوشحالي یو مرکب دے چې هر انسان کښ دا
دواړه جمع وي، دا سے انسان په دُنیاکښ نشته چې مکمل دِ خوشحاله وي
او هېڅ غم دِ ورسره نه وي، او دا سے هم نشته چې بټول دِ غم وي او خوشحالي
هدوو وي نه نو دَ تیر شوے قاعدے په جوړ دَ خوشحالئ او غم نه مرکب
دَ پاره خالص مُفردات خان خان له پکار دي چې خوشحالي خان له پوائے
موجود وي لکه جنت کښے دَ نیکانو دَ پاره او غم دِ خان له پوائے موجود وي
لکه دوزخ کښ دَ بدانو دَ پاره، او هُم دَ دے نه دَ قیامت مجازاتِ اعمال
او د جنت او دوزخ ثبوت کیږي ؛

دَ قیامت او مجازاتِ اعمال انم دلیل

په دُنیا کښ بنه خلق هُم
شته او بد هم، دا سے

اُګنړه لکه بټول انسانان یو دا سے مجموعه وي، چې یوه اعلیٰ او قیمتي اجزاء
هُم وي، خسیس او کم درجے والا اجزاء یې هم وي لکه دَ غنمو بُوتي
کښ یو اعلیٰ جُزء دَ غنمو دا نه رغلے ده او بل ادنیٰ جُزء ے دِ وُجُود او بُوس
دي دا نه ئے دَ بنیادم خوراک ده او بُوس دَ ډنګر و خوراک ده دَ دے بیلول
پکار دي چې هغه دَ پاره په دَ من کښ دد ے غوبلول او آلوزول پکار دي
غله به دَ انسان معدے نه ځي او بُوس به دَ ډنګرو معدے نه ځي، دغه
رنګ میدان حشر در من اُګنړه چې هغه کښے دَ نیکانو او بدانو بیلول
مقصد دي وَامْتَازُوا الْيَوْمَ اَيُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ ○ سورهٔ یٰسٓ آیت ۵۹
(اے مجرمانو دَ نیکوکارو نه بیل شئ)
اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيْقَاتًا (النباء آیت ۱۷) دَ نیکانو او بدانو دَ بیلولو ورځ
تاکلے شوے ده، نیکان به خپل فطري خالے جنت ته لاړ شي گویا کښ د جنت
انساني معده شوه او بدان به خپل فطري مقام دوزخ ته لاړ شي گویا کښ
دا دوزخ حیواني معده شوه، او دا سے شوه لکه نیکان غله او غنم وي
او بدان لکه بُوس او وُجُوه چې دَ حیوانا نو خوراک شي یا سوزلے شي په
تنورو وغیره کښ ؛

دَ قیامت او مجازات نهم دلیل

دَ انسان په فطرت کښ دَ خالص
آرام او خوشحالئ تقاضا پرته

ده انسان دَ فرد په شکل کښ وي که دَ قوم یا دَ وطن په شکل کښ وي دَ دا آرزُو او
تقاضا دَ ده په فطرت کښ خامخا وي اُس دا آرزو پوره کیدل ممکن ځکه
وي چې مونږ وراندے تفصیل سره بیان کړیدے چې ناممکن خواهش
اوآرزو باندے بټول دُنیا متفقه کیدے نشي لکه دَ شاه اغستو نه بګیدے

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندی پاتے کیدو خواهش، هرکله چه د خالص راحت او خوشحالئ
د تمنا پوره کیدو امکان ثابت شو نو په دُنیا کښ ددے پوره کولو انتظام
یوخوله دے وجے نشوکیدے چه دُنیا اوزمکه تنګه ده پتول انسانان
پکښ په یوځل نشو جمع کیدے او بل داچه خالصه خوشحالی اوراحت پینیا
کښ څکه نشی کیدے چه یو بادشاه چه دیر خوشحاله اوآرام کښ بنکاری خو
زړګونه غمونه ور سره وی لکه د حکومت آوریدو د رعیت بغاوت اومرض
بیماری د خپلو خپلوانو مرګ د بَل ملک حمله وغیره، اُس عقل دایقین
لری چه قدرت دِد خالص راحت او خوشحالئ غوندے فِطری خواهش
پوره کولو انتظام کړے وی لکه چه د نورو پتولو فِطری خواهشاتو انتظام ئے
څکه کړیدے چه په فِطرت کښ د اَغَږلی خواهش د پوره کولو انتظام د
قدرت ذمه داری دا سے ده چه هغه حکیم او عادِل دے دا سے خواهش
په فطرت کښ نه ورخښوی کوم چه نه پوره کیدو لپاره وی او انسان پریږدے
تزنیږی، اُس دے پوره کیدونکی خواهش دپاره دیولوئے بل جهان ضرورت
دے چه هغه پوره دیر وسیع اولوئے وی او د انسان دا فطری خواهش د
جنت په شکل کښ پوره شی، لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ○ (سوره
البقره آیة ۳۸) نه به (په جنت کښ) د چا غم وی او نه به دویږے اندیښنه
وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ○ سوره حٰمٓ
السجده آیة ۳۱) (تاسو کاملو انسانانو نوله پاره به په جنت کښ هغه څیزونه
وی کوم چه ستاسو زړه غواړی یا ئے تاسو په بنکاره اُغواړئ) هلته
به خوانی وی بُوډا توب به نه وی، صحت، غنا به وی او مرض او محتاجی به
نه وی. دے خبرو سره قیامت او جنت خو عقلاً ثابت شو مګر په دے
بنیاد دوزخ دلته ثابتیږی چه دا د جنت ضِد دے او تُعْرَفُ الْأَشْيَاءُ
بِأَضْدَادِهَا، هر څیز په خپل ضِد پیژندے شی، شپه هله پیژندے شی چه

ورځ اُپیژنی، سپین به هله پیژنده شی چه تور اُپیژنی کرم به هله
پیژندے شی چه یخ اُپیژنی په دے قاعده دوزخ هم ضروری شو چه هغه
نه بدان یعنی د نیکانو ضِد مُجرمان لاړ شی، جنّت به همیشه وی پتول
آرام او راحت به وی دوزخ به هُم همیشه وی، پتوله بے آرامی او تکلیف
به وی د اَدَ الله دانصاف تقاضا ده چه پتول جنت ته نه بُوځی نو جهنم
څکه ضروری شو، کوم قوم چه د جنت اقراری دے هغه دوزخ هم مَنی
دے کښے څه اشکال نشته، څکه چه جنت او دوزخ د دنیاوی عملُونو نتیجه
ده دُنیا کښ بنه او بد عملُونه او خَلْق دونو قیامت کښ هم ددے نتیجه
په دغسے فَرق پکار وه چه د الله تعالیٰ انصاف او عدل پُوره بنکاره شی

د قیامت او مجازاتِ اعمال لَسم دلیل

د بَشَر اصلاح د دُنیا پتول قومونه داسے خوښوی چه هغه بے نه د خُدائے
اوند بنیاد موحق ضائع کوی چه انسان ژوند په اطمینان امن او خوشحالئ
کښ تیرشی هم په دے اوانړه هر قوم په هر دور کښے د بَشَری اصلاح د پاره
انتظامُونه کړیدی مختلفے ادارے ئے جوړے کړے مګر زړه پورے اصلاح نشوه
د اصلاح عقلی اسباب درے دی:

① تعلیم ② قانُونِ حکومت ③ او عقیده د مجازاتِ اعمال

① په تعلیم خو د نیک د بد عمل نه واقفیت راشی لیکن د عمل کولو باعث
کیدے نشی،

② دویم سبب قانون هُم په اِصلاح بشری کښ پوره کامیاب نشو څکه چه
جُرمونه رُوح کوی تزکومه چه رُوح کښ پاکیزګی او انقلاب نه وی راغلے
نو د جُرمونو سلسله نه ختمیږی قانون په دے وَجهو مجرم ته په سزا ورکولو کښ پوره کامیاب نه دے، هرځائے کښے د قانُون حکومت نشی کیدے
په غیر علاقو کښ نه قانُون شته او نه حکومت، کچرته قانون او

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت وی نو بیا هم مجرمان دا سے خائے اود لسے وخت کښ جرم
کوی چه هلته څوک گواه نه وی په دے بنا هغه د سزا نه بچ شی او د
اصلاح کار نا مکمله پاتے شی،

بعضے خائے کښ گواه خو وی لیکن د ښتیا گواهی نه کوی:-

بعضے خائے کښ گواه گواهی کول غواړی مگر د مدعی علیه له ارخه هغه
ته څه مالی لالچ یا ویره ورکول هغه د گواهی نه بند کړی،

بعضے خائے کښ د ښتیا گواهی اُشی لیکن د مخالف فریق د وکیل په جرح
د غه گواهی مشکوکه اد بے اثره شی، او مجرم د سزا نه بچ پاتے شی،

کچرے جرح سره هم گواهی صحیح ثابته شی نو فیصله د ج په لاس کښ
ده هغه غلطی هم کولے شی بالخصوص هغه وخت چه په زړه کښ د ترس
رحم او خدا ترسی نه وی، نو رشوت او سفارش فیصله په بل مخ وارړوی او مجرم
سزا نه بچ شی:

کچرے سزا او ګولے شی نو هغه به د جرم په جوړ هومره سخته نه وی خو
چه جرم سخت وی، دا شیۍ نه چه وی نو قانون جرمونه نشی بندا ولے
همدغه وجه ده چه قانون او سزا گانے خوشته مگر جرمونه زیاتیږی
او قیدیان (بندیان) ورځ په ورځ دیماد ویږی، بنا په دے اصلاح
بشری کار ډزره (ضمیر) نه دا سے شروع کول پکار دی چه اول خو د جرم
اُنشی او بیا که اُشی نو د سزا نه د بچ نشی، د دے صورت دا دے چه
په زړه او ضمیر کښے د مجازاتِ اعمال او قیامت دا سے پخه عقیده وی
چه هغے نه سړی سره دا فکر پیدا شی چه هره گناه او حق تلفی کول خپل
ځان په آخرت کښ تباه کول دی او د څو روزو فانی فائدو په بدل کښ د
آخرت هغه دا سے فائدے بیلل دی چه دیو عقلمند سړی کار نه دے
دا هغه عقیده ده کومے چه غلط اوډاکوان (عرب د جاهلیت) فرښ

څوک جوړ کړل او د دے عقیدے د پوخ والی په وجه د هغوی زړونو او
ډماغونه دا سے روبنانه شول چه د هغوی نه د جرمونو، ظلم او حق تلفئ
ټول نښان ورک شو د بشری اصلاح همدغه یو مجرب نسخه ده کومے چه د
تجربو او مشاهدو په بنیاد خپلو اصلاحی اثرات نه د نیا وا تفه کړه هم
د غه یوه اداره (جه د بشر مکمل اصلاح پر کیدے شی، هغه ده د
مجازاتِ اعمال (قیامت پخه عقیده او دارنګ قیامت او مجازات
اعمال عقلاً ثابتیږی

د قیامت او مجازات یولسم دلیل

انسان د کائناتو یو قیمتی جُرد ے خو عُمر او ژوند ے لنډ دے آسمان
زمکه او غرونه د ډیر ے مُودے را سے دی لیکن د انسان ژوند لکه د
لږے دمرګ په یو چپه ختم شی لکه د چا گورکنے چه د خاورے لوخے وی،
او د سرو زرو هم نو خاورین به زر تر زره ختم شی او د غه قیمتی د سرو
لوخے به ډیر مُودے پاتے وی حکه چه قیمتی خیز څوک خان نه لرے
کوی، دے نه معلومیږی، چه د قیمتی انسان سره مُناسب بل قیمتی
اُوږد ژوند دے کوم کښ چه ده نه د عملونو به نه ملاویږی او دا به
ثابتول غواړی چه د خسیسو شیۍ ونو په مقابله کښ د قیمتی انسان عُمر
د هم ډیر زیات وی وَاِنَّ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ لَهِیَ الْحَیَوَانُ، د انسان اصلی
ژوند د آخرت دے، چه دے قاعدے بنا شوے فرق د خسیس، اَدنے
او د قیمتی اعلیٰ ټوره بنکاره شی، د غه دے قیامت د غه دے مجازاتِ
اعمال او د غه دے آخرت:-

د مجازات او قیامت دولسم دلیل

دا کنټر فرانس لیکی، چه د نوی رنړا په جوړ کړ انسان شخصیت په
درے خیزونو بنکاره کیږی: (۱) نیت (۲) قول (۳) فعل

(c) ketabton.com: The Digital Library

را، نیت د انسانی نفس لاندے په شعور کښ محفوظ دے چه هغه یو خیال هیرکړی خوب کښ ئے اُګوری او بیا ورته را یاد شی۔

(۲) او قول د هوا په چپوکښے محفوظ دے چه په دیدہ یائی نظام بوخوا بل خوا اړ ولے راائړ ولے شی ددے د رفتار په یو سیکنډ کښ یولاک او شپک اتیا زره (۸۶۰۰۰) میله دے، ټول اقوال په فضا کښ محفوظ دی خو یو بل سره گډ وډ دی داسے آله لا نه ګډه پیدا کومه چې د یو بل نه را بیل کړی کیدے شی چه ړ ستو پیدا شی، په خلاف د دیدہ یائی نظام نه چه په اُوګدوالی د دیدہ یو ستن په مختلفو لانړو نو برابرو لوسره مختلفو حایونو نه آوازونه را کاږی او یو بل سره گډ وډ کیږی نه حکه چه د هوا چپے په اُوږدوالی کښ بیلے دی د غه رنګ هر فعل په فضا کښ یو حرارت پریږدی چه په نږدے وخت کښ په نوی علمونو معلو مولے شی، لیکن په دیر وخت تیریدو سره داسے آله لا تر اُسه نه ده ایجاد چه هغه د فضا نه بیرته را وا خلی کیدے شی چه ړ ستو داسے آله هم پیدا شی دے تقریر نه د آخرت وجود دست ثابتیږی چه په هغے کښ د نیت قول او فعل (چه محفوظ دی) نتیجے مرتبے شی،

دے نه علاوه د ماهرینو ارضیاتو د تحقیق مطابق د ځمکے په خیټه کښ دیارلس سوه (۱۲۰۰) درجے ګرمے شته حالانکه داو بو یشوالو د پاره سل درجے ګرمی کافی ده۔ دے نه علاوه هرکال د ځمکے نه په زګونو زلزلے پیدا کیږی د بعضے پته اُلګی او د بعضے اُنه لګی داد هغه ګرمئ نتیجه ده کومه چه د ځمکے په خیټه کښ پرته ده، دا ټول او د سمندر دا بو تر یخوالے دے خبرے دلیل دے چه جهنم د ځمکے او سمندر د لاندے اوډا ټول د جهنم اثرات دی، ٭٭

د قیامت تفصیلات

د قیامت کیفیت

د قیامت حقیقت دوه خیزونه ګڼل یو د دے جهان ورا ټول او د بل ټول جهان (آخرت) جوړ

دا د واړه الله د و ئ پوکو سره ترلی دی، اول پوکل تخریب د پاره دی او دویم پوکل د تعمیر د پاره دی تخریب په حقیقت کښ د دنیا مرګ دے نامه عادت دادے، چه مرګ نه وړاندے څه مرض او رنځ وی هغه چه په علاج بنه نشی نو د غه رنځ د طبیبانو په خیال کښ لا علاج او مهلک وی، نو هغه رنځور تر هلاک شی، ټول انسانان مجموعه یو جسم اُګنړه هرکله چه هغه رنځور شی نو د دے قاعدے مطابق علاج ئے کولے شی که علاج ئے ممکن نه وی نو لا علاج شی او هلاکت ته نږدے شی او بیا د الله قانون د هلاکت په د نا فذ شی او هلاک شی، د انسان د پاره نو د ټول کائنات خادمان دی هرکله چه انسان نه وی نو بیا دے ټول نور د کائنات هیڅ ضرورت پاتے نشو نو حکه د انسان هلاکت سره د ټول کائنات اُترلے شی او هلاک شی نو د غه قیامت دے دے نه وړاندے حالت د دنیا د دے مرض صوت اُګنړه چه د شریعت په اصطلاح کښ دے ته اَشراط السّاعة یا د قیامت نشانے وئیلے شی لکه چه یو سړی کښ د مرګ نه وړاندے د مرګ نښانے ښکاره شی تر مرګه نیږدے شان و قفه وی داخور رکوتے انسان دے خو د ټول عالم د مرګ حالت حکم مختلف دے چه دا د یو انسان په نسبت دیر لوئے شے دے نو د ده د مرګ او نښو د مرګ کښ به دیره وقفه وی د دے نښے د مرګ علاماتِ کُبریٰ دی کومے چه شریعت بنودلی دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

عالمی مرضِ موت یا د قیامت نښے

د خلقو ایمان او هغے سره تړلی ضروری خیزونه عالَم د پاره لکه د ژوند د روح مثال لری، مے کښ چه څومره کمزوت راځی هومره عالمی صحت د پاره مرض دے د امرض چه عالمگیر شکل اختیار کړی نو دا به د اعالَم هلاکت او د قیامت د پاره به غټے نښے وی او دے ر نړۍ تر به ګ هلک وسُلے شی لکه چه احادیثو کښ دی :-

(۱) د ابن مسعود رضی الله تعالےٰ عنه مرفوعًا روایت دے چه قیامت به په شریرو انسانانو قائمیږی (مسلم شریف)

(۲) حضرت انس رضی الله د حضور صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی چه څو پورے الله الله وُ ونکی مؤمنان وی، نو قیامت به نه قائمیږی،

(۳) حضرت حُذیفه رضی الله تعالےٰ حدیث شریف نقل کړے دے چه قیامت به نه ترهغے نه قائمیږی څو پورے چه د دُنیا اقتدار د بدترینو خلقو لاس کښ رانشی (ترمذی شریف)

دا احادیث بنائی چه هر کله بدی عالمگیره نه وی نو قیامت به نه کیږی او دا د هلاکتِ عالَم نښه ده او کچرے لږ ایمانداد خلق پاتے وی نو په مسلم کښ د حضرت عائشے رضی د روایت مُطابق الله به دیر ښائسته هوا راولیږی او په دے به د مؤمنانو روُحونه قبض کړی او قیامت به یوازے په بدُ خلقو قائم شی بنا په دے قیامت قائمولو کښ پُورپ ډیر اهم کردار ادا کړیدے د دوی پوهولو علُومو فنونو ایمانی عقیدے او ایمانی عملُو نه ختم کړل دلیلونه دادی :-

(۱) د امریکے د هم جنسیت پرستانو یعنے د لواطت د حامیانو د اڅمن د پورپ (روزنامه جنګ ۲۰ د اپریل ۱۹۹۶ء کښ درج دے) په مُطابق د امریکے فوج کښ یو کرور او یا لکه (۱۰۰۰۰۰) هم جنسیت پرستان یعنی لواطت

کوونکی دی او د امریکے په عامو خلقو کښ هر څلورم سړے په لواطت کښے بُوخت دے :-

یوازے په برطانیه کښ څوارلس لکه (۱۴۰۰۰۰۰) هغه حرامیان وارپه دی د کومو عُمرونه چه شپاړس یا اُولس کاله دے :-

هرکال د حرامیانو نوروزپیدائش اویازده دے د اد حمل غورځولو او د پیدائشی بندولونه علاوه دی او سطاهر څوارلسم کس حرامی وی ۱۹۲۸ء د پورپ مُطابق په سلوکښ نوی امریکیان په زنا کښ او او یا په سلوکښ په لواطت بُوخت دی، د دوی اندازه ده چه ۱۹۷۷ء پورے به هر پنځم بچے حرامی وی (رپورټ د ترجمان اسلام ۱۴ مئی ۱۹۷۲ء) مغربی تهذیب چه کومه خونړیزی کړیده په هغو راندینے جنګِ عظیم موجوده جنګونه او ایټمی وسلے استعمالوی د دغه ځائے او داخلاقو نه انکار دے سود او شراب د دوی د ژوند یو غټه برخه ده پدیدګاتو او اخبارُونو دروغ خبرے خورول دکامیاب سیاست نښه ګڼلے شی او تعجب دا دے چه داګناهُم نشی ګڼلے، لکه انګلستان او کنیډا چه د لاسونو په پرقادکښ د لواطت د جواز قانون پاس کړو،

د شپیلئ پُوکل

رُومبے پُوکل د جُمعے په ورځ به د اسرافیل فرښتے په ذریعه شپیلئ پُوک وهلے شی په دے کښے به د جلالی تجلو د ومره زیات طاقت وی چه د هغے خدائی اثر نه به د اټول عالم درپے ورپے شی دا پوکل به په حقیقت کښ د الله د "مُمیت" د صفت مظهر وی چه هغے نه به په هرچیز برزنی او کوُونی باندے موت او فنا طاری شی، د قرآن بیان دے وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ سورهٔ زمر آیت ۶۸ ؛ او زمکے کائنات به هلاک شی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوا دَ هغو چه الله ﷻ هلاکول نه غواړی؛
دَ هلاکت نه داخیزونه مستثنیٰ دی (ا) د دوزخ کارکوونکی ضربتی (۲) جنت اودَ هغې حورانو غلمان حکه چه دَ دَوی، پیدائش دَ بقاء دپاره دے فنا دپاره نه دے، (۳) خلور مقربین فرښتے (۴) اومُدبّرات الامر، کومونه چه کار اغستل وی، دَ شهیدانو دوحونه چه هغوی سره دَ همیشه ژوندو وعده ده، (ربدورالسّافرة فی امور الاخرة) کښ — دا مستثنیات دَحدیثونه ثابت کړیدی، هم په دے کتاب کښ دَ بیهقی نه په روایت دَمُقاتل منقول دی چه دَ شپیلئ دائرے فراخی دَ دَآسمانونو او دزمکو دَ فراخئ برابره ده،،

دویم پوکل

قرآن شریف کښ دی (ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَىٰ فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنْظُرُونَ ۝ (سورة الزمر آیة ۶۸)؛

دوباره شپیلئ پوک وهلو سره به مره انسانان اوحیوانات بیول ژوندی شی هم دا دَ ابن عباس رضی الله نه په بدورالسافره» کښ منقول دی، طبرانی مقدام رضی نه په حَسَن سند نقل کړیدی چه دَ بچی نه تر بوډا به ټول راژوندی شی، کوم حمل چه دَ وخت نه وړاندے غورځیدلے وی کچرے دَ هغه اندام نه پوره وی او ساه پکښ راغلی وی، نو ژوندے کولے به شی که داسے نه وی نو نه به شی ژوندے کولے، دَ ټولو به عمر دَ دیرش کاله وی،

دا پوکل به دَ الله دَ «محیی» صفت مظهر وی، دَ قرآن دَ ذکر شوی، دے آیت ترجمه داده چه (دویم باره به شپیلئ پوک وَهلے شی نو ټول مړی به ولاړ وی اوکوری به) په دوارو پوک وَهلو کښ به دَ خلویښتو وقفه وی، (د بخاری) په دے خلویشتو کالو کښ به خلویښت ورځے دهغه نه دَ چکه سپینوا وُبو باران کیږی چه دَ مړو په خاورین قالب به وریږی

اوداسه په انسانی شکلونو کښ بدلیږی، په بدورالسّافره» کښ دَ ابوالشیخ دَ روایت مطابق په شپیلئ کښ دَ ټولو روحونو به شمیر سُری دی هغې کښ به د هغه روحونه وی په پوک وهلو به ټول خپلو خپلو قالبونو ته راوالوزی او پکښ به داخل شی، دَ بدن دَ ذرّو جمع کولو عمل به دَ زلزلے په ذریعه وی، لکه قرآن وائی (اِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ ۝ (سورة الحج آیة ۱) هرکله چه ذرّو نه دَ کالبوت شکل پخپله یا دَ مُدبرات الامر» فرښتو په ذریعه جوړ شی، نو عرش به هغه سپین آب حیات څلویښتو ورځو پورے بریږی،

په دے به دغه خاورین قالب (کالبوت) کښ (بدل شی، او بیا به دا هیچرے نه بدلیږی او نه فنا کیږی، دَ انسان به دوه وجوه (ماء الفناء) اودَ ذمکے دَ اُوبو نه وو، اوداُوجود به دَ (ماءُ الحیات) او دعرش دا اُوبو نه وی،

او ابوهریره رضی الله دَ حضور علیه السلام نه نقل کړیدے چه دے ته (ماء الحیات) حضور علیه السلام فرمائیلی دی، په دویم پوکی به دغه تیاروقالبونو (کالبوتونو) کښ روحونه منتقل شی اوروحونه به راپاسی

دَ پوکلو دَ حکمت بیان

دَ دُنیا نظام په مادی اسبابو روان دے، نو په دنیا کښ پیدا کیدل هم په واروارده، اومرګ هُم، نه ټول خلق یوځائے پیدا کیږی اونه ټول خلق یوځائے مړی، بلکه پیدا اوښت اومرګیدل په وار وار اوروروی، لیکن دَ آخرت جهان دَ معنو یا تواردَ جلال اودَ قُدرت جهان دے دَ دے نه عالَم دَ فعلیات (په یوځل فوراً) هم وئیلے شی، نو دَ دُنیا ټول الهی اوانسانی آبادی به په یوځل ختم کړیشی اور په دویم ځل پوک وهلو باندے به په یوځل سمدستی ټول مړی راژوندی شی، لکه چه فوځ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یو شپیلئ جمع کیږی او په یو خوږیږی، د انسان په ډوبی ژوند (د دنیا کښ) دمور په خیټه د بنیاد موده قالبونو (کالبولونو) برابر د لو کار (مُدبّرات الأمر، فرښتو ته واغستو او دغه رنګ روح قبض کول او مړه کول ئے هم دد غه فرښتو په ذریعه اکړل،

وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓا اَيْدِيْهِمْ ؛ فرښتے د روح قبض کولو د پاره لاسونه اوږدوی

قُلْ يَتَوَفّٰىكُمْ مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِيْ ؛ خوږی) ته اووایه چه ستاسو روح

وُكِّلَ بِكُمْ (سورهٔ السجده آیة ۱۱) ؛ هغه فرښتے قبض کوی کوم چه تاسو

مقرر دی)

دد ے آیتونو په موجب د فرښتو په ذریعه په دُنیا کښ الله تعالی انتظام د ژوند او مرګ اُچلولو، دے نه د الله تعالی احتیاج او کمزوری نه بلکه خپله بادشاهی بنکاره کول وو، دوایه پوک وهل به حضرت اسرافیل علیه السلام کوی حُکم چه د اُسجُدُوا لِاٰدَمَ، د تقاضا مُطابق د مَلَکی قُوّتونو خادمانه حیثیت پُوره بنکاره شی، نو دے پوره چه جنت او دوزخ پوره ټول انتظام او خدمت د انسانانو به فرښتے کوی، د جهنم انتظام فرښتے چلوی او جنت کښ د (سلام) اچولو فرض به هم د فرښتو په سپُرد وی قُرآن کښ ذِکر دی، په ډوبی پوک وهلو به الله تعالی تجلّی د اِماتت په کائناتو نو ور غورزوی او په دویم پوک وهلو سره به د اِحیاء ټول مړه ور غورزوی، د ورانو ټولو په پوک وهلو کښ به هم نظم او باقاعدګی وی شروع به د علویاتو (آسمانونو) نه کیږی، لکه اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ (الانشقاق آیة ۱) وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ بنائی چه آسمان به مات کیږی کوم چه د دُنیا چت دے دغه رنګ، اِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ۝ وَاِذَا النُّجُوْمُ انْكَدَرَتْ (التکویر آیة ۲) په مطابق د کائناتو نو ورو بنا نه ټول قسم ستوری به بیکاره او ختم کږیږی (وَاِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ ۝ (سورهٔ

الانفطار آیة ۳) او اِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ (سورهٔ التکویر آیة ۶) په مطابق ټولے خوږے او ترخے اُوبه به یو ځائے کږیږی او په ګرمئ سره به ختم کږیږی د دغے ګرمئ نه به په اُوبو او د اُلګی بیا به غرونه په ګرد او غُبار کښ بدل کږیږی زمکه به خوږه کږیږی، لکه قرآن فرمائی، وَاِذَا الْجِبَالُ نُسِفَتْ (وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا ۝ فَكَانَتْ هَبَآءً مُّنْۢبَثًّا ۝ (سورهٔ الواقعه آیة ۵ و ۶) غرونه به د الوزولے شی، اوږده ډره به کږیږی او ټوپه خوروورکړه وغبار جوړ شی، بیا به دویم پوک وهلو نه د تعمیر انتظام کیږی او مړی ټول به راژوندی شی او د الله په مخکښ به په قطارونو کښ اُودریږی،

د محشر زمکه

د محشر زمکه به د دُنیا د زمکے نه بدله وی،

يَوْمَ تُبَدَّلُ الْاَرْضُ غَيْرَ الْاَرْضِ) په دغه ورځ به د دُنیا ۀ زمکے نه بلکه بدله کړه شی دویم داچه صفات به ئے بدل شی او دریم داچه یوواړه یواړه ئے صفات بدل شی او بل واړه ئے ذات بدل شی، غوره قول دادے چه صرف صفات به ئے بدل شی، (د بخاری او مسلم شریف کښ د سهل بن سعدؓ نه مرفوع حدیث را غلے دے، يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلٰى اَرْضٍ بَيْضَآءَ عَفْرَآءَ كَقُرْصَةِ النَّقِيِّ لَيْسَ فِيْهَا عَلَمٌ لِاَحَدٍ، او په صحیحینو کښ د ابوسعید خُدری رضی الله نه مرفوع حدیث را غلے دے،

تَكُوْنُ الْاَرْضُ خُبْزَةً وَّاحِدَةً) معنی ئے دادے چه خلق به په داسے زمکه (پاسوے شی، چه سپینه غنمو رنګه به وی لکه د میدے د دودی پشان چه په دے به هیڅ قسم نښه نه وی، د ابوسعید نه د حدیث ترجمه دادے چه د زمکه به د یو دودی په شان وی، بعضے روایتونو کښے چه د چاندی ذکر دے، نو د هغے مطلب صرف سپینوالے د چاندی پشان دے،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیهقی کښ د ابن مسعود رضی الله نه په صحیح سند دا الفاظ نقل دی،
تُبَدَّلُ الْاَرْضُ اَرْضًا کَاَنَّهَا فِضَّةٌ،، یعنی دا دُنیا زمکه به په داسې نه زمکه بدله شی چرلکه د چاندئ به سپینه وی، ابن جریر رح د زید بن ثابت رض نه مرفوعاً حدیث نقل کړیدے:-

اِنَّهَا تَکُوْنُ یَوْمَئِذٍ بَیْضَاءَ مِثْلَ الْفِضَّةِ،، دا زمکه به په دغه روځ لکه د چاندئ سپینه وی دے نه معلومیږی چې غوره قول د صفا تو بدلیدو دے،

د مؤمن خوراک څښاک

په میدانِ حشر کښ به زمکه د کیک پشان وی او مؤمنان به دے نه خوراک کوی، بدور السافره ص۲۲ کښ منقول دی، چې مؤمنان به د خپلو قدمونو لاندې طرفه دغه زمکے نه خوراک کوی، او د کوثر هغه اوبه به څکی کومے چې د پیو نه سپینې، واړے نه ښکے او د شاتو نه خوږے وی،،

حافظ بن حجر رح فرمائی، دا دے دپاره چې مؤمن ته د حشر په اوږدو مودو کښ د لوږے، تندے څه تکلیف نه وی، بدور السافره ص۱۳ کښ د طبرانی معجمِ اوسط نه مرفوعاً حدیث منقول دے، چې د عرش دلاندې به د الله له طرفه یو دستر خوان خورشی، چې په دے نعمتونه او خوراک څښاک داسے خیزونه راومیوے وی، چې چا به نه ډی لیدلی، نه به ئی په خیال کښ راغلی وی خو په دغے خوانچه باندے به روژ تیان مسلمانان خوراک کوی د هغوی پیژندګلی به دا وی چې د هغوی د خُلونه به د مشکو او د کستورئ د خوشبوئیو په ډوزے خیژی،،

بیان د حوضِ کوثر

قرآن فرمائی، اِنَّآ اَعْطَیْنٰکَ الْکَوْثَرَ، ابن عباس رض فرمائی چې دے نه حوضِ کوثر مراد دے، په میدانِ حشر کښ به د هغه پیغمبر د هغه د اُمت په جوړ یو حوض وی او په هغے کښ د حضور علیه السلام حوض ډیر لوی نه

لوئے وی، دا مضمون ترمذی شریف کښ د سمرہ رض نه د مرفوع حدیث په صورت کښ راغلے دے، د حضور علیه السلام حوض کوثر په میدانِ حشر کښ کیدل د شپږ پنځوسو (۶۰) صحابه ؤ نه نقل دے چې په هغے کښ څلور خُلفاءِ کرام رض او عشره مُبشره هم دی، په ظاهر به هغه حوض څلور ګټیزوی، او څلور واړه غاړے به ئے په یو اندازه وی چې څلور واړه به یو ازے یو ازے د یو یو میاشت په منزل اُوبدے وی د هغے لوټے او کلاسونه به د آسمان د ستورو د شیر نه هم زیاتے وی خو د هغه ستورو کوم چې مُوبنز او عوامو ته په نظر بنکاری د اُوبو رنګ به د پیو پشان سپین د شاتو نه زیات خوږ او د واړو نه به یخے وی دا به هغه خلق څښی کوم چې د مؤمن نه علاوه د سُنتِ نبوی تابعدار وی، بدعتیانو ته به د دے کوثر کولے شی اُوبدے نه به لرے کولے شی دا بدعت لکه د خوارجو، روافضو او معتزلهؤ اعتقادی وی او کمنلی وی ظالمان به هم دے نه شریک شی دا ټول روایات د حدیثو د بدور السافره ص۹۶ نه ترصف اکتے شی، حوضِ کوثر په حقیقت کښ د سُنتِ نبوی یا د کتاب او سنت جسمانی صورت دے چې دے نه به یو ازے په کتاب او سنت عمل کوونکی فائده اخلی شی لکه چې آخرت کښ د ټول اعمالو جسمانی صورت اختیار کړی بد عملونه به د مُضر شیلو او نیک عملونه به د فائده مند شیلو صورتونه اختیار کړی،،

عمل نامے

په قرآنِ کریم کښ ذکر دے

فَاَمَّا مَنْ اُوْتِیَ کِتٰبَهٗ بِیَمِیْنِهٖ فَسَوْفَ: چا ته چې په ښی لاس عملنامه ورکړے شی نو هغه به آسان حساب یُحَاسَبُ حِسَابًا یَّسِیْرًا وَّیَنْقَلِبُ اِلٰٓی: ورکړی شی نو هغه به آسان حساب اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا ○ وَاَمَّا: ورکوی او په خوشحالئ به جنت کښ خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

مَنْ اُوْتِیَ کِتٰبَهٗ وَرَآءَ ظَهْرِهٖ فَسَوْفَ: اهل وعیال ته را ارسی، اوچا ته یَدْعُوْا ثُبُوْرًا وَّیَصْلٰی سَعِیْرًا (سورة: چه د شاله طرفه عملنامه ور الانشقاق آیة ۱۰ تا ۱۲) کړے شی نو هغه به هلاکت هلاکت چغے وهی او په دوزخ کښ به اُغورزیږی:

فَاَمَّا مَنْ اُوْتِیَ کِتٰبَهٗ بِیَمِیْنِهٖ فَیَقُوْلُ: چا ته چه په ښی لاس عمل نامه هَآؤُمُ اقْرَءُوْا کِتٰبِیَهْ ۚ اِنِّیْ ظَنَنْتُ اَنِّیْ: ورکړے شی، نو هغه به د خوشحالئ مُلٰقٍ حِسَابِیَهْ ۚ: نه نورته ښائی چه اګورئ خما عمل نامه خما په دُنیا یقین ووچه به د ے ورځ به الله تعالیٰ سره خامخا ملاقات وی:

(سورة الحاقة آیة ۱۹ تا ۲۰)

وَاَمَّا مَنْ اُوْتِیَ کِتٰبَهٗ بِشِمَالِهٖ فَیَقُوْلُ: اوچا ته چه په چپ لاس کښ عملنامه یٰلَیْتَنِیْ لَمْ اُوْتَ کِتٰبِیَهْ ۚ (سورة: ورکړیشی نو هغه به افسوس کوی الحاقة آیة ۲۵) : چه دا عملنامه خو ما ته نه وے راکړے شوے،

اِقْرَاْ کِتٰبَكَ کَفٰی بِنَفْسِكَ الْیَوْمَ عَلَیْكَ: هرګس ته به د خدائے تعالیٰ حکم حَسِیْبًا (بنی اسرائیل آیة ۱۴) : وی چه خپله عملنامه اُولوله او ته پخپله د خپل حساب له پاره کافی ئے:

بدور السافره ص ۱۰۱ تا ۱۰۹) کښ دا احادیثو په بُنیاد بیان کړے شوے دے چه ټولے عملنامے به د لوح محفوظ نه عرش ته راوړے شی کوم به چه په دغه ورځ میدان محشر کښ وی او جمع به کړیشی نو الله تعالیٰ به بیا د خاص هوا په ذریعه هرګس ته خپله خپله عمل نامه د هغه د عمل په مُناسب لاس کښ ورکړی او د هرے علمنامے رُوښی الفاظ "اِقْرَاْ کِتٰبَكَ" به ورده اوده د پلار نوم سره آواز کولے شی او حکم به ورته کولے شی دا عمل نامه به لوستی او نا لوستی ټول لوستے شی، په دے وجه حدیث شریف کښ دی چه د اولاد بنه ټوموندا بد دی، چه د چا نسب ثابت نه وی نو هغه به د

د مور په نوم بلے شی، داد عقل خلاف نه د ه چه نالوستی به هم خپله عملنامه لوستے شی. کوم علم چه خدائے پاک د اُستاذ په ذریعه ښودے شی، هغه بغیر اُستاذ نه په الهامی طریقه هم ښودلے شی لکه د انبیاؤ علیهم السلام عُلُوم او د حیوانا تو عُلُوم لکه د جوړلا د خپلے جالے جوړولو علم، د شاتو د مچئ د خپل کبین جوړولو علم میږو نه د اجتماعی اُمورو علم کوم چه په علم الحیوانات کښ بیان شویدی، دے زمانه کښ زندا ګو ته د پرسیدلو حروفو په ذریعه تعلیم ورکولے شی ما په مشرقی پاکستان کښ پخپله لیدلے دی

ګواهی

۱- د انبیاء علیهم السلام او د عُلماءِ کرام ګواهی

د جُرم ثابتولو د پاره د مضبُوطو او اعتباری خلقو ګواهی ضروری وی انسانانو د ټولو نه رُوښی د انبیاء علیهم السلام په ذریعه حق خبرے او د خُدائے تعالیٰ حُکمونه رسیدلی دی په دا سے خلقو به پخپله پیغمبران علیهم السلام ګواهان جوړیږی او کچرے د د پیغمبرانو وارثان علماء کرام د رسُولی وی نو هم دوی به پرګواهان جوړیږی، قرآن کریم فرمائی

وَجِایْٓءَ بِالنَّبِیّٖنَ وَالشُّهَدَآءِ اَوْرَفَكَیْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ بِشَهِیْدٍ وَّجِئْنَا بِكَ عَلٰی هٰٓؤُلَآءِ شَهِیْدًا (نساء آیة ۴۱)

۲- د کِرامِ کاتبینو ګواهی

دویم داچه د احکامِ خُداوندی نه د انسانانو خلاف کول اونه کول به څنګه بنکاره کولے شی، په دے به دوے قسمه ګواهئ پیښ کولے شی (۱) د کرامًا کاتبین ګواهی کوے چه بیګناه فرښتے دی (یَوْمَ یَقُوْمُ الرُّوْحُ وَالْمَلٰٓئِكَةُ صَفًّا ۙ اَوَاِذْ یَتَلَقَّی الْمُتَلَقِّیٰنِ عَنِ الْیَمِیْنِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِیْدٌ ○ مَا یَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ اِلَّا لَدَیْهِ رَقِیْبٌ عَتِیْدٌ ○ وَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

جَآءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَآئِقٌ وَّشَهِيْدٌ ○ کوم وخت چه د انسان عملونه دوه راغستونکی فرښتې را اخلی او کیڼ اوچپ طرف ته ناستې وی خه لفظ د خولے نه وتو سره شیش لکوونکے تیار وی اوهر کس به دا سے راځی چه یو فرښته به ئی راولی او دویم به ئی گواهه وی، د دُرِّ منثور په حدیث مرفوع کښ دی چه دا دوه فرښتے به هم هغه وی کومو به چه نیکی او بدی لیکله وی۔

۳- د انداموڼو گواهی

کوموانداموڼو چه عمل کړے وی د هغو به هغوی پخپله هم گواهی گوی اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰٓى اَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَآ اَيْدِيْهِمْ وَتَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝ (سورۂ یٰسٓ آیت ۶۵) : سره خبرے کوی او ددوی پښے به هم د هغے عمل گواهی ورکړی کوم چه دوی به کول۔

وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ اَنْ يَّشْهَدَ : او تاسو نشئ بچ کیدے چه په تاسو عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ اَبْصَارُكُمْ وَلَا : گواهی اُکړی ستاسو غوږ او نه ستر گے جُلُوْدُكُمْ (رحٰمٓ السجدة آیت ۲۲) : او څرګند۔

وَقَالُوْا لِجُلُوْدِهِمْ لِمَ شَهِدْتُّمْ : اودوی به خپلو څرمنوته وائی چه تاسو عَلَيْنَا : قَالُوْٓا اَنْطَقَنَا اللّٰهُ الَّذِيْٓ : خبر وبرخلاف ولے گواهی اُکړه هغوی اَنْطَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَّهُوَ خَلَقَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ : به اُوائی چه موبږ هغه خُدائے گویا نه وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝ (رحٰمٓ السجدة آیت ۲۱) : گرځو کوم چه هر شے گویا نه کړے دے او هغه تاسو ډوبے وار پیدا کړی یئ او هغه ته به واپس حُئ۔

۴- د څائے گواهی

قرآن کریم فرمائی، يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ اَخْبَارَهَا (الزلزال آیت ۴) ابن عباس رضؓ دے، آیت په تفسیر کښ فرمائی، زمکه به د انسان د هغه

عمل خبر ورکوی کوم ځے چه په دے کړے دے، دا ټول څلور قسمه گواهی شوے، د پیغمبرانو او فرښتو علیهم السلام گواهی اعتباری ده ځکه چه دوارو گناه نه پاک دی، نور ے دوه گواهی د انداموڼو او د ځائے هم اعتباری ځکه دی چه د اخلاف عادت دی دوی پخپله خبرے نشی کولے الله پاک نږ خبرے را اُباسی لکه څنګه چه دوی به پخپله هم دا بیان کوی نو د الله تعالیٰ نه زیات اعتباری به بل څوک وی،

دا اعتراض غلط دے چه انداموڼو او ځائے ژبے نه لری نو خبرے به څنګه اُکړی، ځکه چه یو انسان جامد شی، رکیست او ټیپ کښ خبرے محفوظ کولے شی، څه وخت چه غواړی نو هغه خبرے آوړی، نو الله تعالیٰ خو په طریق اولی دا سے کولے شی، بلکه دا چه د الله کار دے ژبے نه خبرے اُباسی او که پښو لاسونو نه ځکه چه ټول انداموڼه دغو ښے دی اول ځے ژبے نه خبرے راوړے اُس د نورو انداموڼو نه د الله پاک قُدرت او طاقت چه اُمنلے شی، نو دا سے خبرو مطلوکښ بیا هیڅ پس پیش نه وی، دے نه علاوه د نوی تحقیق په بنیاد جماد انو او حیوانانو کښ د مرتبو په جوړوند هُر شته او گویائی هم لیکن د انسان نه علاوه دنورو گویائی د انسان د غوږ ولونه پته ده۔

آیتونه وَقَالَتْ نَمْلَةٌ ۔ عُلِّمْنَا مَنْطِقَ الطَّيْرِ وَاُوْتِيْنَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِيْنُ ۝ وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝ وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَآءُ وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَكُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَوٰتَهٗ وَتَسْبِيْحَهٗ،

حضور علیه السلام سره د کانړو او د اُوبنو خبرے په احادیثو کښ ثابتے وی دا ټول شیان نه بنائی چه هر څه خبرے کولے شی خو فرق دا دے چه د اخو یا انسان آوریدے شی او یا پرې پوهیږی نه، خو آخرت کښ به د دے عادت په خلاف آوریدلے شی ځکه چه آخرت هم د نا آشنا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیُونو جهان دے، هسے خو ټول هر څه الله ته معلوم دی، دګواهو او د عملنامو ضرورت هغه ته نشته خو بیا هم دا سے الله دے د پاره کوی چه بنیاد مه ته پخیله خپل عمل ولړ یاد شی او پخپله په خپلو ځانو اقرار اُوکړی او ګواهان پرې د ثبوت د پاره پیش کړیشی، چه دالله عدل وانصاف بنه واضح شی. ځکه چه اقرار او ګواهان د مُدعی ثابتولو مضبُوط دلیلونه دی هم هغه چه دیره اعتباری دی او جرحه پرې ځکه نشی کیدے چه دوی غیر جانب دار دی لکه پیغمبران او فرښتے علیهم السلام، داندامونو شهادت یو قسم اقرار دے چه ټولونه مضبُوط ثبوت دے، البته د ځانے ګواهی ځکه دیره اعتباری ده چه وړاندے بیان اُشو چه دا دالله فعل دے او په دے یو شهادت هم جرحه نشی کیدے ځکه چه بُنیادی جرحے دوه دی یو دا چه ګواهی بے اعتباره ثابته کړیشی دلته دا سے هم نشته ځکه چه پیغمبران فرښتے مکان اوانداموتو ټول اعتباریان دی د علماؤ تصدیق به هُم پیغمبران کوی، ځکه داګواهی هم اعتباری شوه، اودویمه دا چه د ګواهانو جانبداری ثابته کړیشی دلته دا هم ځکه نشته، بلکه چه انسان سره د دری هیڅ لاندے باندے هیڅ رنه نشی کیدے چه دا سے تړون د یو بل سره اُلری بلکه داندامونو ګواهی خو ټولونه زیاته اعتباری ځکه ده چه دا پخپل ځان اقرار دے دوی به پخپله هُم په دغه ګناه عذاب ویزی،

د عملُونو ټول

قُرآن فرمائی

وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ ؛ مُونږ به د انصاف تله دقیامت فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا ط وَاِنْ كَانَ مِثْقَالَ ؛ په ورځ اوږدو بیا به په چا هم ظلم حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ اَتَيْنَا بِهَا ط وَكَفٰى بِنَا حٰسِبِيْنَ ؛ نه وی او کچرے د عمل مقدار داری

(سورة الانبیاء آیة ۴۷)

د دانے برابروی هم به پرې مُونږ راوړلُو، او مونږ حساب کوُنکے یُو

وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذِ نِ الْحَقُّ ط ؛ (د قیامت په ورځ د عملونو تلل حقّ دی)

فَاَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ ط ؛ چه د چا تولونه درانه

وَاَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُمُّهٗ هَاوِيَةٌ (سورة ؛ شو، نو هغوی به زړه سوُ القارعة آیه ۶ تا ۹) پورے ګډاران کښ وی، او د چا تولونه چه سپک شُو نو هغه یکاؤ نړه ګنده دے ؛

دا سے نور د آیتونو ګنړ واحادیثو او د اهلِ سُنّت د علماؤ اجماع سره ثابته ده چه عملُونه به تلے شی، البته مُعتزله ټول او سلفو کښ مجاهد، اعمش او ضحاک دا وائی، چه تلل د عملُونو نشته، کوم څانے چه وزن لفظ راشی نو د هغے مطلب برابرے او عدل الٰهی به وی پوره مطلب دا چه الله به د عمل په برابر (زیاتے کمے به نه وی) د هغے جوګه د انسان فیصله کوی خو دا قول ځکه غلط دے چه وزن او میزان په قرآن کښ درونده والی او سپکوالی سره مَوصُوف دے که انصاف مطلب وے نو دے سره د درونده والے او سپکوالے به ذکر نه وو چکه چه انصاف درونده سپک نشی کیدے نو جمهورو رائے دا سے صحیح ده، چه دغه تله به جسمانی او حِسّی وی، معنوی تله (انصاف) تر نده مراد - د میزان حِسّی په ثبوت کښ د سلمان فارسی رض دا مرفوع حدیث دے ؛

يُوْضَعُ الْمِيْزَانُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَلَوْ وُضِعَ ؛ تله به اُدرولے شی هغه به دومره فِيْهِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ لَوَسِعَهٗ ؛ فراخه وی کچرے ټول آسمانونه او زمکه په دے کښ کیښودے شی نو پکښ به ځانے شی،

حافظ بن حجر رح د احدیث د بخاری د آخری حدیث په شرح کښ حاکم نه په روایت د سلمان رض او ابن مردویه نه په روایت د عائشے رض او بیهقی نه په روایت د انس رض او طبرانی نه په روایت د ابوهُریرة رض نقل کړیدے

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ابن المبارک رح د سلمان رض روایت په کتاب الزهد، ابوالقاسم لالکائی په کتاب السنة او آلوسی، په تفسیر د سورهٔ اعراف کښ نقل کړیدی د حافظ بن حجر په رائے تله یوه ده خوکله که د جمع په صیغه ذکر شی نو هغه د اعمالو به اعتبار سره د څه چه اعمال گنړی د نوجمع اعتباری شوه یا مُراد د جمع دسے نه تعظیم وی، مطلب ئے دا که یوه خو کلونے والی په دجه د دے وَرده چه گنړے ورته اُو ئیلے شی لکه گذّبَتْ قَوْمُ نُوْحِ نِ الْمُرْسَلِیْنَ، حضرت نوح علیه السلام ئے تعظیماً په گنړو پیغمبرانو شمیر کړو د بعضو رائے ده چه تله په گنړے وی، یا د هر گس د پاره بیله بیله تله ده او یا د هر عمل د پاره بیله بیله تله ده، خو ګڼ وجے قول غوره ښکاره ده:

د موزون لهم بیان

د چا عملونه به تللے شی، او د چا به نشی تللے، قسطلانی رح د امام غزالی رح نه نقل کړیدے چه د دے پر توله عملونه تللے نشی، او د نورو توله مکلفو به تللے شی، (۱) معصومین د گناه نه پاک خلق پیغمبران علیهم السلام خو ځما په نزد دے کښ د مسلمانانو نوزاده اولیونی هم شامل دی، (۲) بل توله خلور اربه اونوی کروړه (۵۹۰۰۰۰۰۰۰) خلق دی، (۳) دریم توله د کفارو تللو د پاره مقابله ضروری وی په ګډو مبو دوو کښ د مقابلے بد عمل نشته او په دریم کښ د مقابلے نیک عمل نشته، دارنګ په آیت فَلَا نُقِیْمُ لَهُمْ یَوْمَ الْقِیَامَةِ وَزْنًا کښ دا بنکاره ده چه د کفارو عملونه به نشی تللے لیکن امام بخاری رح د توله د پاره د عملونو تلل هم منی لکه فرمائی اِنَّ اَعْمَالَ بَنِیْ اٰدَمَ وَتَوْلَهُمْ یُوْزَنُ، چه د توله بنیاد مو قول او عمل به تللے شی او دا قول حافظ بن حجر او علامه

آلوسی رحمه الله هم غوره گنړلے دے نو، فَلَا نُقِیْمُ لَهُمْ یَوْمَ الْقِیَامَةِ وَزْنًا، کښ به د تول نه مطلب قدر او مرتبه وی، یعنی د قیامت په ورځ د الله په نزد د کفارو د عملونو هیڅ قدر او عزت به نه وی بلکه خبره دا چه امام قرطبی د تول د پاره اعمال متضاده ضروری نه گنړی د کفارو د نیکئ چا برے به تش وی او د کفر به تړلو څخه چا برے درومنډ وی، یا گډے د کفارو صدقے او خیرات ونه د عذاب د کیفیت په کم والی کښ مؤثر اُو گنړے شی نه په کمیت کښ گډے هغه په بَل چا برے کښ پرانه هم وی نو د کفر او گناهُونو به مقابله کښ د دوی برکموالی په وجه د کفر چا برے درومنډ پاتے شی،

دویم قول د سبکی رح په شرح عقائد کښ امام مازُری نه منقول دے چه د کفارو د پاره به د تمیز او فرق معلومولو تله وی په هغے به د معلومولے شی چه د کومو کفارو گناهونه او کفر زیات دی نو د هغوی به عذاب هم سخت وی او د هغوی په نسبت په کفر او گناه کښ کم کفار ته به د هغوی نه لږ شان کم عذاب وی اگرچه ابدی عذاب کښ خو به تول کافران شریک وی دا فرق به د کیفیت ر زیاتوالی او کموالی وی، حافظ بن حجر رح د ابولهب او ابوطالب د قصو نه دا دلیل نیولے دے چه د کفارو د بعضے نیکئ د کموالی د سپکوالی د عذاب باعث جوړیږی شی، د سورهٔ مؤمنون د آخر آیت نه د کفارو د عملونو تلل ثابتیږی، وَاَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِیْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ ؛ چه د چا تول سپک وی د ده هم الَّذِیْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فِیْ جَهَنَّمَ ؛ خلق وی کومو چه خپل ځانونه خلُدُوْنَ ○ تَلْفَحُ وُجُوْهَهُمُ النَّارُ ؛ په نقصان کښ غورزولی وو، جهنم وَهُمْ فِیْهَا کٰلِحُوْنَ ○ اَلَمْ تَكُنْ ؛ کښ به همیشه وی د دوزخ اور به

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿ اٰيٰتِيْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ بِهَا ﴾ دهغوی مخونه سوزوی او خولے به ﴿ تُكَذِّبُوْنَ ○ (آیت ۱۰۵ تا ۱۰۳) پکښ ورانے وی، دوی نه به اُویلے شی چه آیاتاسوته حُما آیتونه ووآورَولے شوی چه هغه تاسو درونگنل آخری فقره ﴿ فَكُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ، نه کفر ثابت شواو د رومبنی فقرے وَاَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ، نه د عملونو تول ثابت شو،

د موزُون بیان

په میزان کښ به څه تللے شی؛ په دے کښ دُے قولَه دی اول د ابن عباس رضی الله عنه قول دے چه اَعراضواو اَجسامونه به جسم جوړکړیشی او تللے به شی اوداسے الفاظ ﴿ يُقَلِّبُ اللّٰهُ الْاَعْرَاضَ اَجْسَامًا ﴾، قسطلانی رح نقل کړیدی، او بدورالسافره ﴿ صـ۳۵ اکښ د بیهقی د شعب الایمان دا الفاظ نقل دی ﴿ يُؤْتٰى بِالْحَسَنٰتِ بِاَحْسَنِ صُوْرَةٍ وَيُؤْتٰى بِالسَّيِّاٰتِ بِاَقْبَحِ صُوْرَةٍ، یعنی نیکی به په ښه شکل او بدئ به په خراب شکل کښ راوړے شی، طیبی د مشکوٰة شریف په شرح کښ دے قول ته ترجیح ورکړے ده ؛ دویم قول دادے چه عمل نامے به د عملونو د نوعیت په اعتبار تللے شی دده دلیل حدیث در البطاقة ﴾ دے او دا امام ترمذی رح د عبدالله بن عمرو بن العاص نه نقل کړیدے او ښه ﴿ حسن ﴾ ے ورته ویلی دی او ابن حبان هم په خپل صحیح کښ دا حدیث راوړے دے چه الفاظ یے دادی ﴿ يُؤْتٰى بِتِسْعٍ وَتِسْعِيْنَ سِجِلًّا فَتُوْضَعُ ؛ یعنی یوکم سل غټ کتابونه به فِيْ كَفَّةٍ وَيُؤْتٰى بِالْبِطَاقَةِ فَتُوْضَعُ ؛ یوچا پرې کښ کیښودلے شی، اویو فِيْ اُخْرٰى فَطَاشَتِ السِّجِلَّاتُ وَ ؛ ورکوټے پرچه د کاغذ به بل چاپرې ثَقُلَتِ الْبِطَاقَةُ ؛ ؛ کښ کیښودلے شی، نو دغه یوکم سل کتابونه به سپک وی او هغه ورکوټے پرچه به درنه شی،

دے ته امام الحرمین ترجیح ورکړیدے کاوویلی دی چه دروند والے به د

(جرپه آنداز وی، قرطبی رح هم داغوره کړلے ده اوداین عمر رضی الله عنه قول دے دویم قول دادے، چه هم عملونه به تللے شی چه په هغے کښ ترمذی او ابوداؤد هغه مرفوع حدیثونه دلیل دی اوابن حبان دده تصحیح کړیده د حدیث الفاظ دادی ؛

مَا يُوْضَعُ فِي الْمِيْزَانِ اَحْسَنُ مِنْ خُلُقٍ حَسَنٍ (په میزان کښ به د ښه خُوئے نه زیات خائسته عمل بل شی تللے) دے له حافظ بن حجر ترجیح ورکړے ده، د عملونو تلل به پخوا د عقل نه لرے خبره کړلے شوه لیکن اُس خو په تهرما میتر) د بدن یا د موسم درجهٔ حرارت معلومیدے شی، حالانکه داعرض دے، حُمونږ په نږدے دے واړه اقوالوکښ اختلاف نشته، کیدیشی چه په دے واړو طریقو (عمل د جسم په شکل، عُمّل د عملنامے په شکل او عُمّل پخپله) دے د یاده تللے شی، چه په آخری فیصله کولوکښ هیڅ قسم د شک شبهے ظاهری صُورت نه کاره نشی،

امام ذهبی رح د علم په فضیلت کښ د عمران بن حصین نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث نقل کړیدے چه د علماؤ سیاهی اوشهیدانو وینه به تللے شی خوَ د علماؤ سیاهی به درنه وی (به در السافره صـ۱۴۱)

تلُونکے

تلُونکے د عملونو به څوک وی، د مختلفو روایاتو په بنیاد دے کښ خلو قوله وی (الله جل مجدهٗ به تلُونکے وی، دا دامام غزالی قول دے (الدرة الفاخرة فی کشف علوم الآخرة) او دلیلے د قران دا آیت بنولے دے، وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ ﴾ یعنی موږ به اِبن دُوِ خَان ته الله تعالیٰ نسبت کړے دے ده،

(۲) دویم قول دادے چه تلُونکے به مَلَكُ الموت وی او ویرو د اَنس بن

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالک نه دے روایت کړے دے (۳) دریم قول دا دے چه تلو
به آدم علیه السلام وی په معجم صغیر کښ طبرانی دابو هریرة ر
په دے الفاظو نقل کړیدے،
يَا آدَمُ قَدْ جَعَلْتُكَ حَكَمًا بَيْنِيْ ؛ اے آدم علیه السلام ماته حُما او د
وَبَيْنَ ذُرِّيَّتِكَ فَمُرْ عِنْدَ الْمِيْزَانِ ؛ اولاد په مینځ کښ منصف مقرر کړے
څه میزان سره اُدریږه

(۳) خلورم قول دا دے چه تلونکے به جبرائیل علیه السلام وی دا روایت
ابوالقاسم الاسکافی د خُذیفه په روایت نقل کړیدے،
خو په نزدے خلورواړو قولو کښ څه اختلاف نشته دا ټول صحیح دی
الله ﷻ نه ے تلونکے په دے وجه اُویلو چه تول به د هغه په حکم کیږی
او عام طور حُکم کوونکی ته هم د هغے کار کوونکے وئیلے شی، په دُنیا کښ کو
پولیس چه چالان اُکړی د هغے بیان اهتمال په عدالت کښ ضروری وی د
رنگ عزرائیل علیه السلام د مړو چالان کړیدے د الله تعالی په عدالت
کښ به کده بیان اوموجودگی ضروری وی:۔
دُنیا وی عدالتونو کښ د قانونی مشیر ضرورت وی د هغه رنگ د الله
عدالت کښ د جبرئیل علیه السلام پیشی دے د پاره ضروری ده چه
قانون (قُرآن) د الله له جانبه راوړے دے او د قانون شکنئ په
مقدمه کښ د ده پیشی ضروری ده:۔
د اولاد آدم علیه السلام مقدمه پیش ده نو د سرپرست په حیثیت
حاضری ضروری ده:۔

د عملونو تللو حکمت

الله عالم الغیب د عملونو د ذرّے ذرّے نه خبر دے، نو د الله ﷻ
عملونو تللو کښ هیڅ غرض نشته خو عملونه تلل د عدالتی کارروائی

تکمیل لپاره ده۔ (۱) عمل کوونکے د عملناے په ذریعه د خپلو
عملونو نه خبر شی که هیر کړی ے وی نو را یاد به شی ورته (لکه په
دائری کښ چه تیر شوی څیزونه رایاد ږی) او نفسیاتی طور به اُمنی
چه دا ټول درست دی په ژبه اقرار اُکړی، او که اُنه کړی، لکه،
اِقْرَأْ كِتٰبَكَ ؕ كَفٰى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيْبًا، چه دے
حکمت ته اشاره شویده ۔

(۲) د عملونو تللو سره نسبت معلوم ږی چه نیک عمل یو ثواب
او د الله له طرفه د هغے بدل د غږنه هم لوئے، انسان ته په دے تلل د
الله د فضل لوئے والے بنکاره کول دی، او د بد عمل په سزا کښ د
الله پاک انصاف بنکاره کول دی:۔

(۳) د انبیاء علیهم السلام، د عُلماؤ، د فرشتو، د انسانو نو، او د ځمکے
د ګواهو تیږ ولو نه مطلب دا ظاهر ول دی چه دا ټول کار او عدالتی
کارروائی په حقیقت او انصاف بنا ده:۔

(۴) د دے پټولے کار روایتی مقصد دا بنکاره کول دی، چه انسانی
اعمال دومره اهم دی چه دا ټول انتظامات د هغے د پاره هم په دے
وجه کیږی چه د کائناتو د تخلیق مقصد انسانی اعمال دی:۔

د غورِ یزو او نا غورِ یزو پیژندل

د نیکئ او بدئ د چا برو د زړونو او سپکیدو پیژندلو کښ دے
قوله دی (۱) د دنیا د قاعدے پشان د آخرت هم دا قاعده ده چه
د زړونو چا برے به بنکته او سپک به پورته حئ دا د جمهورو علماؤ
قول دے:۔

(۲) دویم د دے په عکس دے مطلب دا چه کوم چا برے پورته حئ
هغه به د زړونو او کوم چه بنکته حئ هغه به سپک وی، حکه چه چیز

(c) ketabton.com: The Digital Library

او مرکز د میلان به آخرت کښ بدلیږی د نیکو مرکز به پور نه وی کوم ځائے چه جنت دے او د بد و مرکز به بشکته وی کوم ځائے چه دوزخ دے دغه قول د بدرالدین زرکشی دے (البرهان فی علوم القرآن) او شاه عبدالعزیزؒ غوره کړیدے (فتح العزیز)

(۳) دریم قول دادے، چه د نیکو د چابړی نه به یو نور انی سړی راأوزی داد نیکو د درونده والی ښه دے او د بد و د چابړی نه به نور راه د تیرو سړی راأوزی نو داد بد و د درونده والی ښه دے، دا قول علامه آلوسیؒ د سورة قارعه په تفسیر کښ نقل کړیدے۔

د پل مقام

حکیم ترمذی په نوادر الاصول کښ او ابوالقاسم اللالکائی په کتاب السنة کښ نقل کړیدی چه میزان به د الله په وړاندے اُدرولے شی، د نیکئ چابړے به د عرش په ښی اړخ او پورے به تر جنت وی، او بدئ چابړے به د عرش چپ اړخ ته وی او پورے به تر دوزخ وی،

د پل صراط تیریدل او نور

په قرآن کښ دی

وَاِنْ مِّنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ۝ ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّنَذَرُ الظّٰلِمِيْنَ فِيْهَا جِثِيًّا ۝ (سورهٔ مریم آیة ۷۱، ۷۲)

پوهه شه چه د الله په وړاندے ټول خلق به حاضر کښ وارد یږی، مسند احمد حاکم سره د سند د تصحیح او بیهقی ابو سمیه نه په اسناد د جابرؓ مرفوعًا نقل کړیدے چه د (وَارِدُ) معنی داخلیدل دی او دا رنګه

مستدرک حاکم کښ ابن مسعودؓ او ابن عباسؓ نه هم منقول دی چه د هغے مطلب د تولو جهنم نه داخلیدل دی امام قرطبی رح دا قول غوره کړیدے، دویم قول دا دے، چه وارد یدلو نه مطلب د پل صراط په ذریعه جهنم نه تیریدل دی، داخلیدل نه دی، دا قول امام نووی غوره کړیدے، دا قول په مسند احمد او ترمذی کښ د ابن مسعودؓ نه مرفوعًا نقل دے، په کوم کښ چه دا هم ذکر دی چه خوک به د بریښنا په شان تیریږی، او خوک به د هوا په شان خوک به د تیز آس په شان خوک به د ماړه غلانو په شان خوک به د سور لئی په شان او خوک به د جهنم په اور زخمی شی او تیر به شی او خوک به پکښ اُغوږ زیږی:

دریم قول د وارد یدلو نه مطلب نزدے کیدل او د دوزخ لیدل دی چه حساب به د دوزخ سره نژدے وی، بیا په کافران په دے کښ اُغوږ د ځے شی او مسلمانان به جنت ته اُړسولے شی، لکه څنګه چه د حضرت موسیٰ علیه السلام په قصه کښ، وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ، را غلے دے د دے مطلب په اُوبو کښ ننوتل نه دی بلکه هغے ته نژدے کیدل او حوا ته ورتلل دی، کچرے ړومبی قول ته اګورے، نو د هر چا جهنم ته ننوتل به د عذاب د پاره نه وی بلکه په نیکانو خلقو به د جهنم اوراثر نه کوی او لکه د ابراهیم علیه السلام په هغوی به د غه اور یخ او سلام، جوړ شی لکه طبرانی او بیهقی کښ چه خالد بن معدان نه منقول دے چه مؤمنان نو ته به پته هم نه لګی، نو اُ به وائی چه مونږ خو د وعدے د الله مطابق جهنم ته وارد نه شو نو د الله له طرف به جواب ورکړیشی، ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّنَذَرُ الظّٰلِمِيْنَ فِيْهَا جِثِيًّا، تاسو په هغے تیر شوئ لیکن هغه مړ نه وو، طبرانی رح او ابن عدی د یعلی بن منبه رضؓ نه مرفوعًا روایت کړیدے چه دوزخ به مؤمن نه اُوائی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیرشه ستانو نور حما او دمرکړو رجز یا مؤمن اطفأ نورک لهبی
بدورالسافرة، ص۵۲ و ص۱۵۳ د پل صراط په خطرناک وخت کښ به
تیاره وی، د لاس تله به نه بنکاری، د اعمالو په مناسب به په مؤمنانو ایمانی
نور تقسیمیږی بعضو سره به د غر هومره رڼا وی، بعضو سره په د قجورے
داڼو نه په سمون او تولونه کم د نیک عمل خاوندانو سره د ګټے ګوتے په
سمون رڼا وی (ابن جریر عن ابن مسعود رض) دا رڼا چه اوویني نو
منافقان به مومنانو نه خواست اوکړی،
أنظرونا نقتبس من نورکم قیل ؛ نو بیرته شان حصار شی چه مونږ هم شاسو
ارجعوا وراءکم فالتمسوا نورا ؛ په رڼا کښ تیرشو نو هغوی به جواب
ورکړی چه دنیا ته لاړشئ او هغه ځائے نه رڼا راوګرئ
ځکه چه رڼا د عمل نه حاصلیږی او دار العمل دنیا ده آخرت نه دے
آخرت دار الجزاء دے (بدورالسافرة مع تشریح ص۳۵ و ۱۴۷)

د صراط حقیقت

د پل صراط رغونړه د دیلوے ستیشن د پل پشان معلومیږی، ابن عساکر
د فضیل بن عیاض رض نه نقل کړیدے چه د جهنم د پاسه د پل صراط اوږدوالے
د پنځلس زرو (۱۵۰۰۰) کالو تمزل پرانداز ه دے دے په درے ډوله خلک
یوه برخه پورته ختل دی، بله دریمه برخه راکوزیدل دی او مینځنۍ دیرشمه
هوار ښیغ تلل دی، (بدور ص۱۴۵) بیهقی کښ د انس رض نه مرفوعاً منقول
دی چه راڈق من الشعر و احدّ من السیف،
او دغه رنګ په مسلم کښ د ابو سعید خدری رض او ابن جریر کښ د ابن
مسعود رض نه او مستدرک حاکم کښ دی چه د بعضو پاره به د ډیښته نه
نرے او ټوره نه تیره او د بعضو پاره به د میدان پشان فراخه وی

پل صراط او د نور حکمت

پل صراط باندے تلل به د (موقف) میدان حشر نه شروع کیږی او
دا پل د دوزخ د پاسه دے، څنګه چه تیر شی نو د جنت حد به شروع
کیږی، او بیا به جنت ته داخلیدل وی، لکه څنګه چه بدورالسافرة
کښ د روایاتو نه ثابت دی، دیو قول مطابق که بنول خلق به په جهنم د پاسه
تیریږی نو اهل تقوی نه به هیڅ تکلیف نه وی خو کفار او فجار ونه به
تکلیف وی، او کچرے د بل قول مطابق جهنم ته داخلیدل هر کس د پاره
ضرور دے نو اُس لپاره نداسے مونږ بیان کړیدے چه متقیانو نه به
تکلیف او پته هم نه لګی خو چه د جهنم اور به هغوی ته یخ او سلام وی
او په څیله قرآن کریم کښے هم ذکر دے،
ثم ننجی الذین اتقوا و نذر الظلمین فیها جثیا ؛ بیا به مونږ تقوی دارو نه د پل
باندے جثیا ○ سورهٔ مریم آیة ۷۱ و ۷۲ ؛ صراط او د دوزخ اور نه خلاص
ورکړو، او کفار او فجار به ورته په ګوډو ودانګو پل صراط به وویښته
نه نرے او د ټوره نه تیره صرف کفار او فجارو د پاره وی د هرچا د پاره
به داسے نه وی، لکه اُس لپاره نداسے مونږ دامثل بیان کړیدے، هان
کچرے د تولو هم دغه یولاره د پل صراط وی، نو بیا هم د مؤمن خه خطره
نشته، لکه چه امام بدرالدین زرکشی په (البرهان فی علوم القرآن)
کښ ذکر کړیدی، چه عالم آخرت کښ به جیږ او مرکز بدلیږی د دنیا
د دستور مطابق به نه وی بلکه د شاه ولی الله رحمه الله د قول مطابق
احکام د روح به په احکام د بدن غالب وی د کفارو مرکز میلان به بنکته
یعنی جهنم آړخ ته وی، او د نیکوکارو او تقوی دارو مرکز میلان به پورته
یعنی جنت اړخ ته وی لهذا کفار به د نه تول پل زور پریږی نو په وجه د ځنی شی
ارنګ دورنګ به شی او درز ورګډا به شی او د تقوی دارو میلان

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوزور به پورته وی د پُل هیڅ بوجھ اوزور به پرې نه پریږدی، او هیڅ تکلیف به ورته نه وی، د دے مثال داسے دے چې څوک دتورے په تیرو پښه کیږ دی نو تکلیف وی، بلکه زخمی کیږی، لیکن که پښه اُوچته کړی او بیا دتورے په تیرو د پورته نه پرے پښه کیږدی، نو هیڅ تکلیف به ورته نه وی حکه حکمه چه د قدم میلان پورته اړخ ته نه دے، بلکه کوز اړخ ته دے د حیزا و مرکز بدلیدو وجه داده چه کفار و په دُنیا کښ جهنمی عملونه کړی دی چه د هغے میلان اوماتے مرکز جهنم ته او جنتیان به د جنتی عمل په وجه خپل میلان اوماتے جنت ته لږی باقی جهنم د کفر او گناه مثالی صورت دے، او جنت د ایمان او عبادت مثالی صورت دے، دگناهونو مزاج گرم د اور او تیږے دے، او د ایمان او نیکئ مزاج یخ او د نور دے کوم ته چه د نبی علیه السلام په دے دُعا کښ اشاره ده:-

اَللّٰهُمَّ اغْسِلْ خَطَايَاىَ بِمَآءِ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ ، اے خدایه خما گناهونه دولوے او د گلئ په اُوبو او ینزه، په صحیحینو کښ حدیث دے،

حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ وَحُفَّتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ ، (جنت تکلیفونو کښ گیر دے او دوزخ خواهشاتو کښے گیر دے،

جنت ته تلو د پاره د پُل صراط نه تیریدو مطلب دا حقیقت نبکاره کول دی چه شریعت باندے عمل کولو د پاره دے خلقو هر قسم تکلیفونه تیر کړی دو او جنت د پاره ے سړک تیار کړے وو، او د نورانی عملونو په وجه هغوی نورانی دارالسلام او جنت ته اُرسیدلے، او چاد شریعت په پُل او په سړک باندے تلل پریښی وو یا څه په شریعت تلل او څه پخپل طبیعت تلل د جنت په سړک (شریعت) تلل لکه چه دوی ته په دُنیا کښ گران معلومیدل دغه رنگ به آخرت کښ هم د جنت په سړک (پُل صراط) تلل دوی ته گران وی مطلب دا چه آخرت عالم مثال دے، شریعت له به الله تعالیٰ د قیامت

په ورځ د پُل صراط شکل ورکړی د چا چه دے سړه په دنیا کښے تعلق وو، خپل خواهشات ے پریښی وو او په شریعت ے عمل کولو هر قسم تکلیفونه برداشت کول او قربانئ ورکول دوی ته د شریعت د پاره آسان وُو دوی شریعت سړه داسے ځان عادت کړے وو چه هم په دے کښ به ورته آرام رنړا او اطمینان حاصل وو، نو هغوی به په ډیرے آسانئ فراخئ اور نړا کښ په دے تیر شی، او خپل مرکز میلان (جنت) ته به اُرسی کوم چه د نیکو او بنیګړو مرکز هم دے، او کوم خلق چه په دُنیا کښ داسے نه وُو، شریعت سړه ے تعلق نه ساتلو په دے باندے عمل کولو ته ے سادو به وه، خپل خواهشات به ے په د دے غوره کنترول، نو هغه خلق په پُل صراط هُم نتئ تیریدے دا به ورته د تورے نه تیره شی او د دوینته نه به نړے شی، لکه څنګه چه ورته دُنیا کښ بنکاریدلو او دے نه د تیریدو په وخت به خپل مرکز میلان (دوزخ) ته گذار شی کوم چه د بدو او گناهونو مرکز هم دے،

د نور اسباب

اَلصَّلٰوةُ نُوْرٌ وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِیْ اُنْزِلَ مَعَهٗ، اَلصَّبْرُ ضِیَآءٌ وَالظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ،

په پُل صراط به رنړا د نوځ، قرآن، وه او وایه د ظلم په نه کولو سړه حاصلیږی بدور السافره ص۱۴۷)

پُل صراط باندے تیریدل د گومو عملونو په وجه آسانیږی

(۱) کمزورے سړے د حکومت د ظلم نه په خپل اثر رسوخ خلاص، صول (طبرانی عن عائشة رض)

(۲) د دین کار د پاره جُماتونو سړه تعلق لرل او هم په دے غرض جُماتونه بیا بیا راتلل (بزاز بِاِسْنَادٍ حَسَنٍ عَنْ اَبِی الدَّرْدَآءِ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲۹۲) په خپله رائے په دین کښ د زیاتی نه ځان ساتل، او د سُنّت تعلیم ورکول (دیلمی فِی الْاِبَانَةِ بدو السافرة ص۱۵)

جَنّت او دوزخ

د اهل السنّت والجماعت په دے عقیده اتفاق دے، چه جنت او دوزخ پیدا دی، امام ابوالحسن اشعری په مقالات الاسلامیین واختلاف المُصلین کښ (بِلَفْظِ مَا اَجْمَعَ عَلَیْهِ اَصْحَابُ الْحَدِیْثِ وَاَهْلُ السُّنَّةِ) مطلب دا چه اهل حدیث او اهلِ سنّت په کومو عقائدو وچه متفق دی د هغے په تفصیل کښ فرمائی: وَاَنَّ الْجَنَّةَ وَالنَّارَ مَخْلُوْقَتَانِ (جنت او دوزخ پیدا شویدی)

امام ابن قیّم رح صحابه کرامو رض تابعینو تبع تابعینو رح اهل السنة والحدیث فقهاؤ او اهل تصوّف په دے عقیده اجماع نقل کړیده (هادی الارواح ومُعتزله وُ دا وینا غلطه ده چه اُس جنت او دوزخ نه دی پیدا د قیامت په ورځ به پیدا کیږی چه ضرورت به ئے هغه وخت وی، غلطه ځکه ده چه اُس د دوارو موجود والے عبث نه دے بلکه په دے کښ فائدے دی)

د جنت او دوزخ د اُسنی موجود والی دلیلونه

(۱) ټولو انبیاؤ علیهم السلام د جنت زیرے ورکړیدے او ګورو لو تاثیر هله قوی وی چه دا دوارو اُس موجود وی"

(۲) په صحیح احادیثو کښ د مړک په وخت او په قبر کښ د جنت او دوزخ لیدل او د هغے اثرات محسوسول ثابت دی چه دا دے د اُس موجود والی دلیل دے، په صحیح احادیثو کښ دا هم ذکر دی، چه د بعضے نیکانو

لکه شهیدانو، صِدِّیقینو، انبیاؤ او بعضے مؤمنانو رُوحونه پس له مرګه د جنت د نعمتونو نه فائدے اخلی او بدکارانه خلق د دوزخ تکلیفونه تیروی د قیامت نه ورا ندے د نیکانو او بدانو د جنت او دوزخ سره ربط او ارتباط دا بنائی چه اُس هُم دا دوارو موجود دی او د قیامت نه ورا ندے دده پیدا کیدل دا قسم فائدے نلری

د جنّت او دوزخ د وُجود نقلی دلائل

په قُرآن کریم کښ د آدم علیه السلام په جنت کښ آستوګنه او بیا زمکے نه را تلل ذِکر دی، دا جنّت آخرت والہ، هغه دار الثواب دے، (دا صحیح قول دے) د امام رازی رحمه الله دا قول د ابوالقاسم بلخی معتزلی او د ابومسلم اصفهانی نقل کول (چه د آدم علیه السلام د کیږدو ځائے د زمکے یو باغ وو، او پخپله د امام رازی په دے کښ خپله رائے نه بنکاره کول، یا د جُبّائی داوینا چه دا د اُوم آسمان جنت وو، یا د بعضے صُوفیا نورځ داوینا چه (د جبل یا قُوت یو باغ وو، یا د یهود و نصارٰی و د باغ عدن یا فلسطین یا اصفهان متعین کول، ټول د عقل او نقل نه خلاف دی،

وجوهات دادی

د آدم علیه السلام د کیږدو ځائے آسمانی جنت وو نه

هر کله چه د جنت لفظ په لام د تعریف سره ذکر شی او په الفاظو کښ د زمکے د یو باغ مُراد کولو څه قرینه هم نه وی نو جنت نه به مطلب هلته دار الثواب دی بالخصوص په دے صورت کښ چه د قرآن الفاظ په دو قرینو دا کواهی کوی چه د آدم علیه السلام د کیږدو ځائے آسمانی جنت وو، یو خو په سورت طٰهٰ کښ چه کوم صفتونه د جنت بیان دی هغه هم آسمانی کیدے شی کوم چه دار الجزاء دے زمینی نشی کیدے، هغه دا دے چه الله تعالیٰ آدم علیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

السلام نه د جنت بو تلونه پس اُ فرمائیل، فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقٰى ○ إِنَّ لَكَ أَنْ لَّا تَجُوْعَ فِيْهَا وَلَا تَعْرٰى ○ وَأَنَّكَ لَا تَظْمَؤُا فِيْهَا وَلَا تَضْحٰى ○ (سورهٔ طٰهٰ آیة ۱۱۷ تا ۱۱۹، دا نیمځ صفتونه د دُنیا د هیڅ مقام نشی کیدے، مثلاً دا چه د جنت نه په دلتو پس به ناته تکلیف وے کښی په لوږه نه وی، برېنډ پیدل به نه وی، تندۀ به نه وی، اونږۀ به نه لګی، دا ټول خصوصیات د بَرَنی جنت کیدے شی د زمینی نۀ، د دنیا یو باغ کښی کومه فائده چه کیدے شی هغه د دُنیا په بل باغ کښی هم کیدے شی چه د اوّل باغ نه دا اُوزی مګر نورے خلور فائدے د دُنیا په هیڅ یو باغ کښی نشی کیدے،

دُویم په سُورهٔ بقره کښی وی، قُلْنَا اهْبِطُوْا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَّمَتَاعٌ إِلٰى حِيْنٍ ○ (سورهٔ البقرة آیة ۳۶) په دے آیت کښی د جنت نه په دا کوزیدو دوه نتیجے مُرَتّبے کړے اوّله دا چه ستاسو د اولاد په مینځ کښی به د دُشمنی وی لکه څنګه چه ورانده د فرښتو په ژبه هُم ظاهره کړے شوے وه، اَتَجْعَلُ فِيْهَا مَنْ يُّفْسِدُ فِيْهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ، چه نن دا سے خلق په زمکه کښی جا نشینَ جوړے کوم به چه فساد او خُون ریزی کوی، په دے آیت کښی اِهْبِطُوْا کوزشئ بیائے د جمع په لفظ اُ فرمائیل چه ستاسو اولاد به دیوبل دُشمنان وی، اوبل دا چه ستاسو او ستاسو اولاد آستوګنه به ترتیا کلی وخته پورے په زمکه وی او دے نه به فائده حاصلول وی کچرے د آدم علیه السلام د کیدو ځائے آسمانی نه وے نو دا الفاظ به الله تعالیٰ نه وے وئیلے څکه چه دُشمنی خو زمکے څخه راوتو نه خصوصیت دے او دا بهٔ هم نه وے وئیلے چه د کوزیدو نه پس به تاسو زمکه کښی اُسیږئ څکه چه زمکے ته د کوزیدو وا

د زمکے دیو باغ نه بل باغ په تلو دا سے الفاظ هیڅ معنیٰ نه لری، زمکے نه زمکے ته کوز شئ، د زمکے د یو باغ نه اُوزئ او په زمکه کښی اُسیږئ معلومه شوه چه دا زمینی باغ نه وو بلکه آسمانی جنت وو لوږه، باطنی ذِلّت دے او برېنډ والے ظاهری ذِلّت دے، تندۀ باطنی کړی ده او د نمر ظاهری کړی، د دے په مینځ کښی جوړه نه ده، د آدم علیه السلام د کیدو ځائے دے ټولو نه پاک وو،

دا دم علیه السلام د کیدو ځائے متعلق استدلال

د حدیث استدلال په صحیح مسلم کښی د ابو هریرة رضی الله او د حذیفه رضی الله نه مرفوعاً حدیث دے چه د قیامت په ورځ به د آدم علیه السلام اولاد د آدم علیه السلام نه جنت پرانستو غوښتنه اُ کړی ودے په جواب کښی به حضرت آدم علیه السلام اُ فرمائی وَهَلْ أَخْرَجَكُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ إِلَّا خَطِيْئَةُ أَبِيْكُمْ، چه تاسو خو جنت نه هم ستاسو د پلار غلطی را ویستی یئ، دِ ځکه معلومیږی چه د قیامت جنت هم هغه دے کوم نه چه آدم علیه السلام را ویستے شوے وو، هر کله چه د جنت اُ سنے وُجود ثابت شو نو دوزخ هم خامخا ځکه موجود دے چه د فرق هیڅوک قائل نه دے،

قُرآنی استدلال د جنت په باره کښی قرآن کریم فرمائی اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ ۵، او د دوزخ په باره کښی فرمائی اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ۵ دواړه د ماضی صیغے دی، مطلب ئے دا دے چه جنت او دوزخ د وارنده نه مرجُود دی، دریم دلیل دا دے چه فرعون سره د فرعونیانو هر کله چه غرقیدل نو قرآن فرمائی، اُغْرِقُوْا فَأُدْخِلُوْا نَارًا ۵ دا هم دواړه د ماضی صیغے دی چه په یوه شوے زمانه کښی د فرعون او فرعونیانو غرقیدو سره هغوی او رجهنم ته تلو سته شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کچرے قیامت نه وړاندے دوزخ ته وے نو دوی څه ته داخل کړے شوی

د آدم علیه السلام دکیږ وُ ځائے جنت وو په دے شُبهو ازالہ

د آدم علیه السلام د کیږ و ځائے جنت الخلد نه منلو شبهې دا دی،

(۱) جنّت کښ داخله به د قیامت په ورځ وی، خو آدم علیه السلام د قیامت نه وړاندے جنت کښ څنګه داخل شو؛

(۲) جنت کښ به بر بندې تیا او غمونه را ټلل نه وی. که داجنت الخلد وے نو آدم علیه السلام ته دا دوارِه هلته څنګه پیښ شول؛

(۳) جنت په آسمان کښ دے چرته چه امر او نهی نشته او نه مکلّف کیدل شته نو آدم علیه السلام ته د منع (نهی) حکم څنګه هلته راغلو،

(۴) آسمانی جنت ته داخلے نه پس هلته نه وَتل نشته، نو بیا آدم علیه السلام هلته نه ولے اُو ویستے شو؛

دے څلورو اړو جواب هُم ټوډے، هغه دا دے چه داخلورواړه خبرے هغه وخت د پاره دی چه د قیامت په ورځ به مُومنان د نیک اعمالو په نتیجه کښ داخل شی او د دے تائید د قُرآنی آیتُونو سیاق او سباق دے کوم کښ چه داخلورواړه خبرے په جنت کښ د قیامت د داخلے څخه مخکښ ذکر کړی او د خپل پلار کښ وطن جنت د حاصلولو لپاره پوره کوشش اُ کړی نُکمه داشبه چه د جنت نه بے ښتلے شوے شیطان بیا جنت ته د وسوسے اچولو د پاره څنګه لاړو،

نو اوّل جواب دا دے چه وسوسے اچولو د پاره جنت ته داخلیدل ضروری نه دی دا یقیني هم کیدے شی لکه څرنګه چه کروړو نومیلے لرے موږ نه ګرځی او زمونږ ګار سَوے شی، حالانکه نمر جسم کثیف دے (شیطان) جسم لطیف (شیطان) خو د دے نه ذیادت هم لرے نه د ټوډ نه زیات مضبوط اثر غورزَولے شی، دوهم جواب دا چه شیطان په جنت کښے د آسمانی جنت نه بندوو د هغے پیښیدو او د امتحان او آزمیښت کولو

د نه وو، دریم داچه د شیطان بندیز قانُونی وو قانونی بندیز د مجرمان د بندیز خلاف نه په پټه او غلا غُلتیا تلے شی، دالله پټ طریقه مُمکن نه دی لیکن الله د څه حِکمت د وجے نه دا ډاډه په دغه قسم کښ څه دَخل اُ نکړو:-

د پیر مه شُبه داده چه آدم علیه السلام په زمکه خلیفه جوړ شوے وو د آسمان جنت نه ولے بوتلے شو، ددے جواب دا دے، چه د الله حکمت ددا په دغه بوتلو کښ دا سے وو لکه چرد عیسیٰ علیه السلام د آسمان ته په خیژولو او بیا په زمکه راکوژولو کښ څه حکمت دے، د آسمانی جنت کښ د آدم علیه السلام د استوګنے او د اُونے د خوراک د وجه د دغه راکوزولو کښ د الله تعالیٰ حکمت ؛

ژوبے حکمت

ژوبے حکمت دا ووچه د آدم علیه السلام په اولاد کښ دا شعور مضبوط کړیشی چه د دوی اصلی وطن زمکه نه بلکه آسمانی جنت دے او دوی زمینی ژوند کښ د دے حاصلولو د پاره د انبیاؤ علیهم السلام د هدایاتو د هغوی د تعلیماتو مکمّل پیروی دے کومه کښ چه داخلورواړه خبرے په جنت کښ د قیامت د داخلے څخه مخکښ ذکر کړی او د خپل پلار کښ وطن جنت د حاصلولو لپاره پوره کوشش اُ کړی نُکمه دا هم دغه وجه ده چه په قُرآن کښ د آدم علیه السلام د نُزول جنت څخه پس دا مضمون ذِکر دے، فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّي هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ۝ د سورۂ البقرہ آیت ۳۸ یعنی په زمکه د راکوزیدو نه پس هرکله د انبیاؤ علیهم السلام او د آسمانی کتابونو په ذریعه د الله له طرفه کوم سامان د هدایت چه راشی نو څوک په هغے عمل کوی نو هغوی به د جنت هغه ژوند بیا موندی کوم چه د ویرے او د غمه پاک دے،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم حکمت

لکه څنګه چه دے واقع نه معلوم یږی، دویم حکمت په دے کښ د الله د نافرمانئ دا ټینګ خطر نا کو نتیجو نه د انسانانو نو یه ډول دی، آدم علیه السلام د انسانانو پلار او د خدائے تعالیٰ محبوب او مقبول بنده وو هر کله چه هغه په دا کار (هغه اُونے نه خوړل) چه ګناه هم نه وه (وَلَمْ نَجِدْ لَهُ عَزْمًا) د نه خارج کړیشو نو د ګناه نتیجے خو به دے نه هم نه یاتے خو اے وی ګنا هغه نافرمانی د الله ده کومے سره چه قصد او اراده شامله وی قرار ګواه دے چه د آدم علیه السلام دے فعل کښ اراده د نافرمانئ نه وه خکه چه جنت د شرعی احکامو څخه نه ده چه د هغے خلاف کول ګناه اُبولی نو دا حکم تشریعی نه وو بلکه تشفیقی وو، د حکم تشفیقی د مطلب وی، چه مثلاً یو داکتر ډاکټر نخور نه د پرهیز کولو مشوره په دے غرض کړی، چه دده په خلاف کولو کښ د نخور نقصان دے هر کله چه بدپرهیزی اُکړی نو د داکتر هیڅ نقصان اُنشوار نه ځکه حکم عدولی اُشو نقصان د نخور سره اُشو چه د نخور نخ ته ریات شو یا بل رنځ تر پیدا یا د احکم عام وو د هذِهِ الشَّجَرَةَ، نه مقصد د الله تعالیٰ د هغه قسم پولو اُونو نه بند یزوو او آدم علیه السلام د یوے خاصے اُونے بند ترینه مطلب واخستو د غلطی اجتهادی وکا او په اجتهادی غلطی عذاب نشته سوال پیدا کیږی چه هر کله د ګناه نه وه، نو ولے فرمائی، (وَعَصٰى اٰدَمُ رَبَّهٗ فَغَوٰى) ځ دے جواب دا دے چه حقیقت کښ عصیان او غوایت نه وو بلکه په صورت د دے و د ځ ډ قواعدو په لحاظ هغه نیکئ نه هم بدی ویلے شو کوم چه د بد هم شکله وی لکه (جَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا) سوره الشوریٰ [illegible] (فَمَنِ اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ

سورہ البقرۃ آیۃ ۱۹۴، د ومبی آیت کښ ئے د اشکلئ په وجه د بدے ته بدی اُوئیله حالانکه بدله اخستل جائز دی، دغه رنګ دویم آیت کښ د زور ظلم بدل اخستلو ته د هم شکلئ په وجه زور اُوئیلے شو، حالانکه بدله اخستل څه بد ده د ګناه خبره نه ده مطلب دا سے خلق وائی چه د سپیرے بدل ئے په سپیره واخستو سپیرے دواړه یوشان دی مګر د ومبئ سپیره ناجائز او دویمه سپیره جائز صرف شکل کښ دواړه سپیرے یوشان دی، خلاصه دا تولو ته ښودا چه دے واقعه کښ د الله د حکمت ښودل وو چه هر کله آدم علیه السلام د دا سے یو کار اُکړو چه صرف شکل او صورت د ګناه وو د حقیقت ګناه نه وو، مګر په نتیجه کښ ئے د جنت نه را اُښکلود هغے آرام او پایان نعمتونه تر واخستے شو او د دُنیا په تکلیف ده ژوند غمونو سره کړدا نو کښ ئے مبتلا کړو او کار هم یوو نو هغه کسانو ته عبرت کول دو کومه چه حقیقی ګناه کوی او یو هم نه بلکه یتول عمر په ګناه هُونو هم آرام وی نو د هغه به څه حال وی خو مره خطرناکے نتیجه به د دے دُنیا مت په ورځ را اُوزی، او هغه هیڅ ژوند به ئے څومره خراب وی،

دریم حکمت

دریم حکمت دا دے چه جنت دار د راحت او زمکه دار د محنت دے لهذا په دے دار د محنت کښ دین پاره محنت کول د حقیقی راحت یعنی د جنت د حاصلولو اکی یوه ذریعه دی، په دے وجه زمکه کښ تکلیف تیر کړئ مشقت اُګرئ چه د جنت راحت مُو نصیب شی،

هر احتے نرسید آنکه محنتے نه کشید،

د دُنیا نظام هم دا سے جوړ دے چه څوک محنت کوی نو هغه راحت بیا مُومی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم حکمت

د آدم علیه السلام او د ابلیس د واقع نه انسان ته دا ثبوت ورکول چه شیطان د انسان دښمن لوئے دُشمن دے دغه کار د الله تابعداری نه لرے کول او په خواهش نفسانی کښ ځان اښکیل دی، مګر دی انسانیت او ابلیسیت کښ به جاری عداوت وی، خو د انسانی کامیابی په دے کښ پټ دے چه هغه د ابلیسی حربو نه ځان وساتی او ده نه دخپل پلار مقام او خپل وطن اصلی په ګوتو ورشی ګوندی د اصلی وطن نه به لاس ونه ځلی وی،

پنځم حکمت

جنتی ژوند نه د کفر ګ ژوند نه د آدم علیه السلام را بدلولو حکمت دا هم ووچه د جنت د خوشحالو ژوند د دُنیا د غمونو ژوند سره مقابله کړی او دا تاریخی حقیقت دے په اولادِ آدم علیه السلام کښ برابر جاری وی چه غور ریږی ژوند د آخرت دے حکمه دوی د دُنیا په جنجالونو کښ ځان نه بربادوی او د آخرت او د جنت حقیقی شانه غور زړوی، او د وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى، را علی آیت ګ دالصوُر چه د آخرت او د جنت ټول عمری او همیشه ژوند دیر ښه د اولادِ آدم په هغه کوشښونو کښ د بجلئ چے پیدا کړی کوم چه د جنتی ژوند ګټلو وړ پاره کوی،

شپږم حکمت

آدم علیه السلام قصه د ابلیسی عداوت ښکاره کولو د پاره یو آیت په دے کښ د الله تعالیٰ دا پټ حکمت ښکاره ګول دی چه انسان دبا د ابلیسی عداوت او وجود له دے وجے ضروری دے چه هغه د دے نه ځان محفوظ کولو د پاره هر وخت تیار او سیږی او د دین د دے خطرناک

غټ دُشمن د دُشمنئ خیال په انسان کښ د دین د حفاظت خیال او جذبه پیدا کوی، انسانی وُجود یوورکوتے حکومت اګنره د دے اندامونه د رعیت پشان او روح ګ د یو بادشاه پشان دے، قانونِ الٰهی او شریعت د دے ورکوټی حکومت آئین او دستور دے شیطان او ابلیسیت لګی شی دغه اندامونه په بغاوت کولو آماده کوی، چه د دغه دستور اُنه مَنی کچرے د انسان روح د خپل دے حکومت په هیڅ کولو ادیه حفاظت کښ پاتے راشی نو دشمن به پرخپله واچوی او د دے انسانی اندرونی مملکت ټول انتظام به ګډوډ کړی (لکه څنګه صبا لبنان کښ چه اسرائیلو اګریډ او کچرے د دشمن د چالونو هروخت ټکرانی کوی، د حکومت د حفاظت خیال ساتی او دغه انتظام ډیر مضبوط وی نو ابلیسی چلونه به ټول بیکاره شی، د دے بیکاره مثال د پاکستان حکومت دے چه په خواکښ ګ د بهارت یو مکار دُشمن حکومت موجود دے کچرے دا دُشمن نه وے نو حکومت او عوام د پاکستان دوارہ به بے فکره ناست وُو د خپل ملک د بچ کولو او د حفاظت د جوش ډک انتظام به ئے نه کولو او د پاکستان بری، بحری او فضائی فوځ به د نیشت برابرو او جنګی وسله او جنګی فونُو نه به ډکار نه راوستل، دا خو غټ دُشمن بهارت صدقه ده چه پاکستان کښ د دفاعی سازوسامان مخ په ترقی دے،

مطلب دا چه د انسانیت د تکمیل راز د ابلیس په دُشمنئ کښ پټ دے لکه چه حضرت علی هجویری ؒ مشهور په داتا گنج بخش، خپل هغه مُرید داسے پوهه کړو کوم چه د دُشمنانو نه د ضررونو شکایت کړے وو، دا واقعه علامه اقبال په خپلو شعرونو کښے داسے بیانوی ۔ ع

راست گویم عدوئے هم یارِ تست	هستئ او رونق بازارِ تست
برکه دانائے مقاماتِ خودی ست	فضلِ حق داند اګر دشمن قوی ست

(c) ketabton.com: The Digital Library

کشت انسان را عدو باشد سحاب	مکنانش را بر انگیزد ز خاک ؛

دَ جنت دَ ژوند حقیقت

دَ جنت حقیقت او نعمتُونه دومره اُوچت دی، چه دَ انسان په خیال کښے هم نه شی راتلے :-

فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ اُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ اَعْيُنٍ ۚ جَزَآءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُوْنَ ۝ سورهٔ السجده آیه ۱۷

ترجمه :- یعنے په خپلو ستر کو لیدونه وړاندے هیڅ یو کس دا نعمتونه نه پیژنی کوم چه مونږ ورته تیار کړی دی دا د دے پاره دَ ستر کو یخوالے دے، چه ددوی دَ عملُونو بدله به وی ؛

په بخاری او مسلم کښی دَ ابُوهریرة رض په روایت دَ حضور علیه السلام ارشاد منقُول دے، چه الله پاك فرمائی چه ما په جنت کښ هغه نعمتونه تیار کړیدی چه نه خو کوم سترګو لیدلی دی او نه کوم غوږُونو دَ دے تعریف آوریدلے دے، او نه کوم پوزه دَ دے خیال را وَ ستے شی، دَ دُنیا نعمتُونو سره دَ دغے نعمتُونو هیڅ مُناسبت نشته، ځکه دَ دے اصل حقیقت بغیر دَ لیدو او اُستعماله ممکن نه دے خو د انسان پوهَ مَولو دَ پاره دَ دے اجمالی پیژندګلی دَ علومِ آخرت په ضمن کښ ضروری وَه لیکن دَ انسان پوهه دَ دُنیاوی خبرُونو نه پورته نه وه، ځکه دَ ے په دغه رنګ کښ قرآن شریف او حدیث بیان اَکړه ؛

ابن عباس رضی الله فرمائی، چه دَ جنت نعمتونو دَ پاره دَ دُنیوی شیانو سره الفاظ چه استعمال شویدی دا صرف دَ رسمی او تعبیری مناسبت په وجه دی گوندی دَ آخرت دَ نعمتُونو حقیقت دَ دُنیا دَ نعمتُونو نه بالکل مختلف دے، ځکه وایم چه جنّت کښی به هم اُوبه وی، او په دُنیا کښے هم اُوبه شته لیکن په دواړو کښ دَ آسمان اوزمکے فرق دے کجرے دَ تولے دُنیا

دولت اُلګولے شی او په هغے یو کلاس شربت تیار کړیشی نو دا به دَ جنت دَ اُوبو په مقابله کښ دا سے وی چه په لیدو به ئے هغه چا تنه سرخُون ورځی چا چه دَ جنت اُوبه څښلی وی ځکه چه دَ جنت په اُوبو کښ مُونږ دونکی خوندونه بدنی او رُوحانی اثرات هغه دلی کوم چه دَ دُنیا په هیڅ څښاک کښ نشته ؛

دَ آخرت دَ ژوند اِجمالی نقشه

قُرآنِ حکیم دَ جنت دَ ژوند په منفی انداز کښ دا نقشه را ښکلے ده، لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝ هغه ژوند دَ ویرے او دغم نه بیخی پاك دے، او په مثبت انداز کښ ئے دا سے بیان کړے دے،

وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَشْتَهِيْٓ اَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَدَّعُوْنَ ۝ نُزُلًا مِّنْ غَفُوْرٍ رَّحِيْمٍ ۝ (سورهٔ حٰمٓ السجده آیه ۳۱ و ۳۲)

ترجمه : یعنے دَ جنت په ژوند کښ به هغے شے ملاویږی کوم چه په زړه کښ تیر شی او هغه شے به هم ملاویږی کوم چه اُغوښتے شی، او پخپله دَ انتظام کولو ضرورت ځکه نشته چه هلته به خلق دَ الله پاك ټولے عُمرے میلمانه وی، ټول عمُرے انتظام به هم د الله پاك وی، په بدو السافره کښے مذکُور احادیثو کښ دَ دغے پاك ژوند دا تفصیل بیان دے :-

غِنَاءٌ لَّا فَقْرَ صِحَّةٌ لَّا مَرَضَ ؛ یعنے دَ جنت په ژوند کښ بے نیازی شَبَابٌ لَّا هَرَمَ حَيَاةٌ لَّا مَوْتَ ؛ اوغنی توب دے، فقیری او محتاجی پکښ نشته، ظاهری او باطنی تندرستی به وی اورنځ پکښ نشته ځوانی شته بوډا توب نشته، ژوند شته، مرګ نشته داهغه لنده نقشه ده، چه دَ هغے مُطابق یومیټ ژوند به په دُنیا کښ ټولو نه لوے بادشاه تنه ری نصیب شوے په دے وجه دَ الله ارشاد دے : وَاِنَّ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ ۝ (سورهٔ عنکبوت آیه ۶۴) ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه لوازے د آخرت ژوند حقیقی دے، په حدیث شریف کښے راځی چه
دیوجنتی سړی طاقت به د یوسلو مضبوطو خوانانو هومره وی هیڅه
د پاره او هیڅ کموت به پکښی نه راځی د هغه بنائست به بیمثاله وی او په
هیڅ کښ به زیات والے راځی، لکه چه په صحیح احادیثو مبارکو کښ
ثابت دی، د دے نه علاوه داچه د دیدار الٰہی خوند به د دومره وی چه
بل هیڅ د جنت خوند به دے ته نه رسیږی ؛

د قیامت په نښو کښ د حضرت عیسٰی علیه السلام آسمان نه راکوزیدل په بحث کښ شامل دی :

د حضرت عیسٰی علیه السلام آسمان نه خیژول او د خت د هغوی
ژوندۍ او په آخره زمانه کښ په زمکه راکوزیدل د مسلمانانو اتفاقی عقیده
ده حکه چه په تیرشوو خوارلس سوو (۱۴۰۰) کالو کښ په دے کښ هیڅ یو مسلمان
عالم اختلاف په دے نه دے کړے چه دا د تواتر نه دا سے صفا مسئله ده
چه اسلام او د دے انکار نشی جمع کیدے په بحرالمحیط تفسیر جلد ۲
ص ۴۷۳ کښ د امام ابن عطیه رح نه د اجماع الفاظ منقول دی ؛ ؛ ؛
حَيَاةُ الْمَسِيحِ بِجِسْمِهِ إِلَى الْيَوْمِ وَنُزُولُهُ ؛ تردے وخته د مسیح علیه السلام
مِنَ السَّمَاءِ بِجِسْمِهِ الْعُنْصُرِيِّ مِمَّا أَجْمَعَ ؛ ژوند سره د جسمه او جسم عنصری
عَلَيْهِ الْأُمَّةُ وَتَوَاتَرَ بِهِ الْأَحَادِيثُ ؛ سره د آسمان نه ده راکوزیدل
دا سے یو عقیده ده چه په دے اُمت متفق دے، اوله متواترو احادیثو ثابته ده
په جامع البیان تفسیر کښ د إِنِّي مُتَوَفِّيكَ ؛ تفسیر وخت نقل شوے دے
وَالْإِجْمَاعُ عَلَى أَنَّهُ حَيٌّ فِي السَّمَاءِ يَنْزِلُ يَقْتُلُ ؛ په دے اجماع ده چه
الدَّجَّالَ وَيُؤَيِّدُ الدِّينَ ؛ حضرت عیسٰی علیه السلام په آسمان کښ
ژوندۍ دے، راکوزیږی به دجال به قتل کوی او دین اسلام به مضبوطوی
، د رنګ د امام شوکانی رح په رساله اَلتَّوْضِيحُ فِيمَا تَوَاتَرَ فِي

الْمُنْتَظَرِ وَالدَّجَّالِ وَالْمَسِيحِ ، او د امام سیوطی رح په اَلْأَعْلَامُ بِحُكْمِ
عِيسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ کښ هم تواتر او اجماع مذکور ده ، صَحِيحُ الْكَرَامَةِ
ص ۲۳۴ کښ امام شوکانی رح یوکم دیرش احادیث د عیسٰی علیه السلام
د نزول په بارہ کښ ذکر کولو نه پس د تواتر او اجماع ذکر شوید ے ،
د هغه رنګ حافظ ابن حجر په تَلْخِيصُ الْحَبِيرِ ، کتاب الطلاق کښ لیکلی
دی ، اَلْإِجْمَاعُ عَلَى أَنَّهُ رُفِعَ بِبَدَنِهِ حَيًّا ، یعنی په دے اجماع ده چه
هغه سره د بدن نه ژوندے پورته کړے شویدے ،
دا رنګ په رفع الباری کښ د ادریس علیه السلام د ذکر سره د حضرت
مسیح علیه السلام په نزول اجماع منقول کړه ، د هغه رنګ په تفسیر
ابن کثیر کښ د نزول تواتر صفا بنکاره کړے شویدے ، دا شان
را مرزا غلام احمد ، بزاهین احمدیه ص ۴۹۵ کښ د حضرت مسیح علیه
السلام د اُسنی ژوندون او د دوباره راتلو تصریح کړیده او دا
کتاب دده د اِقرار مطابق هغه وخت لیکلے شوے دے چه هغه پخپل
خیال کښ نبی وو (ایام الصلح ص ۷)
(۲) مرزا غلام احمد براهین احمدیه حاشیه ص ۵۰۵ کښ د إِنْ عُدْتُمْ
عُدْنَا ، په تفسیر کښ لیکی ، چه په دے کښ د مسیح علیه السلام په جلالی
انداز راتلو ته اشاره ده ، کچرے نرمی نه قبلوی ، نو هغه زمانه هم را
تلونکے ده چه مسیح علیه السلام به سره د جلالت په دنیا راکوزشی او جلال
الٰہی به کمراهی نیست او نابودکړی ، همدا زمانه دفے زمانے د پاره د
ارهاص په توګه واقع شویده ؛
(۳) مرزا غلام احمد په براهین ص ۴۹۰ کښ ، د هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ
تفسیر دا سے بیانوی چه هرکله حضرت مسیح علیه السلام دویم
خلی د دُنیا ته تشریف راوړی نو د هغوی په لاس به دین اسلام

په ټولو آفاقو او قطارو کښ خو رشی، (۴) مرزا غلام احمد په ازالهٔ اوهام ص۲۲۵ کښے لیکی چه آنحضرت صلی الله علیه وسلم عُمَرٌ د قتل نه منع کړو او وے فرمائیل کچرے دا دجال وی نو ده د صاحب عیسیٰ علیه السلام بن مریم دے هغه به ئے قتلوی موبږه دے نشو قتلولے د مسیح علیه السلام د ژوندون او د هغه د نزول په مسئله به موږ د قرآن، حدیث، تاریخ، او عقل په رڼا کښ مختصر بحث کوو. دا اجماع په رڼا کښ موږ په دے مسئله بحث اُکړو،

د مسیح علیه السلام ژوندون د قرآن په رڼا کښ

(۱) وَمَكَرُوا وَمَكَرَ اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ خَيْرُ الْمٰكِرِيْنَ: یهود و د حضرت مسیح علیه السلام په خلاف چل اُکړو او الله د هغه د بچ کولو چل اُکړو، د الله چل د پټولو چلونو والو نه دیر ښه دے مرزا صاحب ددے آیت دا مطلب بیان کړیدے ر یهود یانو د حضرت مسیح علیه السلام د پاره د قتل او سُولئ چل چور کړے وو، خو دا خدائے تعالیٰ مسیح علیه السلام ته وعده ورکړه او وے ویل چه تا به زه خپل خان ته راپورته کړم، (ازبعین جلد دیم ص۱۰)

بیا په آئینه کمالات ص۴۶،۴۷ کښ لیکی چه د وعدے الفاظ دلالت کوی چه هغه دیره زر پوره کیدونکی وی) بیا مرزا صاحب په ازالهٔ اوهام ص۳۰۰ کښ لیکی چه بیا دے نه پس ئے هغه علیه السلام د هغوی (یهودو) په حواله کړو، په چا بکونو اُوهلے شو، کخل آو ریدل، سپیرے خوړل تو ئے مسخرے ور پورے کیدل هغه اُلیدل آخرئے په سُولئ اُخیژولو، دا مرزا ئی تفسیر یوازے بے دلیله او تحریف د قرآن دے بلکه یو لوئے بُهتان دے او د ذاتِ الٰهی د شان هم خلاف دے د مرزا په قول یهودو د حضرت مسیح علیه السلام خلاف چل اُکړو او الله پاک د

د هغه د بچ کولو چل اُکړو او بیا یهودو هغه په ځپکونو او کړو وړو اُوهلو کخل ئے هم ور ته اُکړل تو ئے مسخرے ئے هم ور پورے اُکړے په سُولئ ئے هم اُخیژولو، او بیا هُم قرآن دا اُویل چه الله خَيْرُ الْمٰكِرِيْنَ دے، دده چل د پیر ښه او کامیاب شو، کچرے د مرزائی تحریف دا دځانه جوړ ے کړے پټوتکے هم اُمنلے شی چه د سولئ نه راکوزولو په وخت یهودو هغه مړ اُګڼړلو، لیکن آخری سلکئ ئے پاتے وے چه په علاج کولو ښه شو بیا کشمیر ته لاړو او دیره مُوده پس پخپل مرګ مړ شو خو بیا هُم د ده د مرګ په لاره کښ د یهودو غلط فهمی یو ښه جوړ نشو او نه خو عجیبه واقعه اُشوه،

په ذکر شوی آیت کښ د روح الله د حفاظتی ته پیر د یهودی چل سره مقابله کولو کښ د الله د ته پیر د پوره کامیابئ اولوئیځ بیا ثبوت مقصود وی، لیکن د مرزا په تفسیر کښ د دے وعدے الٰهی سره هم یهودو په بختو حضرت مسیح علیه السلام سره هر هغه څه اُکړل کوم چه هغوی غوښتل او بیا هم د مرزا په قول ته د پیر الٰهی او د هغه وعده بلنده او کامیابه شوه، مرزا په دے شان د حضرت مسیح علیه السلام او د قرآن والا خدائے د یهودو په مقابله کښ توهین او تذلیل اُکړو،

کچرے د ماغو کښ کوږ والے او الحاد نه وے نو د آیت مطلب صاف دے چه یهودو د حضرت مسیح علیه السلام خلاف چل اُکړو چه هغه بیعزته شی او سُولئ ته اُخیژولے شی، لیکن د الله ته پیر د هغه د بچ کولو وو، لهذا الله پاک ته پیر غالب شو هغه ئے آسمان ته پور ته کړو او یهودو د هغه یو ویښته هم کوږ نکړو، خوالس سوو کالو نه خو د قرآنی علومو ماهر انو صحابه رضی الله عنهم او تابعینو رح وغیره د آیت نه دا مطلب واخستو لیکن په خوار لسمه صدئ کښ د مسیحیت دُکان پرانستو والا دا "نا معقول"

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطلب دځانه جوړکړو ؛

(۲) اِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسٰٓى اِنِّيْ مُتَوَفِّيْكَ وَرَافِعُكَ اِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَجَاعِلُ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْكَ فَوْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۚ ثُمَّ اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَاَحْكُمُ بَيْنَكُمْ فِيْمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ (سورهٔ آل عمران ایة ۵۵)

کوم وخت چه الله پاک اُوئیل اے عیسیٰ علیه السلام څه به تا واخلم اوخپل طرف ته به وړا اُوچت کړم اودکافرانو نه به پاک کړم اوستاتابعدارانو به پر کافرانو غالب کړم تر قیامته پورے بیاځما طرف ته ستاسو تولوراتک دے بیا به زه فیصله اُکړم دهغے چه کوم تاسو جګړے کوے ۔

د "توفّی" په بارہ کښ دابوالبقاء په کُلیات" کښ دی

اَلتَّوَفِّيْ اَلْاِمَاتَةُ وَقَبْضُ الرُّوْحِ وَعَلَيْهِ ؛ دتوفی معنی مړکول او روح اِسْتِعْمَالُ الْعَامَّةِ وَالْاِسْتِيْفَاءُ اَخْذٌ ؛ قبض کول دی اودا په استعمال الْحَقِّ وَعَلَيْهِ اِسْتِعْمَالُ الْبُلَغَاءِ ؛ ؛ عاموکښ لیکن د بُلغاؤ په نزد دده معنی پوره وصول اوصحیح اغستل دی گویا که دهغوی په نزد په مړک دتوفّی اِطلاق په دے حیثیت سره دے چه په دے کښ دیوخاص اندام نه بلکه دټول بدن نه روح اَغستے شی ، نوکچرے خدائے پاک د چا روح سره د بدن نه واغستو نو هغه ته به په طریقِ اولی توفّی ویلے شی ، ځکه چه د توفّی په مفهوم کښ روح سره د بدن نه اغستل پرا ته دی ، عموماً روح بغیر بدن نه قبض کولے نشی نو ځکه په مړک د توفّی اِطلاق ډیر کیږی اودلته دا رازده ، چه د عیسیٰ علیه السلام حالت دهاموحالاتو نو نه مختلف دو ، اودتولونه زیات اهم ضرورت په موقعه هُم الله تعالیٰ د عیسیٰ علیه السلام د موت" لفظ استعمال کړو ، بلکه د توفّی" لفظ ئے استعمال کړو چه هغه دروح یواځے قبض کولو یا روح سره د بدن نه قبض کولو نه شامل دے

داخبره غلطه ده که څوک اُوائی چه حتماً اے فاعل وی اوذی روح مفعول اوی نو د توفّی معنی به مړک وی بالغرض که موږ ترده اومړک په معنی اُمنو نو د ابن عباسؓ شاګرد ضحاک په معالم کښ د تقدُّم او تأخر قول چه د "مُتَوَفِّيْكَ" معنی به داسے وی ، چه زه به تا مړ کوم په زمکه راکوژه ولونه پس او دلیل ئے دا آیت دے ، اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا وَالَّتِيْ لَمْ تَمُتْ فِيْ مَنَامِهَا ، دلته فاعل الله پاک دے اومفعول ذی روح دے ، خو د خوب په وخت د "توفّی" معنی بیا هم مړک نه دے نو ددے حقیقت نه پس په تیر شوی آیت کښ د عیسیٰ علیه السلام د "توفّی" معنی مړک نه دے ، بلکه ددے معنی پورته خیزول دی ، لکه چه دامطلب تر ابن عباس رضؓ هم په صحیح قول کښ اغستے دے چه دا رُوح المعانی کښ ذکر دے ، او د عیسےٰ علیه السلام د حال مناسب هم دے حضرت عیسیٰ علیه السلام نه چه د یهودی کیږے په وخت کوے پریشانئ وے نو هغه په دے وجهو وے ،

(۱) چه زه به دیهودو د تښے اوزور ظلم نه پرے شم که نه ، هغه په جواب کښ الله تعالیٰ اُفرمائیل (یٰعِيْسٰٓى اِنِّيْ مُتَوَفِّيْكَ) زه به تا واخلم اودد هغوی د پنجے نه به دِ خلاص کړم ، لکه چه بل آیت کښ فرمائی " وَاِذْ كَفَفْتُ بَنِيْٓ اِسْرَآئِيْلَ عَنْكَ ، زه به تا ته درسیدو نه بنی اسرائیل بند کړم ؛

(۲) دویم فکر ورُسره دا وُو چه زه به د زمکے په پرتخه کښ پرکیږم چه یهود به ما نه نشی را رسیدے که بل څه صُورت به وی ۱۲ نو ددے په جواب کښ الله پاک اُفرمائیل چه زه به دِ خپل طرف آسمان ته را پورته کړم ؛

(۳) د خپلے مور بی اونور خاندان د پاره پریشانه وو ، چه د خلقو د تهمتونو نکولو په وجه به د هغوی څه حال وی نو الله اُفرمائیل "

نقل کړے شوے ده خلیفه د اے چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا (سورهٔ ال عمران آیة ۵۵)
یعنی زه به دمنکرانو نه تا او ستا مور بی پاکه کړم، لکه چه دانتظام
دقرآن او د محمد رسول الله په ذریعه اُکړے شو، د عیسیٰ علیه
السلام او د هغوی د والدے ژوند بے داغه دے،

(۴) یو پریشانی داهُم وه چه حُماد پورته کولو پی به حُماد تابعدارو
څه حال وی نو الله تعالیٰ اُفرمایل (وَجَاعِلُ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْكَ
فَوْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ (سورهٔ ال عمران آیة ۵۵) چه تر
قیامته به ستا تابعدار ان ستا په منکرانو غالب وی، داوعده
نن هم حقیقت دے، د اسرائیل وجود په دے وعده خکه اثر نه
اچوی چه قرآن پخپله د یهود و ذلت او مسکنت دوه اسثنائی صورتونه
بیان کړیدی، یو داچه یهود مسلمانان شی او د اسلام په پناه کښ
راشی، او دوهم داچه د یوهم (عیسائی) په پناه کښ راشی، (اِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ
اللّٰهِ وَحَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ ط سورهٔ ال عمران) اُس که اسرائیل مرجوع دی
نو په دویم استثنائی صورت کښ حُکه چه دوی د برطانیے امریکے او نورو
عیسائی قومونو پناه اغستو په وجه موجود دی د یهود و اقتدار د
او قوت د عیسایانو په آسرا قائم دے لیکن د مُسلمانانو اقتدار د
عیسایانو د آسرے حاجتمند نه دے خواه امریکه وی او که رُوس وغیره
دوی که محتاج دی نو خپل منبع کښ د اتفاق لکه الله تعالیٰ فرمائی،
(وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا وَّلَا تَفَرَّقُوْا (سورهٔ ال عمران)،
او بل د سامانِ قوت تیارولو، لکه چه فرمائی (وَاَعِدُّوْا لَهُمْ مَّا
اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ قُوَّةٍ ط هرکله چه مسلمانان متحد شی او خپل مشترک
دولت په قوت جمع کولو، کښ صرف کړی، نو مسلمانانه به بیا هیڅوک شکست
نشی ورکولے، خو هله چه په حبل الله او اسلام باندے عمل

کوی نه چه مغربیت ته کچکول اُنیسی او په اسلام کښ تحریف اُکړی
د یورپ د قُوّت راز هُم اسلامی اجزاؤ باندے عمل کول دی، لکه
سامان د قُوت جمع کول گڼلی هیڅ خو په غیر اسلامی اجزاؤ باندے
عمل کولو په وجه دوی د یر کمزوری شویدی، غیر اسلامی اجزاء دادی
چه دوی خدائے او آخرت هیر کړیدی، د پیغمبرانو علیهم السلام اخلاقی
قدرونه ئے دخپل ژوند او تهذیب، تمدّن نه خارج کړیدی، د نسل
او وطن غوندے بتانو عبادت کوی، زنا، لواطت، جوارئ شراب
نوشی، سُود، عیاشی مغربی طاقتونه دومره کمزوری کړیدی چه دوی
د وهمے نه برطاقت دکوریا او ویت کانگ غوندے د یر معمولی طاقتونو
دلاسه وهلے کیږی اُس خو توبے ته جوړ شویدی خو توبه ئے نه قبلیږی
دا د مغرب زده مُسلمانانو بد قسمتی وه چه د دوی کمزوری ذهنونو
دوی لره د سامانِ قُوّت په پریښودو (چه اسلامی جزء دے) او د
هغوی اخلاقی کمزوری په خان کښ پیدا کولو (چه غیر اسلامی جزء دے)
مجبوره کړل او په خپل لوے قُوت (اسلام) کښ ئے تحریفونه اُکړل او
کوی، او د یورپ خطرناک شیطانی تهذیب په خان کښ راوُلی،

۳- (وَبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلٰى مَرْيَمَ
بُهْتَانًا عَظِيْمًا ۙ وَّقَوْلِهِمْ اِنَّا قَتَلْنَا
الْمَسِيْحَ عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُوْلَ اللّٰهِ
وَمَا قَتَلُوْهُ وَمَا صَلَبُوْهُ وَلٰكِنْ شُبِّهَ
لَهُمْ ط وَاِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِيْهِ
لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ ط مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ
اِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ ج وَمَا قَتَلُوْهُ يَقِيْنًا ۢ
بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ اِلَيْهِ ط وَكَانَ اللّٰهُ

د یهودو په زړونو د هدایت د بندیز
مُهر لګیدلے دے د دوی د کفر په وجه
او په حضرت مریم باندے د غټ بُهتان
تړلو (د نورو پورے کولو) په وجه او په دے
وجه چه دوی وائی چه مونږ د خدائے
رسول عیسیٰ حُوئے د مریم بی بی وژلے
دے حالانکه نه د دوی هغه قتل کړے
دے، او نه ئے په سُولئ کړیدے، بلکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

عَزِيزًا حَكِيمًا ۝ وَإِنْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ
إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ ۚ وَيَوْمَ
الْقِيَامَةِ يَكُونُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا ۝ سورة
النساء آیه ۱۵۶ تا ۱۵۹ ؛

شک کښی پریوتی دی او د حضرت عیسی علیه السلام متعلق چه دوی اختلاف کولو نو هغه شک کښی دی دوی یقیناً حضرت عیسی علیه السلام

نه دے قتل کړے، بلکه الله تعالی هغه خپل طرف ته پورته کړے دے، هغه غالب او حکمت والا دے، د اهل کتابو هیڅ یو هغوی به دا سے نۍ خو ایمان به پرلږه د هغه د مرګ نه وروسته راوړی او د قیامت په ورځ به هغه په دوی گواه وی

په دے آیت کښے څوځیزونه بیان شویدی،

(۱) بودا چه حضرت عیسی علیه السلام نه قتل شوے دے او نه په سولئ خیژولے شوے دے، څوک چه د قتل او د سولئ قائل دی، هغه ښکاره غلط دی، ځکه چه قرآن شریف ښکاره ددے رد کړو، د مرنا یا نو یا د مټرنا داوینا چه په سولئ خیژولے شویدے، لیکن هلته نه دے مړ شوے نو دا خبره هم لکه د یهودو او انصارو، د قرآن نه خلاف ده وَمَا صَلَبُوهُ، دامعنی کول چه په سولئ اخیژولے شوخو په سولئ مړ نشو د عربو د لغت نه خلاف ده، د (صَلَب) معنی په سولئ خیژول او د مَا صَلَبَ، معنی په سولئ نه خیژول دی دا خو قطعاً د قرآن تحریف دے چه د مَا صَلَبُوهُ، دامعنی اُشی چه یهودو حضرت عیسی علیه السلام په سولئ اخیژولو خو هلته مړ نشو،

(۲) په آیت کښ د مَا قَتَلُوهُ يَقِينًا، نه پس فرمائیل، بَل رَّفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ ط یعنی حضرت عیسی علیه السلام قتل نشو او الله پاک خپل طرف ته پورته کړو، په مَا قَتَلُوهُ، او بَل رَّفَعَهُ اللَّهُ، دواړو کښ ضمیر (ه) حضرت عیسی علیه السلام ته راجع دے او عیسیٰ د روح او جسم دواړو نوم دے مطلب دا چه روغ روح سره د جسمه پورته اخیژولے شو، ځکه چه د

په نتیجه کښ جسم بے روحه پاتے شی نو د عدم قتل مطلب به جسم سره د روحه پورته کول وی، علاوه له دے (رَفَع) د عیسیٰ علیه السلام نه مطلب هغه قول د روح او جسم دواړو اجتول دی نو څوچه د دے خلاف بله قرینه نه وی، لکه د وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ، دا مطلب دے چه حضرت یوسف علیه السلام خپل والدین د روح سره د جسمه تخت نه پورته کړل نه دا چه یوازے روحونه د هغوی ته پورته کړل،

(۳) کچرے د عیسیٰ علیه السلام روحانی پورته کول مراد واخستے شی، نو دا په خوو جهو غلط دی،

① یووجه دا ده چه بے له قرینے مجاز مطلب اخستل غلط دی، بَل رَّفَعَهُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ، کښ کړ دَرَجَاتٍ، په قرینه دینی پورته کول مراد دی جسمانی پورته کول نه دی مراد لکه څنګه چه په رَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ، کښ "دَرَجَاتٍ" په قرینه د رفع مجازی مراد دے،

بله وجه په وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا بَل رَّفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ، کښ د رفع روحانی رفع په دے معنی مراد اخستل چه یهودو قتل نه کړو خو خدائے د هغه درجه بلنده کړه غلطه ځکه دا چه عیسیٰ علیه السلام دے نه وراندے د خلویښت کالو پیغمبر و او د پیغمبرئ نه بله اُوچته درجه نشته نو د درجے اُوچتولو دلته بیا هیڅ مطلب نه را اُوزی او د الله کلام دے نه پاک دے،

② دے نه علاوه په عربی ژبه کښ (بَل) دوه مقابل خیژولو د پاره استعمالیږی، کچرے دا معنی دلته واخلو چه عیسیٰ علیه السلام په سولئ نکړے شو خو مرتبه ئے الله تعالی بلنده کړه نو مقابله را نغله او د (بَل) ، استعمال به غلط وی چه د الله کلام له دے پاک دے مقابله به هلته را نغله چه دا سے ویلے شوے وے چه یهودو په سولئ کړو خو الله تعالی ئے

(c) ketabton.com: The Digital Library

درجه بلنده کړه ځکه چه یو مؤمن یا پیغمبر قتل شی نو الله تعالے هغه له د شهادت رتبه ورکړی، او په داسے به "بَل" استعمال هم صحیح شوے دے دلته د مرزا یانو دا توکړے دی چه کچه دی بلکه تحریف دے، چه د (بایبل) په موجب (په سولئ موے سړے ملعون وی، نو د (بَل) په تقاضا مقابله به داسے جوړیږی چه الله تعالے د سولئ د قتل نه بچ کړو کوم چه لعنت وو، او د هغه په مقابله کښ ئے ورله د درجے بلنده کړے نو مقابله هم راغله او مراد هم پوره شو، زه وایم چه داحواله بالکل دروغ او غلطه ځکه د چه بایبل کښ ئے هغه سولئ شوی سړی ته ملعون ویلی دی کوم چه څه جرم کښ په سولئ شی او کوم چه ناحق سولئ شی نو هغه شهید وی، نو د مرزا یانو د غلط خیال مطابق په دے کښ بیا مقابله توت کیږی او هے ار ټوپر تو نړ جوړیږی او دا سے نسبت د الله کلام ته کول د هغه توهین دے "اَعَاذَنَا اللّٰهُ"۔

دویمه وجه داده چه د رحمانی رفع الله تعالیٰ هر نبی نه ورکړے وی، خصوصاً د تولو نه زیات نه د رفع خاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم نه ورکړے شوے وه، نو د عیسیٰ علیه السلام خصوصیت په دے صورت کښ نه وو، دلته خصوصیت د رفع صفا بنکاره کوی چه د رفع نه مراد رفع جسمانی دا کومه چه خاص د عیسیٰ علیه السلام سره یا چه د چا رفع جسمانی شوی وی، څلورمه وجه داده چه دے د رفع نه پس په قرآن کښ وو "وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ۝" الفاظ را غلی دی کوم چه د بَل نبی د پاره په دے انداز کښ نه دی را غلی نو دے نه هم معلومیږی چه د رفع جسمانی مراد ده په کومه کښ چه قدرت او قوت بنکاره کول هم مراد دی چه لفظ د "عَزِيْزًا" پرے دلالت کوی او د حکمت اظهار هم دے چه لفظ د "حَكِيْمًا" ۵ پرے دلالت کوی، او دا بیان به اُس مؤنث لپاره وخت پس کوو،

دویمه خبره چه آیت نه معلومیږی هغه داده چه د اهل کتابو تولے فرقے به د عیسیٰ علیه السلام د وفات نه وړاندے په هغه ایمان راوړی کوم به چه د نزول قرآن نه پس زمانه کښ هغه وخت وی چه هغه دوباره له آسمانه راکوزکړیشی، "بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ" نه صعود ثابت شو نو په دے آیت کښ دواړه (صعود او نزول) ثابتیږی، تشریح ئے داسے ده "وَاِنْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ قَبْلَ مَوْتِهٖ"، نه دا ثابتیږی چه هر فرقه د اهل کتابو به په ایمان راوړی، د هغه د وفات نه وړاندے، ځکه چه د (بِهٖ) او (مَوْتِهٖ) دواړه ضمیرونه (ه) حضرت عیسیٰ علیه السلام ته راجع دی (لَيُؤْمِنَنَّ) کښ نون تاکید ثقیله دے چه هغه د مضارع صیغه مستقبل د پاره مخصوص کوی، نو مطلب به ئے داشی چه د اهل کتابو تولے فرقے به د قرآن د نزول نه پس په هغه وخت په عیسیٰ علیه السلام ایمان راوړی کله به چه هغه د آسمان نه راکوزکړے شی،

هم داوجه ده چه صحیحینو کښ د حضرت عیسیٰ علیه السلام د نزول حدیث مرفوع روایت کولو نه پس لومړنی راوی ابوهریره رض فرمائی "فَاقْرَءُوْا اِنْ شِئْتُمْ وَاِنْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ" دے نه دا بنودلے مقصود دی چه اهل کتاب به په عیسیٰ علیه السلام د هغه د آسمانه د نازلیدو نه پس په هغه ایمان راوړی، دا مسئله خالص نقلی ده په عقل نه معلومیږی په دے وجه د ابوهریره رض موقوف حدیث د مرفوع حکم لری مطلب دا چه حضور علیه السلام نه یا ابوهریره رض ضرور آوریدلی وی، چه د قول اهل کتاب به خامخا په عیسیٰ علیه السلام د هغه د نزول آسمانی نه پس ایمان راوړی، (د موته) ضمیر (ه) کتابی ته راجع کول صحیح ځکه نه دی چه انتشار د ضمائرو د بلاغت له شانه خلاف دے، دویم (د موته) قید به عبث او د بلاغت له شانه خلاف ځکه وی چه معنی به ئے دا رنګه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه هرکتابی به په عیسی علیه السلام دَ خپل مرګ نه وړاندے ایمان
راوړی، ایمان راوړل خوی دَ مرګ نه وړاندے، نو دا قید لګول بیا
عبث شو، او که څوک پرې زور لګوی، نو دا په انکار کوی به ضروری شی چه هیڅ
داسے وینا نه خوښوی، چه ما دو دی دَ مرګ نه وړاندے اُخوږه اوما اُوبه
دَ مرګ نه وړاندے اُخښلے) حُکه چه دے قید لګولو ضرورت په دے
نشته چه هرکس پوهیږی چه خوراک څښاک دَ مرګ نه وړاندے کیږی
دَ مرګ نه رُستو خو دو دی چا نه دَ خوړلے، که څوک بیا هُم زور لګوی
اووائی چه دَ ځنکدن په حالت کښ به ایمان راوړی نو دا ایمان منظور
نه دے، هرکافر دَ ځنکدن په وخت کښ ایمان راوړی خو منظور نه دے
نو تخصیص دعیسی علیه السلام پاتے نشو او دا سے نا منظور ایمان ذکر
دَ قُرآن او دَ الله دَ شان سره مُناسب نه دے دا سے تاویلا تو دَ
سائل پکار دی الله ﷻ توفیق راکړی۔

(۴) وَاِنَّهٗ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُوْنِ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ۝ وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ ۚ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ؕ (الزخرف آیة ۶۱ و ۶۲)

حضرت عیسی علیه السلام دَ قیامت نښه ده، نو قیامت کښ شک مکوئ او ځما تابعداری اوکړئ همدا سم لار ده شیطان تاسو دَ خپل مسلوڼه بند نکړی بیشک هغه ستاسو بنکاره دُشمن دے۔

دَ دوو روڼو نه ځکه عیسی علیه السلام ته دَ قیامت نښه اُوویلے شی چه دَ هغه بغیر پلار ده پیدائش چه دَ مړو دو باره ژوندی کولو دلیل کیدے شی دویم قیامت سره نږدے دآسمان نه د هغه نزول چه دَ قرب قیامت نښه ده، دَ سیاق سباق مُطابق د (اِنَّهٗ) ضمیر (۴) عیسی علیه السلام ته راجع دے نه بغیر هریو بله رائے ضعیفه ده، ابن ماجه ص ۳۰۹ ج ۲ باب فتنه الدجال، کښ دَ حدیث اِسراء په تشریح کښ حضرت عیسیٰ

د قیامت سوال اُوشو نو هغوی اُفرمائیل، چه دَ هغے دَ واقع کیدو وخت سوا دَ الله نه بل څوک نه پیژنی او څه وخت چه دَ دجّال ذِکر اُشو نو دے فرمائیل چه ځکه به دَ اکو زیږدم او هغه به وَژُنم، دَ دے آیت په تفسیر کښ ابن جریر رح د حضرت عیسیٰ علیه السلام دَ قیامت نه وړاندے نزول دَ ابن عباس رض، ابی مالک رض، عوف رض، مُجاهد رض، قتاده رض، سدی رض ضحاك رض او ابن زید رض دَ روایاتو نه نقل کړیدے چه دَ هغوی علیه السلام د نزول دلیل دے، او دَ دے نُزول په وَجه په دے آیت کښ ده نه دَ قیامت نښه وئیلے شویده او دا صحیح معنیٰ ده، کچرے بغیر پلار ده پیدائش نښه دَ قیامت دے، نو دے حقدار د بتولو نه زیات حضرت آدم علیه السلام وو چه د هغوی پیدائش د مور او پلار دواړو نه بغیر شوے وو، معلومه شوه چه دلته په آیت کښ دَ نبے دَ قیامت مطلب قیامت ته نزدے دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام دَ آسمانه نازلیدل دی، او که څوک په دے عقیده کښ خندان پیدا کوی نو هغه شیطان دے۔

(فَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ، ئے دلیل دے)

(۵) اِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ يٰمَرْيَمُ اِنَّ اللّٰهَ ؕ (هغه وخت یاد کړئ) چه فرښتو
يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ اسْمُهُ الْمَسِيْحُ ۚ اُوئیل اے مریمؑ بیشک الله تا ته
عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَجِيْهًا ۚ زیږدے درکوی دیوے کلمے چه دَ الله له جانبه
فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ۙ وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا وَّمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝ (به وی د هغه نوم به مسیح عیسیٰ ابن مریم
آل عمران آیة ۴۵) ؕ وی باعزت به وی په دُنیا او آخرت کښ او دَ مقربینو
له ټولی به وی ؕ آیت کښ داوئیلے شوی دی چه عیسیٰ علیه السلام دَ مقربینو
دَ ټولی نه به وی، په بل ځائے (سورهٔ واقعه) کښ دَ جنتیانو په بارهٔ
کښ دا سے بیان دے (اُولٰٓئِكَ الْمُقَرَّبُوْنَ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ) په دریم ځائے
دَ ملائکو په بارهٔ کښ دا سے راغلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ اَنْ يَّكُوْنَ عَبْدًا ؛ مسیح علیه السلام د الله په بنده
لِّلّٰهِ وَلَا الْمَلٰٓئِكَةُ الْمُقَرَّبُوْنَ ۝ ؛ کیدو نه شرمیږی او نه مقرّبے فرښتے
شرمیږی، دے د ریے وارو خایرو نوکښ د قرب نه مُراد جسمی حِسّی او
آسمانی قرب مراد دے همداوجه د چه د دے آیت په تفسیر کښ امام
رازی رحمه الله تعالیٰ په تفسیر کبیر کښ او ابوالسعود رح په خپل تفسیر کښ د
حضرت عیسیٰ علیه السلام آسمان ته پورته کیدل د جسم سره ذِکر کړیدی
اومدارک خازن، سراج المنیر او کشاف کښ دی، فَكَوْنُهٗ مِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ
د حضرت عیسیٰ علیه السلام د مقرّب کیدو مطلب د هغه آسمان ته پورته
کول د فرښتو ملکرتیا ور ته حاصلیدل او بیا د نورو اُمورو د تکمیل دپاره
د هغه علیه السلام زمکے ته را نازلیدل لکه نکاح، حج، جهاد کولو او د
مسیحی قوم نو فتنو ختمولو لپاره:

د مسیح ژوندون او نازلیدل د حدیث په رنړا کښ

بخاری کښ ابوهریرة رض د حضور علیه السلام نه حدیث نقل کوی،
فرمائی رقسم رم د په خُدائے وی چه عیسیٰ علیه السلام به د پورته نه په
تاسو کښ نازلیږی د حضرت مریم خوئے چه حاکم به وی، انصاف دار
صلیبی قوّت به مات کړی او د خنزیر د قتل حُکم به ورکوی او د ټولو
خلقو د مُسلمانیدو په وجه به د جهاد ضرورت پاتے نشی، او خلقو ته
به دومره مال ورکړی چه څوک قبلولو والا به نه وی، او د عبادت شوق
به دومره زیات شی چه خلقو ته به یوه سجده د ټولے دُنیا د دولت نه ډیره
ښه بنکاریږی، بیا ابوهریرة رض دے د تصدیق دپاره دے آیت اَخ
ته توجّه ورکړه چه د هغے معنیٰ داده رح په دے وخت کښ به دا ستا یوکتابی
پاتے نشی چه په عیسیٰ علیه السلام به ایمان را نوړی (د مرزا د قول مطابق
قرآن نه پس د ټولو نه د صحیح کتاب بخاری حدیث دی،

دویم حدیث دادے، چه حضور علیه السلام اُفرمائیل رح دا وو د عیسیٰ
علیه السلام په مینځ کښ نبی نشته او د هغه به راکوزیږی، چه څه وخت ے
اُوینځ نوو ے پیژنئ، د هغه قد درمیانه سُور سپین دے، دوُو
زیړو جامو کښ به راکوزیږی د سر وینښتر به ئے معلومیږی چه گویا کښ
اُوبه تړے راځاخئ اگرچه اُوبه ئے ونه وی رسیدلے، نو په اِسلام به خلقو سره
جهاد کوی، صلیبی قوّت به مات کړی، د خنزیر د قتل و حُکم به ورکوی
جزیه به بنده کړی، په دے وخت کښ به د اسلام نه بغیر چول د بلو نه
ختمږی، دجّال به قتل کړی، په زمکه به خلویښت کاله اُسیږی او بیا به
وفات شی او مسلمانان به پرے د جنازے ځوئے اُکړی (ابوداؤد عن ابی
هریرة رض مرفوعاً جلد ۲ صـ ۲۳۸)

(۳) په مشکوٰة باب نزول عیسیٰ ع کښ عبدالله بن عمرو د حضور علیه السلام
نه نقل کړیدی چه ابن مریم رم به په زمکه راکوزیږی واده به کوی اولاد به ئے
کیږی په زمکه به پنځه خلویښت کاله پاتے کیږی او بیا به فوت کیږی او دفن
کیږی به حُما په مقبره کښ نو قیامت کښ به زه او عیسیٰ علیه السلام د یو
مقبرے نه پاسُوچه د ابوبکر رض او عُمر رض په مینځ کښ به وی،

(۴) په صحیح مُسلم کښ روایت دے حضور علیه السلام فرمائی، چه د حضرت
عیسیٰ علیه السلام به د دمشق په مشرق کښ په سپینه مُنارة په دوُو جامو
کښ د دوُو فرښتو په مینځ کښ راکوزیږی، دوارة د لا سو توکی بے ئے په فرښتو
اینبی وی، دجّال په (لُدّ) دروازه بیا مومی اووے به ئے وژنی:

د مسیح علیه السلام په ژوندون آیتونه ویږدی او احادیث د تواتر
حد ته رسیدی چه د یوکم دیرشو صحابه کرامو نه منقول دی لیکن موږ د ډیر
اختصار په غرض په پنځو آیتونو او خلورو احادیثو اکتفا اُکړه، حضور علیه السلام
په دے محل د ښوکښ د ایمانی د تحفظ او د گمراهئ نه د بچ کولو د پاره د حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسیح علیه السلام چه کومے نبے نبانے ذکر کړیدی هغه کاڼی شاڼی دی۔
او کوم ګمراهانو چه د استعارا تو او مجازا تو په زور پوره تاریخ او یو دنیا بدلوی
شی: نو هغوی د پاره د قرآن او حدیث پوره دفترهم بیکاره دے۔ په دے
احادیثو کښ د حضرت مسیح موعود علیه السلام د پیژندلو چه کومے بینکاره
نبے نبانے دی هغه په نمبر دا دی،

(۱) د مسیح موعود علیه السلام به پلار نه وی، نود ګاے ضابطے خلاف به
هغه بچے مور بی بی مریم ورته منسوب وی۔ د مرزا غلام احمد پلار مرزا
غلام مرتضی وو او د مور نوم ئی ممتاز بی بی وو۔ د هغه نسبت به پلار ورته
کیدو او مور نه نه

(۲) هغه به حاکم وی لیکن مرزا غلام احمد د انګریزا نو غلام وو،

(۳) هغه به عادل وی، د الله تعالیٰ قانون چلول عدل دے، د مرزا
په وخت کښ شرعی قانون بند وو، او د انګریزا نو قانون په ډاګه اوده
په مریدانو جاری وو،

(۴) حضرت عیسیٰ علیه السلام به صلیبی قوت ماتوی خو د مرزا په
وخت کښ صلیبی قوت دومره زور اګرو کوم چه دے نه ورانده
چرے هم نه وو۔ پخپله د ده اقرار دے چه پلار ورته ئے پنځو د آسونو سواره
ورکړے شوی وو او هغه د ۱۸۵۷ء په تحریک د آزادئ کښ په هندستان
د صلیبی قوت مسند کولو پاره جنګ کړے وو۔ او په تحفه قیصریه کښ مرزا
پخپله دخپلوا تو مقصدونو ابنکاره کړے دے، چه زه د انګریز صلیبی
حکومت د پاره پیدا شوے یم د اسے فوج تیار کړم چه د انګریز حکومت وفادار وی،

(۵) د حضرت عیسیٰ علیه السلام په وخت کښ به د خنزیر خوراک ختم شی
لیکن د مرزا په وخت کښ دا زیات شو:۔

(۶) حضرت عیسیٰ علیه السلام به په خلقو دومره مال وړے وی چه څوک به ئے

قبلوونکے نوی، مرزا خو هیڅ اله مال ورنکړو، بلکه پخپله ئے اګستو
چنده او اغستل ئے عام کړه او د بهشتی مقبرے د پاره ئے چنده غونډول
د ایمان یو شرط اوګڼا کلو۔

(۷) د عبادت خوند به د عیسیٰ علیه السلام په وخت کښ دومره زیات
شی چه د یو سجدے قیمت به د خلقو په نظر کښ د نړۍ له
دُنیا نه زیات وی لیکن د مرزا په وخت کښ عیسایانو مسلمانان د
لکهونو په شمیر کښ مرتدان کړل۔

(۸) حضرت عیسیٰ علیه السلام به د آسمان نه په زمکه راکوزیدی
لیکن مرزا په زمکه پیدا او هم په زمکه پاتے شو۔

(۹) په فرښتو به حضرت عیسیٰ علیه السلام لاسونه اینبی وی
لیکن د مرزا په نصیب کښ د یو فرښتے لیدل هم نه وو،

(۱۰) عیسیٰ علیه السلام به د دمشق په سپینه مناره راکوزیدی،
لیکن د مرزا په نصیب کښ د یو عرب زمکه لیدل هم نه وو،

(۱۱) حضرت عیسیٰ علیه السلام به لګی شی په (لُدّ) به یهودی
دجّال قتل کړی، لیکن د مرزا په قسمت کښ نه خو (لُدّ) لیدل وو او
نه د دجال، البته د ده روحانی اولاد د دجّال قوم یهود وسره تعلق په
دے وخت پیدا کړو، چه د عالم اسلام نه د دوی تعلق ختم دے، خبره
داسے معلومیږی چه د دجّال په ظاهر یدو به دوی د هغه مدد
د پاره د غلته د اُسه موجود وی۔

(۱۲) د عیسیٰ علیه السلام په وخت کښ به یو باطل دین هم پاتے نشی
لیکن د مرزا په وخت نول باطل دینونه په جوړ وو
او د اسلام خلاف نور نوی دینونه را برسیره شوچه په هغے کښ
د هغه د مرزائیت هغه دین هم دے کوم چه د اسلامی یووالی په خلاف

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایتم بم دے (۱۳) حضرت عیسیٰ علیہ السلام به حج کوی، لیکن نر مرکه
د مرزا حج نصیب نشو:

(۱۴) د حضرت عیسیٰ علیہ السلام به آسمان نه پورته کیدو نه وراندے
نه واده وی او نه ئے اولاد بلکه د نزول نه پس به واده کوی او اولاد به ئے
کیږی. لیکن د مرزا د نبوت د دعوے نه وراندے واده هم وه او اولاد
هم وو:-

(۱۵) حضرت عیسیٰ علیہ السلام به جهاد کوی او جزیه به بنده کړی لیکن
مرزا د جهاد کولو په ځای جهاد کولو ته حرام اوئیلے:-

او د نصارے د استعمار لارے صفا کړه او د جزیے بند ولوهڅه سوال
پاتے نشو:-

(۱۶) د عیسیٰ علیہ السلام په وخت کښے د ټولو خلقو بودین یعنی اسلام
به وی، نو په دے وچه اسلام سره د هیڅ یو مذهب جنگ به نشی کیدے
لیکن د مرزا په وخت کښ کفر و باطلو مذهبونو د هندوستان
ترکی، فلسطین او شمالی افریقے په مسلمانانو نو کوم ظلمونه چه اکرل
د هغه مثال په تاریخ کښ نشته او دا د مرزا برکت کیدے شی:-

(۱۷) د عیسیٰ علیہ السلام په وخت کښ به امن قائم شی او جنگ به ختم
لیکن د مرزا په وخت کښ څه چه د هغے نه پس د امن و امان نوم او
نښه پاتے نشوه او د جنگ د پاره هغه د سلے او سامان جوړ شو
چه د مرزا د وخت او د هغے نه پس دیو جنگ بربادی د تیر شوو سوو نو
جنگونو د بربادی نه زیاته ده:-

د دے ټولو نښو نښانو په رنړا کښ دا دینا په حقه ده چه مرزا د مسیح
موعود ضد دے. لیکن د مجازا تو استعمارا نو او تاویلا تو په زور قرآن
حدیث تاریخ او واقعاتو پورے چه میرزا کوے خندا کانے او پوتے اکوے

د هغے په موجب هیڅ یو حقیقت نشی پاتے کیدے داخو هره
دافسوس خبره ده چه د مسیح موعود علیه السلام تولے ښے نښانے په
داسے یو سړی (میرزا) ور ... اُ پټلے شی چه نه ئے خپل نوم نه ئے د مور
نوم نه د هغه مکان نه د نزول مقاصد مسیح موعود علیه السلام سره
سمون خوری، په داسے بے سره او پینو تاویلو نو خو د ټولو بادشاهیڅ
یو نظام د کار او فائدے نشی پاتے کیدے:-

شیخ اکبر رح او د عیسیٰ علیہ السلام ژوندون

شیخ اکبر رح په فتوحات مکیه باب ۳۶۷ کښ لیکی:

فِی حَدِیْثِ الْمِعْرَاجِ فَلَمَّا دَخَلَ بِجَسَدِهٖ فَاِنَّهٗ لَمْ یَمُتْ اِلَی الْاٰنَ بَلْ رَفَعَهُ اللّٰهُ اِلٰی هٰذِهِ السَّمَآءِ وَاَسْکَنَهٗ بِهَا وَحَکَّمَهٗ فِیْهَا وَهُوَ شَیْخُنَا الَّذِیْ رَجَعْنَا عَلٰی یَدِهٖ وَلَهٗ بِنَا عِنَایَةٌ عَظِیْمَةٌ وَلَا یَغْفُلُ عَنَّا سَاعَةً وَاَرْجُوْ اَنْ اُدْرِکَهٗ فِیْ نُزُوْلِهٖ اِنْشَآءَ اللّٰهُ تَعَالٰی ؕ

د معراج په حدیث کښ دی چه هغوی
داخل شو نو عیسیٰ علیہ السلام سره
د جوړے ورسره ملاقات اُکړو حُکه
چه هغوی علیہ السلام لامړنے نه بلکه
الله تعالیٰ هغوی علیہ السلام د آسمان
ته پورته کړیدی دے کښ ئے اُسوی
او په دے کښ ئی د دوی حکم چلولے دے
داځکه نو زړه ښے عزت منلے دے چه د
هغه په لاس مونږ خدائے ته رجوع کړیده
د هغه په مُونږ لویه مهربانی ده او مونږ نه یو گهړی هم غفلت نه کوی خُما اُمید
که خدائے پاک اُغوښته نوځه به د هغه د نازلیدو (رڼا کے ته) زمانه بیا
مُومم:

په تاریخی لحاظ سره د مسیح علیہ السلام ژوندون

حضرت مسیح علیہ السلام حضور علیہ السلام سره د ټولو نه زیات نژدے
پیغمبر دے او ټول نصاری او مسلمانان د هغوی لوئی او شخصیت منی

(c) ketabton.com: The Digital Library

آسمانی ژوند کړ نو په شان د ے هلته هغه د زمکے د بشری ضروریاتو محتاج نه دے ، بلکه داسے خو په زمکه هم کیدے شی چه الله اُغواړی ،۔

(۱) طبقات شافعیه جلد ۴ ص ۳۰۷ کښ د شیخ عزیزالدین فاروقی نه روایت دے ، چه هغه په عراق کښ داسے سړے لیدلے وو چه خوراک څښاک ے نه کولو ،۔

(۲) امام ذهبی فرمائی چه اُندلس کښ یَوه داسے بنځه وه چه د شلو کالو نه ے خوراک څښاک نه کولو (واقعه مشهوره ده)

(۳) حاکم تاریخ نیشاپور کښ د عیسیٰ بن محمد الطهمانی نه نقل کوی ، چه د رحمت په نوم د یَوے بنځے خاوند شهید شوے وو ، هغے د هغه خاوند خو کښ داسے اُلیدو چه د جنت طعامونه خوړلو یو ټکړه ے خپلے بنځے ته هم ورکړه هغه چه له خو به راوبینه شوه نو تول عُمر ے خوږ ے نه حاجت پیښ نشو

د ذکر سوی طبقات په حواله دویم جواب دا دے چه د آسمان او زمکے نسبت په خپل مینځ کښ لکه د عرش (آسمان) او د اُوری د دانے (زمکے) دے هر کله چه خدائے پاک په دے وړوکی زمکه د اړبُونو مخلوقاتو د خوراک انتظام فرمائیلے دے نو په آسمان د یوکس د ضرور یا نو انتظام کول هغه ته گران دی څه ! هیڅ ے نه دی گران ،۔

۲ - د ختم نبوت په لحاظ د حضرت عیسیٰ د نزول حکمت

وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ النَّبِيّٖنَ لَمَآ اٰتَيْتُكُمْ مِّنْ كِتٰبٍ وَّحِكْمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ ؕ قَالَ ءَاَقْرَرْتُمْ وَاَخَذْتُمْ عَلٰى ذٰلِكُمْ اِصْرِىْ ؕ قَالُوْٓا اَقْرَرْنَا	څه وخت چه الله تعالیٰ د نبیانو نه عهد واغستو چه څه کتاب او علم مادرکړو او بیا تاسو ته یولوئے رسول راشی کوم چه تاسو سره کتاب ته هم ښیادانی نو تاسو به په هغه ایمان راوړی او د هغه مدد به کوئ ، ے فرمائیل

قَالَ فَاشْهَدُوْا وَاَنَا مَعَكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ ۝ چه تاسو اقرار اُکړو او په دے شرط (ط) سورهٔ آل عمران ۝ موخما عهد قبول کړو ؟ هغوی اُویل آیة ۸۱ ۝ چه مونږ اقرار اُکړو ، نو وے فرمائیل تاسو اُس کواه اُسئ او زه به هم تاسو سره کواه یَم ۝

د حضرت علی او عبدالله بن عباس رضی الله عنهم د تفسیر مطابق د انبیاؤ علیهم السلام نه داوعده د خاتم الانبیاء علیه السلام په باره کښ اخستے شوے وه کوبا کښ حُضور علیه السلام (نبی الأمم) او (نبی الانبیاء) هم دے د ذکر شوی آیت په موجب انبیاؤ علیهم السلام د خاتم الانبیاء علیه السلام نبوت اعتقاداً او اقراراً او د هغه نصرت (امداد بالواسطه) اُمنلو ، یولو انبیاؤ علیهم السلام د حضور علیه السلام د نبوت تصدیق اُکړو او خپلو اُمتیُونو تاته د هغه د نبوت منلو او مدد کولو تاکید اُفرمائیلو لکه چه موسیٰ علیه السلام د تورات کتاب استثناء باب ۱۸ او باب ۳۳ کښ داؤد علیه السلام په زبور باب ۴۵ کښ ، حضرت سلیمان علیه السلام په (غزل الغزلات) کښ حضرت عیسیٰ علیه السلام په انجیل یُوحنا باب ۱۶ آیت ۱۳ تر آیت ۱۵ کښ اعلان کړیدے ، اُس د دے خبرے ضرورت ووچه د د نبی الانبیاء ، عملی بالذات ظهور اُوشی ، لکه په حدیث د معراج یو صورت د دے دا اُشوچه یولو پیغمبرانو علیهم السلام ته ے امامت اُکړو او بل عملی صورت ے دا شوچه کوم وخت چه د نزد ے پیغمبر حضرت عیسیٰ علیه السلام تر آخرے زمانے ژوندے اُساتلے شو او بیا د هغه نبیٔ د حضور علیه السلام د یو اُمتی په شکل د دین محمدی د خدمت پاره د آسمانه راکوز کړیشو ، چه حضرت عیسیٰ علیه السلام د تولو نبیانو شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

انبیآو علیهم السلام د یو نمائنده په ډول د شریعت محمدی خدمت او امداد عملاً اکړی او په دے ډول د حضور علیه السلام د پیغمبرانو د پیغمبرئ عهده واضحه کړی۔ د پیغمبرانو د پیغمبرئ دا عهده د حضور علیه السلام د یو پیغمبر په ذریعه عملاً مکمّلول حکمتاً ممکن وو چه د حضور علیه السلام نه پس د نبوّت دروازه بنده ده د ختم نبوّت او د پیغمبرانو د پیغمبرئ عهده د حضور علیه السلام بنه بنکاره کولو د پاره د یو پیغمبر رالیږل په ډول د اُمّتی ضروری وو، چه په نزول د عیسی علیه السلام دا حکمت الهی مکمل شو۔

نو د اخیره یقیناً صحیح شوه چه د عیسی علیه السلام نزول د حضور علیه السلام د ختم نبوّت په حیثیت دی۔

۳۔ د عالمی فتنو او د عمومی اصلاح په لحاظ د مسیح د نزول حکمت

په دے باره کښ د حضرت عیسی علیه السلام د نزول حکمتونه دا دی

(۱) د دوی د نزول یو مقصد د دجال تقتیل څتمول او د دجال قتلول دی دجّال به د خُدائیئ دعوه کوی، نو عیسی علیه السلام به د توحید الهی قائمولو په غرض دجّال په دے جُرم کښ اُوژنی چه هغه به د الله نه سوا د بل چا خُدائیئ ته خلق را بلی د دے بل حکمت به د عیسی علیه السلام خپل اُمت (نصاریٰ) ته دا بنکاره کول وی چه د الله نه بغیر د بل چا د خدائیئ عقیده لرونکے گمراه د قتل حق دار دے، نکه چه نصاریٰ پخپله هُم د حضرت عیسی علیه السلام د خُدائیئ دعوه لری

(۲) د حضرت عیسی علیه السلام د لاسه د (یهودی) د دجّال او د یهودیانو ژوندی نیول او قتل کیدل د هغوی (یهودو) د دے دعوے تردید کول او سزا ورکول دی د کومے د پاره چه هغوی حضرت عیسی علیه السلام خپل مقتول او مصلوب کړی ۞ ۞

(۳) دیو (رحمتی) مسیح (علیه السلام) په لاس د بل (لعنتی) مسیح (دجّال) او د هغه د مُریدانو تباهی د پیره مناسب معلومیږی، موبنزو راندے بیان کړی دی، چه حضرت عیسی علیه السلام مسیح هدایت دے او بل په دے وجه مسیح دے چه د هغه خاص ځانګے دوو او سیاحت یے کولو او دا بل مسیح ضلالت دے او بل په دے وجه مسیح دے چه د هغه کیدو یے ستر بنه دا سے ښکاره لکه چه هوا لیوړ کړے شوے وی۔

(۴) نوی تمدّن او د سائنس ترقی د تباهئ په غاړه اُوږدے ده، دا تباهی وینځ بیول او غټ فسادونه په مادی قُوت هیڅ ډے نشی ختمیدے، که یو نیک حکومت کارخانے جوړے کړی و سلے راجمع کړی نو خدائے دُشمن، فسادیان، د نیا تباه کوونکی مشرقی او مغربی غټ طاقتونه په سائنسی، ایټمی، بلکه هر قسم سامانِ جنګ او تباهئ په چلونو کښی دومره وړاندے دی چه په مادی طاقت ئے د غه صالح طاقت (حکومت) نه شی را لاندے کولے دے د پاره دا سے یو لوړ روحانی طاقت پکار دے چه د هغه په یو شُف او د دُعا په یو جُمله د ټول هرڅه تباه شی او د امن دوره دوره شی، دے کار د پاره حضرت عیسی علیه السلام حکمتاً مناسب دے چه هغه کښ څلور غټ خلافِ عادت روحانی طاقتونه جمع دی، هُغه د روح القدس له پُوکی پیدا دے د ذکے په ژوند کښ روح القدس ورسره وو، وَاَیَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ۔ آسمان نه د روح القدس په ذریعه اُوچت کړیشو، د آسمانه راکوزیدو په وخت به ئی دواړه لاسونه د دوُو فرښتو په اُوږو ایښی وی، وَاضِعًا کَفَّیْهِ عَلٰی اَجْنِحَةِ مَلَکَیْنِ۔ د احادیث دلواس بن سمعان په روایت د مُسلِم شریف دے۔ د دے څلورو خاص روحانیتونو اثر به دا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه دده دُدُعا په یو جُمله به ټول یاجُوجی ماجُوجی فسادی قُوّتونه په خپل خپل حُلُمُ تباه شی ټوله زمکه به دُدوی د مُردارو نه بدُبُوئیه شی، په مُسلِم شریف کښ د نواس بن سمعان په روایت حدیث شریف دے، چه یاجوج ماجوج به حضرت عیسیٰ علیه السلام او د هغه ملګری راکیږی (فَیَرْغَبُ نَبِیُّ اللّٰهِ عِیْسٰی وَاَصْحَابُهٗ فَیُرْسِلُ اللّٰهُ عَلَیْهِمُ النَّغَفَ، الحدیث،

حضرت عیسیٰ علیه السلام او هغه ملګری په دُعا ګړی نو الله به د هغوی په څټونو زکړد ګونو (یو رنځ راولی، فَیُصْبِحُوْنَ فَرْسٰی کَمَوْتِ نَفْسٍ وَّاحِدَةٍ «نو ټول به دمړو یو داسے ویړے شی لکه چه یو سړے مړشوے وی یو لیښت زمکه به هُم دُدوی نه نشته نو وی د بدبُوئ نه به وکه پکه وی نو الله تعالیٰ د ښځتُ او بنا نو پشان خت خت مارغان راالیږی هغوی به د غنمُو مُردارے چرته بل خوا یوسی،

د دُنیا و را نُوونکی غټ خُدائے دُشمن طاقتونه د دجّالی فتنه ده د کوم متعلق چه د عمران بن حصینؓ په روایت په مُسلِم شریف کښ حدیث ذکر دے مَابَیْنَ خَلْقِ آدَمَ اِلٰی قِیَامِ السَّاعَةِ بِخوا د آدم علیه السلام د پیدائش نه تر اَمْرٌ اَکْبَرُ مِنَ الدَّجَّالِ، ؛ قیامته پورے د دجّال د فتنے نه بله غټه فتنه نشته ؛

دیاجُوج ماجوج په بارہ کښ ذکر پکار دے چه داخبرے دے یاجُوج ماجُوج ته په عبرانی ژبه کښ (رغوغ ماغوغ) او په انګریزی ژبه کښ (ګاګ میګاګ) وائی (عقیدة الاسلام ص۲۹) رُوس او چین یاجُوج دی، او برطانیه او امریکه ماجُوج دی چه یعنے دے ته (کاس میکاس) او یعضو رته (چین ماچین) وائی (تاریخ التواریخ د آدم علیه السلام د حضرت محمد ﷺ په وخت کښ د نړۍ تاریخ د ذوالقرنین پورے بسطه تاریخ

هبوطی لیکلے دے) او کله یاجوج ماجوج هر کافر ته د ویلے شی، لکه د حشر په حدیث کښ وی،

مِنْ یَّاْجُوْجَ وَمَاْجُوْجَ اَلْفٌ وَّمِنْکُمْ رَجُلٌ، یعنے په دوزخ کښ به یاجوج ماجوج (ر کسان او تاسو یوکس (یوکس په زړو کښ) حافظ ابن حجر رح او قرطبی رح دده تشریح کړیده «اَیْ مِنْهُمْ وَمِمَّنْ کَانَ عَلَی الشِّرْکِ مِثْلُهُمْ وَرَجُلٌ مِّنْکُمْ اَیْ مِنْ وَمِمَّنْ کَانَ مِثْلُهُمْ» کوبا کښ دزړو نه مطلب مُطلق کافر او د مِنکُمْ، نه مطلب مطلق مُؤمِنُ دے (سهدرین جوکار الیهود) د یهودو په عقیده کښ د حدیث درجه لری په (خزائن الروم» کښ عبرانی خط سره موجود دے، په دے کښ نقل دی، چه» عالم به د شپږمه زره کښ نه پس یتیم شی او د هغے نه پس به د رکوک ماکوک) جنګونه وی او پاتے زمانه به د ماشیح وی صاحب ناسخ «ماشیح مبارک» خاتم الانبیاء صلے الله علیه وسلم ته ویلی دی او په (عبری کمارم کښ د (ماشیح) نه پس لیکلی دی چه دده نه پس به دُنیا یتیمه بے مُحافظه پاتے شی، یعنی نبوت به ختم شی،

پنځم حکمت

پنځم حکمت دادے چه د موجوده دور د عالمی فتنو او د ایټمی تباهو بانیان یهُود او نصارٰی دی، د اشتراکیت بانی کارل مارکس یهودی دے رُوسے ایټم بم جوړونکے شوپن هار» یهُودی دے د نوی تهذیب خدائے هیروئین کے د فاسقانه معاشرے او انسان کُش سامراجیت بنیاد مسیحی طاقتونه قائم کړیدے او د تورو مذهبو نو خصوصاً د مُسلمانانو نو عقیدے او عملُونه خرابُوونکی قومُونه هم عیسایان دی، په دے وجه ضروری وه چه د یو اسرائیلی پیغمبر (چه عیسائی قوم ته خپل پیشوا منی) د لاسه د ده د اُمّت پیدا کړی فسادُونه ختم شی، غرض دا چه د عیسیٰ علیه السلام اُمت ما دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سائنسی، ایټمی ذریعو سره کوم فساد چه دا پورته کړی دی، د آسمانی تدبیر نه بغیر ـ د ذې طاقتونو نه د هغې د مقابلې توان نه لري په دې وجه عقل، د عیسیٰ علیه السلام راکوز یدل ضروری ګڼي د کوم چه تدبیر الهی په زرګونه کاله وړاندې فیصله کړې ده د دې د دجّال قوّتونو تالې ستا د اصلاح هیڅرې نشي کولې کوم چه عیسائی او مسیحی ډکان چلولو ډپاره د دجّالي قوّتونو ځنګ مضبوط کړه او د اسلام ټوله ګټه (د خوارلسو سوو کالو مسلمانان کافران کړي ع تباه کړي:

فائده

د ذوالقرنین د بند متعلق

په دنیا کښې داوخت دیر بند و نه دی او د چین دیوال چه دیر اوږد او پلن دی او هغه ته په منګولی ژبه کښ (نکوده) او په ټرکی ژبه کښ (بوقورته) وایلے شی،

دویم: د بخارا او ترمذ په منځ کښ چه ورته (د بند) وایلے شی، دا د تیمور په وخت کښ موجود و:۔

دریم د زداغستان، بند۔ دې ته نوم (باب ابواب) دی او (د بند) هم ورته وایلے شی، بستانی په (دائرة المعارف) کښ د دې تفصیل بیان کړیدے:۔

څلورم، هغه بند دے کوم چه (کاکیشیا قفقاز م سره په دا ډیال د ډره کښ دے (یاقوت) په (معجم البلدان) کښ لیکلی دی چه دا د ډیلی شوے تالې نه جوړ دے او دا نور درے د کانړو دی بنا په دے، د قرآن د تشریح مطابق د ذوالقرنین بند هم داخلورم دے، په (ناسخ التواریخ) کښ دا د بنکاره بیان شویدے د دے تائید دا سے هم کیږی، چه (رخ دار) په (کتاب المسالک) کښ لیکلی دی چه (عباسی خلیفه واثق بالله ذوالقرنین

د بند د تحقیق د پاره د ماهرانو یو کمیشن اُلیږلونو هغوی هم دا بند د قرآن مطابق د ذوالقرنین بند اُ ټاکلو، د ذوالقرنین دے بند ته په فارسۍ ژبه کښې "دربند آهنی"، ترکی ژبه کښې "دامرکیو"، او په چینی ژبه کښې "بچاگ کورائی"، وائی یعنې "کور"، د "کور" مطلب "رکورش سائرس" دے چه دا د "کیخسرو" نوم دے،

ذوالقرنین

د ذوالقرنین د[3] سفر په قرآن کښې ذکر دی، یو مغربی، بل مشرقی او دریم غالباً شمالی دے، ذوالقرنین څوک و، امام رازی رح په تفسیر کبیر سورهٔ کهف کښ لیکی چه دا د مقدونیې سکندر د فیلقوس څوک آرسطو شاګرد و، امام رازی ارسطو ته بنکارې کافر وایلی دی، بعضو ذوالقرنین کیقباد ته وایلی دی، او بعضو مغفور چین ته، بعضو دین بادشاه ذونواس حمیری ته، او بعضو د حضرت ابراهیم علیه السلام د زمانے سامی بادشاه ته، ذوالقرنین وایلی دی، بعضو وائی چه دا مصعب بن عبدالله و لکه چه ابن عبدالبر لیکلی دی، بعضے عبدالله بن ضحاک بنائی او بعضے دا سائرس (کورش) ګڼړی دا اخیری صحیح دے نور ټول غلط دی نور اقوال هم شته خو هغه هم غلط دی، د مصعب بن عبدالله او د عبدالله بن ضحاک سند صحیح نه دے حافظ بن حجر رح د دے تردید کړیدے، او د ابراهیم علیه السلام د زمانے مصعب او عبدالله بن ضحاک (په تاریخ ثابت نه دی چه دوی د ابراهیم علیه السلام د زمانے وو او دا هم نه دی ثابت چه دوی دا بند جوړ کړیدے، نور بادشاهان مومنان نه وو سائرس ذوالقرنین چه مؤمن صالح و او ۵۹۵ ق قبل از مسیح کښ تیر شویدے صحیح خبره داده چه دا بند هم د ده جوړ کړیدے ځکه چه قرآن کریم ناکام ده ته نیک سړے خو ښایی دی او د دے بند نسبت کول د ده ته درست

(c) ketabton.com: The Digital Library

سنائی دا رنګ په تاریخ کښ دده دې سفرونه هم ثابت دی، سکندر
دقفقاز سفرنده کړے او نه نوردِ ذکر شوو ګسانو سفر کړیدے
دذوالقرنین مغربی سفر دایشیائے کوچک وو، اودنمرګ وبیدل په
عَيْنٍ حَمِئَةٍ، کښ دسمرنا دسمندر په اوبو کښ ووکوے چه تورے
دی، سائرس بابل فتح کړو بنی اسرائیل ے خلاص کړه، دبیت
المقدس تعمیر ے اوکړو اویسعیاه علیه السلام اته شپاړس کاله دوه
دبیت المقدس د تعمیر پیشن ګوئی کړے وه، چه بابل کښ به اوبا کاله
یهودیان قیدوی بیا به بیت المقدس آباد شی، امام رازی رح په تفسیر
کبیر کښ بنکاره د ټیلی دی چه دا بند سائرس جوړ کړیدے او دا
چه ذوالقرنین یقیناً سائرس دانیال علیه السلام په دین وو، دا تحقیق
دتاریخ نه علاوه دیسعیاه علیه السلام صحیفے باب ۴۵ ع ۱ تا ۴ او د
دانیال علیه السلام مکاشفے باب ۸ آیت ۱ تا ۸ د زکریا علیه السلام کتاب
باب ۱۰ آیت ۱۱ اودعزرا باب ۱ آیت ۱ تا ۲ نه دا خبرے شویدے
کومه چه د قدیم تاریخ اهم ترین بنیاد ګونه دی، ابراهیم زردشت
هُم دانیال علیه السلام شاګرد اوهُمَوَحِّد وو ځکه چه د هغه اوستاد
اعوذ بالله او بسم الله نه شروع کیږی دابن کثیر تحقیق هم داسے دے
دکتهات اصطخر کښ دا راته هُم مؤمن اود مجوسیت دُشمن و ټیلے
شویدے، سائرس ذوالقرنین کدارانه وراندے نیر شویدے، د
یاجوج ماجوج په بارہ کښے دهغوی دلوړوالی واقعات غلط دی، ابن
کثیر رح په خپل تاریخ کښ اوبخاری رح په باب د یاجوج ماجوج کښ دے
تردید کړیدے، دغه رنګ په ترمذی کښ دابوهریره رض هغه روایت چه
هغوی بند کښ اوبیاوائی چه صبا به نور کنو خوانشاء الله وئیل هیر
کړی نو بیا بند په خپل حال شی اوشه وخت چه دوی انشاء الله اوائی

نو دغه بند به مات کړی او نور به راوزی، دا هم ضعیف روایت
دے، امام احمد بن حنبل رح ابن کثیر رح په خپل تفسیر جلد ۳ ص ۱۰۵
کښ نقل کړیدی چه داخلاف قرآن دی،
فَمَا اسْطَاعُوا أَنْ يَظْهَرُوهُ وَمَا اسْتَطَاعُوا: یاجوج ماجوج نه په بند خلاص شی
لَهُ نَقْبًا (سوره الکهف آیت ۹۷) اونه یې کښ موری کولے شی:
ابن کثیر رح لیکی چه دا روایت ابوهریره رض د کعب الاحبار نه را غستے دے
اوخلقو د غلطئ نه ورته مرفوع وئیلی دی (د عقیدة الاسلام) په مطابق
یاجوج ماجوج به په بند بهر نه نه راپورے راوزی بلکه د ګیږۍ کیپسین
نه ترمخور یا پورے به د ډیوخائے راوزی، قرآن د دے بند مضبوط
والے بیان کړیدے او د هغے ماتول ے د قیامت غلامه بنودلے دے
مګر د یاجوج ماجوج ذکر چرته چه را غلے دے هلته د بند ذکر نشته دے
نه معلومیږی چه یاجوج ماجوج به د بند په لاره نه بلکه په بله لاره را
راوزی (حدیث شریف متفق علیه) وَيْلٌ لِلْعَرَبِ قَدِ اقْتَرَبَ مِنْ فَتْحِ رَوْمَ
يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هٰذِهٖ" عمدة القاری جلد ۸ کښ دکرمانی
نه منقول دی چه دا استعاره ده مطلب ے فتنے خوریدل دی، لکه چه
دکوتے دکړئ په اندازه یووتے اُشی او فتنے تر رابرسیره شی، لیکن مطلب
ے هرګز دا نده چه دغه د ذوالقرنین بند به ماتیږی او یاجوج ماجوج
به پرې راوزی، په عقیدة الاسلام کښ د ذوالقرنین تشریح په مختلفو اقوالو
شویده لیکن د اصطخر له آثارِ قدیمه د ذوالقرنین کومه مجسمه چه برآمد
شویده په هغے کښ د ذوالقرنین د اُسپنے د توپ ګیږۍ اوچے غاړے
ته له مینځه تش د اُسپنے بنکرونه غوندے جوړ شویدی دده نوم
داوجه بنودل صحیح بنکاری؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

تتمه

د کفارو د عذاب همیش والے

د خدائے رحمۃ اللہ علیہ آیت تفسیر بیانولو په وخت امام رازی رح په تفسیر کبیر کښ د کفارو په دائمی عذاب اشکالونه پیش کړیدی، احقر به د الله په فضل دغه شبهے نقل کو او جواب به ئے ورکوی:-

ړومبئ شبه

په دے مسئله غټ اشکال دا دی چه دا د خدائے د انصاف نه خلاف ده، ددے جواب دا دے چه د کفارو عذاب همیش والے ظلم نه دے بلکه انصاف دے، د ظلم مطلب دا دے چه د بل په ملکیت کښ تصرف اوکړیشی او کفار خو د خدائے ملک دی خدائے په خپل ملک کښ تصرف کوی د بل چا په ملک کښ نه کوی:-

دویمه شبه

همیشه عذاب د خدائے رحمت خلاف دے

ددے جواب دا دے چه د مجرم سزا عین رحمت دے حکه کوم حکومت کښ چه سزا نه وی هغه ټول خلق د رحمت نه خلاف ګڼری

دریمه شبه

د جرم وخت لږ دے یعنی د بلوغ نه ترمرګه اوږد عذاب وخت خو د هغے نه ډیر نامناسب نه بنکاری، ددے،

اول جواب دا دے، چه د جرم او سزا په وخت کښ برابرے ضروری نه دے د اکه د یو ګهنټے یا ګهنټے غورځی لیکن سزا په کالونو خوری اصلی خبره دا ده چه سزا د جرم د نوعیت په مطابق ورکولے شی د هغے د وخت په مطابق نه، د کفر د جرم نوعیت سخت دے، نو حکمئ سزا هم سخته پکار ده، دویم جواب دا دے چه د کفارو جرم (کفر) هم نه خمیدونکے دے په مرګ خمیدل د ده په اختیار کښ نه وی دا تر بے

اختیاره پاتے شوګه دے ژوندے دے نو په خپل اختیار ده کفر ټول عمر نه پریښودے د ګیریدو او مجبوری په حالت کښ جرم پاتے کیدل مخلوق او خالق دواړه نه منی، مطلب دا چه د کفر جرم هم نه خمیدونکے دے او عذاب ئے هم نه خمیدونکے مناسب دے:-

دریم جواب دا دے، چه کفار وا د الله تعالے د لا محدود او بے پایانه انعاماتو او کمالاتو نه انکار او بغاوت اوکړو نو حکمه ئے سزا هم لامحدوده او بے پایانه مناسبه ده:-

خلورم جواب دا دے، چه د کفارو سزا د طبعی تاثیر په دول ده، لکه د سرطان جراثیم چه د عمر سره سم وی ټول عمر تر رنځور بے آرامه او تکلیف کښ وی، د کفر جراثیم هم دائمی اثرات او نتیجے لری یعنی د جهنم په اور کښ همیشه پاتے کیدل فرق او بیلتون حرف دومره دے چه د جسمانی رنځ (سرطان) اثرات او نتیجے د جسم په ختمیدو په مرګ ختمے شی او د روحانی رنځ (کفر) اثرات او نتیجے د روح سره تړلی دی کوم چه ختمیږی نه خو مره پورے چه د روح ژوندی وی (چه په آخرت کښ نه ختمیږی) نو مناسب دی چه عذاب د کفر هم په آخرت کښ همیشه وی:-

پنځم جواب دا دے، چه د هر تکلیف سبب تر خو چه وی نو تکلیف به هم وی لکه پینټور ګی کښ چه کانړے تر خو وی تر هغے به پهکین درد هم وی یا د اور ګاه وی په شیشه کښ دننه د "نارنج ویستون ریلوے" حروف تر هغه وخت موجود وی تر ګومه چه دا شیشه موجود وی، هر کله چه کانړے د پینټور ګی نه اوتو یا شیشه چپ چور شوه، نو هله به د هم دا د غه حروف ختم شی، د غه رنګ د کفر هر څو پورے چه روح کښ موجود وی نو عذاب به هم تر هغے وخته وی مګر دا سے په روح کښ ورننوتے دے چه د بیلیدو امکان ئے هیڅ وشته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه الله تعالی فرمائی

وَلَوْ رُدُّوْا لَعَادُوْا لِمَا نُهُوْا عَنْهُ ؛ کچرې چه کُفّار د آخرت نه دُنیا ته راوستے شی نو بیا به هم دغه کفر کوی کوم نه چه منع کړے شوی وو

(سورهٔ انعام)

مطلب دا چه سبب یعنی کُفر تر خوچه موجُود وی، نو عذاب به ئے هم تر هغو وخته پورے وی، لیکن کُفر په رُوح کښ داسے ننوتے وے چه تر جُدا کیدے نشی او رُوح ختمیږی نه خو چه د هغے په ختمیدو دغه سبب (کفر) هُم ختم شی نو حُکمِ وَرله دا ابھی عذاب مُناسب دے :۔

تَمَّتْ بِالْخَیْرِ

یوه نادره تحفه

عصمت انبیاء علیهم الصلوٰة والسلام

(اُردو)

از افادات

علامه شمس الحق افغانی رحمة الله علیه

جمع وترتیب :۔ شیخ فتح الرحمٰن لیکچرر شعبه عربی پشاور یونیورسٹی

ناشر

تاج کتب خانه محله جنکی نزد قصه خوانی پیښور

دملاویدو پته

کتب خانه رشیدیه محله جنکی قصه خوانی پیښور بنار

د دین تبلیغ په هر مُسلمان نراوښځه باندے فرض دے. خو څنګه چه د جهاد دپاره وسله ضروری ده. هم داشان د تبلیغ دپاره د دین علم ضروری دے. او د دین د زدکړے دپاره ښه کتابونه څان سره ساتل او یا یې اوستل پکار دی. دغه مقصد دپاره تاج کتب خانے تاسو دپاره ښائسته علمی ملغلرے کتابونه په شکل کښے چاپ کړے دی، چه په هر کور، حجره او جومات کښے د هغے نه یوه ښائسته کتابخانه جوړیدے شی. ښه کتابونه څان سره ساتل کار ثواب دے او د مرګ نه پس تر ډیره صدقه جاریه جوړیږی.

د مُفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع دیوبندی مشهور تفسیر

معارف القرآن

په پښتو ژبه کښے یو اهم مقام لری. په پښتو ژبه کښے دومره مفصل او مُستند تفسیر بل نشته چه په هغے کښے د قرآنِ کریم شانِ نزول، تفسیری بحثونه، د پخوانو تفسیرونو خلاصه او د موجوده زمانے د هرقسمه مسائلو وضاحت د قرآن مجید په رڼا کښے درانده شوے دے. د قرآن مجید د طالبانو، عالمانو او په کورونو کښے د زنانو دپاره عظیمه تحفه ده. هرچا سره چه دا تفسیر موجود وی هغوی ته پکار دی چه نور خلق څان سره آیښی او هغوی ته ډ ډ دے درس اوُرَوی. انشاء الله د زړونو او عملونو اصلاح به په تیزی سره اوکړی.

دا تفسیر په (۳۰) جلدونو کښے چاپ شوے دے

د شاه ولی الله او شاه عبدالقادر د فارسی اوُردو تفسیرونو آسانه پښتو ترجمه

آسان تفسیر

په یو جلد کښے د قرآن مجید بهترین پښتو تفسیر دے. چه په دے کښے د قرآن مجید د لفظی ترجمے سره سره د پښتو محاورے خیال هم ساتلے شوے دے. او په حاشیو باندے ډیر قیمتی معلومات یکجا شوی دی. د قرآن پاک د ترجمے د زدکړے دپاره دا په موجوده زمانه کښے یو لوئے نعمت دے. په مَتن خط کښے هم چاپ شوے دے، او په دروکی سائز کښے هم ترلاسه کیدے شی.

تاج کتب خانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هدایه شریف د اسلامی حنفی فقهی یوجامع او مستند کتاب دے چه په تولو اسلامی مدرسوکښے نوښتے شی. په پښتو ژبه کښے تراوسه پورے ډیر کم کتاب شروح نه وه. تاج کتب خانه پیښور ته الله پاک توفیق ورکړو چه د ستر عالم حضرت مولانا حنیف گنډاپوری "غایة السعایة فی شرح ما فی الهدایه" په پښتو ترجمه انتظام سره اوکړو او فقهی دا عظیم الشان ذخیره

تاج الهدایه پښتو شرح هدایه

په نوم په ډیر ښائسته ډول چاپ شوی ده. د کتاب په نوښتو سره په اسلامی فقه کښے مهارت حاصلیږی.

د احادیثو رسول صلی الله علیه وسلم اهمیت هرچا نه څرګند دے. دا هغه ښکه اوخورا ډیره ده چه تر قیامته به مسلمانان پرې خپله تنده ماتوی. د احادیثو په ذخیره کښے

مشکوة شریف

ته لوړ مقام حاصل دے. مونږه د پښتو نوستونکو دپاره د مشکوة شریف یوه داسے نسخه تیاره کړے ده چه د پاڼرے په یوطرف مکمل عربی متن سره د اعرابو چاپ شوے دے. او بلخوا ورته آسانه پښتو ترجمه ټکی په ټکی لیکلے ده. د دے کتاب په نوستلو سره د خوږ نبی صلی الله علیه وسلم قول مبارک ژوند او حکمونه د سترګو په وړاندے اوکړیږی. ایمان پرې مضبوطیږی او د نیک عمل شوق زړونو کښے پیدا کیږی او غلط عادتونه او عملونه پرې د بچے ورکیږی. د علم دین د طالبانو نه علاوه په کورونو کښے زنانه ځی هم په آسانه نوستلے شی. مشکوة شریف پښتو په پنځو ښائسته جلدونو کښے چاپ شوے دے.

* د حدیث شریف یو بل اهم کتاب سنن ترمذی دے. علماء وائی چه د چاپه کور کښے ترمذی شریف موجود وی نو هغوی ډیر دے داسے اوکتری لکه چه د دوړو چه لوی وردان حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د هغه په کور کښے خبرے کوی ددے سعادت د حاصلولو دپاره تاج کتب خانے ترمذی شریف (پښتو) په داسے انداز کښے چاپ کړے دے چه د پاڼرے په یوه طرف مکمل عربی متن دے او بلخوا ورته ټکی په ټکی آسانه پښتو ترجمه ده. (زیر طبع)

تاج کتب خانه ۔ محله جنگی، قصه خوانی پیښور۔ فون ۲۱۴۵۵

په پښتو ژبه کښے د تاج کتب خانے علمی تحفے

چه د دین د علم د پاڑه د هرکور، مدرسے او کتب خانے دپاره ضروری دی

تفسیر معارف القرآن د مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع دیوبندی د مشهور تفسیر پښتو ترجمه - په پښتو ژبه کښے دا ډیره ښه تفسیری ذخیره ده چه د خواص او عامو او علماؤ د پاره یوشان اهمیت لری.

مشکوة شریف د احادیثو مشهور او مستند کتاب په ډیر ښائسته انداز او آسانه پښتو ترجمے سره ډیر زر چاپ کیدو لکے دے چه په نوستلو ئے سترګے یخیږی.

تاج السلام د حضور پاک صلی الله علیه وسلم او هغوی د صحابو کرامو یادونه پاکیزه ژوند حالات په ډیر تفصیل سره علمی انداز کښے په دے کتاب کښے بیان شوی دی. د سیرت د سیمینارونو سندی او د نورو علمی اړتیا تصنیف دے.

مکمل موسوعه د ماشاء الله په پاڑه کښے په پښتو ژبه کښے ډیر ښه نوستلے او مستند کتاب چه هر قسم مسائل پکښے په ډیر تفصیل او وضاحت سره بیان شوی دی. په پښتو ژبه کښے د موضوع په پاڑه کښے دومره مفصل کتاب به ستاسو نظر نه وی شیر شوے.

د وړو وړو رسالو د کورنی ژوند متعلق هر قسم ضروری او نازک مسئلے په دے ښائسته کتاب کښے بیان شوے دی، چه د هر بالغ نارینه او ښځه د پاره د خط زده کړه ډیر ضروری ده.

د خطاطی نمونه او قدوری پښتو شرح د مدرسو د طالبانو او عامو مسلمانانو د پاره د فقهی اکثر کتابونه په دے وخت کښے د پښتو شروحاتو سره چاپ شوی دی چه د ډیرو طالبانو نه به درس پوهیدل او یاد ساتل ډیر آسانه شوی.

تاج سیرت پښتو د هر مینی ژبه د طالبانو او استادانو د پاره یوه ښائسته تحفه ده.

تاج السلام مجلد د مولانا محمد میاں صاحب مشهور تصنیف "تاج السلام" د سولانه چاپ.

ښائسته درخواست دے چه د دے کتابونو د اشاعت او نوستلو هر مسلمان ته ترغیب ورکړی د زنانه مدرسو د کتابونو ترغیب

تاج کتب خانه ۔ محله جنگی، قصه خوانی پیښور۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیرت النبی ﷺ

یعنی ـــــ سید ابوالحسن ندوی

د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم ژبتونو مینه د ایمان ټینه وه. په نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم باندے رحمت او درود وئیل. د هغهٔ تعلیمات زده کول د هغهٔ د ژوند حالات معلومول د هر مؤمن لپاره ډیر ضروری دی.

دا د پښتون خوش قسمتی ده چه د سیرت النبیؐ په ذخیره کښے یو بهترین کتاب "نبی الرحمة" په پښتو ژبه کښے د "سیرت النبیؐ" په نوم چاپ شو. دا د موجوده زمانے د یو ستر عالم او مجاهد "سید ابوالحسن علی ندوی" تالیف دے. دا کتاب د سیرت د عربی، فارسی، اردو او انګریزی کتابونو ځیر او خلاصه ده. د نبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم د ژوند تفصیلی حالات د سیرت په بارہ کښے د دنیا د لویو لویو علماؤ تحقیقی معلومات، د مسلمانانو نه علاوه د غیر مسلم علماؤ څرګندونے، د حضور صلی اللہ علیہ وسلم د تعلیماتو بهترینه خلاصه او د هغهٔ د مبارک ژوند هر اړخ په دے کتاب کښے ډیر په وضاحت سره جمع کړے شوے دے.

دا کتاب ضرور په خپل کور کښے اوساتئ

د واده مسئلے

هر بالغ نارینه او زنانه له پکار دی چه د کورنی ژوند په بارہ کښے د الله او رسول د حکمونو نه ځان خبر کړی. د دے غرض د پاره مونږ یو ډیر ښه او آسان کتاب "د واده مسئلے" چاپ کړے دے، چه په هغے کښے د ښځے خاوند ترمینځه د تعلقاتو، نکاح، طلاق، عدت او نور هر قسم ضروری مسائل جمع کړے شوے دی. د دے کتاب په لوستو ستر کے پرانیستے شی او بکاره شی چه زمونږ ناپوهه خلق د خپل جهالت په وجه څومره کناهونو کښے مبتلا دی او دغه خبر نه دی. کتاب په ظاهره ډډ کے دے، ولے په "کوزه کښے سمندر" هم دا سے کتاب ته د ویلے شی.

نوح کتب خانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

* د اسلامی فقهے علم د هر مسلمان د عملی ژوند د پاره ډیر ضروری دے. په پښتو ژبه کښے د فقهے درسی کتابونو ترڅنګ بهر نورو سره دی لکه خلاصه، مُنیه، قدوری، کنز وغیره. ولے دا سے یو کتاب چه په آسان انداز کښے د ژوند تولے اړخے مسئلے پکښے ذکر شوے وی، تر اوسه نه دی چاپ شوے. د دے ضرورت د پوره کولو د پاره مونږ د هند د دسترعالم مولانا حبیب الله ندوی صاحب مشهور کتاب:

اسلامی فقه

پښتو ژبه کښے چاپ کړو. د دے کتاب یو څو خصوصیات دادی:

* د فقهے د هر یو اهم بحث نه وړاندے د قرآن مجید د آیتونو او احادیثو په رڼا کښے په زیږلور مسئله بحث شوے دے.
* بیا په آسان ترتیب سره متعلقه مسائل پرله پسے بیان شوے دی.
* د یو عام مسلمان په ژوند کښے روزمره پیښیدونکے هر قسم مسائل د موجوده حالاتو د تقاضا مطابق بیان شوی دی.
* د طهارت، مونځ، روژے، حج، طلاق، نکاح، میراث، رضاعت، تجارت، مضاربت وغیره د موجوده زمانے د نوے نوے مسئلو جوابونه د قرآن وحدیث په رڼا کښے وړاندے شوی دی. که څوک دا کتاب اول نه د فقهے په درسی کتابونو پوهه په ورته ډیره آسانه شی. او د خپل ځان نه علاوه د نورو خلقو رهنمائی به هم کولے شی.

* د قیامت علامے: ژوند د باد پشان تیریږی، هره شپه او هره ورځ مونږ قبرته ورنږدے کوی. ولے مونږ په غفلت کښے پراته یُو. په قرآن مجید او احادیثو کښے بیا بیا د قبر او آخرت د ژوند بیان هم په دے غرض شوے دے چه انسان د غفلت نه خوب نه راویښ شی او آخرت د پاره تیار شی. په دے غرض مونږ د

مستند کتاب تذکرة المعاد پښتو ترجمه

د قیامت علامے او آخرت احوال

په نوم چاپ کړے دے. چه په لوستلو سره زړه نه ډیلے کیږی، ویښته اودریږی، سترګے اوښکو نه ډکے شی او انسان خپل خالق او مالک ته متوجه شی. د وعظ او نصیحت د پاره ډیر ښائسته کتاب دے. لیکونکے: مولانا سید روح الله د مازاخے

تاج کتب خانه، محله جنگی، قصه خوانی پیښور
فون: ۵۲۴۲۱۰

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library